ناول: شنه پاڼه

لیکواله: آزیتا هاشمي زاده

ژباړونکې: مروه نګین

نشرکونکې: خواجه زی خپروندویه اداره. https://t.me/pashtoonovels0



پښتو ناولونه

خواجه زي خپرندويه اداره

HTTPS://T.ME/PASHTOONOVELS0

@shuhab09

"بِسمِ أآأللّهِ أآألرحمٰنْ أآألرحيم"

} .... ليلا .... {

ژمي وو هوا يخه او وچه وه، خيرن کالي مي ټول کړل او ولاړم د ولې غاړې ته د کالو مينځلو د پاره.د سراى غزني وله ټول يخى شوي وه. د ولې  غاړې ته کښيناستلم او تشت مي د خپل سر نه کښته کړ ، د يو کاڼي سره مې د ولې يخ مات کړ او کالي مينځل مي پيل کړل.اوبه دومره يخې وى چي صابون ځک نه کول! ګورم چي فاطمه ، زما د کاکا لور ، خپل د کالو تشت سره راغله فاطمه زموږ د منطقى بدماشه وه او ټول د دې څخه بيريدل (ويريدل)؛ خپل د پلار د پيسو او زور په سر يي هر څه کول او ټول ځيني بد وړل ، د هغه ټولو کسانو څخه يوه هم زه وم.

فاطمه: تا هم تعويذ کړي هره ورځ چي زه راځم ته هم راځي
د سترګو د کنج نه مي ورته وکتل او ومې ويل: کار دي وکړه او خبرى مه کوه.
فاطمه: هغه پريږده ، خبره شوې يم چي پلار دي تر پينځو مياشتو نه راځي ، زما په نظر ته هم لاړه شه او خپل د مور سره کيسه کشي وکړه ، ښه قوي بازوګان لري ځوانيمرګي هسې د بل کاره هم نه ياست ، د ميره کولو خو بيخي نه ياست
لاسونه مي په يخو اوبو کي د ډير غوسي څخه تاوده شوي وه، څو ژور ساه کاڼې مي واخيستل او په داسى حال کي چي هڅه مي کول خپل غږ کنترول کړم

ومي ويل: فاطمه ګکې ، د ټولو واده شوو نارينو دَرَک لري چي څه کوي که تنها زما د پلار لا خبره يي؟
فاطمه چي د سور مخ نه يي معلوم وو چي څومره زور يي ورکړي ، د کت کړي لستونو سره زما خواته راغله او په چيغو يي وويل: ستاسو ټولو خرڅ زما پلار درکوي ، دومره نمک نشناسه يې؟  زه دي د منطقی د نارينو سره جوړه کړم؟ ته صبر وکړه..

خپل د ځکو ډک لاسونو سره يي زما د ويښتيانو خواته حمله وکړه.د فاطمې د چيغو او ږغارو مينځ کي مي خپل د خور خبره په ياد شوه چي ويل يې: ستا ژبه که ستا سر پرې نکړي ، هرو مرو کل کوي دي، د څو شيبو جنجال وروسته ، د فاطمې غاړه ځيری شوي وه او زما ويښتان هم شکيدلې وه.
فاطمه په ګواښ لرونکي لحجه وويل: شپه مې چي پلار راغي او اوړه او غوړی يي بند کړل بيا دي سترګي خلاصيږی ، د فاح.....ې لور ته صبر ته
پوهيدلم چي ښه کار مي نه وو کړي، امکان يي درلود چي زموږ اوړه او غوړې بند شی او يو بل خرڅ مو هم غاړه کي ولويږي خو پښيمانی هيڅ ګټه نه درلود او فاطمه هم داسي يو نجلي چي د جنجال او ږغارو پسي مړه وه.

خپل ځان مي يو څه منظمه کړه او د کالو تشت مي واخيست او د کور خواته روانه شوم لاسونه مي د صابون له امله چاودلي وه او سوځيدل. لاړم د پخلنځي خواته او ښه شاوخوا مي وليدل چي څوک خو نشته د ديګ غوړې باندي مي خپل لاسونه غوړ کړل او په يو ټُکَړ(تکه) باندي مي وتړل تر څو يو څه آرام شی. د سهيلا غږ راغي ، سهيلا زما کوچنی خور وه. موږ درې خوندې يو او ورور نلرو.
سهيلا: ليلا مور مي تر اوسه نه ده راغلی ، زه لاړه شم حمام ته يو وار وګورم چي څه شوې؟

ومي ويل: ساعت څو دي؟ تياره شوي ده چي ځي؟
سهيلا: هو تياره شوي زه ژر خبر اخلم او بيرته راځم ، ته شپې ته د ورجو شوروا پخه

کړه هسې بل څه نلرو
لیلا: صحیح ده زه یو څه پخوم ته ژر لاړ شه او ژر راشه هغه غټ پوړني دي پر سر کړه چي څوک دي ونه ویني بیا خبرې جوړوي چي د خان شاه لور په کوڅو کي ګرځی ، هله ژر کوه
سهیلا: ښه دا دی لاړم ژر راځم

سترې ستومانه لاړم چي ګورم حمیرا اوړه لنده (لمده) کړي او ځوالې جوړوې.
حمیرا زما کوچنۍ خور ده او ډیره هم ضدې ده چي هیڅ خبره په غوږ نه نیسي ، یوه ده تر ما بدتره.
لیلا: حمیرا ولی دي ناوخته اوړه لنده کړه؟ اوس چي ډوډۍ په کاره ده ته تازه ځواله کوي؟
حمیرا: په لس دقو کي ډوډې درته باسم تنور مي روښانه کړي ، تود دي ته لاړشه دیګ باندي کړه رښتیا دا رنګ دي ولي داسي پریدلي؟ څه شوي؟
خپل د خولی اوبه مې تیري کړي او په لرزانده غږ مي وویل: په خداي هیڅ نه دي شوی د فاطمې سره مي جنګ وکړ کمیس یی څیرې شو ګواښ یي وکړ چي اوړه او غوړې مو بندوم

حمیرا: د هغې خداي وهلي سره دي ولي جنګ وکړ؟ اوس څه وکړو؟ مور مي پوه شي زاره یي چوي آخر ته به کله خبره واوري؟
سترګې مي د اوښکو ډکي شوې وه ، ومي ویل: فاطمه وایي پلار دي تر پینځو میاشتو نه راځي لاړشه خپل د مور په شان کیسه کشي وکړه ماته یي هم زور راکړ یو څه مي ورته وویل خو اول هغې حمله وکړه نو ما څه کړی وی؟ ته ووایه
حمیرا: نه پوهیږم ، مخصد ښه کار ونه شو مور چي راغله څه ځواب ورکړو؟ که پلار مي هم تر پینځو میاشتو رانغی څه وکړو؟ د یو کیسی څخه لس روپې ورکوي دا لس روپې به کم ځاي ونیسي؟

دواړه سترګې مي ځمکی ته نیولی وه او حیرانه پاته وم چي څه بد مي وکړه کاش ګونګه شوی وی .... چي حمیرا وویل: سهیلا چیری ده؟
لیلا: ولاړه د مور پسي ناوخته شوي وو وامیستول چي وګوري څه شوي

} .... سهیلا .... {

پرده مي په لاس لری کړه چي د حمام تفت می پر مخ ولګید. تل د حمام د بوی مئینه وم. لاړم دننه د حمامی (خاله نرګس) څخه. یوه چاغه او سپینه ښځه د یوې سترګی سره، وايي میرہ يي یوه سترګه ړنده کړې ځکه پردو نارینو ته يي کتل
سهیلا: مور مي چیرې ده؟
خاله نرګس: دننه ده ، درې نفره په نوبت کي د کیسی د پاره ناست دي اوس نه خلاصیږي خبره يي چي بل صبا اختر دي نو خلک د حمام کولو لپاره ډیر راځي
سهیلا: سمه ده زه لاړم احوال يي نیسم
غټ صالون ته دننه شوم چي په سپین سمټ يي مخ پوښلي وو او دیوالونو هم سپینې کاشیانې درلود. په یو کنج کي می خپل مور ولیدله چي یوه چاغه او سپینه ښځه يي کیسه کول

نږدي لاړم: زما مورې؟
ماته يي وکتل. ټول مخ يې د چملکي او خستګي نه ډک وو. ویي ویل: دلته څه کوی؟
سهیلا: مورې لیلا وايي ناوخته ده، کورته نه راځي؟
مور مې: ساعت څو ده؟
سهیلا: پینځه یا پینځه نیمی
مور مې په ورخطايي سره وویل: یوووو که کاکا دي خبر شی چي تر دي وخته زه دباندي یم بیابوي مې

په خسته او درمنده توګه د دخل خواته لاړه او نرګس ته يي وویل: نرګس جانې قربان دی شم باید کورته لاړه شم. ته خو خبره یی چي میرہ می نشته لیور می خبر

شی چي په کور کي نه یم په میرہ می طلاقه کوي
نرگس: زهرا خپله پوهیږی چي څو نفره درته ماتله دی که ته لاړه شی نو دوی هم بالا زمورِ حمام ته نه راځی، ځی د هغې لیونې ښځی حمام ته، زه خپل مشتریان د لاسه ورکوم د اختر شپې دی ، پیسې دي پکار دي که نه؟
زهرا: چي طلاقه کیږم څه وکړم؟

خپل د مور د اوښکو ډکی سترگو ته مي وکتل او زړه مي وسوځیدی چی زاری یی کول. لاسونه یې ریږدیدل (لرزیدل) او د خبرو کولو پیاوړتیا او توان یی هم نه درلود او نرگس تکرار پر تکرار چي نه کیږی زه خپل مشتریان د لاسه ورکوم. مور مې د نرگس د راضی کولو حال کی وه. د ښځو غږونه او د حمام د تفت مینځ کي می سترگی په یوې ښځی ولگیدل چی په سور بخمل ناسته وه او دوه نفره د هغې بدن یي په خوشبویه واسلین غوړول. داسی یی هم په ناز ټولو ته کتل. ځان سره مي وویل: یعنی دا څوک ده چي داسی خدمت ورته کوي؟
چی د یوې سپین سرې خو ښایستی ښځی غږ راغي چي ویي ویل: هله ژر ژر چی شپه شوه ، واده په حمام کي نیسي که څنگه؟

چي ددي وروسته د یوې نجلی غږ چی تور ویښتان یی درلود او په واسلین یي هغه ښځه غوړول پورته شو: مورې ، هغه خاله څه شوه چي دایره یي وهل او بدلې یی ویل آخر خپل یو دانه ورورک ته ښځه کوم داسی خو نه کیږي
چي گورم بله ښځه چی شین بخمل کمیس یی اغوستي وو راغله او خپل دایره یي د خلطې نه ویستل او بدلې ویلو ته یي شروع کړل

مادر گل گندم است مادرررررر
او پروایمه نداره بچه مردم است مادرررررر
الا مادر مره بیست ساله کردی مادرررررر
مره طوی به بندی خانه کردی مادرررررر
مره تحویل بندی خانه مابس مادرررررر

به دست های سفیدم دوا نکردی مادرررررر
مادر گل گندم است مادررررر
او پروایمه نداره بچه مردم است مادرررررر

په شوق مي بدلی اوریدل ، لاس می چا کش کړ چی ګورم مور می ما د حمام د دروازی خواته کشوي
زهرا: ژر راځه سهیلا ، اوس اذان کیږی هوا هم تیاره شوه د کاکا لمونځ دی اوس خلاصیږی ، ژر راځه
لکه ګوډی پران تار په باد کی چی تار یي خپلی خواته کش کړی مور می زه خپل پسی کش کولم او شمال زما پر مخ لګیده. باړخوګان مې چی چاودلی وه په سوځیدلو شول او شمال هم د دی لامل ګرځیدي چي سترګی می د اوښکو ډکی شی.
خپل مخه می نشو لیدلي چي پښه می بنده شوه او وغورځیدم
زهرا: څه وشوه سهیلا؟ پیسي دي ټولول؟ولاړه شه

زنه می په وینو شوي وه، ولاړه شوم او په څغاستو می ځان خپل مور ته ورسول.
مور می تر ما د مخه کور ته دننه شوه او د دروازی په خولی کي ودریدله. زه یی شاته وم ومي ویل څه شوي؟ څه خبره ده؟
خپل د مور د پوړنی د لاندي نه می سر ننباسل او ومی کتل چی زما مشر کاکا (زلمی خان) لاسونه شاته نیولی ولاړ وو او لیلا پر ځمکی ناسته وه او ژړل یی په همدی وخت کی می د کاکا سترګی پر موږ ولګیدل .......

زلمی خان: سترګې می روښانې، زموږ د کور ناوې د شپې د خوا په کوڅو کی پیسې پیدا کوي او بیا لور یي د فاح.....توب تهمت زما پر لور وهي؟ ورور مي نشته او ستاسو مسئولیت یي ماته راکړي پښې مو ماتوم چي د شپی د خوا دباندي ووځي ، موږ غیررررررت لرو ، عززززززت لرو ، آبروووووو لرو
په لوړ غږ یي ویل: موږ غیرت لرو

نو دا څنګه ممکنه ده چي دا لورِ غږ دی ګاونډیان وانورې؟ او پوه نشي چي څه کیسه شوي؟ او بیا کم آبرو دي کور ته پاته کیږي؟
په رښتیا غیرت څه دي؟ منګه په چیغی وهلو سره له منځه نه ځی؟
زهرا: زلمی خانه! د اختر شپه ده ناوخته شو سهیلا راسره وه په ځغاستو(منډه) مو ځانونه کور ته ورسول نو په دي کي څه خبره ده؟

زلمی خان: اووو ته اوس دومره شوي یي چي زما پر خبری خبره کوي؟
د دوو غټ قدمونو سره یي ځان زما مور ته ورسول او خپل لاس یی پورته کړ او کلک یي زما مور په ککري ووهله. احساس می وکړ چي مور مي سسته او ناتوانه شوه ژر مي ټینګه ونیوله چي ګورم د تندي نه یی وینه په بهیدو شول او ولویدله.
پوهه شوم چي د کاکا په لاس کي مي یوه د کاڼو تسبیح وه ، په همغه یی زما مور وهلي وه.

زلمی خان: ښه واوري او غوږونه مو خلاص کړي! نور څوک حق نلري چي خپل پښه د دي دروازی نه دباندی پریږدي ، زه دومره بی غیرته نه یم چی یو ښځه لاره ماته وښیی چی څه وکړم او څه ونکړم ، سر له سبا چهارمغز راوړم مات یي کړي پوست او مغز یي جدا کړي ښه پیسې لري نور هیڅوک حق نلری په دي کور کي خپل سات تیر کړي

په همدی حال کی فاطمه ، د زلمی خان لور وویل: پلاره لیلا باید ادب شي بیخی بي ادبه شوي ، نزاکت او تربیه یی له یاده وتلي
لیلا په لرزانده غږ وویل: بد مي وکړل ، په خدای قسم فکر مي ونشو نور بی ادبی نه کوم.... بد می کړي فاطمه جانې..... خیر دي ما وبخښه
زلمی خان وویل: داسی جنګونه چي کیږي خپل په مینځ کي یي حل کړی ، ګوره لیلا بل ځل وګورم د ولې په سر کي دي د فاطمې سره جنګ کړي زه بیا درسره پوهیږم مورِ دلته آبرو لرو خلک به څه وایي؟

زلمی خان په غوسه ناک او قهرناکه نظر ټولو ته وکتل او په تلوار د دروازې نه ووتي او خپل د کور خواته لاړي. زموږ او د زلمي کاکا کور دیوال په دیوال وو. فاطمې چي فکر کول موږ یی ښه کوټلې یو وي ویل: ښه شو خوند یي وکړ ، اوس د دروازی خوله لا لیدلي نشي بیچارو

حمیرا چی لری ولاړه وه د فاطمې ځواب یی ورکړ: هو ښه شو شکر ، نور هم شیطانت وکړه، نور موږ دباندی نه ځو کرار او آرامه کور کي کښینو ټول خرڅ مو ستا پلار راوړي ښه شو چي ولاړې او ودي ویل نور مي مور حمام ته نه ځی چی ستړې شي لکه ملکه په کور کی کښینی او خرڅ یي زما کاکا جاااان راوړی
فاطمه د ډیر غوسی نه بیخی جوش حالت ته رسیدلي وه او په داسی حال کي چی پښی یی پر ځمکی ښه کلکی لګولی د کوره ووتله

لیلا وویل: ولي دي جواب ورکړ اوس ځی بیا شیطانت کوي ، د ژوند نه مړه شوي یي که عقل دي د لاسه ورکړي؟
حمیرا په بی حوصلګی سره وویل: ځی څه وایي؟ خو رښتیا وایم نو ، چي کار ته مو نه ایږدي مجبوره دي چي زموږ ډوډي راوړی.

ګورم چی مور مي غواړی ولاړه شی لیلا او حمیرا هم راغلل کمک ته او د یو بل په مرستی مور مو کوټی ته یوړل. سر یي چاودلي وو. په دستمال مو کلک ورته وتړل ، ویل ډوډي نخورم او ژړا یی پیل کړه. نږدی شوم او ومی ویل: مورې مه ژاړه ، پلار می راځی دا ورځي هم تیریږي

د اوښکو ډکو سترګو سره یی وویل: پلار دي هم د نورو د خولی دي ، هیڅ فرق نکوي چي دی شته که نه. چي ورور یی ووایی ښځه دي خرابه ده بی له دی چی وګوری رښتیا وایي که دروغ مچوي او پر تَندی یی ایږدی ، هغه وخت نو دي بیا خداي زما پرده وکړی ډیر مي زړه سوځیدي. په ماشومتوب کی د یوه بوجی اوړو په بدل کي یي زما پلار ته نکاح کړي وه. خپل ماشومتوب، ځواني او پیغلتوب ټول یي په دي کور کی خاوري کړي وو او بیا هم د یو ګوله ډوډي لپاره یي باید زاری کړی وی.

حميرا: لاس دي درد ونکړی خورکی ، ډیر خوندور وه
لیلا: نوش جان ، خو د ډوډی سره یی وخوري چي لږ دي
حمیرا: رښتیا ستا په نظر څه شوي چي پلار دومره ډیر وخت وروسته کور ته راځي؟
لیلا: نه پوهیږم.... ویلې وه چی هیرتان ته ځم او د هغه لاری نه بدخشان ته چی چکه راوړم

حمیرا: بیا هم ډیره ده... دا دومره وخت به څنګه وزغمو؟ خدای دي وکړي چي ژر راشي، تیر وار یی یو پسه د نی نی شوي غنم سره راوړی وو ډیر خوندور وو، هیڅ د هغه خوند می د یاده نه وځی
لیلا: ښه نور ولاړ شی چی ټول یی کړو او بیده شو ، نه پوهیږم دا څه رقم چهارمغز دی؟ څومره دی؟ او څومره کار لری؟ بیده شی چی سهار بیا ناوخته ویښ نه شي

} .... زهرا .... {

د الله اکبر غږ سره می سترګی خلاصی کړی او ومی لیدل چی نجونې بیده(ویده) دی ومې ویل: لیلا ولاړه شه لوری چی د سهار د لمانځه وخت دی ، هله لوری ، سهیلا سل واره می ویلي داسی مه بیده کیږه دامن دی واغونده بی دامنه ټول بدن دی معلومیږی ولاړړړه شه ، حمیرا ، ځمی ګُلې ، ما لورکی ، ولاړه شه لوری لمونځ ووایه ټول ولاړ شول. ولاړم اودس می وکړ او لاسونه می آسمان ته پورته کړل ، سپوږمې په آسمان کی ښکاریده

زهرا: خدایه ته راته صبر راکړه مه ایږده چی صبر می خلاص شی! زما نوړو ته صبر ورکړه ، پلار یی ته خپل په امان کی وساته او زموږ مسافر ته بیرته په خیر کورته راوړه آمین لمونځ مي خلاص شو، حمیرا په داسی حال کي چي خپل پوړنی یی له سره ایستل ، پوښتنه یی وکړه: موری موږ ولي لمونځ وایو؟
ځواب می ورکړ: ځکه چی د الله د نعمتونو لپاره شکر وکړو
حمیرا: نعمت څه دي؟

په همدی حال کی سهیلا په کنایه لرونکی لحجه وویل: نعمت یعنی پیسې، کور ، موټر ، ښایسته کالي ، خوندوره ډوډی

د سهیلا د خبری نه خفه شوم خو ومي ویل: ګوره لوری نعمت یعنی دا چی روغه یی ، سترګی لري چی ووینی ، ژبه لری چی خبری وکړی ، پښې لری چی په لاره لاړه شی ، پلار دی ژوندي دی یتیمه نه یی ، کالی، ډوډی او کور د نورو نعمتونو په شتون کی لاسته راوړلی شي لوری اوس هم ولاړه شي چاوی دم کړي او اضافه شیان سره ټول کړی چي اوس چهارمغز خرخونکي راځي

} .... لیلا .... {

چای مو وڅښل او شیان مو ټول کړل. حمیرا ته می وکتل. دا تر ټولو ښایسته وه. د دوولسو کالو وه؛ غټې سترګی چی په اوږده بانوګانو سره نور هم ښکلا یی ډیره شوی وه ، ډکی وریځی ، کوچنی او قلمی پزه ، سرې شونډې ، دا ټول د دی په سپین مخ کی د دې څخه د خداي ښایسته ترینه نقاشی جوړه کړي وه خو دی خپل تر عمره ډیر تره هڅه او کوشش کول.

ځان سره می وویل: که یو څوک موړ په کور کی ښه بخت او ښه ژوند ولری نو هغه به هرو مرو حمیرا وی. سهیلا هم ښایسته وه، زما د پلار خواته تللی وه. عسلی رنګه سترګی او بور ویښتان. وریځی یی بیخی نه لیدل کیدل ځکه روښانه رنګ یي درلود موږ ورته ویل( پِسک یا پیس ) او هغه به خفه کیدل. اوږدی سترګی ، جګه پزه او نرې شونډې چی جالب او ښکلی ترکیب وو ، او شاید په دوي کی بدبخته ترینه زه اوسم. د شپاړلس کالو عمر سره هیڅ مرکه می نه درلود. د جګ قد له امله خپل تر عمره مشره معلومیږم. خرمایی رنګه ویښتان می نه مور ته تللی او نه پلار ته، سپین پوست چی لږ سور ته ورته دي. د تنها شي څخه مي چي طالع کړي هغه می سترګی دي ، غټې او عسلي. جګه پزه او کوچنی شونډی لرم. ټول ماته (سره) وایي او ډیر می د دی لقبه بد راځی.

د خپل ځان په اره می فکر کول چي دروازه وټکیدل. مور مي وویل: هله سهیلا ژر دروازه خلاصه کړه ، راغي ، هله ژر د دوکاندار او زلمی کاکا د داخلیدو سره مورې ټول وډریدلو. دوکاندار خپل د دوو کارګرانو سره دننه راغي او څلور اتلس سیره د چهارمغز بوجیانې بې د سرای په کنج کي پریښودل او ویي ویل: دوه ورځي غټ اختر ته پاتی دی ، دوه بوجی د اختر په شپه اخلم او دوه نور هم وروسته د اختره بیا د زلمی خان سره یی حسابوم. دا یی وویل او لاړل.

ساعت د نیمه ورځ نه هم اوښتی وو او مورې د چهارمغز ماتولو په حال کی وو چی دروازه وټکیدل او زمورې ګاونډې (باصره) خپل د لور سره (نسرین) دننه راغلل.
مور مي دوي ته ښه راغلاست وویل. دا همسایه مو ښه او خوش اخلاقه ښځه وه.
زما د مور په ځواب کی یی وویل: خوشاله وسی زهرا جانې ، ښه یی؟ برایي خیرتي وه؟ څنګه غالمغال وو حاجی ته می وویل چی لاړشه وګوره څه خبره ده خو زما خبره یي وانوریدل ، څه خبره وه ګرانی؟

مور مي چي ژړا نیولي وه ، وی ویل: خیریتی وه ، زلمی خان په لورې آواز خبری کول.
د عادت یی خو خبره یي
باصره: هو نارینه د خبرو په وخت کي چیغی وهی چی خپل زور وښیي ، رښتیا د نسرین خاله جانې نسرین د خیره ناوې کیږی، د زوم کورنی ویلي چي دوه میاشتي وروسته د خیره راځي
زهرا: دا څنګه امکان لري؟ نسرین پیغله شوی ده؟
باصره: نه خو وایي چي د ضعیفی تاثیر دي ځکه نه ده شوي د خیره کیږي ، کمه خبره نه ده منګه ما او تا څومره وو چي ودونه مو وکړل؟ دا ورځ پر دوي هم ده نو زما مور او د ګاونډي ښځي خبری کول چی سهیلا وویل: نسرینننننن ، ګرانی ناوې کیږی؟ برایی می په حمام کی ولیدل چی ناوی څنګه ښایسته جوړوي کاشکی زه هم ناوي شوي وي ، کاششش.....

نسرین د سهیلا د خبرو په اوریدو سره مسکا یی وکړل چي د خوشالی نه معلومیده: د یوه سړی دوهمه ښځه کیدل هم خوشالي لری؟ پوهیږي چی د هغه اوله ښځه په ولادت کی مړه شوي؟ زه د واقعیت نه ډاریږم د ښوونځی څخه مي باسی بل کال نشم تللي باید کښینم او د کور کار وکړم ، باور وکړه دا هیڅ خوشالی نلری

زړه می د نسرینې په حال وسوځیدي اما د بده امله هېڅ کار مي نشو کولي صرف د ښه ژوند او ښه بخت دعا می ورته وکړه.
ټول د خبرو او چارمغز ماتولو حال کی وو ، زه هم لاړم چاوی می راوړل ، ومو څښل او یو د بل سره د زړه حال مو وکړ.
یخ ژمی وو او اختر هم راغي. لکه هر کال هیڅ تیاری مو د اختر د لمانځنی د پاره نه وه نیولی ، ځکه پلار می نه وو. فاطمه خپل د نوي کالو سره راغله او یو زړه غوټه یی هم خپل د زړو کالو څخه راوړل او وي ویل: دا واخلي په اختر کي یي واغوندي حمیرا په لوړ غږ وویل: ګرانې مورې ډېنګرې او اندامی یو ستا کالی پر مورې ډېر غټ دي ، مننه

فاطمی ته یي بیا زور ورکړ او وي ویل: بدبختو دغه هم چا نه درکول
خپل کالي یي ټول کړل او بیا یي وویل: لغ (لوخ) پاتی شي بی د هغه هم خوښیږي مو

او لاړه. اختر هم لکه نورو شپو تیر شو؛ تیاره او سوړ. هیچا زمورې دروازه ونه ټکول او مورې هم چی کالو مو نه درلود هیڅ ځای ته لانړو. ژمی د ټولو ستونزو او سختیانو سره په خلاصیدو وو. د ښوونځي دروازی بیرته پرانیستل کیدل او مورې هم باید ښوونځی ته تللي وي. زما د پلار راتګ ته هم دوه میاشتې پاته وه. د نسرینې واده تیر شو او هغه یی مزار ته یوړل د کورني او قوم نه لری ، ډیر یی وژړل سترګی یی پړسیدلی وه.

ځان سره مي وویل: خدایه، ما او زما خویندو چي هر کله واده کول هر ځای چی وشی خپل د مور او پلار څخه نږدی وشو ، خدای دي وکړی چی لری نشو.

کال نوي شو. درې کاله د داوود خان د کودتا څخه تیریدل. پینځه پینځوسم کال کی ښوونځی پرانیستل شول زه هم لسم ټولګي کی وم ، خپل د کاکا زوی سره سید جمال الدین افغان ښوونځی ته تلم. فاطمه ښوونځی ته نه راتله ، ټنبله وه ښوونځي ېې نه خوښیدي. ما سهیلا او حمیرا خپل د تیر کال کالی مو وایستل ، پریمینځل او ښوونځی تللو ته مو تیار کړل.

د ښوونځی د پیلیدو او پسرلي د راتلو سره ښه احساس می درلود. د سهیلا ، حمیرا او زمورِ د کاکا زوی (قباد) سره چي په زوره روان وو ځکه هیڅ علاقه یی ښوونځی ته نه درلود ،د ښوونځي په لور روان شوو.

زه او قباد په یو ټولګی کی وو. که رښتیا ووایم ما ډیر ملګري نه درلود ، یوه دانه وه چی مریم نومیده. مریم یوه ښایسته نجلی وه چي تور ویښتان، توری سترګي او تورې وریځی یی درلود. جګه او ډنګره هم وه او په قوم کی تاجکه وه. تل مي ارمان درلود چي لکه مریم ژوند وکړم. د مریم مور ښوونکې وه او پلار يي په راډیو کلیک کي کار کول ، یو روشن فکر او آزاده کورنی چی هر نجلی یی ارمان لری لکه زمورِ کورنی متعصبه او قید نه وه. مورِ ډیر سره نږدی وو ځکه هغه ډیره خوش اخلاقه او خوږه وه. قباد هم لکه ما وو ډیر اجتماعی نه وو او ډیر لږ ملګری یی درلود. د دی ملګرو نه یو يي (رضوان) نومیدي.

که رښتیا ووایم رضوان ډیر با ادبه ، با تربیه او ډیر خوش چهره او جذاب هلک وو. ځکه چی ښه مردانه څهره یی درلود خپل تر عمر یو څه مشر معلومیدی خو ګرم نظر یی درلود لکه یو ښه حس چي د هغه د کتو نه واخلي. سترګې ېې لکه د شپي د تیارو په شان وه ، غنم رنګه پوست یي درلود او شونډې یي خټه رنګ درلود چي کله به دي ده ته کتل لومړی به دي سترګي د هغه پر شونډو لګیدل. رضوان زمورِ د ښار د وکیل زوی وو ، اجتماعی او اقتصادی حالت یی ښه وو او زما په نظر تر ټولو غوره کار چي قباد خپل په ټول ژوند کي کړی، هغه د رضوان سره ملګرتیا ده.

هر وار چي به مي مخي ته راغي او دی به می لیدي ، ښه احساس می درلود خو هیڅکله می ځان ته دا حق ورنکړ چي تر سترګی مشی مخته لاړه شم. نه مي غوښتل د نورو د انتقاد او خبرو موضوع اوسم هغه هم په داسي ځای کي چي قباد وو ، هیڅکله هم نه! درس او ښوونځی ښه روانه وه او د چهارمغزو کار هم بد نه وو بس د خداي په رضا ، راضی وو. وخت تیریدی او هوا د پسرلي د ګلانو ډکه وه. ټاکل شوی وه چی زما انا (نیا) د مزار څخه کابل ته زموږ لیدلو ته راشی ، زه یو رقم پر شک منده وم ځکه هغې هیڅ کار بی خپل د ګټی او کم دلیل نه کول. زما د انا راتګ سمون شو زما د پلار د راتګ سره. زما انا سیاستی ښځه وه غوښتل یی چی ټول زامن یی تل د دې خبرې واورې د همدی خاطره هیڅکله خپل یو زوي يي هم له ځان څخه نه خفه کول.

د چهارشنبې ورځ وه او پلار می په جمعی رارسیدي او انا مي هم د جمعی په شپه. مور می ویل: د دوي دواړو راتګ په یو وخت کي خامخا یو دلیل لری ، دا چی دواړه یو د بل د راتګ نه خبر دي او په یو ټاکلی موده غواړي راشی، بس خدای دی خیر کړی.زه څلور کاکا ګان لرم چی مشر یی (زلمی خان) دی. (محمد نبی) او (جمال) په مزاری کی دی او زما پلار چی تر دوی کشر دي (خان شاه) نومیږی. پلار می باری موټر لری او د خلکو بار اخلی او د یو ولایت نه بل ولایت ته یی وړي د همدی امله د کال ډیره موده د سفر په حال کي وي.

شپه وروسته له ډوډی خوړلو مور می وویل: لیلا؟
ومي ویل: بله مورې؟
زهرا: ګرانې ته زما مشره لور یی تل پر تا تر نورو ډیر تره باور او اعتماد لرم ، احساس کوم چی یوه بده پیښه مخکی ده ښه پوره خپل پام ونیسه لوری چی هر څه دی واوریدل ژر ماته ووایه ، انا دی هسې دومره لاره تر کابله نه راځی چی زما بدمرغې وګوری سل په سله یو کار لری چی څه کار؟ خدای خبر دی زه خو نه یمه خبره زلمی خان هم دا څو ورځی هیڅ زموږ سره کار نلري چی دا هیڅ عادی خبره نه ده

ومی کتل چی مور می ډیره په دی فکرونو کی ډوبه شوي او پریشانه ده نو ومی ویل: راځه چی مثبت فکر وکړو ښايي هیڅ خبره به هم نه وی او په رښتیا راځی تر څو خپل د لمسیانو پوښتنه وکړی مورې ښایی ورته ارزښت ونه لرو خو زلمی کاکا می شته او فاطمه او قباد خو ډیر وربآندی ګران دی ، راځه اوس بیده شو صبا شپه معلومیږی چی څه ده پاره راغلې ده.
د تل په څیر زلمی کاکا زما د انا د راتګ په خاطر میلمستیا ونیول او ټول د دوی کور کی راټول شوو. د جمعی شپه وه مور می وویل: برایی می ستاسو انا په خوب لیدلی یو حلوا به خیرات کړو
مور می پخلنځي ته لاړه چی دروازه وټکیدل.
ومي ویل: څوک دي؟
ـ دروازه خلاصه کړه

زما د انا آشنا غږ وو. دروازه می خلاصه کړه د تل په شان ښایسته کالی یی اغوستي وه او د دروازی مخی ته ولاړه وه.
لیلا: سلام ستړی مشی بی بی جانې ، ښه یی؟
او لاس می ځینی ښکل کړ. په خلاص تندې دننه شوه
بی بی: مور او خویندې دی ښه دی لورکی؟ چیری یاست چی نه معلومیږی د زلمی کاکا په کور کی می ونه لیدلی ، مور دی چیری ده؟
سهیلا او مور می د پخلنځي څخه ووتل. سهیلا نږدی شوه او د بی بی لاس یی ښکل کړ

بی بی وویل: ناوی راځخه خفه یی؟ ولی زما لیدو ته رانغلی؟
مور می یو ژوره ساه واخیسته او ویي ویل: راتلم خو د زلمی خان د کور دروازه د غریبانو د پاره خلاصه نه ده
بی بی: دا خبری پریږده ته خو هسې جنجال ته تیاره یی ، زلمی تل تاسو سره ښیګنه کړی دا کارونه پریږدي تاسو ته می د مزاره یوه میلمنه راوړی هرو مرو به یی ګوری او د زړه څخه یی وخندل. مورې ټول بی بی ته وکتل چی مور می وویل: په سترګو ،

درځم. لیلا حلوا ته پام ونیسه چی ونه سوځی زه ژر راځم
بی بی می وویل: نجونو تاسو هم راشی

چی سهیلا ځواب ورکړ: نه بی بی جانی مننه ، زما نس درد کوی ځم بیده کیږم حمیرا هم ناروغه شوې د ښوونځی د مخه مو یو څه واخیستل او ومو خوړل اوس مو نسونه درد کوی
بی بی : یوووووو ته صبر قباد ته وایم چی دوا راوړی ، زهرا راځه چی لاړشو
دوی چی لاړل سهیلا ته می وویل: سهیلا ته پیاز ټوټی ټوټی کړه د کچالو غورمې د پاره ، زه ځم حلوا ګورم چی ونه سوځی.
هوا تیاره شوی وه چی حمیرا ویښه شوه
حمیرا: لیلا مور می چیری ده؟
سهیلا: تللی ستا د کاکا کورته ، انا دی راغلی سترګې دی روښانننننه
ومی ویل: بس ټوکې مه کوي ډوډی مو وخورئ ، بد می راځی چی دسترخوان هوار یی او تاسو کیسی کوي ، هله ژر ژر.

ساعت د لس بجو نه اوښتی وو ، حمیرا او سهیلا بیده شوې وه چی مور می راغله. په لاره نشو تللي ، کرار او آرام قدمونه يي اخیستل لکه په هره پښه یی چی زر کیلویی بار تړلی وی او دوه لاسونه یی داسی دوه بغلو ته ایله وه لکه چی ساه پکی نه وی. یو شیبه می داسی احساس وکړ چی اوس به ولویږي په ځغاستو می ځان ورته ورسول او په غیږ کی می ونیول
لیلا: څه شوي؟ زما په مور جانې څه شوی؟ خپل مور جارشم ولی داسی یې؟ څه شوی زما د زړه سَری؟ ووایه بیخی می زړه نارامه شو موری ، مور جانې ، څه شوي یو ځل خو ووایه

مور می په هم هغه لړ توان چی په بدن کی پاته وو په کراره یی وویل: ستا پلار ته یی ښځه راوړی

او ولویدله. ما نیولی وه خو د لاسه می خطا شوه. په غیږ کی می ونیول او چغی می کړی:سهیلاااااا ، سهیلااااا ژر راشه
سهیلا په خوبجنو سترګو راغله : څه شوي؟ څه خبره ده؟
ومی ویل: ژر یو ګیلاس اوبه راوړه ،ژر
سهیلا په ځغاستو پخلنځي ته لاړه او اوبه یی راویستل اوبه می خپل مور ته ورکړه ، وي څښل. څو شیبې بی حاله وه او
بیا ولاړه شوه چی کور دننه لاړه شي ومی غوښتل چی ورسره مرسته وکړم خو ویي نه منل او ولاړه.
سهیلا: څه شوی لیلا؟ ته پوه شوی چی څه خبره شوي؟
ومی ویل: نه پوهیږم یوازې وویل ستا پلار ته یی ښځه راوړی نور نه پوهیږم چی څه شوې

سهیلا څو شیبې فکر وکړ او بیا یی وویل: حتما هغه میلمنه ده یعنی اوس د زلمی کاکا په کور کی ده؟ ته صبر پلار می راشي فکر نکوم چی ویي منی پلار می داسی سړي نه دي
لیلا: راځه دعا وکړو ، دعا وکړو چی هر څه کیږي زموږ په خیر دی وی
سهیلا: پلار می سهار راځی ، انشاالله چی کم خبره نه ده
سهیلا دننه ولاړه او زه هیڅ نه پوهیدلم چی څه شوي. ولی یی ښځه راوړی؟ منګه زما مور څه کمی لری ؟ څه شي یي لامل وګرځیدي او چا دا پریکړه کړی؟
سر می په چاودیدو وو. آسمان ته می وکتل: خدایه زه نه پوهیږم چی څه شوی هر څه چي دي زموږ په خیر دی وی ، خپل د مور خفګان نشم لیدلی ، خدایه خپله زموږ ساتونکی شه آمین.

سهار وختې د اذان په وخت د ارامه ژړا غږ می تر غوږه شو. سر می پورته کړ او یو څه چی د خوب څپه راځخه لری شوه پوهه شوم چی مور می ده.
په ډیر خواشینوونکی او غمجن غږ یی د خدای سره د زړه حال کول. د خبرو مینځ کی می واوریدل چی ویل یي: خدایه ولی دی زه د یو زوی وړ ونه بوللم؟ ولی زه

باید دومره بدبخته او ناتوانه وشم؟ تر څو چی د پلار په کور کی وم تل د یو ګوله بوډۍ او نوې جوړه کالی ارمان کی وم او اوس می دا حال په نورو (لورګانو) دي ، بدبختی او بدمرغي دی یوازی ماته راکړی؟؟؟
نه پوهیدلم چی په راتلونکی کی به څه وشی خو هر څه چی دی ، ښه نه دي
سهار د چای څښلو وروسته سهیلا او حمیرا می پس خانې ته یوړل او دوي ته می وویل: ګورئ په دا راتلونکی څو ورځو کی یوه پیښه کیږی او زموږ دنده دا ده چی په هر حالت کی خپل د مور سره پاته شو
حمیرا: په پلار می کم څه شوی؟ روغ دی؟

لیلا: هو تیار دي ، ښایی تر شپی به ورسیږی ښایی هم ژر تره نه پوهیږم خو نور ماشومان نه یاست پیغلې نجوني یاست وایي زموږ پلار ته ښځه کوی او مو...
د حمیرا سترګې د اوښکو ډکی شوی.
ورته می وویل: حمیرا جانې هیڅ خبره نه ده یوه انسانه ده نو ، خو موږ باید داسی وکړو لکه چی بیخی زموږ نه بغیر څوک په دی کور کی نشته
احساس می کول چی حمیرا دا خبره نشي درکولی ځکه وي ویل: لیلا ته پوهیږی چی میره( د پلار بله ښځه) څه ته وایی؟ فرشته زموږ په ټولګی کی ده هغه میره لری آ بله ورځ (هغه بله ورځ) می ولیدل چی د لاس بند یی تک شین وو ویل یي چی خپل د میرې خبره یی نه وه اوریدلي نو ځکه یی وهلې وه ، هغه هره ورځ وهل خوری هره ورځ ژاړی موږ هم د دي وروسته وهل خورو او ژاړو نو د دي خبری کم ځای عادی او آسانه ده ؟

د خبرو په حال کی وو چی دروازه وټکیدل.
لیلا: هله سهیلا ژر لاړه شه تر څو مور ویښه نشي
دروازه خلاصه شوه او ومی لیدل چی انا می راغله او د سهیلا څخه یی وپوښتل:
مور دی چیری ده لوری؟
سهیلا: امممم هغه بیده ده بی بی جانې
بی له دی چی کم څه ووایی کور ته ننوتله او زما مور یی ویښه کړه. خپل د مور

څخه ولاړم چی د یوازیتوب احساس ونکړی چی انا می وویل: زهرا....ته زما خپل د لور په شان یی صحیح ده چی ما نه یی زیږولې خو ماشومه وی چی زموږ کور ته راغلی ، د خدای نه خوښیږی چی د خان شاه کور دی بی زویه وی دا چی زوی نشی راوړلی خو زما گناه نه ده، نوړی (لورگانې) دی د خلکو د کور دی آخر یوه ورځ میرہ کوی او ځی خپل د بخت پسی ، ته او خان شاه سپین ږیر توب او سپین سرتوب لري تاسو څوک ټولوي؟

کله چی ما انا خبری کول زما مور سترگی غالی ته نیولې وه او هیڅ یی نه ویل.
مهمه نه ده چی څه پیښه کیږی او څه مو مخکی دی زه او سهیلا باید خپل د مور تر څنگ پاتې شو او یوازی یی پرینږدو حمیرا کوچنی وه د هغه نه می کمه تمه نه درلود.

مور می یو ژوره ساه واخیستله او وي ویل: تاسو ټول کار خلاص کړی ، نجلی مو راوړی زما د لیوره په کور کی کښینولی اوس زما څخه څه پوښتنه کوي؟ زوی دی هم خبر دي زه بدبخته د هیڅه نه وم خبره ، د فاطمې مور ورته کالې او طلا اخیستی دیوال په دیوال یو لا زه خبره شوی هم نه یم اوس بیا ماته ولی وایست ؟ ها؟ کمه ښځه بنه غواړی؟ زما څخه تمه مه لری چی رضایت وښیم او په واده کی یی گډون وکړم ، زما څخه دا تمه مه لري.
سترگی می د اوښکو ډکی شوې وی چی بی بی می وویل: ما وویل یو ځل ستا څخه پوښتنه وکړم ځکه ته یی اوله ښځه یی ، بی له هغه هم خان شاه منلی ده بس خبره همدلته خلاصه شوه

د یو شیبې تامل وروسته ولاړه شوه او یی وویل: ته چی واده ته نه راځي نجونې راولیږه بی د هغه هم دغه دوه کوره یو دومره ډیر هم نه یو مازدیگر ته یو پیاله چای او کلچې ورکوی خلاص.
او لاړه. همدا چی خپل پښه یی زموږ د کور نه بهر پریښودل مور می په لوړ غږ په ژړا شوه. نه پوهیدم څنگه یی ارامه کړم.

ليلا: موری ، اوس خو شوي خير دي دومره ځان مه په عذابوه ، داسی مه کوه موری د هغې سرو سترګو ته په کتو شوم چی ويي ويل: پلار دی دوې مياشتی په مزار کی وو کور پر کور ګرځيدلي نجلی يی خوښه کړی او زه هم خبره نه. بايد تر ټولو وروسته خبره شم ، زه يی د بدو ورځو ښځه وم هر رقم ورځ می ورسره تيره کړه او اوس دي تللي ځوانه ښځه يی کړي ، لوری ته ووايه څنګه ځان ارامه کړم؟ مورې دلته د خوړلو ډوډی نه درلود او دي په مزار کی چکرونه وهل او ښځه يی خوښول دا خير دی نلری ، د زغملو نه دې. دا د خدای لاره نه ده ظلم دی لوری ، ظلم.

ډير درد يی درلود زما د مور حال کتل او دا چی زما پلار خپله دا کار کړي زغمل يی ډير سخت وو. صبا واده وو ټول د مخه خبر وه او مورې بايد په اخره شپه خبر شوي وي. دا چی څنګه شپه مو سهار کړه يوازې خداي خبر دي. حميرا چی ټولو شيانو ته بی تفاوته وه هم، هغه شپه بيده نشوه. په رښتيا دا څه روان وه؟
خپل انا می په ياد شوه ، خداي دی دا وبخښی جنتونه دی ځای وی، تل يی ويل: لوری هر څه چی کيږی د الله رضا ده هرو مرو پکی کم خير او ښيګڼه شته. هيڅکله د الله نه مه نا اميده کيږی د الله نه خپل خير وغواړي.

سهار د هوا د روښانيدو سره دروازه وټکيدل. بی حوصله ولاړم او دروازه می خلاصه کړه قباد ولاړ وو، د يو د کالو غوټی سره. نوی کالی يی اغوستی وه او ويښتان يی هم جوړ کړی وه. څوک نه وو چی ورته ووايی: ( احمقه منګه ستا واده دی چي ځان دي جوړ کړی؟)
د کالو غوټه يی نږدی کړه او وی ويل: دا واخله ، کالی دی ستاسو ټولو د پاره بی بی راليږلی. تازه ناوي راځی نو بايد تاسو هم نوی کالی واغوندي، پلار دی هم راغلي خپل بار خالی کړی ښايی دوه يا درې ساعته وروسته راشی
کالی می واخيستل او کورته لاړم بی له دی چی وګورم څه رقم دی غوټه می د سهيلا مخی ته وغورځول.

ومې ویل: واخله د واده د پاره یی کالی راوړی ته او حمیرا یی واغوندئ او لاړشئ زه نه راځم همدلته خپل د مور سره پاته کیږم یوازې یی نه پریږدم
لاړم خپل د مور څنګ ته چی بیده وه. بی له دی چی پوهه شی څنګ ته یی څملاستم خپل د پلار پر ځای. سترګې می چت ته نیولی وه چی مور می وویل: لاړشه ته هم کالی واغونده او د حمیرا او سهیلا سره لاړه شه، دوی یوازې مه ایږده په غیږ کی می ونیوله. د تل په شان تازه او په زړه پوري بوی یی درلود. په بازو می ښکل کړه او ومی ویل:که د چا فاتحه وی که واده ، زه خپل مور یوازی نه ایږدم ته تل پر ما باور کولی شی

مور می په څنګ شوه او زه یی ښه ټینګه خپل په غیږ کي ونیولم ، لکه د یو ناتوانه ماشوم په شان چی خپل کور یی ورک کړی وي. په لرزانده غږ چی غوښتل تکان یی کنترول کړی وي ویل: خدایه زر واره شکر چی داسی نوړی لکه تاسو لرم نه پوهیږم چی څه ده خیر کار می کړی چی خدای زه یی ستاسو وړ وبوللم.ډیر ښه احساس لری چی څوک ستا د درلودلو لپاره د خدایه مننددوی وي. ډیر تره می خپل په غیږ کی ټینګه کړه او ومی ویل: زره دی جیمی ، موږ تل درسره یو اوس هم ولاړه شه چی چای وڅښو. وخت موږ ته ماتله نه پاته کیږي ، نن دا ورځ لمانځو د سهار چای سره چهار مغز خورو ، ماتول یی موږ کوو او په پیسو یی خلک ودونه نیسی. دومره حق خو لرو

خپل د مور د خندا په لیدو می زړه خوشاله شو. ځان سره می ولاړه کړه او د کوټی نه می بهر یوړل.سهیلا او حمیرا د تګ د پاره تیارې شوی وه. رنګ به رنګ او کمرچینه کالی یی چی اغوستی وه ، د دوی ښایستوب یی لا څرګنده کړي وو. دوی ته د کتلو په حال کی وم چی مور می وویل: زه دی ړنده شم څومره ښایستې معلومیږې خدای خبر چی بیا به داسی کالی واغوندی که نه سهیلا منډه کړه او زما مور یی غیږه کی ټینګه ونیول او وي ویل: یوه نجلی ده زموږ په کور کی دومره ځای نه نیسی خو موږ څلور نفره یو پلار می هم تل د سفر په حال کی دی ، هغه باید ځان زموږ سره جوړه کړی موږ ځان د هغې سره نه جوړوو.

د دی صحنی لیدل ډیر ښه احساس درلود دا چی یو ځای وو دا احساس او مینه چی زموږ مینځ کی وه دا هیڅا نشو کولی چی له مینځه یوسي. موږ یو کورنی او د یوې وینې یو.خپل په خیال کی وم چی دروازه وټکیدل، حمیرا خلاصه کړه. پلار می وو. لاسونه او پښې می یخې شوی وی. څومره ځان یی جوړ کړی وو...!
نوې کالی ، نوې بوټونه ، څومره د زومانو کالي ورسره ښه ښکاریدل.

کور ته ننوتي او لومړی حمیرا یی غیږه کی ونیول او بیا یی سهیلا. غوښتل زما خواته راشی چی یو قدم شاته لاړم چی په حیرانتیا یی راته وکتل. خپل سر یی ښکته واچول او وی ویل: پوهیږم چي تاسو ټول زما څخه خفه یاست خو یو څه ما هم درک کړي ، تاسو ورور ته اړتیا لري او مور مو نور ماشوم نشی راوړلي او .....
پلار می د تشریح په حال کی وو چی زما مور زما د پلار بازو ونیول او په  کلکه او دلغدره لحجه یی وویل: یو وار دی زما څخه پوښتنه وکړه چی زه څه وایم؟ ستا اولادونه ډوډی نه درلود وږې وه او ته د واده په فکر کی وی. د خدای او رسول حق همدا دي؟ ښځه او نوړې دی د خلکو په کورو کی کالی مینځل ، په حمام کی کیسه کشی کول او ته د زوی په فکر کی وی؟ زوی دی چی پیدا شی تاته اوبه او ډوډی راوړي؟ یا دی ته اړتیا لری چی لومړی یی وروزوي؟ ته اوس نر یی؟

لکه نر به راغلی وی خپل خبره به دی کړی وی که چا مخالفت کړي وي بیا به تللی وي خپل په سر به دی ښځه کړی وی، موږ دلته پینځه میاشته ډوډي ونه خوړل وینه مو وخوړل پوهیږی؟؟؟ زلمی د سر په کاسه کی اوبه راکړه زما ککرې وګوره ، وګوره چی څنګه یی وهلې یم. که سترګې دی ړندې دی ، زړه خو دی ژوندی دی وګوره چی څه یی کړی مور می زموږ سختو حالاتو د ویلو په حال کی وه چی زما ده پلار غږ پورته شو: دا زما کور دي او زه پریکړه کوم چی څه وشی او څه ونه شي. څه پینځه میاشتی پینځه میاشتی ګډه یی نو پر ما ښه تیر شوی؟ که یو زوی می درلودی وی په جیمی زړه می کور پریښودي؟ ویل می چی شکر زوی می کور ساتی یو نر هلته شته. ته فکر کوي چي پر ما هوسا تیره شوه؟ بیا دا چی ته ماشوم نشی راوړلی زما ګناه ده؟ څلور کاله مخته خپله په حمام کی ولویدلی او ماشوم دی نُخصان (ضایع)

شو که ما وغورځولی؟ دا چی نور دی ماشوم نه کیږی زما ګناه ده؟ ستا خپل د بی پروایی څخه ده او اوس چی زه شي نه وایم ته ژبه مه باسه

هیڅ می طاقت نه کیدل چی د چا چیغی واورم. داسی احساس می کول لکه زړه می چی خولی ته راشی. مور می د اوښکو ډکو سترګو سره زما پلار ته کتل او په لرزانده غږ یی وویل: بی غیرته!
خان شاه: څه دی وویل؟
مور می په لوړ غږ وویل: بی غیرته ، دا زما حق نه دی ما د کور په خرڅ کی تاته اوږه درکړه ، ستا سره می مرسته وکړه

په همدی حال کی چی د پلار مخ می د ډیر غوسی څخه شین شوي وو یوه کلکه څپیړه یی زما د مور په خولی ووهله او چیغی یی کړی: زه بی غیرته یم؟ زه؟؟؟ ما په شپو شپو خوب نه دي کړي او تاسو دلته راحته په کور کی بیده واست ، هره شپه به می موټر چلول تر سهاره به می سترګی رنډي شوي ، څو واره می ټکر وکړ نږدی وو چی خپل ژوند د لاسه ورکړم ځکه د موټر چلولو وخت کی خوب وړي وم او ته اوس ماته بی غیرت وایی؟ دا کار می ده ډیر غیرت څخه کړي تر څو تاسو خپل د دسترخوان پر سر یو څه د خوړلو د پاره ولري څه چی می ګټلي تاسو ته می درکړی ، ناشکرررررړي ناسپاسسسسسي. ته نور ماشوم نه شي راوړلی د خدای د رضا د پاره می په کور کی ساتلي يې لاړشه شکر وکړه بل نر وسي د کوره دی په لغته باسی ، باید زما لاس و پښی مٌچی (ښکل) کړی فاح.....

خپل د مور د بیریدلی څهرې په لیدو او خوله یی چی وینه ځینی څخیدل ، هک و حیرانه خپل پر ځای پاته شوم ، هیڅ لاس و پښی می حرکت نه کول. حمیرا او سهیلا ژړل. پلار می په څو غټ قدمونو تر دروازی لاړی او د وتو په حال کی وویل: هر څوک چي راغي ، راغي څوک چی رانغی هم بلا می وریسی.
د ده د وتلو سره موږ درې سره سترګی خپل مور ته ونیول. نږدي شوم چی په غیږه کی یی ونیسم او آرامه یی کړم خو همدا چی ور نږدی شوم په دوو لاسونو یی کلکه

په سینې ټیله کړم او وي ویل: ورررکه شه ، خدای دی تا واخلی که په تاسو کي یو د لور پر ځای زوی شوی وی زه به دومره بدبخته نه وی او اوس به چا راباندی بله ښځه هم نه وی کړی ، تللي به وی کار به مو کړی وی تر څو زه نه وی مجبوره شوي چي لاړه شم حمام ته او کیسه کشی وکړم هلته هم ولویږم او د ماشوم راوړلو څخه خلاصه شم ، تاسو لعنتیان هیڅ څوک غواړي هم نه ،

یو مرکه هم نلری چی حداقل یو دانه مو کمه شي. زما سترګو د مخه ورکې شی ، نه غواړم ومو وینم
احساس می کول چی چا جوش اوبه زما په سر اچولی په تلوار خپل د ځایه پاڅیدم او په ځغاسته د دروازې خواته ولاړم.ویښتان می د منډې په حال کی خلاص شول. خپل د ټول توان سره ځغاستلم خو چیری؟ نه پوهیږم یوازې مې غوښتل چی ورکه شم او هیڅ څوک می پیدا نه کړی. اوښکی می د زنې څخه څڅیدل او ویښتان می هوا کی ښوریدل.

په هڅه کی وم چی هرڅومره توان لرم ځان ورکه کړم. یو ځای ته ورسیدلم چی ټول ښځې او نارینه ماته کتل ، هر چا یو څه ویل: ( هرو مرو چا  ورڅخه ناوړه استفاده کړی)
( ښایی چا وهلی ده)
( حتما د کوره یی ایستلی ده)
د خلکو غږ چی زما په اړه یی دومره منفی فکرونه کول زما مغز یی توژل. خپل دواړه لاسونه می خپل دوو خواته ، خپل پر غوږونو پریښودل تر څو وانورم چی خلک زما په اړه څه وایی. یوه ښځه زما خواته راغله او وی ویل:لوری چا دربانډی لاس اچولی؟

د اوښکو ډکو سترګو سره می ورته وکتل. غوښتل می خبری وکړم خو توان می نه درلود. د خلکو په مینځ کی بنده پاته وم د زړه درزا می دومره ډیره وه چی ما ویل اوس به ودریږي ، چی یو چا د لاسه ونیولم او خپل خوا ته یی کش کړم ......

ډیر زورور وو په غیږ کی یی ولویدلم.  سر می پورته کړ چی ګورم رضوان دي.
څه؟؟؟؟ رضوان دلته څه کوي؟ یعنی زه یی په دی حال کی ولیدلم؟؟؟؟
رضوان په خپل نارینه غږ، چی هیڅ یی د عمر سره سمون نه درلود وي ویل: خاله جانې دا زما خور ده ورکه شوې وه ښه شو چی پیدا می کړه. ستاسو د مهربانی نه مننه ژوندی واوسی

او زما لاس یی کش کړ ما هم هیڅ ونه ویل او د هغه شاته لاړم. خپل ځان سره د خبرو په حال کی وو چی د هغه یوه جمله می واوریدل: وه نجلی تا د خره ماغزه خوړلي؟ پوهیږی چی چیری یې؟ په داسی وضعیت هم څوک د کوره وځې؟
همداسی چی زه یی خپل شاته کشولم زموږ د کور خواته روان وو. ومی ویل: زه کورته نه ځم
رضوان: ولی؟
لیلا: په تا هیڅ اړه نلری
رضوان: پوهیږم چی پلار دی نن بله ښځه کوی ته باید خپل د مور تر څنګ واوسئ. پیغله نجلی کور دی ایله کړې، سهیلا او حمیرا څه وکړی؟ ته عقل لری که نه؟ فکر می کول چی هوښیاره نجلی یی!

بیا می وویل: په تا هیڅ اړه نلری زه دی تعقیبولم؟ ته څوک یی؟ پریږده زما لاس
رضوان: زه تا نه تعقیبوم راغلی وم چي قباد وګورم چی ومی لیدل په ځغاستو د کوڅی څخه ووتلی. زما غیرت زه پرینښودلم چی همداسی بی تفاوته دی تر څنګ تیر شم. ستا دا حالت چی هر چا لیدلی وی بل فکر یی کول. وګوره څپلې دی هم نه دی په پښو کړی خره شوې یې څه بلا؟
خپل د پښو خواته می وکتل او تازه عقل می سر ته راغي. ته دا زما کالی وګوره ، ته می دا بی بوټه پښو ته وګوره. خدااااایه رضوان زه یی داسی ولیدلم؟؟ ویښتان می هم بُبر. ژمنځ کړی می نه وه او خدایه. ځمکه دی خوله خلاصه کړی او ما دی وخوری.

سر می ښکته وو ، هر څه چی می خپل لاس کشول زما لاس یی نه پریښودی.
ومی ویل: زما لاس خوشی کړه ، په خدای ځم کور ته، دا دی وګوره خپله ځم
چی ګورم په سپین سترګې سره یی غیږ کی ونیولم. زما سر يي خپل پر سینې
پریښود او وي ویل: آرام.....آرام... صحیح ده چی ستا پر ځای نه یم خو درک لرم
انسان یم. په کور کی به مو ډیری ستونزې وی خو خیر دی ته صبر ولره. ته چی
داسی کار کوی او تښتې نو د نورو څخه څه ګیله؟
ما هیڅ نه اوریدل چی څه وایی. زما سر یی کټ مټ خپل په زړه ایښی وو، د زړه
درزا یی څومره ډیره وه. د ځان سره می وویل: ولی د زړه د تکان غږ یی دومره لوړ
دي؟

زه خپل د لیونتوب خیالی نړۍ کی وم او هغه نصیحتونه کول.
بیا می ځان سره وویل: خدایه دا تور کالی څومره ورسره ښه ښکاری! خدای وهلي
څومره خوش بویه عطر یی وهلې ، ناقی نه ده چی دومره مئینانې لرې. ډیر ښایسته
شوی د ده د راتلونکی ښځی په ښه زړه.
چی یو په دوه یی ځان څخه لری کړم او وی ویل: پوهه شوی چی څه می وویل؟
زه هم چی بیخی نه وم پوهه شوی چی څه یی ویلی ، ومی ویل: هو پوهه شوم
مننه
رضوان: ډیر ښه ، اوس هم په منډه کورته لاړه شه چی څوک دي تر دی بالا ونه وینی
، هله ژر

په تلوار د کور خواته روانه شوم چی نارې یی کړه: رښتیا خلاص ویښتانو سره ډیره
ښایسته ښکاری هسې یی هره ورځ ترې.
پوهه نشوم چی څه وشول؟ څه یی وویل؟ خلاص ویښتان؟ښایستوب؟زه؟ او
خدایه.
زړه می یو رقم شو احساس می وکړ چی خالی شو. هیڅ می ونه ویل او د کور
خواته روانه شوم.

} .... رضوان .... {

کرار کرار د کور خواته روانه وه. سر تر پایه می ښه ورته وکتل. پښی یی لڅی (لوڅي) وي ، د پرتوګ یو پایڅه یی پورته یوه یی ښکته. د یو بولیز سره چی د غورمې بوی یی کول او خلاص و ببر ویښتان! هیڅا فکر نکول چی یوه ورځ به لیلا په دی حال د کوره ووځی ، لیونۍ نجلی. یعنی څومره ستونزې یی په کور کی درلود چی داسی د کوره وتښتیدله؟ اصلا دا چیری روانه وه؟ څومره یو نفر یوازې کیدلي شی چی داسی کور پریږدی؟ دا نجلی په ښوونځي کی ډیره با نظمه او با صبر و حوصله وه. خامخا کم څه شوی چی زغمل یی د دې د توان څخه لوړ وو دا چی څه؟ خدای خبر دی او خدای دې ورسره مرسته وکړی.

ډیری پوښتنې می درلود خو د پلار یو نصیحت می تل په غوږ کی وو چی ویل یی: د هیڅا په اړه قضاوت مه کوه هر څوک خپل ستونزی لری چی یو خپله پوهیږی او خدای.ماتله شوم چی کوڅی ته ننوځې او بیا د کور خواته روان شوم بیخی می له یاده ووتل چی قباد وګورم خو ځه خیر صبا سهار یی په ښوونځی کی ګورم.
لیلا چی کوڅی ته ننوتلم ، موږ د کور د لرګیو زړه دروازه او زما د کاکا د کور سپینه دروازه می ولیدل. په داسی حال چی دومره یو بل ته نږدی وه څومره یو د بل نه لری وه. خدایه انصاف دی چیری دی؟ راته مهمه نه وه چی مور می څه راته ویلی وه ښایی که زه هم ده هغې پر ځای وی ما هم همدا خبری کړې وي اوس د دی وخت دي چي زه یی څنګ ته اوسم څه ما وغواړی څه می ونغواړی.

دا زما کور دی اصلا زه کم ګور ته تللی شم بغیر له دی ځایه؟ د کلک او ډاډمنو قدمونو سره کور ته داخله شوم. زما د داخلیدو سره مور می په ځغاستو زما خواته راغله او زه یی غیږ کی ونیولم او ژړا یی پیل کړل. د ژړا په مینځ کی چی هیڅ یی نشو کولي خپل ژړا کنترول کړی وی ویل: لیلاااا زما لورکی چیرې تللې وی؟ سل واره مړه او ژوندې شوم سهیلا او حمیرا ستا تر شا راغلل خو ته چیرې وی؟؟؟ ما وبخښه زما د زړه سری هیڅ می خپل خبرو ته فکر نشو

ټینګه می په غیږ کی ونیول او ومی ویل: پوهیږم زما ګرانې موری پوهیږم. ستا د پاره د دی حالت زغمل هیڅ آسانه نه ده ښایی هر څوک ستا پر ځای وی تر اوسه خسته شوې وی او موږ به یی پریښودلې وی ، مننه چی زموږ د پاره دا حال زغمې. زه تل ستا سره یم سمه ده چی لاړم خو بیرته راغلم یو څه تازه هوا می په پوچې ککری ولګیدله او پوهه شوم چی د تللو د پاره هیڅ ځای نه لرم او بی له تا هم هیڅوک نلرم. ستا تر سر وګرځم زما مورکی د ژړا څخه هیڅوک ځای ته نه دي رسیدلی

ټینګه می د دواړو بازوګانو څخه ونیوله او ومی ویل: ګوره ولاړه شه حمام وکړه ، نوې کالی واغونده تر څو لاړشو واده ته. ځان مه بایله پلار می مئین شوي نه دی د اوله یی هم وویل چي د زوی د پاره یی دا کار کړی! خپل ځای تش مه ایږده چی بل څوک راشی او ستا ځای ونیسی یا به همدا نن پریکړه کوی چی پیاوړې به اوسیږی یا به تر پایه سر دي دوی ته ښکته وي او دوی به دی هم په سر سر وهی او ته به یی هم زغمي ، یوازې ته نه موږ درې به هم د مینځو (نوکرانو) په شان به یو. هله ژر کالی دی واغونده چی لاړ شو واده ته

مور می خپل د اوښکو ډکو سترګو سره ماته وکتل او وی ویل: زه راشم واده ته؟؟ خپل د میړه واده؟ خبری کول آسانه دی لیلا عمل کول ورباندي غضب دی ، دعا کوم چی هیڅکله زما دا حال درباندي رانشی چی ما درک کړی، زه دومره پیاوړې نه یم. څه درواغ ووایم ، پیاوړتیا د پاملرنې څخه راځی څوک ماته ارزښت راکوی چی زه په مجلس کی یم که نه؟ پلار دی؟ د هغه څخه خو بیخی نامیده شوې یم.
انا دی؟ هغه خپل د زوی خوشالي غواړی.

کاکا دی؟ ماته خپل د کور د مینځي په اندازه هم ارزښت نه راکوی. څوک همممم څوک ؟ چاته ارزښت لری چی زهرا شته که نه؟ منګه زه څومره عمر کوم لوری؟ ډیر چی عمر وکړم لس کاله نور ښایی هم لږ تره.
نه کیدل چی خپل د مور خبره رده کړم ځکه خبره یی رښتیا وه!

ژوره ساه می واخیستله او ومی ویل: چی څه وشی؟ فکر وکړه چي ته 120 کاله عمر وکړې خداي تا دومره ژر نه اخلی ستا په لاس کی خو نه ده ، خپله هم پوهیږي. په دومره کلونو کی څه کوی؟ کله جنګیږې؟ کله خپل حق اخلی؟ تر اوسه دې د دی کور څخه خیر نه دي لیدلي د دی نه وروسته یی هم ورکوی د خلکو لور ته؟ ما ، سهیلا او حمیرا څه ګناه کړې؟ یوازې خپل غم مه کوه زموږ فکر هم وکړه. ټول موږ مړي غواړې ته بیا زموږ په تابوت کی میخ مه جوړېږه موری. څنګه اجازه ورکوی چی موږ د بل چا د لاس لاندي واوسو؟

مور می د اوښکو ډکو سترګو سره ماته وکتل او وی ویل: سمه ده ، هر څه چی ته وایی هم هغسی کوم بله چاره نلرم
خپل مور می حمام ته یوړه او سرو کله می ځینی پریمینځل. د حمامه راووتلو چی ګورم د سهیلا او حمیرا ساه لنډه لنډه کیږي لکه چی ښه منډې یی وهلی وی. زه یی چی ولیدلم سهیلا نږدی شوه او په اوږه یی چوچکه (چوندی) کړم او په لوړ غږ یی وویل: کم هدیرې ته تللی وی؟ ټول ځایونه مو وکتل پښې مو ماتې شوی ، زما مور یی لږ ژړولی چی ته خره یی هم ژړوې؟ که دا وار لاړې په خدای می دی قسم وی پښی دې درته ماتوم

په داسی حال کی چی خندا نیولی وم په غیږ کی می ونیوله او ومی ویل: خپل خورکه جارشم ، ژر خپل لاس و مخ ومینځي چی ځو ستاسو د پلار واده ته.
او خپل د مور لاس می ونیول او په کور ننوتلم. تر څو شیبو د سهیلا سترګی چی برګی پاته وی زما د سترګو د وړاندی نه لری کیدل. بیچاره حیرانه شوی وه.
خپل د مور او د نجونو د تیاریدو سره د کاکا کور په لور روان شوو. همدا چی می د دروازی اوسپنه په لاس کی ونیول چی دروازه وټکوم ، دروازه خلاصه شوه. پلار می ولاړ وو. زموږ په لیدو یی خپل یوه ورځه پورته کړه او وی ویل: تاسو ټول؟
د جملی خلاصولو محال می ورنکړ او ټینګ می په غیږ کی ونیول او ومی ویل: دا ستونزی ستا او زما د مور په مینځ کی دی ماته ستا خوشالی اړینه ده همدا چی ته خوشاله یی زه هم خوشاله یم.

زما په خبرو ټول حیران شوي وه او مور می بیخی په ځانګړې ډول حیرانه وه ورته می وکتل او سترګه می ووهل. بیرته می خپل ځان عاجزه ونیوله او خپل پلار ته می وکتل. پلار می زما تندی ښکل کړ او وی ویل: خپل سره لور جارشم ، هله دننه راشئ

د (سره) کلمې څخه می بی حده بد راتلل خو له بده مرغه اوس په داسی حال کی نه وم چی خپل خفګان خپل په څهرې کی ښکاره کړم. زمورږ د ننوتلو سره ټول حیرانه شول خصوصا فاطمه. د کاکا کور می یو نوې او دوه منزله کور وو. ترورې (د کاکا ښځه) می شکریه نومیږې په مجلسونو کی او د خلکو مخته ډیر ښه خبری اتري او چلند کوي خو په عادی حالت کی زمورږ سلام هم علیک نه نیسی ځکه پلارګښی یی پیسه داره خلک دی او دا هم فکر کوی زمورږ سره خبری کول د دی د سپکاوي لامل ګرځی. په ناز او کرشمه مورږ ته نږدي شوه او وی ویل: ښه راغلې زهرا جانی، سترګې دی روښانې! خان شاه هم راغلی او انشاالله چی د دی نوې ناوی پای قدم زمورږ او تاسو د پاره ښه او نیک وی ، راځی دننه

مور می هغې سره دننه لاړه. د تل په شان زمونږ سره یی ستړی مشې ونکړل. زه په دی باور یم چی د انسان شتمني د هغه تربیه او نزاکت دي نه طلا او پیسی. خپل کاکا ښځی ته د لعنت ویلي حال کی وم چی فاطمې د بازو څخه ونیولم.
فاطمه: بیشکه ، دا وګوره څنګه یي ځان جوړه کړی زړه دی جیمی دلته درته میرړه نه پیدا کیږی چی ځان دی دومره جوړه کړی خو بیا ښه شو خپل د پلار محفل ښه تود کړی. د چای وړلو حوصله هم نه وه شکر خدمتګارانې راغلی.

یوازی خدای خبر دي چی څومره می د دی نجلی څخه کرکه کیږی. تر څو چی می غوښتل خوله خلاصه کړم او ښه کلک ځواب ورکړم حمیرا وویل: مورږ د یو پیرځ وروسته یو محفل ته بلل کیږو د ټولو سترګې په مورږ کی دی. ته چی هره ورځ په محفلونو کې ورکه یی کمه دي ستا مرکې؟ باید ښایستوب ولری ګرانې ، ښایستوب تر څو د ټولو سترګی خپل ځان ته واړوی. ښایسته کالی چی په شلغم هم واغوندی بیا

هم نه ارزي. او پاته شوه د ګارسون خبره محفل زموږ د پلار دي نه ستا د پلار. نو ښه تره دا ده چې ډیر زموږ په لاس و پښو کی رانشی

تل د حمیرا د حاضر ځوابی څخه خفه وم خو چی د فاطمې ځواب یی ورکړ ډیره هم خوشاله شوم. د فاطمې د شین توب څخه معلوم وو چی څومره په غوسه شوی ده او کم څه هم ویلو ته نلری. پتنوس یی کلک په ځمکی پریښود او لاړه. سهیلا ته می وویل: پتنوس واخله او چاوی وګرځوه. بیازو دومره ډیر خلک هم نه دی.
زه او حمیرا هغه کوټی ته لاړو چی ناوي هلته وه. د تل په شان چی واده به وو یوه ښځه دایره وهل او دوو نورو بدلې ویل. د ناوی څهرې ته می وکتل ، یوه پخه نجلی وه ښایی د پینځه دیرش یا څلویښت و کالو. په ډیر ختې ارایش باندی د مخ چملکي یی ورکه کړې وه. په ټینګه ویلي شم د مزار تر نجونو ښایسته وه.

سپین پوست ، ښه او جیګی وریځی ، شنې سترګی ، نرې شونډان ، پزه یی یو څه قوس درلود خو بیا هم د دی د ښکلا څخه یی څه نه کمول. څه فایده چی دوهمه ښځه شوی؟ بیا کاشکی یو پیسه داره سړی سره دی واده کړی وي زما پلار خپل کفن ته لا حیران پاته وو.
پام می شو چی په ډیر غوسی سره زما مور خواته ګوری ، څومره سپک او بدبخته. دا څنګه خپل ځان زما د سپین سرې مور سره برابروي؟ په رښتیا چی بی عقله وه. په څو غټې قدمونو می ځان ناوې ته ورسول غوښتل می چی روماچی ورسره وکړم چی زما په لیدو حیرانه شوه. په لوړ غږ می وویل: مبارک دی شه. ډیره ښایسته یی کټ مټ زما د پلار وړ یی

پلار می د دروازی خولی کي ولاړ وو وی ویل: شګوفه جانې دا لیلا ده ، زما مشره لور او دا هم حمیرا زما کشره لور
په همدی وخت کی سهیلا کوټی ته داخله شوه او پلار می وویل: ماشاالله دا می هم دریمه لور ده. درې سره زما د سترګو تور دی.
شګوفې ته می وکتل چی هڅه یي کول خپل غږ ښه وښیی ، وی ویل: هو ماشاالله

ښایستې نجونی دی ، د لیدو دی خوشاله شوم
او کلک یی زما مخ ښکل کړ ما هم همغسی کلک ښکل کړه او لاړم خپل د مور څنګ ته کښیناستلم. ښځو بدلې ویل پیل کړل:
چشمک هایت خمار خمارررررررر
ابروهایت دم مارررررر
لبک هایت لبشکررررر
دندان هایت دانه انارررر

مورې هم نڅا او شیرینی خوړل پیل کړل. خپل د مور څخه می تمه نه درلود چی زمورې په څیر چلند ولری خو همدا چی خپل په خفګان برلاسه شوې وه ډیره غټه خبره وه. ورځ په خلاصیدو او شپه په راتلو وه. ټول لاړل او مورې پاته شوو او زما د پلار نوې ښځه. د کاکا ښځی نارې کړل: نن شپه دی زمورې په کور کی تیره کړی سبا بیا هغه د سرای کنج کوټه ورته جوړه کړی

د ناوې مور چی د مزاره ورسره راغلی وه وی ویل: زما لور په غوجله(ګاوخانه) کی نه ده غټه شوی چی تاسو اوس د سرای کنج کوټه ورته ورکوی ، هره کوټه چی زما لور خوښ کړه بس همغه کوټه زما د لور ده
کاکا ښځه می پوسخند ووهل او وی ویل: نوری کوټې یی هم د غوجلی په څیر دي کمه بله ښه ټاکنه نلرې خاله جانې
د دوی خبرو مینځ کی سترګی می خپل پر مور ولګیدل. سترګی یی د اوښکو د رڼا څخه ځلیدل او په نامیده نظر یی ټولو ته کتل.

هغه کور ته چی دې په کلونو زیار ایستلی وو دوی ورته غوجله ویل. هیڅکله خپل د کور څخه ناراضه نه وه او تل د هغه پر زاړه دیوالونو باندی یی شکر ایستل.
پلار می په لور غږ وویل: خیر دی خاله جانی ، صبا ورته کوټه جوړوو زړه مو جیمی.
بی د هغه هم کور په رښتیا هم پخوانی او زوړ دی
پوهه شوم چی د دي صحني لیدل زما مور ته هوسا نه ده او نور نشی کولی چی

ځان بی تفاوته ونیسی ، ومی ویل: ستاسو په اجازه مورِ به لاړشو ، دوی هم چی نن شپه دلته پاته کیږی ټولو ته ښه شپه.

او خپل د مور لاس می ونیول او د کور خواته روان شوو. زما مور زما لاس ونیول او وي ویل: زویه ودی لیدل چی پلار دی ورته څه وویل؟ کور ورته جوړوي. ماته څه؟ زه د دی کندې ورِ یم؟
لیلا: هو موری هم می ولیدل هم می واوریدل ، بل څه چاره لرو؟ که رښتیا خبره وغواړی چاره شته خو تا هیڅکله اعتراض نه دی کړی ، سمه ده چی زما پلار هیڅکله درته کور نه دی جوړ کړي خو دا هم ومنه چی تا هیڅ هم نه دی ویلی. نه دی ویلی چی نوی دیګ غوارِم ، نوې لوښی غوارِم ، نوې کالی غوارِم ، ښه پاک او رنګ کړی کور غوارِم تا هیڅکله هیڅ هم نه دی غوښتی موری زما پلار هم عادت شو چی هیڅ پاملرنه تا او کور ته ونکړی ، سخته ده خو رښتیا خبره ده ستا ژوند همغه دی چي تا غوښتی

ومی لیدل چی زما په خبرو یی زړه ونیول شو، خپل قدمونه یی ژر ژر کړل او تر ما ژر تره کور ته داخله شوه. خپل کوټی ته لاړه او دروازه یی هم بنده کړه.
زه څه وکړم؟ پوښتنه یی وکړه ما هم ځواب ورکړ. په رښتیا که زما د پلار څخه یی غوښتی وی ښایی زما پلار هم بالاتره پاملرنه کور او مورِ ته یی کړی وی. تل یی مورِ ته ویل چی زویه پلار دی نلری ډیر په سختی کار کوی ، د دی پای یی څه؟ لاړی بله ښځه یی وکړه.

د کالو بدلولو وروسته خپل لاس و مخ می ومینځل او کوټی ته لاړم. حمیرا وویل: لیلا ستا په نظر هغه ښځی ته باید مور ووایو؟
ومي ویل: نه ، هغه زمورِ مور نه ده
حمیرا: خو زما پلار همدا څو شیبی مخته راته وویل چی باید خپل نوی مور ته احترام پریږدي دا څه معني؟؟

د حمیرا د خبرو په اوریدلو سره فکر یوړم ، ولی زما پلار داسی وویل؟؟ هغه خو زموږ مور نه ده

ژوره ساه می واخیستل او ومی ویل: خیر دی بیا ګورو چی څه وکړو اوس ژر خپل کالی بدل کړی او د کور کالی مو واغوندی چی د خوب وخت دی
او خپله بیده شوم. سهار د اذان په غږ سره ټول ویښ شوو او د سهار چای مو تیار کړل چی دروازه وټکیدل.

لیلا: سهیلا لاړشه وګوره چی په دی سهار وختی څوک دی
سهیلا لاړه او دروازه یی خلاصه کړه چی پلار می د یو څو کارګرو سره کورته راننوتی. د سلام او روغبړ وروسته موږ د ښوونځی په لور روان شو خو مور می تر وروستی شیبه خپل د کوټی دروازه خلاصه نکړه. کارګران د کوټو په پاکولو بوخت ول. ویلي وه چی کوټه په سپین او شین رنګ، رنګوي.
یوه ژوره ساه می واخیستله او خپل سر می پورته کړ ، چی قباد ولاړ وو تر څو موږ ښوونځی ته ورسوي.

ومی ویل: حتمي باید هره ورځ موږ ښوونځی ته ورسوي؟ ته به تللي وي شله انسانه قباد وخندل او وي ویل: تاسو خو بی عقلی یاستی نه پوهیږی ، زه ځم چی تاسو چا سره انډیوالی ونکړی هر څه چی نه وي تاسو زموږ د کور ناموس یاست
او بیا هم خپل همغه بیعقلی  خندا ته یی دوام ورکړ. ځان سره می فکر وکړ په ریښتیا چی د حیرانتیا ځای دی د داسی مور او پلار څخه دواړه اولادونه یی لیوني او بی عقل ، حیف.

د کوڅې سر ته ورسیدلو چی رضوان می ولیدل لکه چی قباد ته ماتله وو. د پرون ورځې پیښی لکه فلم زما د سترګو وړاندی تیر شول. د شرم احساس می کول. خپل سر می ښکته واچول او د قباد د شا څخه تیره شوم بی د سلام ویلو ښوونځی ته ننوتلم. د تل په شان می لومړی مریم ولیدل او روماچی مو وکړل. د درسی ساعت

پیلیدو ته لا وخت پاته وو هغه می وکړه چې په ډیر لنډ ډول د پرون پیښی ورته ووایم او په ځانګړی ډول د رضوان سره د مخامخ کیدلو برخه.

مریم هم په ډیر ژور نظر زما خبرو ته یی غوږ نیولی وو او کله چی زما خبري خلاصی شوي په پای کی وویل: اوس د رضوان څه ګناه وه چی یو سلام دی هم ورنکړ؟څومره مرسته یی درسره وکړه. کله چی غمجنه او خفه یی او یو څوک راځی تاته تسلي درکوی دا یو نړی ارزښت لری . ډیره غټه بی ادبي دې کړې ګوره په تفریح ساعت کی لاړه شه او ورته سلام وکړه او د پرون د پاره هم ورڅخه مننه وکړه داسی به ډیر ښه شی ، شرط وهمه چی پرون دی تش یو مننه هم ورته نه ده ویلی
سر می ښکته واچول او ومی ویل: که رښتیا وغواړی نه

مریم: ودی لیدل؟ ډیره بی ادبی وشوه ښه دي چي یوه کورودانی ورته ووایی ستا څخه خو هیڅ نه کمیږی
د لومړی ساعت د ختمیدو وروسته لاړم ورڅخه مننه وکړم چی سترګي می د هغه پر لاس ولګیدل. رضوان یو څه یی ویل او خندل. زړه کی می داسی احساس پیدا شو چی زه باید خامخا پوهه شم چی هغه څه دي ، چی د لیک لاندی د څو قلبو د لیدو سره پوهه شوم چی کم چا ورته د مینی لیک ایښي، بیرته لاړم.

نو څه ؟ معلومه ده چی داسي یو هلک لکه رضوان هرو مرو د یو چا سره په اړیکه کی دی او دا ډیر هم عادی خبره ده. زما په نظر اوس ښه وخت نه وو ، ومی ویل: ښه تره به یی چی د ښوونځی څخه د وتلو په وخت کی ورته ووایم.
ټول درسی ساعتونه په دی فکر کی وم چی یعنی زموږ د ټولګی کمه نجلی ده ته لیک لیکلئ؟ په دی معنا چی رضوان په چا مئین شوی؟ یو بل ته لیک رالیږي او د مینی خبري کوي؟

بیا می وویل: لیلا، دا په تا هیڅ اړه نلری په تا یی څه؟ هر څوک چی ده وی دي ، ډیر په اړه یی فکر مه کوه
خو بیا می وویل: ته دا عاجزی ته یی وګوره داسی یی ځان کرار نیولی، هیڅ یی نه

ښکاره کوي چي مئين شوی
بيا می وويل: ليلا دا په تا هيڅ اړه نلری د نورو په ژوند کي مداخله مه کوه
د ښوونځی څخه د وتلو په وخت کی می وليد چی يوازی د وتلو په حال کی وو. ژر
می ځان ورته ورسول او ومی ويل: رضواانه
پينځه قدمه راځخه لری وو شاته يی وکتل او زما په ليدو حيران شو. ومی ويل: د
پرون د پاره ډيره مننه

زه يوه بی زړه نجلی وم او کله چی می خلکو سره خبري کول شرم به می راغی نو
ځکه می خپل سر ښکته اچول او خبری می کول
ليلا: بايد پرون می درڅخه مننه کړی وی خو ونشو ، هيڅ ښه حالت نه وو ، ښايی
فکر وکړی چی زه يوه بی ادبه نجلی يم خو داسی نه ده هغه وخت او حالت او زما
کالی او هغه څنگه چی زه ښکاره کيدلم دا اجازه يې نه راکول چی ستا مخ ته
ودريږم او درسره خبر.....
سر می پورته کړ چی گورم رضوان نشته.
څه؟؟؟ څومره بی ادبه انسان. يو څو شيبې يي ونشو کولی چی صبر وکړی؟ منگه
څه کيدل ؟ د ښاغلی ارزښت او مقام ښکته راتی؟ تور ، بدرنگه هلکه ، خدای دی
ووهه ، خدای شرمولی.

خپل شاوخوا ته می وکتل چی گورم ټول د وتلو په حال کی دي او ماته گوری.
خدايه ، يعنی ټولو وليدلم؟
په ډير غوسه او غصب باندي د کور خواته لاړم سهيلا او حميرا تللې وه ځکه ما ورته
وويل چی زه د مريم سره کورته راځم خو غوښتل می چی د رضوان سره خبری
وکړم نو مريم می هم کورته استولی وه او خپله رضوان ته په تمه پاته شوې وم.
قباد هم تللی وو خپل د ملگرو سره يی فوټبال کول.

هغه ورځ ډيره يوازی وم هر څومره چی می هڅه کول ځان ارامه کړم خو نه کيدل.
خپل زړه کی رضوان ته د ښيراوو په حال کی وم. بی عقله هلک!! ځان يی څه شی

فکر کړي؟ بی ادبه ، بی نزاکته. یو څو شیبې به دي صبر کړی وی منګه څه کیدل؟ دومره غرور هم یو انسان ته ولاکه ښه وی ، خدای شرمولی ، خدای دی ووهه غوسه کرار کرار خپل ځای خفګان ته ورکړ ، هڅه می کول چی خپل اوښکی کنترول کړم او ونه ژاړم خو نه کیدل. زړه می ډیر نیولی وو.

خدای خبر چی خپل ځان سره یی څه فکرونه کړی چی خامخا زما خوښ شوی چی ما ورته غړ کړ یا داسي کم څه یی په فکر کی به ګرځیدلي وي ، خامخا همداسي شوي چی ناځاپه بی له دی چی کم څه ووایی ، لاړې.
د کور څخه نږدی وم خپل اوښکی می پاکی کړی چی احساس می وکړ یو چا زه د بکس څخه ونیولم. چی شاته وګرځېدم ګورم چی رضوان دی ....

څو شیبې می ورته وکتل او یو ژوره ساه می واخیستل تر څو ښه کلک ځواب یی په مخ ورته ووهم چی وی ویل: آرام ارام ، لیونې نجلی زه نه بی نزاکته یم نه بی ادبه او غرور هم نلرم د نیکه مرغه هلته چی تا نارې کړم په هم هغه وخت کی زما ورور هم راته غږ وکړ هیڅ می نغوښتل چی ما د یو نجلی سره د خبرو په حال کی ووینی او نغوارم چی بیا ورته څرګندونه وکړم. دا ستا ګناه ده چی خپل د بوټو سره دی خبری کول ما څو واره درته اشاره وکړه خو تا ونه لیدل ، ستا خپل ګناه ده باید د هغه چا سره چی خبری کوی په سترګو کی وګوري او خبری وکړی او د دی ټولو سره سره ، هیله کوم دا د هر انسان دنده ده چی د نورو سره مرسته وکړی
ده څه وویل؟ یعنی دي دا ټول لاره زما شاته وو؟ او زما خبری یی اوریدل؟

دا بیا بل غم خپل ستونی می صاف کړ او د ده سترګو ته په کتو سره می وویل:ښاغلی ستاسو په نظر د یو انسان تعقیبول ښه کار دی؟
سر تر پایه یی راته وکتل او وی ویل: نه پوهیږی که ځان په ناپوهې وهی؟ زه ستاسو د کور د کوڅی پر سر درته په تمه وم ته خپله همدا چی په کوڅه کی ننوتلې راته دی ښیراوې پیل کړی او دا هم ووایم چی په ټوله لاره کی دي خپل پښو ته کتل او غږ دی دومره لوړ وو چی یوازی ما نه ټولو واوریدل او ته بیا هم هیڅ ماته دی پام

ونشو وه نجلی ولی فکر کوی چی زه دومره ستا تعقیبولو ته دلچسپی لرم؟
نه نووووو زه خامخا باید زهر وخورم ولی خدایه ما د دی هلک مخته سپکوې؟ اوس زه خپل ځان په کم قبر کی پټه کړم؟ لیلا مړه شې ، خاوری دی پر سر شه
هیڅ می ویلو ته نه درلود یوازی ومی ویل: بیا هم د پرون ورځې د پاره مننه ،ستاسو په اجازه زه باید لاړه شم ، خدای په امان چی په کوڅه کی داخله شوم په ځغاستو د کور خواته لاړم او ځان می په کور کی واچول.

} .... رضوان .... {

د ډیر خندا څخه می نس درد نیولی وو. څومره دا نجلی په زړه پوری ده.
ولی داسی چلند کوي؟ ولی خپل بوټو ته ګوری او خبري کوي؟ په خندا د کور خواته روان شوم. په رښتیا چی ډیره پاکه او سپېڅلې نجلی ده ، ټول څه یي چی په زړه کی یې په لوړ غږ وایی هیڅ یی په زړه کی نه پاته کیږي. زما فکر یی سخت ځان سره مشغوله کړی وو.هر څه چی نه وی د ښوونځی د سپین سترګو نجونو پوری ډیره بالاتره ده. ټول لیکونه چی ګټه یی شلو ته رسیدل خپل د بکسه می وایستل او ولې ته می واچول. هره ورځ د کتاب لاندی به یو لیک وو. څومره سپین سترګې او بېکاره! ما هیڅ دی موضوعاتو په اړه فکر هم نه کول نو د دوی دا کار یوازی وخت ضایع کول وه بس.

} .... لیلا .... {

کور ته د ننوتلو وروسته د رنګو تریخ بوی می پر پزی ولګید. ومی لیدل چی ګدام یی تش کړی او رنګ کړی یی دی. څومره ښایسته شوی وو ، احساس می کول چی غټ شوی دی. په ښیښو می لاس ووهل او حیرانتیا خپل ځای غوسی ته ورکړ.
هیځکله چا موږ ته دومره ارزښت نه دی راکړی نه زما مور ته او نه موږ ته. د دی وروسته نور اړتیا نه وه چی هره ورځ خپل او د کاکا د کور توپیرونه وسنجوو ، توپیرونه زموږ خپل په کور کی راغلي دی؛ په یو سرای کی دوه ښځی ، دوه کوټی، څومره لری او څومره توپیر سره.

د فکر په حال کی وم چی پلار می کور ته ننوتی او نارې یی کړه: لیلا؟ ژر راشه چی په کار می یی سهیلا او حمیرا هم ستا د کاکا په کور کی دی هله لوری ژر
ځان سره می وویل چی خدایه څه خبره شوي؟ لاړم خپل د کاکا کورته ، ټول ناست وه.فاطمه ، زلمی کاکا، قباد ، شګوفه او د کاکا ښځه مې. سلام ویلو سره دننه شوم او د سهیلا څنګ ته کښیناستلم. کرار می د ځنګون سره سهیلا په پښه ووهل او ومی ویل: وه نجلی دلته څه خبره ده؟

سهیلا: نه پوهیږم زه هم خبره نه یم ، صبر وکړه اوس پوهیږو
شګوفی ته می وکتل داسی په غرور ناسته وه ته چی ملکه یې، بیا ښه دی چی یو ځوان هلک یی نه دی کړی.
پلار می خبری کول او د کورنی غړو ته د احترام په اړه یي ویل او دا چی څومره اړینه ده چی لکه یو کورنی یو بل تر څنګ ژوند وکړو.
پلار می د نصیحت په حال کی وو چی په یاد می شو موږ څومره متحد او یو لاس یو. یو ښځه کوی څوک نه خبریږي تر واده د شپی پوری ، یو شپه تر سهاره ځان په کوټه کی قلفوی او دومره څوک نشته چی یو پوښتنه ورباندي وکړی، یو په ښوونځی کی قلم و کتابچه نلری او څوک خبر هم نه دی!

په رښتیا چی څومره متحد خلک یو بهتره ده چی د متحد د کلمې نوم بد نکړو ، زموږ هیڅ کار د یو کورنی په شان نه دی او دا یو لاس توب څومره خندوونکی دي.
زما په نظر بهتره همدا ده چی هیڅ خپل ځانونه په دی خبرو تر سر تیر نکړو
پلار می خبری کول تر څو چی یی وویل: بهتره ده چی د دی وروسته شګوفه جانې ته مور نارې کړئ
څه؟؟؟ ده څه وویل؟؟؟

ومی لیدل چې د حمیرا څهری خپل رنګ د لاسه ورکړ. غوښتل یی کم څه ووایی چی تر هغی مخکی ما وویل: کیږي پوښتنه وکړم چی ولی پلار جانه؟
پلار می زما د خبری اوریدو وروسته مستقیم زما سترګو ته وکتل او وي ویل: ځکه

چی زه وایم ځکه چی شګوفه زما ښځه ده ، ځکه چی مورِ ټول یوه کورنی یو.
شګوفی ته احترام ، ماته احترام دی او دا چی تاسو شګوفه خپل د کورنی غړی منلي ده نو نه باید خپل د مور او شګوفی تر مینځ توپیر پریږدی. دوی دواړه زما ښځې دي سر تر پایه خپل پلار ته می وکتل او بیا مې شګوفې ته وکتل چی داسی یی راته کتل لکه چی هر څه دا وایی بس همغه رښتیا دي ، داسی یو حق به جانبه کتل چی زه یی د دننه خوړلم.

سهیلا او حمیرا تر ما ډیر تره په کرکې کی ډوب شوې وه. خوله می خلاصه کړه او خبری کول می پیل کړه: ګوره پلار جانه ، شګوفه او زما مور تاته په یو اندازه ارزښت نلري ، که درلودی وی نن باید د دواړو کوټی رنګ شوي وي نه یوازې د یوې لا
دوی دواړه ستا ښځی نه دی که وي برایی چی زما مور تر سهاره ځان یی په کوټه کی بندې کړې وه تاسو یو وار یی هم لیدلو ته ولانړی ته خو پینځه میاشتی وروسته راغلی یی ، زما مور ستا په نشتون کی په حمام کی کیسه کشی کول او مورِ ته یی ډوډی راکول هره شپه د اوړو د درده به یی خوب نه درلود د ډیر ستړیا څخه شپه به یی ډوډی نشو خوړلی او همداسی وږی په بیده شوه ، یو ورځ یی هم په ماړه نس ډوډی ونخوړل ځکه نه وه همدومره کیدل چی مورِ د وړیتوب څخه مړه نشو ، په کلونو یی یو جوړه نوې کالی وانغوستل دا د یو بل سره په تله برابر نه دی پلار جانه ، هر کله چی شګوفه دا ټول کارونه چی زمورِ مور مورِ ته کړی ، دې هم وکړه بیا مورِ هم هغه وخت ورته مور وایو.

بغیر د مور د نومه مو بل څه هم ونشو کړی چی خپل مور ته یی ورکړو نو نوم یی هم د چا سره نه ویشو همدا چی می خبری خلاصی شوی په منډه خپل د کاکا کور څخه ووتلم او خپل کور ته لاړم. ستوني می ډک وو ، ساه اخیستل راته سخته تمامیدل. خپل ناړی(لاړی) می تیری کړې او خپل د مور څخه لاړم. چی په کوټه ننوتلم ګورم چی مور می یو سپین ټُکر په ځمکی اچولي او خپل ویښتان غچی(قیچی) کوي. په تلوار می ځان ورته ورسول او ومی ویل: دا ته څه کوی موری؟

غوښتل مې چې مخ يې ونيسم او نور پرينږدم چې خپل ويښتان له مينځه يوسي چې دې وخت خپل نيم ويښتان يې پرې کړی وه
ومې ويل: راکړه چې نور يې زه درته غچې کړم چې خراب يې نکړی
غچې مې ځينې واخيستل او خپله يې په ويښتانو مصروفه شوم چې پلار مې کوټې ته ننوتی. څومره ډارونکی ښکاريدی!
په پورته غږ يې راباندې چيغې ووهل: د سپې لورې ما ته لويه کړې همدا ورځې ته چې زما د ښځې مخته ما بې غيرته معرفي کړی؟ او بې آبرو مې کړی؟ زما تربيه تر سوال لاندې کړی؟ د کم راهيسې ته دومره زړوره شوې يې چې ماته يې ښيې چې خپل د ښځو سره څنګه چلند وکړم؟

کلکه څپيړه يې راته راکړه چې خپل د مور پر سر ولويدلم او وروسته يو لغته يې په ملا کې ووهلم چې د ډير درده مې ساه بنده شوه. مور مې ولاړه شوه او غوښتل يې چې زما پلار راڅخه لرې کړې ، سمه پوهه نشوم خو د دوی جګړی په مينځ کې مې مور هم په ځمکه ولويدله. دا وار يې زما ويښتان ونيول او د سرای خواته يې يوړم. زلمي کاکا او شګوفی هم ځانونه رسولي وه. کاکا مې وويل: خان شاه دا څه ليونتوب دی؟ نجلی پريږده راغي او زما لاس يې ونيوی غوښتل يې چې ما زما د پلار څخه لرې کړی چې پلار مې وويل: وروره ته مداخله مه کوه نن چې زما مخ ته ودريدله سبا خامخا د يو هلک سره تښتی ، بد پدره دې د داسې پلار او لور توب لعنت شی پخوا لور خپل د پلار په خبره به هيڅ هم نه ويل اوس دا راځی خپل غږ ماته لوړوې ، تر دې ماته مرګ ښه تره دې نن يا زه ځان مړ کوم يا دا نجلی ...

د څپيړی د کلکوالي څخه ګنګسه وم او په ځان نه پوهيدلم خو د سهيلا او حميرا د ژړا غږ مې اوريدل چې بټول سرای يې نيولي وو.
د مور غږ مې واوريدل چې ويل يي: په خير مه پيښيږي خانه ، د سپي په حال ولويږي نجلی دې مړه کړه
ته کله د دې د حاله خبر وې چې اوس راځي د پلارتوب خبرې کوې
لاړې ښځه دې وکړه نور مور خپل په حال پريږده لاړشه خپل د ښځی سره خوشاله

ژوند وکړه خدای دی وشرموه ، کاش چی په ټکر کی مړ شوی وی چي ستا د لاسه خلاصه شوی وی

ټول عمر دی په زجر او عذاب راباندی تیر کړ اوس په دی نجلی څه کار لري؟ د ژونده دې ماړه کړه پریږده نو
پلار می لوړ تره چیغی کړه: ویني وروره؟؟؟ویني؟؟؟؟
خپل ښځه او اولاد می ستا په لاس درکړه ټول یاغې شوې دی ماته د سپی په اندازه هم ارزښت نه راکوی ، زه اوس د همدی کور نر یم که نه؟ ولی دی دوی پریښودل چی دا رقم شی؟ خامخا ځانو ته یی کم لونده هم پیدا کړی چی داسی زما مخ ته ولاړې دې

ویښتان می د پلار په لاسونو کی وه او داسی احساس می کول لکه چی د سر پوستکی می د سره جدا کیږی
کاکا می نږدی راغي او وی ویل: دا خبری پریږده پخوا به نارینه خپل په کور کی ، خپل د ښځی او کوچینیانو پر سر پاتیدل ، په کلونو خپل مخ هم دوی ته نه ښکاره کوی ، زړه دی هم دی چی ستا خبره واوري؟ کمه ورځ دی د دوی د ډوډی او اوبو پوښتنه وکړه؟ چی څه خوری څه څښي؟ د کالو پوښتنه دی کړی؟ بس همدا دی وویل چی وروره فکر دی وی ، ورور څه؟ نور څه وکړم؟ منګه زه خپله ښځه او اولاد نلرم؟ شپه او ورځ ستا د ښځی او نوړو پسی په کوڅو کی وګرځم چی څه کوی؟ نو زما کور او ژوند څنګه کیږی؟ لکه نر ودریږه او ټول یی کړه دا لیونتوب هم پریږده لکه نر کښینه او خبره فیصله کړه ، زور دی په یو نجلی رسیږی؟ ته هیڅ غیرت نلري ؟ نجلې خوشي کړه

پلار مې زه خوشي کړم او په ډیر غوسی سره د کور نه بهر لاړی. مور می په غیږ کی ونیولم. ژړل یي او ماته یی نازونه راکول.زړه می د هر شي څخه تور شوی وو ، لعنت پر دی ژوند ، لعنت پر دی کورنی چی زه پکی زیږیدلې یم څه بد می کړی چی خدای باید داسی سزا راکړي؟ زړه می د ټولو څخه نیولی وو. خپل مور می کلکه په غیږ کی

ونیوله سهیلا لاړه اوبه یی راته راویستل او حمیرا په غیږ کی ټینګه کړم.
ډیر بد احساس می درلود. ومی کتل چی شګوفې زما کاکا ته وویل: شاته یی و
لاړ شه چی کم کار ونه کړی

او کاکا مې ځواب ورکړ: په ما اړه نلری نور زه د خان شاه سره هیڅ کار نلرم ، خپل
کالې ټول کړه هر څنګه چی کوی سبا زموږ د کوره ووځه نور دی ونه وینم خپل ژوند
او میره دې دی خپله یی هم ټول کړه دا دی هم اخر وار وي چی زما سره داسی
خبري کوي زه دې مزدور نه یم پوهه شوې؟؟؟
او په لوړ قدمونو د کور نه بهر لاړی.
شګوفې هم یو نظر زموږ خواته واچول او هغه هم لاړه.
خپل د مور د مرستی سره کور ته داخله شوم غوړی او مالګه یی راویستل او زما پر
ملا یی پریښودل او وی ویل: پر ملا پریوځه (څمله) چی کوفت یی واوړی
لکه د پسرلي د بارانو په شان یی ژړل. نیم ویښتان یی اوږده او نیم نور یی غچی
شوې وه، څهره یی ډیره جالبه ښکاره کیدل.

ومی ویل: ما پریږده خپل ویښتان دي لیدلی؟ او خندا ونیولم همدا چی می وخندل
ملا می په درد شوه او نرې می د سترګو وړاندی تکه توره تیاره شوه.
سترګی چی می پرانیستل هوا تیاره شوي وه هیڅ څوک نه وه او زه په کوټه کې
یوازی بیده وم. غوښتل می چی د ځایه ولاړه شم داسی احساس می درلود لکه چی
یو موټر وهلې یم ما خو یوازی یوه لغته خوړلی وه نو دا نور دردونه د کم ځایه
راغلل؟

دروازه می خلاصه کړه او خپل د مور د کوټی خواته لاړم ټول بیده وه.
ډیره وږی وم یعنی اوس ساعت څو بجې دی چی زه داسی وږی یم؟ د ساعت په
لیدو خندا ونیولم. د سهار څلور بجې وي زه وایم ولی داسی وږی شوی یم.
په همدی حال کی می د الله اکبر غږ واوریدل لاړم چی لمونځ وکړم د اودس وروسته
می زړه یو وار ډک شو هملته د نل څنګ ته کښیناستلم او خپل د خدای څخه می

ګیلې وکړی ، څنګه د سهار د اذان په وخت می د خوب څخه ویښوې خو کله چی ستا مرستی ته اړتیا لرم هیڅ مرسته راسره نه کوی؟ ولی؟ منګه زه تر اوسه تا ته بده بنده وم ؟ د ټولو خداي یی یو زما خدای نه یی.

یو ژوره ساه می واخیستله او د اوبو څاڅکو ته په کتو شوم. نه پوهیدلم ولی خو هیڅ ښه نه وم زړه می ډیر ډک وو ، زړه می مرګ ته کیدي یو هوسا مرګ چی بیده شم او بیا ویښه نه شم، څومره به ښه شوی وی. اوس مرګ هم راته ارمان دی.
هغه ورځ می لمونځ پریښود هم هغسي نل څنګ ته ناسته وم تر څو چی د لمر څانګې خپری شوی بیا ولاړه شوم او تر ټولو ژر تره د کور نه ووتلم. تر کوڅی تر سره چی ورسیدلم ځان سره می وویل بهتره به وی چی سهیلا ته ووایم چې زه ښوونځی ته لاړم اوس بیا فکر ونکړی چی ده کوره تښتیدلې یم
بیرته وګرځیدلم کور ته لاړم او سهیلا می ویښه کړه
لیلا: سهیلا، سهیلا ګوره زه لاړم ښوونځي ته
هغې هم په خوبجن غږ وویل: ښه لاړه شه
او بیرته بیده شوه

دا ځل په ډاډ د ښوونځی خواته روانه شوم ، هېڅ څوک په ښوونځی کې نه وو. نیم ساعت ژر تره راغلی وم. ډیره ښه او زړه راښکونکی هوا وه.
لاړم او په چمن کی کښیناستلم. څو دقیقې تیری شوی زه داسی ډوبه وم چی هیڅ پوهه نشوم چی څوک راته نارې وهی.
: سلام ، وبخښی

سر می پورته کړ. یو هلک چی سپین پوست ، روښانه رنګ ویښتان، شنې سترګی یی درلود او زمورږ د ښوونځی کالی یی هم اغوستی وه ، ولاړ وو. تر اوسه می نه وو لیدلي ومی ویل: بله مهربانی وکړئ ؟
په یو څه ځنډ سره یی وویل: زه تازه دي ښوونځی ته راغلی یم او د لسم ټولګی زده

کوونکی یم ، چیری دي؟
لیلا: څه شی چیری دي؟

: لسم ټولگی، زه د لسم ټولگی زده کوونکی یم
ومی ویل: تر اوسه لا ښوونځی نه دی پرانیستل شوی په تمه شه کله چی پرانیستل شو او زده کوونکی راغلل خپله پوهیږی
: نو چی ښوونځی نه دی پرانیستل شوي ته دلته څه کوی؟
سر تر پایه می ورته وکتل او بیا خپل سترگی می د هغه پر مخ ونیول ، لږ می ځان ورته نږدی کړه او ومی ویل: نوکریواله یم ښوونځی ساتم کم امر و خدمت؟؟
پوهه شوم چی زما لحجه یی خوښه نشوه وی ویل: بخښنه غوارم ،کم بل مخصد می نه درلود

او زما څخه لری شو. ځان سره می وویل ښه دی ټول خپل د کارو څخه هیڅ مخصد نلری یو زه مقصد لرم ، لیونیانو زه خپل ځان لا نشم زغملی ته بیا دی وگوره.
گورم چی څلور نفره دي ؛ درې هلکان او یوه نجلی چی ډیر ښه جامې یی اغوستی وه ، پیسه داره خلک معلومیدل دوی ټول هم په ځیر ځیر راته کتل.
ځان سره می وویل: لیونیانو ، زه خو بی کوره او بدبخته یم تاسو ولی ژر د کوره وتلی یاست؟

سر مي آسمان ته ونیول او ومی ویل: وگوره! ښه وگوره! دوي هم تا پیدا کړی او زه هم تا پیدا کړې یم گوره چی د بیکاری څخه څو بجی ښوونځی ته راغلي دي
د ژبې لاندی می دوام ورکړ: عدالت ، دا د خدای عدالت هم شته؟
لعنت پر دی ژوند .....
لعنت پر ما ........
لعنت پر دی څلور نفرو .....
مخ می چی واړول گورم چی تر اوسه ماته گوری په لوړ غږ می وویل: څه خبره ده

چی ګوري؟ نه دې مو لیدلی چی یو څوک لکه سپی یو څنګ ته کښینی او خپل په حال وژاړي؟

ځئ ورک شئ ، زما څخه لرې شی ، زموږ بدبختی او بیچارګی ساري ده ټول نیسی ، ځئ رنګ مو ورک کړی
هر څومره چی می غږ لوړیدی ستونی به می په درد شو او سترګی به می د اوښکو ډکی شوي

خپل ناړی می تیري کړي او په کراره می وویل: لاړشئ!!!!! لیلا انسانه نه ده ، نجلی نه ده ، زړه نه لری ، رنګ مو ورک کړی خپل د کالو سره د لیلا زړه ته اور مه اچوئ!!
لیلا خدای نه لری ، پلار نلری....... پوهیږی لیلا یتیمه ده لاړشئ بیا مه راځئ
همداسی چی ناسته وم ځان می شاته وغورځول. شین آسمان ته می وکتل او هڅه می وکړل چې خپل پام د آسمان رنګ او اوریځی ته واړوم. ژوره ساه می واخیستل تر څو یو څه ارامه شم. سترګی می پټی کړي او ومی ویل: ارامه شه ، همدا دی ژوند دی څه وغواړی څه ونغواړي ، له بده مرغه سپینه ورځ ده او زه هم بیده نه یم ، تر خپسکه(کابوس) می ورځی بدتر شوي دي
او بیا د لیونیانو په شان می وخندل : ارامه شه لیلا ، ستا د خوشالی او نېکمرغي نوبت هم کیږی ، ارامه شه

د یو چا سیوری می خپل پر مخ احساس کړ ، سترګی می خلاصی کړی چی د رضوان څهره می په اړولی ډول ولیدل.
رضوان وخندل او وی ویل: آرامه شه لیلا؟؟؟ منګه یاغی شوې یې چی ځان آراموې؟
بی له دی چی خپل د څهری په حالت کی کم بدلون راوړم ومی ویل: څه غواړي؟؟ آ خواته (هغه خواته) لاړشه چی زما مخه دي نیولي ده څه زما د سترګو وړاندی ولاړ یی

خندا یی له مینځه لاړه. راغی او زما څنګ ته پریوتي (څملاستي) او ده هم وویل: آرام شه رضوان ، لیلا یاغې شوې ده ... ښایی اوس درباندی حمله وکړی

ځان سره می په زړه کی وویل ته دا وګوره بی غمه د خدای.
په زړه کی خندا نیولې وم خو هڅه می کول چې خپل په څهرې کی یی ونه ښیم.
لیلا: آ خواته لاړ شه بی معني خبری هم مه کوه دومره غټ چمن لاړشه یو بل خواته پریوځه

وي ویل: هوا ښه ده ، زما ښوونځي هم دي زړه می چی هر ځای پریوتلم
ورته ومی کتل: اوس سل په سله ډاډمنه شوم چې ته ما تعقیبوي ، په دی سهار وختی په ښوونځی کی څه کوی؟ نه چی بیا تیریدلي او زه دی ولیدلم؟
بی له دی چی ماته وګورې وی ویل: همممممممم ، دا د فوټبال میدان دی تر څو شیبو وروسته قباد او نور هلکان هم راځي او ته په دا ځای کی چی موږ هره ورځ تمرین کوو پریوتلې یی

ښه په خیر خیر می ورته وکتل. ولاړه شوم چی ګورم هو د فوټبال میدان دی.
یوه ژوره ساه می واخیستل او خپل په زړه کی می وویل: لیلا خاوری دی پر سر شه بیا می رضوان ته وکتل ، پاڅیدم او ومی ویل: بخښنه غواړم خو تا هم ښه کار ونکړ، هیڅلکه د چا یوازیتوب او آرامتیا ته مزاحمت مه کوه
رضوان: هو رښتیا وایی ، بد کار وشو باید صبر می کړی وی چی قباد راشی او تا ووینی او بیا ټولو ته ووایی چی لیلا د فوټبال میدان کی بیدیږی هغه هم سهار وختی داسی وخت چی هیڅ څوک په ښوونځی کی نشته، داسي به ډیر ښه شوی وی

ورته می ښه په ځیر ځیر وکتل او ومی ویل: زه ډیره بی عقله یم ، په ښوونځی په کور په ټولو ځایو کی دا هم زما د بی عقلی څخه وبوله ، بخښنه کوه خو نن زه هیڅ په داسی حالت کی نه یم چی د چا سره ټوکې ټکالی وکړم هیله منده یم چی ما درک کړې هېڅ ښه نه یم
او میدان څخه ووتلم
رضوان

وریسی لاړم او د بکس څخه می ونیوله زما خواته یی وکتل ومی ویل: لیلا خپل ویښتان چپه خواته واچوه

لیلا: په تا یی څه؟
رضوان: مخ دی لکه شوی لکه چی سهار دی له یاده وتلي چی خپل مخ پریمینځی ، چی ښکاره نشی ښه به وي
او ورته په مسکا شوم. سترګې یی د اوښکو ډکې شوې او ټینګ یی په غیږ کی ونیولم او ژړا یی پیل کړه
د هغې سر می خپل پر سینې پریښود او ومی ویل: خیر دی مه ژاړه ، چا وهلې یی چی مخ دی شین دی؟
بی له دی چی کم څه ووایی یوازی یی ژړل. په ویښتانو می ورته لاس تیر کړ ډیر می زړه ورباندی وسوځیدی ...... په کور کی به څومره ستونزی لری. خدایه په دی نجلی څه حال دی؟

ومی ویل: خیر دی هر څومره چی غواړی وژاړه څوک نشته چی تا ووینی ، وژاړه تر څو آرامه شی
هیڅ یی نه ویل احساس می کول چي کالی می لانده شوي دي
د هغې مخ می خپل په دوو لاسونو کی ونیول او ومی ویل: خپل مخ پریمینځه کرار کرار ټول راځی ښه دی چي تا داسی ونه وینی بیا هر څوک یوه خبره درته کوي ، مه ایرده چی څوک دی اوښکی او ستا ماته ووینی لیلا، راځه چی لاړشو
نل خواته می یوړه او لیلا خپل مخ پریمینځل. یو جوړه ورزشی کالی می په بکس کی درلود هغه می ورته ورکړه خپل مخ یی وچ کړ او په ځمکی کښیناستله زه یی هم څنګ ته کښیناستلم او ومی ویل: که غواړی کولي شي ماته ووایي چي څه شوي ، پوهیږې چی د ډیرو خبرو هلک نه یم نو زړه دی جیمی نورو ته نه وایم راباندی حساب کولی شې

یوه ژوره ساه یی واخیستله او وي ویل: درته وایم خو اوس نه ، اوس خپل حوصله لا نلرم ښایی وروسته درته ووایم مخصد اوس نه وایم
لیلا
څومره ښه احساس دی کله چی غمجنه یی یو څوک ولری تر څو ورسره خبري وکړی
رضوان ته می وکتل او ومی ویل: کله چی زه غمجنه یم غوارم چی یو څوک می څنګ ته وي خو هیڅ څوک نلرم
رضوان: ومی ویل ښایی ته هم اړتیا لری چی د زړه تنګون او غمجنتوب وخت کی دی یو څوک څنګ ته یی
لیلا: ته یوازی یی؟ ټول غواړی چی ستا سره واوسئ او ستا سره وګرځی نو ته څنګه یوازی یی؟

رضوان: تل کیسه د لری نه یو څه ښکاری او د نږدی څخه بیخی بل څه وي ، څه پریږده یی اوس کولی شي ووایی چی څه شوي؟
یو ژوره ساه می واخیستله او ومی ویل: برایی می پلار وهلې یم
رضوان: ولی؟
ټوله کیسه می ورته وکړه.
رضوان لومړی غلی وو بیا یی لاس خپل په ویښتانو کی تیر کړ او وي ویل: ولا څه ووایم ښایی دربادي ګران وی خو ستا خبری د وهلو د پاره هیڅ قانع کوونکې او منطقی لامل نه دي پوهیږی چی زرهاو انجوني داسی کارونه کوی چی خپل د فامیل د شرم او سپکوالی لامل ګرځی بیا هم څوک د دوی سره داسی چلند نه کوی
یوه مسکا می وکړه چی تریخ توب یی یوازی ماته ښکاره وو او ومی ویل: پلار؟؟؟؟ زه په دی نامه هیڅ څوک نه پیژنم ، ته هم پلار لری زه یی هم لرم ستا پلار کم وخت ستا خور وهلی؟ نه.

ګوره څومره توپیر دی د دوی مینځ کی، بهتره همدا ده چی په اړه یی فکر ونکړو راځه چی نور یی په اړه خبری هم ونکړو اعصاب می خرابیږي ، بیا هم مننه
ګورم رضوان په فکر کی ډوب دی بیا می وویل: زه دننه ځم ته لاړشه فوټبال ته ، بی

د هغه هم نغوارې چی قباد ووینم ، اوس د پاره ښه وخت
د ټولګی په لور روانه شوم. د قدم وهلو په حال کی وم چی یو وار می په یاد شوه
چی ما خو رضوان په غیږ کی ونیوی ، ما څنګه دا کار وکړ؟
نه پوهیږم زما کم کار سم دی چی بیا دا یی سم یې ، ښایی ځکه چی زه خفه وم او
اړتیا می درلود چی د یو چا سره خبري وکړم او رضوان هم داسي هلک نه دی چی
زما په اړه بل فکر وکړي او یوازی رضوان خبر دی چی څه شوي نغوارم ټول پوه شي
چی څومره بدبخته یم.

ټولګی ته ننوتلم، همدا چی می سر پورته کړ هغه شین سترګی هلک می ولیدل
دا یی بیا بل غم ، دا زموږ په ټولګی کی څه کوی؟ بله ټولګی نه وه چی دلته راغلی؟
یوه ژوره ساه می واخیستله او ومي ویل: هیڅه خبره نه ده لیلا ، یوازی باید لاړه
شي او د دوی څخه بخښنه وغواړی او بیا ووایی چی چاته مه وایست
او خدایه! دا ولی داسی کیږی؟ اووووف لیلا ، اوووووووف!
څو قدمه نږدې شوم او د هغه هلک شاته ودریدلم ، خپل ستونی می صاف کړ او
ومی ویل: آآآ..... سلام
ماته یی وکتل او سلام یی وکړ. په زړه کی می وویل: ځه شکر څهره یی عادی ده ،
خفه نه معلومیږي

او بیا ده ته می وویل: وبخښی د نن سهار د موضوع په هکله....... ما.......نغوښتل
هغسي چلند وکړم پوهیږی زه هیڅ قارجنه نجلی نه یم خو کله کله بیا داسي کیږي
همداسی یی راته کتل او هیڅ یی نه ویل. خدایه دا نو څنګه انسان دی یو څه خو
ووایه نو
بیا می ورته تکرار کړل: پوه شوي چي څه مي وویل؟
وي ویل: هو پوه شوم او شکر چی قارجنه نجلی نه یاست او بیا هم د خدای څخه
مننندوی یم چی کم کاښي یا کمه خشته دی شاوخوا نه وه که نی خامخا دی په موږ
غورځول خو ځه بیا هم شکر چی غوسه ناکه نجلی نه یی

هیڅ می د ده خبری خوښ نشول. ډیره جدی یو قدم مخته لاړم او ومی ویل: سهار می هیڅ رواني حالت سم نه وو ، ستاسو څخه یو غوښتنه لرم چی په ټولګی کی بل څوک د دي پیښی په اړه پوه نشی چی په مستقیمه توګه زما د آبرو سره تړاو لري تاسو یوازی چاته مه وایست چی زه په کم حال کی وم او څه می وویل همدا بس دي نور چی ځان سره زما په هکله هر فکر کوی آزاده یاست ښاغلی
او لاړم خپل د میز خواته. همداسی ځیر ځیر یی راته کتل ولی د لیدو څخه یی دومره خوند اخیستل؟ په کور کی یی ورته نه وه ښودلی چی خپل په سترګو څوک مه خوره؟ بی ادبه انسان .....

څو شیبې وروسته رضوان ټولګی ته ننوتی او د دي هلکانو په لیدو ډیر خوشاله شو د یو بل سره یی ستړی مشې وکړل.
ځان سره می وویل دوی یو بل هم پیژنی؟؟؟؟ تر دی هم بدتر کیدی شی؟ولی؟؟ ولی باید زه یوازی په داسی ستونزو کی بنده پاته شم؟
د ځان سره په فکر او جنجال حال کی وم چی ګورم هغه نجلی چی د دوی سره راغلې وه منډه یی کړه او ځان یی د رضوان غیږ کی واچول، رضوان هم په خوشالی هغه یی خپل په غیږ کی وځرخول.

څه؟؟؟؟ دا نو څوک ده؟؟؟؟ ته دا غیږه یی وګوره خدایه دوی دوه لکه چی د یو بل سره لاره لری؟ لیلا..... ولی نه مړه کیږی؟ ولی دی سهار په غیږ کی ونیوی؟ اوس به خپل ځان سره څه فکر کوي؟

آه چی څومره بد احساس می درلود. بل هیڅ څوک نه وو لیلا؟ ولی کله چی خفه یم باید تل رضوان زما څنګ کی واوسئ ؟ ولی زه یی په غیږ کی ونیولم؟ خامخا یی زړه راباندي سوځیدلی دی او ویلي یي دی چی یوه غریبه نجلی ده پریږده چی زړه یی خوشاله شی که نی کله چي خپله معشوقه لري ولی باید بله نجلی په غیږ کی ونیسی؟ اِی خاوری دی ستاسو ټولو پر سر شی بیشرفانو

احساس می کول چی ښولگی د کوچنیتوب په حال کي دی ، ساه اخیستل راته ستونزمنه وه ساه می لنډه لنډه کیدل. خپل بکس می واخیستل او په تلوار د ښولگی څخه ووتلم او د ښوونځی د دروازی خواته می منډه کړه زما د ښه بخت څخه نگهبان هم نه وو همداسی ووتلم او تر ډیر حده وځغاستلم ، ځان می ولې ته ورسول غوښتل می ځان اوبو کی واچوم خو صبر می وکړ.

یو اور زه یی د دننه څخه سیځلم هیڅ آرامتیا او هوساینه می نه درلود، باید خپل د بدن حرارت ښکته راوړم. اوبو ته مې وکتل خپل بوټونه می وایستل او اوبو کی دننه شوم. تر ملا پوری په اوبو کی وم خپل مخ او ویښتان می لانده کړل او یو کنج کی کښیناستلم هڅه می کول ځان آرامه کړم. څو ژوره ساه گانی می واخیستل تر څو خپل اوښکی کنترول کړم. شاوخوا ښه راته معلومیدل.
یو بیوزله سړی می د څنګ څخه تیر شو سترگی یی ړندي وی او یو لرگي هم ورسره وو ، د اتیا کالو هم بالاتره معلومیدی. یو کمزوره سړی چی د مخ چملکي یی د دی ښکاروونکي وه چی د عمر څخه یی ډیر کلونه تیر شوي دي او دا یی په ټول بدن کی ښکاره وه. هر څوک چی تیریدي ده به ورڅخه د خیرات غوښتنه کول چی گورم راغی او زما څنګ کي کښیناستي.

سر تر پایه می ورته وکتل او ځان سره می وویل آرمان چی ړوند یی که نی خپل د زړه کوفت می ستا څخه ایستی. منگه ځای کم وو چی ته راغلي زما څنګ کي کښیناستلي؟
وي ویل: ته دلته څه کوې؟
حیرانه شوم ، زه یی څنگه ولیدلم لکه چی جوړ دی؟
پوښتنه می وکړه: ته د کم ځایه پوه شوی چی زه دلته یم؟ نه چی جوړ یی ځان دی په ړوندتوب اچولی؟
وي خندل او وي ویل: د یو چا د خفگان د لیدو د پاره سترگو ته اړتیا نشته همدا چی احساس او درک ولري بس دي

ومي ويل: لکه چی هندی فلم دی که څنګه؟ څنګه دی احساس کړ چی زه خفه یم؟
درواغ مه وایه جوړ تیار یی ، داسي دی غریبی نه کیږی چی سم جوړ انسان یی او
راځي د خیرات غوښتنه کوي ، دا کار دی ګناه دی
دا وار یی په لوړ غږ وخندل او وي ویل: زه څو قدمه لری وم لومړی په منډه راغلې
فکر می وکړ چی ځان په ولې کی اچوې خو ودریدلې او بیا په اوبو کی دننه شوې
اوس هم دلته ناسته یی داسی کار دوه رقمه خلک کوی یو لیونیان او دوهم هم هغه
خلک چی ډیر غم او خفګان ولري

بیا مې وویل: دا په یو بل څه اړه لري؟ ځه زما سره خبری مه کوه همدا پاته دی چی
ستا سره خبري وکړم لاړشه هلته لری کښینه
وي ویل: د خدای ځمکه ده هر ځای چی کښیناستلم
ورته می وکتل او د ځان سره می وویل دی خپل د ړندو سترګو سره دومره تر و تازه
دی څنګه یی خندل زه که ړنده شم ځان مړه کوم
څو شېبې وروسته بیا یی وویل: د غږ څخه دی معلومیږې چی اومه او وړوکې یې ،
یا د کوره تښتیدلې یې یا د ښوونځی څخه ووایه د کم یو؟
بیا می ورته وکتل او ومې ویل خدایه دا څه حال دی؟ اوس ده ته هم باید ووایم؟
په بی وسی سره مې وویل: د کوره ښوونځی ته وتښتیدلم او د ښوونځی څخه دلته
وی ویل: ولی تښتیدلې یې؟

ومی ویل: عمر دی ډیر دی مشر سړی یي خو اوس د احترام او ادب حوصله  نلرم ،
سر دي خپل په کار کي یي
بیا یی وخندل او وي ویل: هیڅوک حق نلري چی خپل د ژوند او تقدیر څخه وتښتي
، ژوند او تقدیر یی یوازی د هغه د پاره لیکل شوی چی باید هغه پای ته ورسوي

هیڅوک ستا پر ځای نه دي یوازی خپله یی ستا تښته بی معني ده لور جانې
ومی ویل: دا ژوند ما نه دی ټاکلی ، مجبوره هم نه یم چی وی منم ، پای یی څه؟
ژوند بی د هغه هم ښه کیږی نه، نن یو غم لرم سبا سل غمه هیڅ پای نلری نوره

سترې یم بس دی نو منګه زه د څو کالو یم؟
څو شیبې غلی وو بیا یی وویل: که زما پر ځای وی څه دي کول؟ زه د خوب د پاره لا ځای نلرم که بیرته می ژوند شاته لاړشی خپل ټول هڅه او توان ایږدم چی خپل د ژوند او تقدیر څخه ونه تښتم ، هیڅ تښته نشته.
څه وغواړي څه ونغواړی باید دوام ورکړې خو دا دې تل په یاد وې ځینی کارونه ځانګړی وخت لری که په همدی حال کی چی ته تښتې هغه پیښه وشی او ته به نه یی چی کنترول یی کړی هغه د تل د پاره د لاسه ورکوي او تل به یی بیا آرمان لري خپل کیسه هیڅکله مه خوشی کوه تر دا چی بل څوک ننوځي او ستا ځای ونیسی بیا به تاته هم ځای نه وي او آرمان به یی هم پاته یی ، بیا پښیمانی هیڅ ګټه نلری زما په شان مه تښته زما تیروتنه ته مه تکراروه

ته هیڅکله یو نوې ژوند ته نه ځې نو دوام ورکړه او هڅه وکړه چی خپل ژوند سم کړی ، وخت تاته په تمه نه پاته کیږی لور جانې یوه ورځ چی لکه ما بوډا شوې هغه وخت بیا ستا پښیمانی هیڅ ځای نه نیسی دا چی وایی ماهی هر وخت چی د اوبو څخه ونیسی تازه دی زما په عمر بیا هغه ماهی نور تازه نه دی
خپل د ځایه پاڅیدی او روان شو
ومی ویل: چیري ځي؟
وي ویل: دلته څوک نه تیریږی چی راته خیرات راکړي ځم بازار ته، اوس ګډه ګوډه ډیره ده مازدیګر ته بیا نشته وخت په تیریدو دی ماته ماتله نه پاته کیږی لاړشم یو څو روپی پیدا کړم
د ده خبری لکه یوه څپیړه زما پر مخ ولګیدل. دا هغه څپیړه وه چی ما سخت ورته اړتیا درلود تر څو د خوبه ویښه شم. وخت ماته په تمه نه پاته کیږی ، ربښتیا هم وایی

د ځایه پاڅیدم او د کور خواته لاړم ځکه هغه زما کور دی او زه بل ځای د تللو د پاره نلرم نو باید وي ساتم که شګوفه وي او که نه وي ، که پلار می ما وغواړي که ونه

غوارېي تر اوسه خو چا راته ويلی هم ندی چی د کوره ووځه نو زه ولی ووتلم؟؟ نه پوهيږم

.... رضوان ....

د ليلا د خبرو اوريدلو سره می اعصاب خراب شوه. څنګه؟ څنګه کولي شي په داسی يو بی معنی خبري باندی خپل نوری ووهي؟ زور يی يوازی په نجونو رسيږی؟ کاش چی دومره ورتيا می درلودی وی چی يو کلک سوک می د ليلا د پلار په خولی وهلی وی داسی نارينه يوازی د نر نوم بدوی او د نرتوب څخه بی له تکثيره بل څه ندی زده.نن ورځ می د سهار څخه خرابه شوه. د فوټبال حوصله می هم نه درلود نو ټولګی ته لاړم. ټولګی ته د ننوتلو سره می علی وليد. اووووو خدايه.
علی می د کاکا زوی دی د طوبا سره جمل دي. دواړه کابل ته راغلي وه زما د کوچينوالي ملګری وه. زه دمخه خبر وم همدی د پاره می وويل چی زموږ ښوونځی ته راشی او زما ټولګيوال شي

علی تر ما يو کال وړوکی دی خو زه ځکه چی په کلي کی زيږيدلی وم يو کال ناوخت تره ښوونځی ته شامل شوم د همدی د پاره اوس دواړه په يو ټولګی کی يو يو بل مو په غيږ کی ونيول او روماچی مو وکړل طوبا د نجونو په پيژندلو مصروفه وه ، زما په ليدو سره زما خواته راغله او ما هم په غيږ کی ونيوله
د دوی ليدل د دی لامل وګرځيدی چی د سهار پيښه او خبری ټول هير کړم.
د علی او طوبا سره د خبرو په حال کی وم چی ليلا په ځغاستو زما د څنګ څخه تيره شوه او دباندی لاړه. خدايه بيا څه شوي؟
غوښتل می ورپسی لاړشم چی علی وويل: دا نجلی ليونۍ ده پخداي
ومی ويل: څنګه؟ منګه ته يی پيژنې؟

علی: هو سهار چی ښوونځی ته ننوتلو موږ يی بيابه کړو بيا دلته يی بخښنه وغوښتل ، اوس هم داسی تښتي ، که ليونۍ نه ده نو څه ده؟
ومی ويل: د چا په اړه قضاوت مه کوه حتي په داسی وخت کی چی هغه نفر په

پوره ډول پیژنی ، یو څه ستونزې لری زه هڅه کوم چی ورسره مرسته وکړم تاسو یی هم درک کړی او چاته هم مه وایست چی سهار یی څه کړی او څه یی ویلې ، پوه شوي؟؟؟؟
علی سر وخوځول او وي ویل: سمه ده وروره
ومي ویل: تاسو همدلته واوسئ زه بیرته راځم
او د لیلا پسی لاړم. د ښوونځی په دروازی کی نګهبان نه پریښودلم هر څومره می چی زاری وکړه او ومی ویل: ډیر ضرور کار دی باید لاړ شم یو نجلی په ډیر خراب حال باندی ووتله

خو ده ویل چی زه همدلته ولاړ وم او هیڅ زده کوونکی د ښوونځی څخه ندی وتلي. ټول ښوونځی کی د لیلا پسی وګرځیدلم خو لیلا نه وه. نږدی وو چی لیونی شم. خدایه ته ورسره مرسته وکړه د هغې حالت هیڅ ښه نه وو که یو د بیعقلی کار وکړی بیا څه؟؟نه ، دومره هم بی فکره نه ده ، خپل د ژوند سره لوبی نکوې.
د ټولګی لومړی ساعت می د لاسه ورکړی وو او سرو و سرګردانه د فوټبال میدان کی ګرځیدلم.

د ټولګی خواته لاړم. د درس ساعتونه تیریدل خو ما یوه شیبه هم ارام نه درلود ، د لیلا په اړه اندیښمن وم چی کوم کار ونکړی
د رخصتی وروسته می غوښتل چی د لیلا د کور خواته لاړشم چی علی ناري کړم:
رضوانه وروره یو دقه صبر وکړه
ومی ویل: څه وایی وروره؟ ژر ووایه چی باید لاړشم
وي ویل: هغه نجلی څوک ده؟ څه شوي دي؟ ولی دومره تاته مهمه او ارزښتناکه ده؟
ومي لیدل چی ټول ورځ دي ځان خوړل ، که کمه خبره شوي ووایه چی زه هم پوه شم که کم څه می د لاسه کیږی چی زه یی هم وکړم
ومی ویل: نه کمه ستونزه نه ده هغه یو څه د کورني ستونزي لری او روحی حالت یی ډیر خراب دی ، خپل پر احساساتو پیاوړې نه ده نشی کنټرولولې ، ښایی کم کار وکړي د دی د پاره بیریږم

علی: ښه نو ولی د یو نجلی احساس او ستونزې تاته مهمې دې؟ ورسره مینه لرې؟
د علی د خولی د دی خبری د اوریدلو سره می ځان سره وویل: څومره د کم عقلی پوښتنه.او ده ته مي وویل: نه ، دا خبره د کم ځایه شوه؟ ته نه پوهیږې چی څومره ستونزې لرې ، نه کیږی چی یوازی یی پریږدم هیڅوک هم نلری ، زه یوازی هڅه کوم چی د یو ملګری او د یو ټولګیوال په شان ورسره مرسته وکړم
وي ویل: ښه ښه ډیر ښه ، که په ټولګی کی یوه بله نجلی هم داسی ستونزو سره مخ شی ته بیا هم ورسره احساسی مرسته کوی؟
احساس می وکړ چی دا خبره یی یوه کنایه وه

رضوان: څه هدف لرې؟ سمه خبره وکړه په کنایه یی مه وایه چی بد مي راځي
علی د څو شیبو د پاره یی راته ښه په ځیر ځیر وکتل او بیا یي وویل: ستا خواخوږي د هغې سره ښایی تاته یوه عادي خبره یی خو نورو ته نه ده ، ته یی په اړه هیڅ کم بل نظر نلري خو ستا دا کارونه تا د نورو مخته خرابوي دا چی د یو نجلی پسی ځغلي ، هڅه کوی چی هغه آرامه کړې او د هغې ستونزی تاته اړینې دی، خلک به څه وایی؟ دا کارونه ستا د تند او بی تفاوته مزاج سره هیڅ سمون نلري د احساساتو او مینې په لاره لاړښي ښه به وی.

پریږده چی خپله خپل ستونزی حل کړی تر څو ورڅخه یو څه زده کړی ، ته یی د ستونزو حل کوونکی مه ګرځه پریږده چې خپله خپل پر پښو ودریږي
ځان سره می وویل: علی هم رښتیا وایی زما کارونه هم د خلکو د پاملرني لامل ګرځي خو د بلې خوا څخه لیلا ډیر ستونزې لرې
ومی ویل: سمه ده خپل پام دي خبرو ته نیسم ، اوس باید لاړشم جمعه دي بیا په میلمستیا کي وینم خدای په امان
په ځغاسته د ښوونځی څخه ووتلم او د لیلا د کور خواته لاړم.
په لاره کی د علی خبری می په یاد شوه ، ( ته ورسره مینه لری؟)
معلوم داره ده چی نه ، زه بیخی دی کارو د پاره وخت نلرم. دا ټول یوه مرسته ده بس او لیلا هم ډیر دې مرستی ته اړتیا لری

د لیلا کور ته د نږدی کیدو سره اندیښنې ونیولم چی څنګه دروازه وټکوم او څه ووایم؟
ووایم د چا سره کار لرم؟
ځه بس همدا چی وګورم جوړه ده بس دي بالا ځم
د دروازې شاته ودریدلم ، لاسونه می خوله کړي وه. یو ژوره ساه می واخیستل.
اووووووو خدایه اوس څنګه دروازه وټکوم؟ څه ووایم؟ خدایه خپله راسره مرسته وکړه د دروازی زنځیر نیولو وروسته ، دروازه خلاصه شوه. د لیلا پلار زما مخامخ ولاړ وو. د ډیر بیرې څخه وینه می په بدن کی وچه شوه. ومی ویل: قباد شته؟
وي ویل: نه دا د څنګ دروازه د قباد دوی ده ، دا دروازه نده
او زما د څنګ څخه تیر شو. دروازه یي کلکه وتړل چی بیا خلاصه شوه. څو قدمه لری شوم ، کله چی می ولید د لیلا پلار لری شو بیا نږدی شوم.

یو بسم الله می وویل او خپل سر می د دروازې د فاصلې څخه دننه کړ. هیڅ څوک نه وو. دا نو څنګه؟ ولی هیڅ څوک نشته؟ حتي د چا غږ هم نراځی.
یو کوچنی سرای ، دوه کوټی او یو دهلیز یو خواته او یو کوټه او دهلیز هم نږدی و دروازی ته.
یو نفر هم نه بهر کیدی چی ورڅخه پوښتنه وکړم ، دا نو څنګه کور دی؟ بیخی د پېریانو د کور په شان دی
ګورم چی یو ښځه د کوټي څخه ووتله او زما په لیدو سره یی وویل: څوک یی؟ غل ، غلللللللل ځه ووځه
غږ د اوریدو سره یی یو متر وپریدلم. او خدایه دا د لیلا مور ده؟ څنګه وحشتناکه سینګار یی کړی

د دې ښځی د غږ په اوریدو سره شاته لاړم چی لیلا د کوټی څخه راووتله. د هغې په لیدو می زړه آرام شو ، ومی غوښتل چی د دروازی څخه لری شم چی هغه ښځی زما لاس ونیول او په لوړ غږ یی وویل: غلا ته راغلی وي؟
ما ویل: نه نه خاله جانې ، زه د قباد ټولګیوال یم د هغه و لیدو ته راغلی وم.

احساس می کول چی یوه نیمګړی قلبی سکته می تیره کړي.
وي ویل: دا د قباد کور نه دي حتي که خپل ټولګیوال لټوي بیا هم بی اجازه خپل سر د دوی کور کی مه ننباسه

ومی ویل: سمه ده تاسو رښتیا وایست زه بخښنه غوارم. هیله کوم زما لاس خوشي کړی ، قسم خورم چی بل وار خپل فکر نیسم

زړه می د ډیر بیری څخه خولی ته راغلی وو.
لیلا زما په لیدو سره یی د خندا غړ پورته شو
هغه ښځی چی زما لاس نیولی وو وي ویل: چپ! بی تربیې یو هلک مو چی ولید بالا بیا په ځان نه پوهیږی مور خو مو بی د هغه هم تاسو ته تربیه نه ده راکړي ، هله ځه دننه د همدی شیبې څخه می استفاده وکړه خپل لاس می خطا کړ او په ځغاستو د کور خواته لاړم.
څومره یو وحشتناکه ښځه! دا خو د لیلا مېره ده ، وای دي وي د لیلا حال ته. ځه شکر چی لیلا می ولیدله او ښه وه. اوووف
ښه شو چی چا ونه لیدلم که نی خپل پلار ته می څه ځواب ورکړی وی؟ بیا می (شکر خدایه) وویل او د کور خواته لاړم.

څو ساعته مخکې ...... لیلا ....

کور ته ننوتلم ، مور می زما په لیدو حیرانه شوه او وې ویل: لیلا زویه ښه یې؟ کم ځای خو دی درد نکوې؟ نن سهار وختی ښوونځی ته تللې وې ما ونه لیدلی کاش زه دی ویښه کړئ وی تر څو درته می د سهار چاوی تیار کړی وی
رښتیا ولی راغلی؟ خیریت خو دی؟
ما ویل: هو مور جانی خیر و خیریتی ده نن می حوصله نه درلود ځکه بیرته راغلم راځه چی اوس چاوی وڅښو

د چاوی څښلو په وخت کی می مور وویل: شګوفه هم راغلی ده خپل جیز یی وخت
ځای پر ځای کیږ یو څه یی لا ستا د کاکا په کور کی پاته دي دلته ځای نشوه
لیلا: ښه ډیر ښه ، مورې راځه چی د هغې سره هیڅ کار ونلرو هر څوک دې خپل په
لاره روان يې
مور می وویل: هو زه هم همدا وایم جنجال می بی د هغه هم نه خوښیږی
وروسته د چای څښلو څخه لاړم تر څو خپل د مور سره په چهارمغز ماتولو کی
مرسته وکړم چی شګوفه خپل د کوټی څخه ووتله.

د کوټي ښیښې یی پاکی کړی او وروسته یی خپل ویښتان ژمنځ کړل. بیکاره وه چی
مورې څخه راغله. وې ویل: د چارمغز ماتولو څخه څومره پیسی ګټی؟
مور می خبری نکول ، ما وویل: نه پوهیږم خو زلمی کاکا هره جمعه پیسې راوړي
وی ویل: یووو کار تاسو کوی او بیا زلمی راځي تاسو ته پیسي درکوي؟ دا چهارمغز د
دوکانه دي که ده زلمي؟
ومي ویل: د دوکانه
شګوفه: نو ولی بیا مستقیم یی نه ویشي؟ زلمی څوک دی چی هغه ته مو ورکړي؟ که
پیسی نیمی کړی بیا څه؟

ځان سره می فکر وکړ او خپل د مور خواته می وکتل. رښتیا خبره یی کول مورې خو
نه پوهیدلو چی د دی کار پیسی څومره دی که زلمی کاکا د پیسو نیمایی مورې ته
راکړی بیا څه؟
د شګوفې څخه می بد راتلل او څهره یی راباندی بده لګیدل خو خبره یی رښتیا وه
ومي ویل: ښه بیا ورسره په دی اړه خبري کوم
نور می څه ونه ویل چی اوس بیا ځان مورې سره نړدی فکر ونکړی
څو شیبې غلی وه او بیا یی یو په دوه وویل: ستا د پلار سره می خبری وکړل
نغواړی ماته مور ووایست راحته واوسئ زه مو مور نه یم کله چی دخیره سره خدای
راته اولاد راکړی بیازو مور کیږم
ورته می وکتل او په زړه کی می لا حول ولا وویل. څومره دا ښځه پسته ده. اول

ښه زما د پلار غوږونه يی ډک کړل زه يي ښه په وډبولم اوس بيا راغلې ځان ښه نيسی چی يعني ما دا خبره حل کړه

ومې ويل: ډيره مننه ستاسو زحمت ته هيڅ اړتيا نه وه که زما پلار زما سر يی هم وهلی وی بيا هم زه نه راضی کيدلم چی بل څوک ته غير خپل ده موره ، مور ووايم ګورم چی زما خبری ښه پوره زور ورکړی وو خپل په زړه کی می وويل: ښه شو ستا دې پانيت شی چی بيا ځان خيله خيله نکړې
خپل مور خواته می وکتل چی سر يي ښکته وو او نرې مسکا يی په شونډو وه خپل د مور يو مسکا می په ټول نړی نه ورکول ډيره خوشاله شوم چې زه يي د مسکا لامل وګرځيدلم

خپل د احساساتو سره بوخت وم چی شګوفې وويل: رښتيا زهرا جانې بايد يوه خبره درته ووايم اوس ليلا هم ماشومه نه ده پيغله ده په دي شيانو پوهيږی ، په اوني کی څلور شپې خان زما سره وي څکه زه تازه ناوې يم په لړ تره هم نه قانع کيږم د همدا اوس څخه می درته وويل چی بيا وروسته جنجال ونکړی چی بيا وهل وخورئ
د چهارمغز ماتولو حال کی وم چی د دی خبری د اوريدلو سره چکش می پر ګوتې ولګيد. اووووف څومره درد لري.

دا ښځه څومره بی نزاکته ده ، څنګه يی وکولی شو چی دا خبره وکړی؟
مور می کار پريښود سر يی پورته کړ او وې ويل: ولی څلور شپې ګرانی؟ ټوله اونی ، ټول مياشت ، په ورځ و شپه يی ستا. خپل څوانی يی زما سره تيره کړه او د هيچا سره يی ونه ويشل اوس بوډاتوب يی په دواړو لاسونو تاته راکوم بی د هغه د ويشلو ارزښت هم نلری
شګوفه د ډير غوسی څخه تکه سره شوې وه او يوازې خدای خبر دی چی زه څومره خپل د مور په دی خبري خوشاله شوم.
شګوفی په زوره يو خندا وکړه او وې ويل: ښه ښه چی داسی ده نو زه به ورته

ووایم چی خرخ هم تاسو ته درنکړی بی د هغه هم تاسو خپله کارګران یاست نو خرخ ته څه ارتیا لری ، همداسی نه ده لیلا جانې؟

مور می وویل: نه ګرانې ، اولادونه یی ما خپل د پلار د کوره نه دي راوړې مجبوره دی چی د دوی خرخ ورکړی تر یو وچه ډوډی بالاتره یي هم نسوی په دی اړه دی خپله پوهيږي هيڅ ستا زحمت ته اړتیا نشته ته ځان مه په عذابوه

په همدی حال کی وو چی شګوفه خپل کوټي ته لاړه او تر مازدیګره هملته وه تر څو چی می پلار راغی
څو شیبې یی په کوټی کی ښه په لوړ غږ جنجال کول چی پلار می ووتی. وروسته د څو شیبو څخه د شګوفی غږ راغي چي ویل یي: څوک یی؟ غلللل، غلللللل
ورخطا شوم چی څوک دی؟
همدا چی ووتلم ګورم چی شګوفې رضوان یی د لاسه نیولی او د رضوان رنګ لکه ګچ تک سپین شوی.
ډیره خندوونکې ننداره وه ، ده زمونږ په کور کي څه کول؟

د رضوان د تګ وروسته شګوفې دروازه وتړل او زما خواته راغله. په داسی حال کی چی خپل پوزني یی جوړول وې ویل: د یو هلک مخته هیڅ کله مه خانده زه دې مور نه یم خو درته وایم ځکه د دی کور آبرو زما آبرو هم ده
ومې ویل: ښه ، زه هم بی عقله نه یم پوهیږم خو ډیره خندوونکې شیبه وه ځکه می وخندل
بد بد یی راته وکتل او په کنایه لرونکی لحجه یی وویل: ښه بیا ګورم چی څومره عقل لری
او لاړه. د هغې تګ ته می پام شو څنګه یوه ښځه کولی شی دومره په ناز په لاری لاړه شی؟ دا ښځه چی دومره ناز او عشوه لرې ولی یی میړه نه وو پیدا کړی چی آخر زما د پلار په ګیر کی ولویدله؟
څه ایله یی کړه په ما یی څه.

لاړم خپل د مور څخه تر څو د پخلنځی په کار کی ورسره مرسته وکړم
د کچالو د پوستولو په حال کی وم چی رضوان می په یاد شو.
دي څه ده پاره راغلی وو؟ د قباد کور یی خو لیدلی نو دلته زموږ په کور کی یي څه کول؟
په فکر کی وم چی دروازه وټکیدله. لاړم خلاصه می کړه سهیلا او حمیرا راغلل قباد هم د دوی سره وو
دروازه یی ټیله کړه چې زما په اوږی ولګیدله او اوږه می په درد شوه
ومی ویل: وحشی دا بیا څه کار دي؟ لکه انسان ننوځه
وې ویل: ته غلې شه ، زهرا خاله؟؟؟؟
مور می د پخلنځی څخه راووتله او وې ویل: څه شوی دی څه خبره ده؟
قباد زما خواته وکتل او زما مور ته یی وویل: خاله نن لیلا ښوونځی ته راغلی ده او بیا بیرته وتلی ده مدیر زه وغوښتلم او وې ویل چی نه باید داسی یو کار یی کړی وی ، چیری وه؟ کورته راغلی وه که نه؟

دا خدای شرمولی هلک اوس زما شاته خبري جوړوي
تر څو چی غوښتل می ووایم په تا یی څه چی چیری وم مور می وویل: د سهار څخه تر اوسه دلته زما سره ده. قباده ته هم ډیر د ښځو په شان د خبرو پسی مه ګرځه ، ځه خپل کور ته. هځه وکړه چی لکه خپل خور فاطمی په شان نشی چی یو شیبه هم د زغملو نده ، هله ژر نو
قباد هیڅ لکه فاطمې نه وو د ده شیطنت د فاطمی څخه لا زیات وو پوهیدلم چی دا خبره خامخا زما د پلار تر غوږه رسوي بیشرف تر څو ما بیابه نکړی ولاکه می پریږدي
وي ویل: ښه خاله جانې مخصد ما درته وویل
د وتلو په حال کی وو چی شګوفې وویل: یو ټولګیوال دي ستا پسی ګرځیدی
قباد وویل: کم ټولګیوال می؟
ما خپل ځان د دوی په خبرو کی واچول او ومې ویل: یو دانه وو چی ته تل ورسره فوټبال کوي ، د کور دروازه یی غلطه کړې وه
وي ویل: نوم یي؟

ما ویل: زه نو ستا انډیوالان څه پیژنم؟
په فکر کی شو او د کوره ووت.
شکر خدایه! که پوه شي چی رضوان وو بالا هیڅ د دی خبری شا نه پریږدي ځکه رضوان هیڅ د قباد سره جوړ نه دی او تر څو چی اړین کار ونلري لیدو ته یی نه راځي

.... رضوان ....

کور ته نږدي وم چی دولتی چارواکی می ولیدل. راغلی وه هغه هلکان چی عمر یی اتلس ته رسیدلي وي په زوره عسکری ته یوسئ. اجمل زما مشر ورور نوې اتلس کلن شوی وو په ځغاستو می ځان کور ته ورسول او غږ می کړه : اجمله اجملللللل
د کړکی څخه یی خپل سر وایست او وي ویل: څه خبره ده چی کور دي پر سر اخیستی؟
ومی ویل: ماموران راغلي دي تا عسکری ته وړي ، ژر ښکته راشه
پلار می په کور کی نه وو. اجمل ژر ځان یی څاه ته ورسول. د څاه سر مو لري کړ او دی په څاه کی ښکته شو.

یو وچ څاه مو درلود چی په منی کی د ونو وچ پاڼي مو ورته اچول اجمل د هغه لاندی پټ شو چی په همدی وخت کی مامورانو دروازه وټکول. دومره ځغاستلي وم چی کالی می د خولی څخه خیشته ننده (لانده) وه.
ماموران کور ته راغله او د څیړنی وروسته ما څخه یی وپوښتل: څو نفره یاست؟
ومی ویل: زما مور و پلار زه او زما یوه خور
نږدی راغی او خپل لاس یی زما په ږیری ووهل او وی ویل: د څو کالو یی؟
ومي ویل: شپاړلس. دوه میاشتی وروسته د اولسو کیږم
ویل: درواغ مه وایه چی زه پوهیږم، بیا څهري څخه مشر معلومیږي
مور می وویل: نه ولی درواغ ووایی تذکره لري دا دی وي ګوری
زما د تذکري د لیدو وروسته ټول کور یی تلاشی کړ. یو مامور راغي او وي ویل: موږ

ته راپور راغلی چی دا کور دوه زامنه لري ، هغه بل زوی مو چیری دی؟
مور می وویل: هغه ورﯚکی دی ، د دوولسو کالو دی تللي دی پاکستان ته خپل د کاکا څخه.

وي ویل: ښه داسی ده نو ، درواغ خو نه وایست انشاالله؟
مور می وویل: نه زړه مو جیمی ، که اتلس کلن زوی می درلودی وی خامخا می راستول. باید خپل د هیواد ساتنه وکړی
مامورانو یو بل ته وکتل ، زما عمر یی یادداشت کړ او لاړه.
د ډیر بیری می لاسونه یخ شوي وه خدایه نن څومره سخته ورځ وه.
د څاه سر می لري کړ او اجمل راووتی. رنګ یی تر ما بدتر سپین شوی وو.
اجمل په غوسی وویل: زه نور دلته نه کښینم ځم پاکستان ته خپل د کاکا څخه
مور می وویل: صبر وکړه چی پلار دي راشی ، زه کم څه نشم ویلی
اجمل او مور می د خبرو په حال کی وه چی ما وویل: ښه دی چی لاړشی ، بی د هغه هم دا یان بیرته راځی که یو څوک راپور ورکړی بیا څه؟ بی خبره راځی او اجمل وړي ، ښه شو چی ما دوی په کوڅه کی ولیدل
مور می وویل: باید ستاسو پلار پریکړه وکړي ولی نه پوهیږی؟ یو دم دغه وایست منګه زما په لاس کی دي؟

او دننه لاړه. ما اجمل په غیږ کی ونیوی او ومي ویل: زه درسره یم زړه دي جیمی راته یی وکتل ، وی خندل او وی ویل: شکر چی یي زما ګران وروره، که نی اوس به یی اوړد په کوڅه کی کش کړی وی د عسکری خواته.

.... لیلا ....

شپه شوه د ډوډی خوړلو په حال کی وو چی پلار می راغی زموږ کوټی ته. سهیلا ماته وکتل. په زړه کی می وویل: خدایه ته یی پخیر کړي
د پلار د څهری څخه ښکاره وو چی ډیر خفه دي ، حمیرا لاړه ورته یی چاوی راویستل.

څو شیبی غلی وو او بیا یی وویل: سمه ده چی زه څو وخته په کور کی نه وم ښایی ډیر وخت، نه پوهیږم په دقیق وخت یي نه یم خبر خو په دي پوه شوم چی زما نشتون زما د ژوند د ورانیدو لامل وګرځیدی او تاسو دومره یاغی شوی چی زما خبري تاسو ته بی ارزښته یی. د نن څخه وروسته شګوفه د دی کور غړی ده زړه مو چی خوشالیږي که خفه کیږی بله لاره نلری نو هغه وکړی چی د کنایی او نیش داره خبرو څخه ډډه وکړی چی جنجال جوړ نشي، دا جنجال او غالمغال یوازی زموږ آبرو وړی بل هیڅ ګټه نلری

ګاونډیان به څه ووایي؟ چی دا دوې ښځی د یو بل سره نه چلیږي نه پوهیږم چی څه مو په فکر کی دي خو هر څه چی شګوفی وویل باید واورئ ستاسو نه مشره ده آخر دا هم د همدي کور ښځه ده هر څه چی وایي ستاسو په ګټه یی وایی ، که خوښه مو نده هم کمه خبره نده بی بی ته مو وایم چی په مزار کی تاسو ته د میړه پسی وګرځی هغه نجلی چی زما په خبره نه ده بهتره ده چی خپل د میړه په خبره یی، بیا هم زړه مو زه یاغی خلک خپل په کور کي نه ساتم

هر څه چی وایم باید هم هغسی وشی یا مو استوم د بی بی څخه
د جنجال حوصله نلرم ما پیسی خرڅی کړی ښځه می وکړه هغه مه راباندی طلاقوی ، زه هم خلکو ته ډوډي ورکړم هم ماته ارزښت رانکړی داسی نکیږی ، یو څه د فاطمی څخه زده کړی چی څنګه خپل د پلار سره چلند کوی؟ دا چی ورینداره می هم یو با ادب او با نزاکته ښځه ده په دی مسئلی کی بی اغیزه نه ده
مور چی می ارامه ناسته وه سر یی پورته کړ او وی ویل: څنګه خپل نوړی د فاطمی سره یو بولې؟ د فاطمی اوبه او ډوډی د هغې د تمی څخه زیات تره ورته رسی ، تر اوسه زلمي یو کلکه خبره هم ورته نه ده کړي زلمی ورته څه کمی پریښی چی بیا دا ورڅخه شکایت وکړی؟ فاطمه دی ړنده شی چی دا به خپل پلار ته بی احترامي کوی

هر څوک زلمی نه کیږي خپل اولادو ته. کله چی خپل نوړی د فاطمی سره مقایسه کوي ځان هم د زلمی سره برابر کړه بیا خبری وکړه

پلار می چی آرام ناست وو او اوریدل یی وي ویل: ما څه ده زلمی سره مقایسه کوی؟ زلمی او د نسرینې پلار پیسې لري. نسرین یی کله میره ته ورکړه؟ همدا د همسایه لور مو ډیر خبره مه پورته ښکته کوی همدا چی ما وویل، که تاسو ته د منلو وړ ده خو ښه که نه ده زه دا بی ادبی نور نشم زغملی
او ولاړشو د کوټې څخه ووت.

خپل د پلار خبرو د اوریدو وروسته ټول حیرانه وو
خپل مور ته می وکتل او ومی ویل: دا څه حال دی؟ څه وکړو مورې؟
مور می وویل: خیر دی لوری دا خبري شگوفې ورته کړی اوس خیر دی زموږ وار هم کیږی تر هغه وخت یی وزغمئ ، زه اجازه نه ورکوم چی تاسو هر څوک ته ورکړی ما خو بی د هغه هم ښه ورځ ونه لیدل تاسی نه بدبخته کوم لورې ، پریږده هر څه چی وایی ودی وایی یوازی لیلا لوری ډیر ژبه مه وه هم د پلار سره هم د هغه سړی سره چی په راتلونکی کی ستا په نصیب کیږی ، ژبه وهل هیڅ گټه نلری خپل فکر ونیسه لوری هیڅ څوک د ژبه وهلو څخه ځای ته نه دی رسیدلی
شگوفی هم چی هر څه وویل ځواب مه ورکوي هر څومره چی بده خبره یی وکړه هر څه یی چی وکړه ، خدای مهربانه دی پر موږ به هم روښنایی راشي دخیره هله نو بیدې شی چی ناوخته دی

په خوب کی وم چی خپل په لاس کی می د بی حسي احساس وکړ د خوبه ویښه شوم او ومی کتل چی سهیلا زما په لاس بیده ده ، د همدی د پاره می لاس خوب وړی وو
ویښه می کره او ومی ویل: زما او خپل مینځ کی بالښت پریږده لیونې نجلی لاس می خوب وړی
سهیلا د خوبجنو سترگو سره وویل: ښه
او بیرته بیده شوه. په رښتیا چی لیونې ده څنگه پوهه نشوه چی د ملا لاندی یی کم څه دې؟

لاس می داسی وو لکه په سیخ یی چی ووهی.
لاړم د اوبو لاندی می ونیوئ چی ګورم د شګوفې د کوټې ګروپ روښانه دی.
ساعت څو دي چی دا تر اوسه ویښه ده؟ نږدې شوم چی ګورم زما د پلار سره ناسته ده او خبرې کوی. اووووف څه معنا چی شپه او ورځ زما د پلار غوړوونه ډکوی ، لیونی ښځه لکه چی بل هیڅ کار نلری خپل خوب یی لا پریښی چی زموږ پلار زموږ پر ضد حواله کړی

د هوا د روښانیدو سره د ښوونځی خواته لاړم. ومی لیدل چی شګوفه ناسته ده او قرآن شریف وایی.
زه خو پوهه نشوم چی دا څه رقم ښځه ده هم خدای مني هم د شیطان خبری یی خوښیږی سهیلا ته ماتله وم چی پلار می د کوټې څخه ووتی غوښتل یی د دروازی څخه ووځي چی شګوفی نارې کړه: خان شاه
پلار می وویل: بله؟ بیا څه شوي دي؟
شګوفه: پیسې راکړه
پلار مې وویل : د څه شی پیسی؟

په همدی وخت کی می مور هم د کوټې څخه ووتله چی شګوفی وویل: په کور کی دی وی زر خبرې دی، کله چی نه یی یو شی په کاریږی یو جوړ و ناجوړی دی پیسی پکار دې داسی خو نه کیږی چی خپل سر ښکته اچوی او ځې ، یو وار د چا زړه یو څه ته کیږی چی ځانته یی واخلي باید پیسې یی هله ژر یی راکړه
پلار مې لاس په جیب کی کړ او یو څه پیسی یی ورته ورکړی.
ما خپل د پلار او د شګوفې لاسو ته کتل. یعنی چی هره ورځ ورڅخه پیسی اخلی؟ هر سهار؟

خپل د مور خواته می وکتل چی غوښتل یی بیرته کوټې ته لاړه شي او ومی ویل:
پلاره زما د مور هم پیسی پکار دې
پلار می وویل: اوس نو ښه شو د ټولو پیسې پکار دي ، پیسی څه کوی؟

ومی ویل: برایی دی څه وویل؟ مورې ټول یوه کورنی یو نو کله چی شګوفې ته پیسی ورکوی زما مور ته یی هم باید ورکړي باید دواړو ته په یوه اندازه ارزښت ورکړی پلار می وویل: مور دی د څهارمغزو پیسی اخلی ورته اړتیا نلری شګوفه کار نکوی بیا شګوفه خو تازه ناوې ده

او خپل سر یی ښکته واچوی چی د کوره ووتی ، شګوفی بیا ناري کړه: خان شاه ، په کور کی یو دال هم نه پیدا کیږی سودا راوړه دا څه رقم کور دی؟ تاسو لکه چی هیڅ بوډي نخوری څه بلا؟ لږ لږ بهر نه راوړی همغه هم پخوی خلاص اضافه هیڅ نشته داسی خو نه کیږی که یو میلمه راشی څه کوی؟

مور می وخندل او وې ویل: میلمه؟ دي کور ته میلمه هیڅ کله نه راځی، خان شاه نه ده چا کورته ځی نه هم د ده د اخلاق د امله د چا زړه کیږی چی کورته یی راشی شګوفی وویل: زه په تاسو کار نلرم زما ورور زما لیدو ته راځي داسی نه کیږی سودا راوړه زه آبرو لرم ښځه چی دي کړي پیسی هم مصرفوه په ما اړه نلری چی لری یی که نه یی لری ښځه او اولاد خرڅ لری

او دننه لاړه. ما او ما مور یو بل ته کتل. هیڅکله مو زړه نه وو کړی چی ما د پلار سره داسي خبری وکړو او تر هغه جالب تره چی زما پلار هیڅ ونه ویل.
څو شیبې وروسته یی غږ کړ: ځم پور کوم ته دی لست تیار کړه چی څه غواړې او دي هم لاړی. همدا چی می پلار ووتی مور می په حیرانو سترګو راته وکتل او وې ویل: فکر کوم چی د خرابو قدر ډیر دی

په همدې حال کی شګوفه راووتل او زما مور ته یی وویل: هو زهرا د خرابو قدر ډیر دی ، ته ولی دومره سسته یې؟ یو سودا څه ده چی ته یی نغواړی؟ نه تا کار ته ایږدی نه خپله سودا راوړې بیخی همداسی مفت خوره عادت شوی هیڅ مسؤولیت پذیری نلري ، یو سودا څه ده؟ څومره څوک ورته ووایی همدی د پاره دی چی ته خپل په ژوند کی هیڅ پرمختګ نلري ، ته هم ښځه یی؟ په قوم کی دی هیڅ څوک خبر نه دی چی ته هم لور لری ، اصلا څوک تاسي پیژني؟ خان شاه په سفر کی وو ته خو په کور

کی وی فکر دی چیري دی؟ پام دې دی چی خپل او خپل د خاوند ژوند تا خراب کړي؟ نر دوه واره روزل کیږی ، یو وار خپل د مور په کور کی او دوهم وار یی میرمن تربیه کوی. ورته به دی ښودلی وی چی قوم څه دی ، سیال و سیال داری څه ده دا چی باید خپل د اولادو خرڅ راوړي ، ستا څخه هیڅ نه جوړیږي

او د غوسی ډک نظر سره یی مور ته وکتل او لاړه. ما او مور می په حیرانتیا د شگوفی ځای ته کتل. رښتیا یی ویلی چی د حق خبره ځواب نلری همدا چی می خپل مور ته وکتل وې ویل: هیڅ مه وایه لوری
پوهیږم چی څه دی په سر کی دې ، زه ماشومه وم چې دی کور ته راغلم چا راته ونه ښودل چی څنگه چلند وکړم خپل د پلار په کور کی می هم سم ژوند نه درلود مور می د خلکو په کورو کی کالي پریولستل (پریمینځل) ، ما ځینی څه زده کړی وی؟ د چا څخه می زده کړی وی؟ ستا پلار هم هیڅکله ماته مخ نه دی راکړی چی خپل خبره وکړم

داسی چی زلمی خپل ښځی ته ارزښت ورکوي ، داسی چی ستا پلار شگوفی ته قدر ورکوی چا ماته نه دی راکړی هر کله چی می خوله خلاصه کړې په څپیړه یی چُپه (غلی) کړی یم
تل می هم ستا د انا خبره اوریدل چی ویل یې: هره خبره چی وشوه لورې چاته څه مه وایه خپل غږ مه باسه په خدای توکل وکړه ستونزه دی حلیږی تل ټولو ته احترام ورکوه ، عزت ورکړه چی عزت درکول شې ، خو هیڅ هم ونشوه هیچا نه کتل چی زهرا څه وایی

زما څخه نور څه ندی پاتی عمر می تللی دی ته خپل فکر ونیسه ته یی زده کړه لوری لکه خپل مور یو بی جرأته ښځه مه جوړیږه خپل حق واخله هر څه چی وشوه خپل غږ وباسه ، ما ونه ایستل او چپه شوم ښایی خپل د آبرو د پاره ښایی هم ستاسو د پاره خو هیڅکله می خپل غږ ونه ایستل ، تاسو هم زما سره ویلې شواست

شگوفه رښتیا وایی یو ښځه باید خپل حق واخلی زه ښځه نه یم
او د اوښکو ډکو سترګو سره د کوټې خواته لاړه.

بی له کم څه د ویلو د کوره ووتلم او د ښوونځی خواته روانه شوم. ډیره مایوسه وم زړه می هیڅ شي ته هم ښه نه وو او د شګوفی د خبرو په اوریدلو سره نور هم مایوسه شوم خو خپل مور می په حق بولل. چا زما مور ته ارزښت ورکول؟ د هغی خبرو ته او د هغی موجودیت ته؟ خپل د مور څخه ګیله منده نه یم کم کار می هم د لاسه نه کیږی نو بهتره همدا ده چی درد یی دوه چنده نه کړم.
ټولګی ته د ننوتلو سره سم یو چا وویل: باید مدیریت ته لاړه شې ، مدیر غوښتې یې خامخا یی د بی اجازی وتلو د پاره غوښتې یم. د مدیریت خواته لاړم د اجازه اخیستلو وروسته دننه شوم چی ګورم رضوان او هغه هلک او نجلی هم هلته دي.
دوی دلته څه کوی؟

رضوان زما په لیدو سره یی مسکا وکړل ما هم همداسې ورته وکتل چی مدیر وویل: تر څو چی دی اسنادونه راځي ته کولی شي چی دلته درس ووایی رضوان ښه لایقه هلک دی او دا هم ډیر ښه دی چی د یو بل سره د کاکا زامن یاست په درسو کی درسره مرسته کوي شاته نه پاته کیږی انشاالله
څه؟؟؟ په رښتیا د کاکا زوی یی دی؟ نو ولی سترګی یی شنې دي؟ هیڅ څهره یی رضوان ته نه پاته کیږی ځومره ښه ، دا نجلی یی هم د کاکا لور ده.
څنګه جالبه خلک په څومره اسانتیا د کاکا لور په غیږ کی نیسی که زه قباد په غیږ کی ونیسم تر څو چی زموږ د دوارو سرونه ونه وهی ولاکه مو پریږدی که نی قباد د غیږی ارزښت هم نلری ماته قباد تر ټولو بی ارزښته انسان دی.
رضوان خپل د کاکا د زوی سره دباندی لاړی.

مدیر وویل: ښه پرون ولی بی اجازې وتلې وی؟ ښوونځی قانون لری داسی خو نه کیږی. خپل پلار ته ووایه چی یو وار راشي
د مدیر د خبرو په اوریدو سره ډیره وبیریدلم که پلار می خبر شی چی زه بی اجازې

د ښوونځی څخه وتلیې یم بالا می ښوونځی ته نه پریږدي. خدایه اوس څه وکړم؟
ومی ویل: نه کیږی چی پلار می رانشي؟ خیر دی هیله کوم
خپل مور راوړم ، کیږی خپل مور راوړم؟
وي ویل: نه ولی ستا په پلار څه شوي؟ خپل پلار ته ووایه چی راشي
د فکر په حال کی وم چی رضوان راننوتی یو څه یی مدیر ته راویستل او وي ویل:
مدیر صاحب د ریاضی ښوونکي لیلا یی په کار ده که ستاسو اجازه وی چی لیلا لاړه شي

مدیر هم وویل: سمه ده تلي شي خو سهار خامخا خپل پلار راوړی
ومی ویل: په سترګو هرو مرو یی راوړم

د مات زړه سره د مدیریت څخه ووتلم. خدایه خپله راسره مرسته وکړه
د ټولګی خواته روانه شوم. په لاری کی د ریاضی ښوونکي می تر څنګ تیر شو او هیڅ یی راته ونه ویل. منګه زه یی په کار نه وم؟
رضوان د ریاضی ښوونکي وویل که کم بل ښوونکي؟ فکر کوم چی ریاضی ښوونکي یی وویل.

څه خبره ده خدایه؟ ټولګی ته داخله شوم.
د ننوتلو سره هغه شین سترګی هلک مستقیم ماته وکتل یو شیبه می د هغه سترګو ته وکتل بیا خپل د میز خواته لاړم.
دا هلک فکر کوم چی د هغه ورځ خبری یی ندی هیر کړي چی داسی خپل په سترګو ما خوري. څه بلا می وریسې زه خپل حوصله لا نلرم هر څه یی چی زړه دي هم هغسې دی فکر وکړي.

د درس ویلو په حال کی وو چی رضوان راغی ، لاړی خپل د کاکا زوی تر څنګ کښیناستی بیا یی شا وګرځول ماته یی وکتل یو مسکا یی وکړل او خپل مخ یی بیرته واړول او سترګی یی تختی ته ونیول.
دا هلک لیوني دی پخدای. په یو کاغذ کی می ولیکل: «د ریاضی ښوونکي زه یی نه

وم پکار ، ولی دومره درواغ وایی؟» د دوی میز پر سر می واچول چی د کاکا زوی یی کاغذ واخیستل او خلاص یی کړ.
تا ووووولی خلاص کړ؟

لیوني هلکه یو څه فکر وکړه ښایی ستا د پاره به نه يي. زما خواته یی وکتل په کراره می وویل: ستا نه دی ، رضوان ته یی ورکړه
یو څو شیبې یی همداسی راته وکتل بیا یی کاغذ رضوان ته ورکړ. رضوان د لوستلو وروسته بیرته یی کاغذ ما ته وغورځول ، ټولو وکتل.
ښوونکي د لیکلو په حال کی وو او هیڅ خپل شا یی نه لیدل.
کاغذ می پرانیستی ، لیکلي یی وه: سهار خپل پلار مه راوړه ما ستونزه حل کړه (سرې)
مرګ سرې، درد سرې.
بیا می ولیکل: څنګه دي حل کړه؟
او د ده خواته می وغورځول، ټول صنف موږ ته کتل. مریم وویل: څه خبره ده یو بل ته لیکونه استوی؟ بیشک مو
ومې ویل: ذهن دې خراب دی کم خاص څه نه کوو ته صبر چی لیک راشی بیا به وی ګوری

رضوان بیرته کاغذ وغورځول. لیکلی یی وه: ښه نو ډیری پوښتنې مه کوه ، بیا به درته ووایم (سرې).
نه نو د دي هلک مرګ رارسیدلي. ولی ماته سره وایی؟ ته صبر چی ښوونکي ووځی زه درسره پوهیږم

مریم وویل: وه نجلی نه پوهیږم چی ستاسو په مینځ کی څه دي خو نور ښه فکر درته نه کوی بیا ته یو آزاده کورنی هم نلری کمه خبره درپسی جوړه نشی
ومی ویل: نه ، دا دی واخله وې وایه زموږ مینځ کی هیڅ هم نشته. زه د رضوان سره څه کار لرم د هغه سویه (سطحه) هم زما سره برابره نه ده ، زړه دې جیمی

ما چی ډیرررررررر یو ښه هلک په نصیب شې یو نانوا هلک به یی هههههههههه د دی بخت سره چی زه یی لرم تر دی لوړ تره می نه په نصیب کیږی
د درس د ختمیدو وروسته د مریم سره د کور خواته روانه شوم. د لار په مینځ کی می مدیر ولیدل ناري یی کړم: لیلا؟

ومی ویل: بله مهربانی وکړئ
وي ویل: سهار ته نغواړی چی خپل پلار راوړی ستونزه حل شوه
ومی ویل: څنګه؟ کمه خبره شوي؟
وي ویل: نه لورې ومی لیدل لازمه نه ده چی پلار دې تر دی ځایه راشی په زحمت شی دومره غټه خبره نه وه
او لاړی. حیرانه شوم منګه رضوان څه ویلې دی؟
مریم ته می وویل: مریم جانې ته کور ته لاړه شه زه یو ضرور کار لرم د یو چا سره
مریم وویل: ډیر د رضوان سره مه ګرځه که قباد دې وویني خبره غټه کیږی بیا یی نشی جوړولي وه نجلی
ومې ویل: زړه دی جیمی فکر می دی
وې ویل: بیا هم خپله هوښیاره یې ، پوهیږی
او لاړه.

د فوټبال میدان خواته لاړم ومی لیدل چی رضوان د میدان هغه بل خواته ناست دی او لوبه ګوری. خپل د کاکا د زوی سره یی کیسی کول او خندل.
د لری څخه می اشاره وکړه د ده پام نشو خو د کاکا زوی یی ولیدل او همداسی مستقیم یی ماته وکتل.
حیرانه وم چی ولی دا هلک لکه لیونیانو زما خواته ګوری په رښتیا چی ناروغه دی.
بیا می اشاره ورکړه چی په اوږه یی رضوان په بازو ووهل او دواړو ماته وکتل.
رضوان د ځایه پاځیدی او زما خواته راغی.
ماته چی نږدی شو مسکا یی وکړل ژر می وویل: ولی؟ او څه دی ویلی دی مدیر ته چی مدیر وویل خپل پلار مه راوړه؟

مسکا یی په شونډو وچه شوه ،وي ویل: ستا سره ښه توب هم نه ایسې که پلار دی راغلی وی ته یی د ښوونځی څخه ایستلې او خبره غټیدله ، ما د یو ملګری په حیث وغوښتل چی مرسته درسره وکړم
ومی ویل: زما په نظره همدا بهتره ده چی راسره مرسته ونکړی نور بل فکر کوی ، نغواړم چی د داسی خلکو د انتقاد لاندی واوسم چی هیڅ راته ارزښت نلري
رضوان لاس پر ملا پریښود او وي ویل: د نورو خبری ماته ارزښت نلري
که ته هم داسی فکر کوی ډیر ښه دي که نه نو ډیره بیعقله یی ځکه زه د پاک زړه څخه درسره مرسته کوم او ته هم اړتیا لری چی یو څوک دی څنګ ته واوسئ ، بیا هم زړه دې
زه یوازې درسره مرسته کوم کم بله خبره په زړه کی نلرم

په همدی حال کی می شاوخوا ته وکتل ، د رضوان د کاکا زوی د لری څخه بیا هم ماته کتل. په رښتیا چی ډیر احمق انسان دی
رضوان وویل: څوک احمق دی؟
ومی ویل: ستا د کاکا زوی. وګوره چی څنګه راته ګوری
رضوان وخندل او وي ویل: نوم یی علی دی ښه هلک دی د هغه په کیسه کی مه کیږه ، اوس هم کورته لاړه شه ټول لاړل بیا که وخت وو خبری به وکړو هله نو سرې ژر کوه

د سرې د کلمې څخه می بد راتلل. بیا راوګرځیدلم او ومې ویل: نور ماته سره مه وایه نه می خوښیږی ، بیا به رانه خفه شي
رضوان چی آرام وو زما د خبری په اوریدو سره په لوړ غږ یی وخندل او وي ویل: شاباس په هغه چا چی د سره نوم یی پر تا ایښی
ومې ویل: رښتیا دا خبره چا درته کړې؟
وی خندل او وی ویل: قباد
د ډیر غوسې څخه بیخی په چاودیدو وم

ومی ویل: ښه خیر قباد خو بیازو لیونی دی ته د هغه په شان مه کیږه ، ښه نه دی ، زه لاړم خدای په امان

د دروازی خواته روانه شوم چی غږ یی راغی: سرې سبا به سره ګورو
ومې ویل: مرګ و سرې لیونی هلکه یوه خبره یی زده کړی اوس ما سر په ونه خوری ولاکه می پریږدی دا خدای وهلي قباد کاش یو بل څه ورته ښودلی وی ، اووووف په لاره روانه وم چی یو چا راته غږ کړه شاته می وکتل چی ګورم علی د رضوان کاکا زوی دی. نه په رښتیا دا هلک کمه ستونزه لری بهتره همدا ده چی نن دا خبره حل کړو
ومې ویل: د هغه ورځ څخه دی کینه په زړه کی نیولي؟ د څهري څخه خو کینه ای انسان نه معلومیږي

نږدی راغی او وي ویل: نه داسی خبره نه ده ، د هغه خبری په اړه هم کمه کینه په زړه کی نلرم یوازی یو موضوع په اړه می غوښتل درسره خبری وکړم
شاوخوا می ښه وکتل او ومې ویل: موږ په کوځي کي یو څه غواړي ووایی چی سهار په ښوونځی کي یي نشی ویلی؟
وي ویل: په ښوونځی کی یی په هکله خبری نشو کولی
فکر یوړم...... دا څنګه؟ منګه دی څه غواړی ووایی چی په ښوونځی کي نه کیږي؟
ومې ویل: کیږی سوچه خبره وکړي چی څه شوي دي؟ ښایی ما هم وکولی شو چی درسره مرسته وکړم

وي ویل: ښه په خلاص غوږونه زما خبري واوره ځکه اړیني دي
څو ورځی کیږی وینم چی د رضوان سره څنګه چلند کوې داسی فکر مه کوه چی زه نه پوهیږم ستا په ذهن کی څه ګرځې ، فکر مه کوه چی رضوان بی لاره کولی شې زه ستا په خیر نجوني ښه پیژنم یو فرصت ته ماتله یاست چی ځان په یو چا ټاپه کړی رضوان د هغه هلکانو څخه نه دی چی ته فکر کوې ډیر با عزته او با شرافته هلک دی ، هڅه وکړه چی خپل هم سطحه هلکانو سره وګرځې او ټوکي ټکالی وکړې د

رضوان سره یی نشی کولی
نه پوهیږم څه ناز و کرشمه دې کړي چې د رضوان خوښه شوی ېې که نی رضوان داسی هلک نه دی چې ستا په څیر نجوني خوښې کړې نو بهتره همدا ده چې خپل جال بل چا ته پراخه کړې ، رضوان د هغه هلکانو څخه نه دی
د هر کلمې سره چې د ده د خولی څخه وتل لاس او پښی می بی حسه کیدل.
ده پر ما د څنګه نجلی فکر کړی وو؟ خپل جال بل چاته پراخ کړه یعنی څه؟
سترګی می د اوښکو ډکې شوې وه. لعنت پر تا لیلا چې خپل اوښکی نشی کنټرولولی.

یو ژوره ساه می واخیستله او یوه کلکه څپیړه می علی ته ورکړه. نه پوهیږم چې څومره غضب او غوسه می په وجود کی وه خو په دی ښه پوهیدلم چې کنټرول یی ډیر سخت وو. خپل ګوته می د هغه خواته ونیول او ومې ویل .....

: ښه واوره چې څه وایم زه دی د خرابو نجونو سره مقایسه کړم په داسی حال کي چې ما هیڅ نه پیژنې
د رضوان خپله خوښیږی چې ځان د نورو په ستونزو کي واچوي او مرسته ورسره وکړي ، کله چې د یو شې څخه نه یی خبر هسې خوله مه خلاصوه چې خرابی خبری تري ووځی
زما عزت او زما شرف ستا تر خور هم ډیر دي مرګ ستا او د رضوان پسی کوم دواړه د دوژغ (دوزخ) په اور کی وسوځي
یو وار بل تا او هغه بل هلک خپل شاوخوا ووینم بیا د ځان څخه ګیله وکړی نه زما څخه بیشرفانو پستو په دی پس مانده فکر

دا خبری چې ستا د خور ور دې ماته یی مه کوه
غوښتل څه وایی چې دوام می ورکړ: خپل خوله وتړه بی نزاکت او بی شرمه خپل مخ می واړول او په ځغاستو شوم. احساس می کول چې د ساه اخیستلو د

پاره هیڅ هوا نشته. خپل د غاړي تڼۍ مې خلاصه کړه خو بیا هم ساه می نشو اخیستی.

ډیر بد احساس می درلود ، یوازی می غوښتل چی ځان کورته ورسوم او هیڅوک ما ونه وینی. فکر می کول چی ټول ماته د یو خرابی نجلی په سترګه ګورې.
ما څه ګناه کړې چی زه خپله نه یم خبر؟
خپل د لاسه ډیره خفه وم چی رضوان ته می اجازه ورکړه چی راسره مرسته وکړې
او دا د دی لامل شو چی ټول راته د خرابی نجلی په سترګه وګوري
لعنت پر ما.... لعنت!

نه پوهیږم چی څنګه خو ځان می کور ته ورسول. د یو ګیلاس اوبو څښلو وروسته می ځان په ځمکی وغورځول په سر کي مې د علی خبری ګرځیدل راګرځیدل  هر کلمه یی لکه چاړه زما په زړه لګیدل.
په داسی حال کی چی خپل د ځان حوصله می هم نه درلود او سر می د ډیر درده په چاودیدو وو شګوفه راغله او وې ویل: ته چی غر دی کیندلي ، ولاړه شه لوښی پریمینځه سهیلا بازار ته تللې
یو غوږ می کوڼ وو ، د شګوفی خبرو ته می هیڅ ارزښت ورنکړ چی په نږدی راتلو سره یی وویل: تا ته وایم وه نجلی دا څه رقم قواره ده چی تا ځان ته نیولې؟ ولاړه شه خپل مخ باندی اوبه ووهه تکه سره شوې یې چا ځغلولې یې څه بلا؟ د څهری څخه دی داسی معلومیږی لکه چا چی درته لاس وهنه کړې وی غاړه دی تر کم ځایه خلاصه ده

د شګوفی د دی خبری سره می اور واخیست او یو کلکه څپیړه می ووهله او ومې ویل: خپل مرداره خوله وتړه ، تا دوو روپو ښځی باندی اړه نلری چی څه شوې شګوفې خپل مخ کلک نیولی وو. زما د وروستی خبري په اوریدو سره یې پر ما حمله وکړه. خپل لاسونه یی زما تر ویښتانو تاو کړل او په ټول توان یی کش کړل ما هم د هغې کالی څیرې کړل. د علی د خبرو زور می هم د شګوفې څخه وایست حتي

هغه ورځ چی په هیڅ باندی زما پلار ووهلم د هغه کوفت می هم ښه پر خالی کړ.
ښه خپل د زړه تبنکې مې مات کړل.

مور می زموږ په لیدو راغله او هڅه یی کول چی زما سره مرسته وکړي یو دوه دانې یی شګوفه ووهل حمیرا هم راغله زما خواته. په درو سرو مو ښه تر توانه پوری شګوفه ووهله.غږونه مو ټول کوڅه نیولي وه. فاطمه او د کاکا ښځه می هم راغلې وه تر څو موږ سره خلاص کړی او شګوفه وژغوري. په همدی حال کی ځکه چی د فاطمې څخه هم مې هم ډیره کرکه کیدل یو سوک می فاطمه هم ووهل او د ویښتانو څخه می ښه کلکه ونیول.

لږ دم وروسته زلمی خان راغی د هغه په لوړ غږ ټول د یو بل د وهلو څخه مو لاس واخیست د شګوفې څخه هیڅ نه وه پاتې. د دا څو ورځو طور می ښه پر خالی کړی وو. فاطمې ژړل او ویل یې: پلاره لیلا زما ویښتان وشکول
خو ما نور هم توان درلود زړه می کیدی چی زلمی خان هم ووهم خو پوهیدلم چی زور می د هغه وهلو ته نه رسی.یو کنج کی ناسته وم او ټولو ته می کتل. کاکا می چی هر څه ویل ما نه اوریدل ، غوږونه می لکه چی ډوب شوې وه.
زلمي خان: دلته څه خبره ده؟ دا څه حال دی؟ وه ښځی ته دلته څه کوې؟

د کاکا ښځه می چی د پزې څخه یی وینه بهیدل وې ویل: دوی شګوفه وهله راغلم دوی سره خلاص کړم چی دا وحشی او بی نزاکتې لیلا راباندي حمله وکړه او زه و فاطمه یی هم ووهلو زه نه پوهیږم دې دومره زور د کم ځایه کړ؟
شګوفه چی خپل د سترګو د خلاصیدو توان یی لا نه درلود وې ویل: دا ایله سره وحشی نجلی په ما یی هم حمله وکړه ، ما هیڅ نه دې کړې وروره لعنتی مور او خور یی هم مرستي ته راغلل که فاطمه او مور یی نه وی رسیدلی زه یی مړه کولم جنجال اوږد شوی وو او زه لکه لیونیانو یو کنج کی ناسته وم.
د ډیر سر درده می زړه بد بد کیدی. هیڅ می نه ویل یوازی کتل می.

زلمی کاکا وویل: لیلا دوی دی ولي وهلې؟
په خندا می وویل: په تا یی څه؟ ته مې پلار یی؟ که مور مې یي چی پر ما خبری کوي؟ خپل ښځه او لور واخله او زمورِ د کوره ووځه ، بد کوي چی د دی کور په مسائلو کی لاس وهنه کوي وهل مو وخورِل نوش جان مو
کاکا می په حیرانتیا راته وکتل او وي ویل: ته صبر اوس خان شاه راځي ته نورماله نه یې لیونې شوې یې

ټول غلې وه او کور په یو په زړه پوری آرامتیا کی ډوب وو یوازی د فاطمې غږ چی خپل سر یی نیولي وو او راته ښیراوی کول تر غوږه کیدی.
زما د پلار د راتګ سره خبره لا جالبه شوه. شګوفه لاړه زما د پلار څخه او وې ویل: لیلا لیونې شوې ،خپل د مور سره یو ځای مورِ ټول یی ووهلو بی هیڅ دلیله لکه لیونیانو بې راباندي حمله وکړه

د پلار سترګی می د ډیر حیرانتیا څخه خلاص پاته وه او په خلاصو سترګو یی ټولو ته کتل. زما زړه هم مرګ ته شوی وو ، آرمان می درلود چی پلار می ما مړه کړې ،په کنج کی د مرګ په تمه ناسته وم.
پلار مې وویل: دلته څه خبره ده؟ خدای مو ووهه برایي ما څه وویل؟ ومي نه ویل چی جنګ مه کوی؟ ومي نه ویل چی د یو بل سره جورِ راشی؟ دا بیا څه حال دی؟ اول چا پیل کړه؟ فاطمې ته دلته څه کوې؟

د فاطمې مور وویل: مورِ په سرای کی وو چی د شګوفی غږ مو واوریدی راغلو وګورو څه خبره ده چی ومو کتل ستا ښځه ستا د دوو لیونې نوړو سره شګوفه وهي هڅه مو وکړه تر څو شګوفه وژغورو چی لیلا پر مورِ یی هم حمله وکړه ، لیلا لیونې شوې ده باید بندې یی کړی که خلک خبر شي آبرو و عزت مو ځي
مور می چی تر هغه وخت آرامه ناسته وه ، وې ویل: لیونیان خپله یاست شګوفې زما لور وهل نو زه کښیناستلی وی او سیل می کړی وی؟ دې وحشی ښځی زما د لور ټول ویښتان وشکول

په همدی حال کی شگوفې وویل: د خدایه نه بیریږې؟ ټول لاسونه مو سره یو کړل او زه مو ووهلم خان شاه ته نه وي خدای خو وو ، خپل د مور و پلار په سر قسم خورم چی اول لیلا ووهلم

په همدي حال کی چی دوی ګناه یو د بل غاړی ته اچول ما وخندل. نه پوهیږم ولی خو هیڅ می خپل خندا نشو کنټرولولی.

مور می راغله زه یی غیږ کی ونیولم او وې ویل: لیلا زویه په تا څه شوې؟ ولی خاندې لورکې؟

خپل پر حرکاتو واکمنه نه وم. خبری می سم نه اوریدل غوږونه می ډوب وه. کله چی زما مور زه یی په غیږ کی ونیولم د ساه لاره می نور هم بنده شوه ، ژر می پوري وهل تر څو زما څخه لري شې.

غوښتل می د کوره ووځم ، په ځغاستو د دروازی خواته لاړم چی ما پلار ونیولم او نارې یی کړه: زلمیه دروازه وتړه

زه یی کلکه نیولې وم خپل پر پلار می هم حمله وکړه هیڅ می ځان نشو کنټرولولی یوازی مې غوښتل داسی یو ځای واوسم چي هیڅ څوک نه وی.

زه یی پس خانی ته یوړم او دروازه یی راپسی قلفه کړه.

.... زهرا ....

د لیلا په لیدو پوهه شوم چی نورماله نه ده. خان شاه ته مې وکتل او ومې ویل: په لیلا باندی څه شوې؟

خان شاه وویل: نه پوهیږم دعا وکړه چی لیونې شوې نه یی

او وروسته شګوفې ته وکتل او پوښتنه یی وکړه: تا څه کړې وه چی لیلا درباندی حمله وکړه؟

شگوفې وویل: د ښوونځی څخه راغلې وه حالت یی ښه نه معلومیدی ومی ویل لوښی پریمینځه چی یو په دوه داسی شوه ، نه پوهیږم چی څه شوي وه

خان شاه چی تر اوسه د حیرانتیا د نړی څخه نه وو وتلی ، خپل لاسونه یی خپل پر

مخ پریښودل ، په ځمکی کښیناستی او وي ویل: بدبخته شوو ، نجلی لیونۍ شوې ده. اوس څه وکړو؟

ومې ویل: خان شاه په خیر مه پیښیږي زما جانانه لور دي لیونۍ کړه که هغه ورځ دی نه وی وهلی اوس داسی نه کیدل
د خدای په قهر اخته ګرفتاره شي پسته بیشرفه
د هغه خواته مې حمله کړه ، په سوکانو می په سینې وهل ، او په ژړا مې ویل : کاش ته لیونی شوی وی زما ځوانه لور دی لیونۍ کړه ، کم ښه ورځ یی هم په دی کور کی لیدلی ده؟ خدای دی تا ووهي ، خدای دی مړ کړه چی د لاسه دی خلاصه شم
خان شاه هیڅ نه ویل یوازی په ډارونکی نظر ماته کتل.
زلمی خان نارې کړه: لیونتوب بس کړئ باید ډاکتر راوړی کور ته تر څو وګوری چی په لیلا څه شوي

څه ناقی نر او ښځه ګډ یاست چی لیونۍ شوې لیونۍ شوې زړه مو دی ټول منطقه په خبر کړی؟ اوس دی په پس خانی کی یې تر صبا چی زه ډاکټر راوړم یو ملګری می ډاکټر دی هغه راوړم وګورو چی څه کیږی ، دعا وکړی چی کمه خاصه خبره نه یی او د خدایه وبیریږي شپه او ورځ جنګ کوی هر څوک چی یې لیونۍ کیږی تاسو اوس کورني یاست که دښمن؟ بیا دا ماشومه ده دا خبري نشی زغملي او درکولی په اعصاب یی بد اغیز ایږدي نه ستا د لاسه خان شاه او نه ستا د لاسه زهرا دې ماشومانو خیر ونه لیدی ، دعا وکړی چی په نجلی کم څه نه یی شوې که نی تباه یو

.... لیلا ....

د پس خانې تَل سوړ وو او ښه حس یی زما په وجود کی رامینځته کول. بدن به می ښه سوړ شو. د کوټی هوا هم مرطوبه وه ځکه پس خانه وه او فکر کوم کرکي یی هم نه درلود چی د لمر وړانګې دننه راشي.د کوټي چوپتیا ډیر ښه وه.
سخت اړتیا می درلود چی یو ځای بی د چا د غږ او مزاحمته کښینم او د ورستیو څو ورځو د پیښو په اړه فکر وکړم

زما د پلار نابُره (ناخاپه) واده!
د شګوفې راتګ!
زما وهل!
د علی دردوونکې خبری!
په رښتیا څه وشوه؟

یو په دوه دومره پیښې وشوې؟ که کرار کرار؟ ښایی زما پام نه دی شوی خو په یو څه ډیر ښه پوهه شوم چی ښه توب ماته هیڅ ګټه نلری
علی باید خپل د خبرو چی په ډیر ظالمې سره یی ماته وویل ، د یو یو کلمې سزا ووینی.داسی نه کیږی. منم چی غریبه یم ، بی وزله یم ، څوک نلرم خو هیڅکله هیچ چا ته دا اجازه نه ورکوم چی زما د آبرو او عزت سره لوبی وکړي.
په فکر کی وم چی خپل د مور غږ می واویدل: لیلا؟ لیلا زویه ویښه یې؟ زما غږ اوری؟ مور دی تر تا قربان شی یو وار خو ځواب راکړه

ولاړه شوم او دروازی ته نږدي شوم. ستونی مې وچ وو ، خپل د خولی نارې(لاړې) می تیری کړې او ومې ویل: جان زما موری؟ ووایه
زما په نظر غږ یی ډیر نیولی راغی ښایی د ډیر ژړا څخه یی غږ داسی نیول شوی وو.په کراره یې وویل: لیلا زویه ښه یې؟ ناروغه شوې خو نه یې؟ یعني وایم داسی درته کم څه خپل په بدن کی نه ښکاری چی ستا د توانه وتلي وي؟ نه پوهیږم څنګه ووایم.....لیلا؟

ومی ویل: جان ووایه، همدلته یم اورم یی
وې ویل: زویه شګوفه وایی چی نن هغې په تا هیڅ کار نه درلود تا اول ووهله ، زه د هغې خبری بی د هغه هم نه منم راغلم ستا څخه پوښتنه وکړم چی څه شوی وه؟ او په څه دلیل دی ووهله؟
ومی ویل: هو موری اول ما ووهله او هیڅ هم پښیمانه نه یم.
مور می څو شیبې غلې وه او بیا یې وویل: زویه پلار دی فکر کوی چی ته لیونې

شوې بې ، مه پیږده چی خبره یی ربښتیا شی داسی مه کوه لورې خیر ده پر سِد شه ، خیر دی زما لوری. پوهیږم چی دا څو وخته په دی کور کی ډیری ستونزې وی خو دا یی د حل لاره نه ده لوری ، پخداي نه ده په قرآن چی نه ده چی ته خفه شی او په نورو حمله وکړی

زه نه پوهیدلم چی تا نن په شګوفې حمله کړی فکر می کول چی شګوفه ته یی وهلی ، خپل پر ځان کنترول ولره زما لورکی سل واره چی خلکه ووایی لیلا ناروغه ده یا لیلا لیونې ده زه یی نه منم ستا تر سر وګرځم ، ته زما ګرانه او هوښیاره لور یی داسی کار مه کوه چی خلک ستا شاته خبری وکړي
د دروازی شاته کښیناستلم او ومې ویل: بخښنه غواړم موری زما په لاس کی نه وو ښایی باور ونکړی خو یو شیبې د پاره می خپل کنترول د لاسه ورکړ. هر څوک چی وایی لیلا لیونې ده بد کوي زه جوړه تیاره یم ته غم مه خوره موری یوازی دا دروازه خلاصه کړه چی هم تږې شوې یم هم وږی یم قسم خورم چی نه تښتم هغه دم می هم غوښتل یو ځای لاړه شم چی جنجال نه وی او څوک چیغی ونه وهی یوازی څو شیبې چوپتیا یي چی زه آرامه شم

مور مې وویل: زه ځم ستا د پلار سره خبری کوم د دروازی قلف ستا د پلار څخه دی ، ځم کیلې راوړم ته صبر وکړه
مور می لاړه او زه ورته په تمه شوم.

ډیره جالبه ده ، زه هیڅ کله پس خانې ته نه راتلم ځکه تیاره وه او بیریدلم هههههههههه خو اوس څو ساعته کیږی چی زه یی دلته بندې کړې یم ، که کم مار شی می هم یی په دی تیاری کی خو نه معلومیږی چی اوس می نیش ونه وهی ههههههه.خپل د بوټو په څوکه ولاړه وم او دروازه می هم ټینګه نیولي وه چی ونه لویږم ، ربښتیا یی ویلی چی بیره هم بد شی ده پخدای.

.... زهرا ....

د شګوفې کوټې ته نږدې شوم ، د ژړا غږ يې راتی چی ويل يې: لاسونه دی مات شې
ليلا ، په خير مه پيښيږې
خان شاه وويل: غلې شه نو ، زما ماغزه دې وخوړل څو ساعته کيږې چی ګډه يی څو
دقی غلې شه بی د هغه هم اعصاب می خراب دي
دروازه می وټکول. غږ يی راغی چی وي ويل: دننه راشه

دننه لاړم او د خان شاه ښو څخه کښيناستلم. سترګی می د اوښکو ډکی وی خپل
مخه می سم نشو ليدلی ، خپل پر سترګو می لاس تير کړ او ومې ويل: ما ده ليلا
سره خبري وکړه دا د څو وخته پيښی بد اغيز ورباندي ايښي ځکه يی داسی وکړل.
ته يی پلار يی ، پوهيږی چی ليلا داسی يوه نجلی نه وه
په دستمال مې بيا خپل اوښکی پاک کړل او ومې ويل: منم يی چی د نن حالت يی
نورماله نه وو خو خان شاه ته و خدای داسی مه کوه ، نجلی هوښياره ده پخدای چی
هوښياره ده

خفه وه ځکه يی داسی وکړل په دا وروستی وختونو کی د چا اعصاب نورمال وه
چی د ليلا اعصاب نورماله يې؟ ته و خدای مه کوه
خان شاه چی شمعې ته کتل زما د خبرو د ختميدو وروسته خپل مخ يی زما خواته
واړول او وي ويل: څه بی معنی بی معنی ګډه يې چی مه کوه؟ منګه زه څه کوم؟
يوازي ډاکټر راځي ګوري ، علی آباد ته يی خو نه وړم
کور ته ډاکټر راځي بی له دی چی څوک خبر شی دا معاينه کوي چی څه په شوې
فکر کوی زه خوشاله يم چی خلک ووايی د خان شاه لور ليونې ده؟

انشاالله چی کمه خبره نه ده او دا حالت يی د دا څو ورځو د نارامیو څخه دی
شګوفه خپل د پښی د ترلو په حال کی وويل: دا د نن ورځی وهل ډبول يو نورمال
انسان نه کوې ، اوس ځی يو ډاکټرک راوړی چی خدای خبر دومره يی زده چی پوه
شی په دی څه شوی دی که نه ، نجلی هسې تر دی هم خرابوی ، علی آباد روغتون ته
يې يوسئ چی څه وايی د هغه ځای ډاکټران ښه لايقه دي

خان شاه وویل: کله علی آباد ته تللې وی چی د ډاکټرانو یی خبره یې؟ ځان دی بستره کړی وه که څنګه؟ چی په کامله توګه رضایت هم لری؟
ځوانه انجلی علی آباد ته یوسم سل په سله وایی چی لیونې ده ، نه پوهیږم ته عقل لری که نه؟

شګوفې ماته وکتل او وې ویل: ښه، چی نجلی هوښیاره ده نو بیا مور یې ولی زه ووهلم؟ نه چی د دې په اړه هم وایی چی عقل نلرم؟
خان شاه چي تسبیح په لاس کی وه هغه یی پر شګوفې وغورځول او وې ویل: غلې کیږی که نه؟ د کم راهیسی چی ګډه یی؟ ساعت می قید کړ پوره څلور ساعته کیږي چی یو دم ګډه یی او خبري کوی زه څه وکړم؟ مور یی هم بندی کړم چی ستا زړه یخ شی؟ بس یی که نو

کله چی تاته مرکه راغلم درته ومې ویل چی زه ښځه لرم ، اولاد لرم ، هڅه وکړه چی د دوی سره وچلیږی خپل خوی و عادت زما د ښځی او اولاد سره برابر کړې
ستا د راتګ تر مخه د لیلا غږ ګاونډي لا نه اوریدی ، د فاطمې او د کاکا ښځی سره یی یو ورځ هم غږ پورته نشو

ننه ورځ دي حال ته رسیدلې چی یو ځای درې نفره وهې
یا ځان د دوی سره جوړه کړه یا دې بیرته استوم ، پخدای قسم نور د ګیلې او شکایتونو حوصله نلرم ، هره شپه ته ګیله لري
خپل جوړه تیاره لور می ستا د لاسه بندی کړه نور یی بس که.
شګوفې په خفګان ما او خان شاه ته وکتل ، د ځایه ولاړه شوه او د الماری څخه یی یو توس (کمپله) راویستل په ځان یی واچول او بیده شوه.
خان شاه ماته وکتل او وي ویل: څه ناسته یی ماته ګوری؟ ځه لاړه شه
ومې ویل: کیلي راکړه ، لیلا وږې شوی ده مخ تره یی وویل چی اوبه او ډوډې غواړي
خان شاه خپل د ځایه ولاړشو او وي ویل: زه خپله باید ورسره خبري وکړم
ومې ویل: بیا ورباندی غالمغال ونکړئ ، خپل پر حال یی پریږده

دروازه مو خلاصه کړه ، لیلا د دروازې شاته وه.
ومې ویل: راځه راووځه

پلار یی وویل: نه ته صبر وکړه .
او بیا يي لیلا ته وویل: دا د نن کارونه دې څه معني لیلا؟ د دی وروسته چی هره خبره وشی ته خلک وهی؟ نور پیغله شوې یی؟ زور دی پیدا کړی؟
شاباس زویه ، شاباس. ښه نیک نوم به ځان او خپل خویندو ته وګټې
ته چی چیغی ووهی او غالمغال وکړی ټول پوهیږی چی په دی کور کی څه خبره ده ، مه کوه ، په دی کوڅی کی زموږ آبرو مه وړه که د ځان په اړه فکر نکوې د حمیرا او سهیلا په اړه فکر وکړه دوی واده کوي ، هره ورځ چی د جنجال او بغارو آوازونه یی خلک به څه ووایی؟ دروازه هم ولاکه څوک وټکوي د لیونې لقب ګټل ویاړ نه دی لوری چی ته یی لاس ته راوړی اوس راشه ډوډی وخوره بیا خبری کوو.

.... لیلا ....

د ډوډی خوړلو وروسته ، پلار مې وویل: کښینه یو څه درته وایم
صبا ستا د کاکا د ویلو سره یو ډاکټر راځي ډیر دې لیونتوب وکړ ما هم وویل چی یو ځل راشی لوری وختی ویل شوي دي اوس نه کیږی چی ووایم مه راځه د شپې ناوخته هم دی ، سبا د انسانانو په شان رفتار وکړه چی ډاکټر بیرته لاړشی
همداسی چی ماته یی کتل را زیاته یی کړه: قسم وخوره چی نور به جنګ نه کوې ، د خدای روی ته وګوری.شګوفه می نن آرامه کړه بل وار کور پریدې او ځې
اوس هم ډیره خفه ده سبا لاړشه ورځخه بخښنه وغواړه چی خبره خلاصه شي ، هڅه وکړی چی د یو بل سره وچلیږئ

نه تاسو د کوره ایستلی شم نه شګوفه. سره جوړ راشی ته و خدای بس دي نو همداسی چی زما پلار نصیحتونه کول ما د غالی ګلانو ته سترګې نیولې وه ځکه مور می ویلې وه چی ژبه ونه وهم او ځان کنټرول کړم خو خبری یی هیڅ په منطق برابري نه وي، زه هیڅکله د شګوفې څخه بخښنه نغواړم. دا ښځه هیڅکله بی ګناهه

نه ده ، همدا چی د یو کور داره سږی سره یی واده وکړ دا خپله غټه ګناه ده.
د دی د پاره چی زما د پلار خبري ما غمجنه نکړي د غالی د ګلانو شمیرل می پیل کړل. څو تاره ویښتان هم وه د څو ټوټی وچې ډوډی سره ، هغه می هم ټول کړل.
څومره دا غالی زړه شوي ، هیڅ پَت ورته نه دی پاتی بیخی موکت جوړ شوی ، ګورم چی زما د پلار د پښو څخه د تسبیح یوه دانه هم لویدلي.

لاس می وغځول ، غوښتل مې هغه واخلم چی پلار می په لاس ووهلم. ورته مې وکتل چی وي ویل: فکر دي چیري دی؟ د غالی د مخ څخه څه شي ټولوې؟ پوهه شوې چی ما څه وویل؟ .
ومې ویل: هو پوهه شوم
وي ویل: ښه نو تر دي بالا یی نه تکراروم ، لاړشئ بیده شئ زه هم ځم سبا بیا خبري کوو دخیره ښه شپه.

پلار می لاړی زه هم لاړم لاسونه می پریویستل او بیرته راغلم.
سپوږمی ډیره روښانه وه ، ټول سرای یی روښانه کړی وو. د دهلیز د دروازی څخه نږدی یوه پیشکه (پیشو) بیده وه. همدا چی می څَوَبَه (چپلکه) پر وغورځول مستقیم د پیشکې پر ملا ولګیدل. پیشکه هم د خوبه وپریده او په کور کي دننه شوه.
مور می د پیشکی په لیدو دوه متره وپریدل او چیغې ووهل. د مور د غږ څخه سهیلا او حمیرا چی بیدې وې هم ویښې شوې.

ټول د پیشکی څخه بیریدل. یو رقم ځغاسته او شورماشور شو چی مه وایه.
بالښت می وغورځول چی په پیشکی ولګیدل. دا وار د کوره ووتله او سرای ته لاړه.
ښه په خلاص زړه مو وخندل. مور مې وویل: شپه پیشکه مه وهه چی پیریان یی جیګیږي
ومې ویل: څه ، پیشکه څه ده چی بیا پیریان هم ولري .

سهيلا وويل: پيشکه د کم ځايه راغله؟ ليلا ته څنگه راووتلې؟
ومې ويل: ستا پلار آزاده کړم.

خندل مو چی پلار می په لڅو پښو راغی او وي ويل: څه خبره ده؟ څوک هم داسی په لوړ غږ خاندی؟ ټول ليونې شوي ياست؟ پخدای که نن غرمه ګاونډيان په موږ د ليونيانو خيال نه کول اوس ستاسو په دی خندا په يقين د ليونيانو خيال کوي. ژر بيده شئ غږ مو نور وانورم
د پلار د تگ وروسته مې مور وويل: رښتيا وايی ، هله بيده شئ چی سبا مکتب ته ځی.

خپل پر ځای پريوتلم. د سر پوست می درد کول فکر کوم د نن د جنجال د امله دی. د نن ورځی د پيښو په فکر کی وم چی نور پوهه نشوم او خوب يوړم.

د اذان د اوريدو سره د ځايه ولاړه شوم. ټول بدن می درد کول.
لاړم اودس می تازه کړ او د لمونځ کولو ورسته خپل ويښتان می ژمنځ کړل او ښه ښايسته می ووډل. نن د علی نوبت وو چی ښه درس ورته ورکړم.
د ښوونځي کالی می واغوستل او تر ټولو مخ تره د کوره ووتلم. په لاری کی می د ځان سره ډير فکر وکړ چی څنگه علی ته داسی يو درس ورکړم چی هيڅکله يی هير نشي؟

په ټولگي کی وم چی ومی ليدل رضوان راته اشاره کوی. ډير په دقيقه توګه لاړم د رضوان خواته. داسی می وښودل چی يعنی رضوان می هيڅ نه دی ليدلی او د هغه د شا نجلی نه می کتابچه وغوښتل.
هيڅ می په ذهن کی نه وه ، هيڅ پلان می نه درلود خو علی ته می پام وو چی بد بد يی راته کتل. څومره دا هلک پست دی ، داسی رفتار کوي ته چی پرون ما د ده مخه ونيول او دی می بيابه کړ.
د درس د ختميدو وروسته ، رضوان زما د ميز خواته راغی او وي ويل: يو خبره می اوريدلي ، که وخت لری راشه چی درته ووايم ډيره مهمه ده ستا د پلار په اړه ده

ومې ویل: خدایه ته خیر پیش باسي (یعنی خدایه ته خیر کړي) بیا څه شوي؟
خپل د ځایه ولاړه شوم ، علی خواته می وکتل او د رضوان شاته لاړم. تر څو چی د ټولگی څخه وتلو ، علی په حیرانتیا راته کتل خو ما هیڅ ارزښت ورنکړ.
رضوان وویل: ښه څنکه یې؟

ومې ویل: مننه ، کیږی ووایی چی څه شوي؟
رضوان: هو زه هم ښه یم مننه ژوندې اوسې
ومې ویل: وبخښه فکر می ونشو ، څنگه یې؟
رضوان: بد نه یم ، مننه
ومې ویل: ښه اوس ووایه چی څه شوي؟ پلار می بیا څه کړي؟
پام می شو چی علی د لری څخه مونږ څاري.
رضوان وویل: برابی زما پلار زما د ورور سره د خان شاه کاکا په اړه خبري کول چی ما واوریدل
ومې ویل: څه دي واوریدل؟

رضوان: د وریجی خرڅوونکي څخه یی پیسی پور کړی وه خو تر اوسه یی پور نه دی ورکړی ، په دا نن سبا کی راځي خپل د پور پسی. ته د دي کیسی څخه نه یې خبره؟
ومې ویل: نه ، کم وریجی خرڅوونکی؟ او څو یی پور کړي؟
رضوان زما په څهرې کي ځیر شو او وي ویل: ډیری پیسي دی لیلا ، څنگه تاسو نه یاست خبر؟
ومې ویل: نه پوهیږم مونږ ته یی د دي په اړه هیڅ نه دي ویلي. چا اخیستي او څو یی اخیستي؟

رضوان د یو اوږد ( اوففففف) وروسته وویل: اوه میاشتی مخته. تر څو چی خپل پیسی وانخلي تاسی نه پریږدي ، مخصد لیلا وخت یی پوره دی
ومې ویل: ځه دا خبره به مې پلار حل کړي ما هم غوښتل چی یو څه درته ووایم ،

ګوره نور هڅه مه کوه چی زما سره خبری وکړې یا په ټولګي کي راته لیک ولیکی یا وغواړی ماسره خواخوږی وکړي بهتره همدا ده چی ما څخه لری واوسئ
ته ښه انسان یی خو د خلکو ذهنیت ډیر خراب دی نغواړم چی زما او ستا شاته خبری جوړوي کړي
ډیری نجوني فکر کوي چی زه او ته د یو بل سره مینه لرو یا تر هغه بدتر زه غواړم چی خپل ځان پر تا ټاپه کړم ، ما نغوښتل چی نور یو کلمه هم درسره خبری وکړم خو بی ادبی کیدل نو ځکه می اوس درته وویل چی نور په اړیکه کی ونشو
رضوان لاس پر ملا ونیوی او وي ویل: چا څه ویلي؟ هله ژر ووایه
ومې ویل: چا څه ندي ویلي ، خدای په امان زه ځم
د ټولګی خواته می حرکت وکړ چی رضوان زما لاس ونیول او وي ویل: ومي ویل څوک؟ او څه یي ویلي؟

خپل سر می پورته کړ چی ګورم علی تر اوسه موږ ته ګوري یو په دوه می وویل: امممممم..... علی.

علی پرون راغی ماته یې وویل چی زه خرابه نجلی یم ، تا غولوم او ستا نوم په ښوونځي کی بدوم ، زه د دي خبرو څخه خفه نشوم خو نغواړم چی ستا شاته خبری جوړي شي ، ته ډیر ښه هلک یی نو هیله کوم نور زما سره خبری مه کوه تر څو ستا نوم بد نشي بی د هغه هم څوک لیلا ته ارزښت نه ورکوي
د ده د ژور ساه اخیستلو غږ می واوریدی ، سر می پورته کړ چی  ګورم د رضوان سترګي تک سره شوي دي
ورزیاته می کړه: ګوره ، خپل ځان مه خفه کوه سمه ده؟ هیڅه خبره نه ده هسې زه هیچا ته ارزښت نلرم ته ځان مه په عذابوه چی په دي اړه فکر وکړي
زما خبرو د ختمیدو وروسته رضوان د علی خواته لاړی. د لری څخه لا ښکاره وه چی علی د رضوان د څهری د حالت په لیدو حیران شوی دی. ما هم یو مسکا وکړل او لاس می ورته وښورول ....

.... رضوان ....

د لیلا د خبرو د اوریدو سره مي وینه په جوش راغله. د علی خواته لاړم. دا بیعقل هلک ټول خبري چی پرون یی ماته وویل ، دا چی لیلا خرابه نجلی ده او تا غولوي تللی مخامخ یی لیلا ته هم ویلي
علی می د غاړي څخه راټینګ کړ او ومي ویل: ما پرون تاته څه وویل؟ ومي نه ویل چی د لیلا سره کار مه لره؟ هغه بده نجلی نه ده؟ ښه پوره می درته وویل او ته بیا هغه څه دي چی ماته وویل لاړی مخامخ لیلا ته دې هم وویل؟ تف ستا په غیرت بیشرفه ، ته خو هیڅ انسان نه یي
علی زما لاسونه یی خپل د غاړي څخه لری کړل او وي ویل: ته ړوند یي ، هغه نجلی دې خوښه شوي ده ځان بدبخته کوي

فکر کوي که کاکا می خبر شي چی تا په ښوونځي کی د نجونو سره ځان ته لاره جوړه کړي همداسی دی پریږدي؟
د دي خبري اوریدل هغه هم د علی د خولي ډیر راباندی بده ولګیدل. لاس می پورته کړ چی په سوک یی ووهم خو پر ځای مي وویل: لا حول ولا ، لعنت په شیطان بیرته می خپل لاس ښکته کړ او ومي ویل: په ما دي د ځان خیال کړی؟ ما په عمر کي د نجونو سره د اړیکی په اړه فکر هم کړی نه دی ستا ذهن خراب دی ، زما سترګو د وړاندي ورک شه نور دي خپل په شاوخوا کي هم ونه وینم ، ما د انسان خیال درته کول خو ته تر سپي پوری لا پست یي

علی وویل: ښه ښه ته صبر چي کاکا می خبر شي بیا خبري کوو
ومي ویل: چُپ بیعقله. ستا کاکا ما ښه پیژني ، پوهیږي چی زوی یي داسی انسان نه دی خوشاله کیږم چی لاړشی او ټوله خبره ورته ووایي او دی هم یوه کلکه څپیړه درته درکړي تر څو پوه شي چي خپل خوله بی ځایه خلاصه نکړي
په ډیر غوسی سره د ښوونځي نه ووتلم او د کور خواته روان شوم

..... لیلا .....

رضوان په ځغاستو زما د څنګ څخه تیر شو او په غوسي بهر لاړی چی ګورم علی راته نږدي شو ، زما بازو یی ونیول او وي ویل: دغه دې غوښتل؟ اوس خوشاله شوې شیطان صفتې؟
خپل بازو می د هغه د لاس څخه لري کړ او ومې ویل: یو وار بل ، یوازی یو وار بل ماته توهین وکړي یا وغواړي چی زما شخصیت باندی ملنډي ووهي بالا درته چپه نه کښینم

نه می د کورنی غړي یي ، نه می مشر یي ، نه دي هم پیژنم صرف یو وار بل خپل خوله خلاصه کړه او بی معنی خبری وکړه تر څو درته وښیم چی زه څوک یم ، اوس هم ورک شه ، زړه دي یخ شو؟ رضوان اوس تف هم ستا خواته نه اچوي
او د کور خواته لاړم. نه پوهیږم ښه کار شو که نه؟ خو د علی حق وو چی د رضوان د خوا هم یو وار بیاب شي. تر کمه یی زه وزغمم؟ پریږده چی یو څه نور هم وسوځي تر څو پوه شي.

د نن پیښو وروسته په ستومانتیا کور ته روانه وم وجود می نه بلکي روح می ستړې وه. د یو خوا څخه می قسم خوړلی وو چی نور د رضوان سره خبری نکوم خو رضوان بی ګناه وو.
بیا می په یاد شوه چی پلار می هم پوروړی دی ....... دا بیا بل غم
دا څنګه کړم

کورته نږدې شوې وم چی ګورم یو نفر کاریکر زمونږ د کور څخه ووتی.
ده مونږ په کور کی څه کول؟ کله چی دننه شوم ومی لیدل چی د یو کال په اندازه سودا په سرای کی ایښی وه او شکوفه هغه یی د پس خانی خواته وړل.
ومې ویل: یو دقه صبر
شکوفې مخ راواړول او وې ویل: څه وایی؟
ومې ویل: دا نو څه دي؟
شکوفه: ړنده یی؟ سودا ده ، لوبیا ، نخود ، وریجی ، ماش ، اوړه. دا سودا په هر کور

کی ډیر ارین څه دي خو تاسو نه لیدلي او نه یی هم پیژني
ومې ویل: شکر چی ته پوهیږې ، میرہ دی پیسې د کمه کړل؟ د خلکو څخه یی پور اخیستی خبره یی که نه؟

شګوفې په خندا وویل: د دباندي خبري په نارینو اړه لري او د کور خبري په ښځو ، پوهه شوې؟ او نور ما سره خبری مه کوه نغوارم چی هسې جنجال جوړ شي
ومې ویل: بیخی صحیح ده ته چی زه ستا سره د خبرو د پاره مره وم
شګوفه: رښتیا! ته باید زما څخه بخښنه وغواړې
ومې ویل: ته اول زما د مور څخه بخښنه وغواړه چی ورباندی بّن راغلې بیا به زه هم ستا څخه بخښنه وغوارم
په غوسه یي راوکتل او وې ویل: یوه ورځ خپل د دی بی ادبی ځواب اخلی
ومې ویل: هغه ورځ نه راځي ، زره دی جیمی
او بی د کم څه د ویلو خپل کوټی ته ننوتلم بی د هغه هم د هغې سره خبري کول ګټه نلری.

یوه ژوره ساه می واخیستل او په زړه کی مې وویل: په داسی حال کي چی د دی ښځی څخه می ډیر بد راځي خو دا رښتیا خبره کوي ، دا خبري زما په پلااااار جان اړه لري زه ولی خپل زړه وخورم؟ ته چی ما پور کړي د ده د پیسو یو دینار یی لا ولاکه زما په جیب کی یې همداسی چی خپل ښځی ته یی مصرفوي بیا به وروسته یی ځواب هم ورکوي

مور می د کړکی اړخ ته ناسته وه او شګوفې ته یي کتل. ورته ومې ویل: دومره ورته مه ګوره ځان دې بیخی سپین سرې کړه
وې ویل: زویه ښه وګوره ، ما خپل په عمر کی دومره سودا نه وه لیدلې هر څه چی اوس شګوفې ته شته ماته نه وه باید الله ته می صبر کړی وی
ومې ویل: کله چی خبره نه یي هسي خپل زړه مه اوبه کوه. میرہ جو دی تللی پیسی یی پور کړي پوهیږی؟ پور.

خپل د یو وخت ډوډي ته حیران پاته دی بیا تللي دی ښځی ته یي د یو کال خرځ راوړی

مور مې وویل: بیا هم لوری د دی ښځی د پاره تللی پور یی اخیستی که زه مړه شم پور څه چی کار هم نکوي
ومې ویل: خدایه ته صبر راکړه
زما موری د دي خبرو په کیسه کی مه کیږه زما اعصاب هم خرابوی خپل لا هم. آخر څه چاره لرو؟ خپل ځان بې غاړي ته واچوه چی ستا خرځ هم راوړي
وې ویل: زویه نه یي راوړي ، هسې مخ ته یی سپکه کیږم
ومې ویل: خپله دې د اوله هیڅ ورته نه دې ویلي نو اوس هم د دی خبری شا پریږده. شکر چی روغ یو خپله خپل خرځ پیدا کولی شو
مور می په فکر کی ډوبه شوه بیا مې زیاته کړه: رښتیا ، دا زما ډاکټر څه شو؟
وې ویل: د یاده می ووتل چی درته ووایم هههههههههه ډاکټر راغی پلار دې وویل لیلا چیرې ده ما وویل تللې ښوونځي ته چی ډاکټر وویل نجلی چی لیونې ده نو بیا ښوونځي ته څنګه تللې؟

ما وویل نه یو کوچنی جنجال وو ، بیا ډیر خبري یي وکړې چاوي یي وځښل او د زلمی سره بهر لاړل زه د دوی په خبرو کی نه وم چی پوهه شم څه وشوه
ومې ویل: ښه نو داسې شوې
بیا یی رازیاته کړه: زویه د نوم ایښودلو محفل دی ګاونډې مورې یي هم بللې یو ، ځې؟
ومې ویل: کله دی؟
وې ویل: همدا جمعه

څو شیبی غلی وم او بیا مې وویل: جمعه خو سبا ده
مور مې وویل: زه څه پوهیږم؟ په کور کی د کم ځایه خبریږم چی څو شنبې ده؟
پرون یی راته ویلې وه زما د یاده ووتل چی درته ووایم ، رښتیا شنبی هم د شګوفې ورور د شګوفې لیدو ته راځې

ومې ويل: بلا مى وريسى ، هيڅ ځان خفه نکړي مورى تا ته دې زمونږ پر سر قسم يې
شپه شوه. د اوبو نل څنګ ته ناسته وم چى فاطمه راغله. د هغې په ليدو مې وويل:
څه يو ښايسته شپه وه خو حيف چى خرابه شوه
فاطمه بى له دى چى ماته وګورى د شګوفى کوټى ته لاړه.
ځان سره مې وويل: ښه دى دواړه ليونيان د يو بل سره ښه جوړ راغلې خداى مو لا
مهر و محبت ډير کړي ، آمين
د فاطمې د تلو وروسته شګوفه خپل د کوټي څخه ووتله او زمونږ کوټى خواته
راروانه شوه.

ومې ويل: خيريت خو دى ، چيرى روانه يى؟
په تنده لحجه يې وويل: چُپ ، بى ادبى يو څه انسانه شه ماشومه خو نه يى، ستا د
مور سره عاجل کار لرم ته خپل ځان د شلمبو مُچ مه جوړوه
ځان سره مې وويل: ورځ مى خومره جنجالى وه دا يى هم شپه
کوټى ته دننه شوم چى شګوفې زما مور ته وويل: وګوره زهرا زما څخه دى خوښ نه
راځى صحيح ده زه يى منم خو زما ګناه نه ده ستا د ميرې ګناه ده دوهم د جمعى
محفل ته ليلا هم يوسه ښايى د چا خوښه شوه او مرکى ته راغله بيازو نجلى خپل د
پلار په کور کى ميلمنه ده دوى ته هيڅ ځاى نه وړي ، څه وکړي؟ تر مرګه ستا سره
پاتې شې؟

مور مى ځواب ورکړ: نه پوهيږم چى د دى خبرو شاته څه مخصد لرى ، بيا ته هم په
دا کور کى يى ړنده هم نه يى وينى چى دوى ډوډى د خوړلو د پاره نلرى کالى خو
هيڅ نلرى ، په کم کالو دوى محفل ته ويسم؟
غرور يى تر پښو لاندى کيږى چى د نور نجونو کالې وګورى تر دى همغه بهتره ده چى
په کور کى کښينى
شګوفې وويل: ما درته وويل نور ته خپله پوهيږى ، که ته وغواړې چى دوى ويسى
خامخا کالى هم ورته پيدا کيږى د فاطمې څخه يى واخلى بى د هغه هم فاطمه ډير
کالى لرى يو جوړه دې ليلا واغوندې

ومې ليدل چی خبری ډيري اوږدې شوې نو ما مداخله وکړه او ومې ويل: ستا د مهربانی څخه ډيره مننه خو زه هيڅکله د فاطمې زاړه کالی نه اغوندم ، زړه دی جيمی

وې ويل: عجبه ليونی خلک ياست پخدای
دا ګاونډي مو ښه پيسه داره خلک دي يو څه ورسره تګ راتګ وکړئ يو څه خلک وپيژنئ داسی خو نکيږی تل په کور کی ياست نه څوک ستاسو ليدو ته راځي او نه هم تاسو د چا ليدو ته ځی
ستاسو په دی حال ولاکه څوک خبر لا يی چی خان شاه د شپاړلس اولسو کالو لور لری خپل د ځايه ولاړه شوه او رازياته يی کړه: ما وويل نور زړه مو چی څه کوی ، ستا د راتلونکی د پاره می وويل که نی درباندی مئينه نه يم
د شګوفې د وتلو سره مور می وويل: نه پوهيږم څه وکړم ، دا هم رښتيا خبره کوې مورې د خلکو څخه ډير لری يو

ومې ويل: چی څه وشي موری؟ مورې د زاړه کالو سره يوسی لا بدتر د خلکو خندا په مورې جوړيږي همغه بهتره ده چي هيڅ لاړنشو ، زه خو نه ځم سهيلا او حميرا که ځې لاړدې شې
د ورځ د روښانيدو سره ومې ليدل چی شګوفه ځان تياروې تر څو محفل ته لاړه شې مورې هم د تل په شان د څهارمغز ماتولو حال کی وو

حميرا وويل: ليلا د شګوفې صابون دی بوی کړې؟ داسی ښه بوی ورکوي چی څه ووايی ، ګران معلوميږي پلار می دومره پيسي د کمه کړه؟
ومې ويل: پور يی اخيستی ، پور.
خپل ځان د دی ښځی د خوشالی د پاره تباه کوي دا ځای نشانی ؤګورئ چی کله می ويلې

د ماښام اذان ته لږ وخت پاته وو چی شګوفه راغله ، په ډير خوشالی سره يې وويل: ښه پوره سات می تير شو ، پوهيږی نن څه وشوه؟

مور می وویل: د هلک نوم یی څه پریښودل؟
وې ویل: عثمان جان ، دا دی تاسو ته می د هغه شیرینی هم راوړي
مور مې وویل: مبارک دی وی ، زوی هم د پیسه دارو خلکو دی نه ده غریبانو
شګوفه: اوووو دا خبري پریږدی ، نن په محفل کی یو ښځه فاطمه یی خپل زوی ته خوښه کړه تاسو همداسی کور کی کښینی یوازې سیل وکړی
د شګوفې د تګ وروسته موږ ټول په حیرانتیا یو بل ته وکتل چی حمیرا وویل: بیچاره هلک خپل مور ته یی سپارلي چی ورته ښځه وکړي خبر نه دی چی مور یی د فاطمی د خوښولو سره دي يي بدبخته کړ

د دي خبري په اوریدو موږ ټولو وخندل چی سهیلا وویل: هههههههههه هو پخدای نن د اوني لومړی ورځ وه او ما باید د همدا نن څخه پریکړه کړی وی چی نور د رضوان سره خبری ونه کړم. په دی اوني کی د شګوفې ورو هم راځي او زه باید ژبه ونه وهم او تر ټولو بدتر د فاطمې ستنه و تار ورکوي.
ښوونځی ته په ننوتلو سره می رضوان ولیدی. زما خواته راغی او وي ویل: لیلا ، یو دقه صبر درسره کار لرم

ومې ویل: نه ، هیله کوم زما څخه لری واوسه ، زما آبرو ماته تر هر شې بالاتره ارزښت لری هیله کوم ، که ملګرې وو نو زموږ د ملګرتیا د پاره راڅخه لری واوسه ، د خرابې نجلی نوم ګټل ویاړ نه دی ، یو څه هم ما درک کړه
اجازه می ورنکړه تر څو یو کلمه هم ووایی او د څنګ څخه یی تیره شوم لاس یی چی پورته کړی وو تر څو قسم وخوری په هوا کی پاته شو
څومره بد کار شو ، رفتار می هیڅ سم نه وو خدایه خپله راسره مرسته وکړه عذاب وجدان نیولې وم. رضوان کم بد هلک نه دی خو څه وکړم؟ د خلکو دید خراب دی نغوارم چی ټول د یو خرابی نجلی په سترګه راته وګوري
په ټولګی کی بی له دی چی خپل شا وګورم ، ناسته وم. یو حس زه یی د دننه خوړلم چی ته خو یو وار شاته وګوره ، یو وار ، خیر دی یو نظر د سترګو د کنج څخه. هیڅ فکر می په درس کی نه وو خدایه خپله راسره مرسته وکړه

کتابچه می په لاس کی ونیوله او ومی ویل خیر دی کمه خبره نه ده شاته ګرځم او دا کتابچه یو چا ته ورکوم ، یو وار رضوان وګورم خو دی پوه نشي
شاته چی وګرځیدلم لومړنۍ څه می چی ولیدل ، د رضوان سترګي وه چی په تروش تندی یی مستقیم ماته کتل
خدایه! خپله راسره مرسته وکړه ، دا ولی داسي دی؟ په ما یی څه؟ ستا د کاکا د زوی ګناه ده.په همدی وخت کی خپل مخ یی ماڅخه واړول او تختی ته یی وکتل.
هیڅ ښه احساس می نه درلود ....... څومره بد ، حتما زړه یی راڅخه تور شوی داسی احساس می پیدا کړ لکه چی زما ګناه یی

د درس د ختمیدو وروسته مریم وویل: په تا څه شوي؟ ټوله ورځ همداسې وې اوس بدتره شوې ، څه کیسه ده په کور کی مو کمه خبره شوې؟
ومې ویل: نه ګرانې ، مهمه خبره نه ده
وې ویل: نو څه؟
نه می غوښتل چی ووایم خو ومې ویل ، ټول څه چی علی ویلې وه او دا چی رضوان څه وکړه او ......
مریم زما لاس ونیول او وې ویل: ښه کار دی وکړ دا ستاسو خبری هیڅ راته ښه نه ښکاره کیدل ، د ټولګی نجونې هم یو رقم شوې وه هیڅ سم رفتار یی نه کول ته چي څه شوې دې ، د خلکو ذهنیت خراب دی بیا ته چیری یو نورماله کورنی لری؟ راځه دا خبره پریږدو ډیر یی په اړه فکر مه کوه یوازی درس ووایه چی آزموینې نږدې دي نه پوهیږم چی دا کال رضوان تر ټولو لوړه نمره اخلی که طوبا
ومې ویل: څنګه؟

وې ویل: ته ډیر وخت په درسو کی نه یی ، نه پوهیږی چی طوبا څومره لایقه ده
ومې ویل: علی څنګه؟
مریم: هغه هم بد نه دی
ومې ویل: نو ښه جانانه سیالی مخته لرو
مریم وویل: موږ ته څه رسی؟ هههههههه پریږده هر څه چی کوی ودي کړي ، زه وایم

طوبا اوله کیږی درس یی په پاکستان کی ویلی ریاضی هم ښه زده ده یو موږ سرېمبه یو پخدای

ومې ویل: څه سرېمبه وایی؟ زه حتي نشم کولی چی ریاضی ته کتابچه واخم درس هم نشم ویلی کور ته چی ځم باید چهارمغز مات کړم هسې ماته سرېمبه مه وایه زه درس ویلو د پاره وخت نلرم
وې ویل: ښه ښه اوس ځان مه مړه کوه ته ډیره هم لایقه یې د کور کار تا نه پریږدی ، زره دی جیمی
ومې ویل: کنایه مه کوه زه لاړم سرېمبې
مریم: همداسي یی نو زه درسره څه وکړم؟
ومې ویل: هیڅ مه کوه راشه چی د فاطمی ستنه و تار ورکوي هههههههههه حتما موږ کور ته راشې محفل یی غټ نیسی د دوشنبې په ورځ دی
وې ویل: په دواړو سترګو ، د فاطمې محفل نو لیدونکی دی

ومې ویل: هو میرې یی پیدا کړ د دی وروسته نور فاطمه څوک نشی ګیرولی
د مریم سره می خدای پاماني وکړه او د کور خواته روانه شوم په لاره کی می رضوان د څو نفرو سره ولیدی ، غوښتل می داسی تیره شم چی هیڅ ما ونه وینی چی ګورم بی له دی چی ماته وګوری زما د څنک نه تیر شو. زړه می یو رقم شو ولی یی داسی وکړل؟
بیا می وویل لیلا مرګ دې راغلی خپله دی ورسره بد چلند وکړ نو هسې خبری مه کوه ښه شو بیخی همداسی ښه دی چی نور راسره خبری ونه کړی زه هم مجبوره نه یم چی د چا خبری پر ځان یوسم
او خپل لاری ته می دوام ورکړ.
کورته چی ننوتلم ګورم څو ماشومان د لوبی په حال کی دی هیڅ می نه پیژندل چی څوک دی.

ومې ویل: دلته څه کوی؟ څوک یاست؟
یو یی وویل: دلته مو د عمه کور دی
ومې ویل: عمه؟؟؟؟ کمه عمه؟؟
چی په یاد می شو نن د شګوفې ورور راتی. اووووووووو دوی نو د کم ځایه شول؟
ومې ویل: سمه ده خو ډیر غالمغال مه کوئ که کیږی بهر په کوڅه کی لوبی وکړئ
وي ویل: موږ عمه ویلې چی بهر مه ځئ ، ورکیږي
ما هم ولیدل چی څوک نشته دروازه می خلاصه کړه او ومې ویل: هیڅ خبره نه ده
تاسو غټ غټ هلکان یاست نه ورکیږی لاړشي بهر لوبی وکړي
بیا می خپل په زړه کی وویل: ځی ورک شی چی شګوفه کوڅه په کوڅه ستاسو
پسی وګرځی

یو چا د شا نه غږ کړه: شاباس
مخ می د هغه خواته واړول ګورم چی یو غټ هلک د غنم رنګه پوست سره چي د
شل، یو ویشتو کالو معلومیدی ، ولاړ دی یو وار وبیریدلم. ومې ویل: ته څوک یی؟
زموږ کور کی څه کوی؟ څه ووځه
وي ویل: چُپ ، دلته زما د عمه کور دی ته څوک یې؟
په زړه کی می وویل ستا د عمه سر وخورم
او په لوړ غږ می وویل: زه د کور مالکه یم ، دا کور زما د پلار دی یعنی ستا د عمه
میړه

وي ویل: ښه ښه ته لیلا یی که سهیلا؟
په زړه کی می وویل: اوس نو ښه شو ، دی مو هم پیژنی
ومې ویل: د کم یو سره کار لری؟
وي ویل: د لیلا سره
ومې ویل: زه سهیلا یم
وي ویل: ښه سمه ده د لیدو څخه دی خوشاله شوم
ومې ویل: ولی؟

وي ویل: هیڅ ، لیلا زما عمه یی وهلی ده غوښتل می وګورم چی څه رقم نجلی ده وبخښه خور دی په دی چی کم عمر لري خو ډیره وحشی ده څنګه یی وکولی شو د یو ښځی ویښتان وشکوي؟
څه؟؟؟ ده ماته وحشی وویل؟؟ ډیر یی زور راکړ

ومې ویل: وګوره دلته زموږ کور دی حق نلری چی توهین وکړي خپل عمه ته ووایه چی ډیر شیطانت ونکړې ، هره ورځ د کور او کورنی په اړه خبری کوي په دی نه پوهیږی چی هره خبره وشوه نه باید د کوټی د کړکی څخه دباندې ووځي؟
د یو سړي دوهمه ښځه کیدل دا ګټې هم لری نو هره ورځ به وهل خوري
خپل د کوټی خواته روانه شوم چی نارې یی کړه: لیلا؟
په ځای کی ودریدلم چی ده وخندل او وي ویل: ما همغه وخت چی تا ماشومان کوځی ته لیږل پوه شوم چی لیلا ته یی شیطان صفتې
ورته مې وکتل او ومې ویل: څه دي وویل؟
دا وار یی په لوړ غږ تکرار کړه: شیطان صفتې
ومې ویل: تا ځان څه فکر کړي؟ چی څوک یی؟ میلمه یی احترام دي واجب دی خو خپل حد وپیژنه

وي ویل: ولی دی ماشومان کوځي ته لیږل؟ چی ورک شي او ټول د دوی پسی وګرځي؟
ځان سره می وویل زه شیطان صفته یم که ته؟ وخت زما ذهن یی وویل
په لوړ غږ می نارې کړه: شګوفیییییییییییییې
شګوفیییییییییییییییې
شګوفه خپل د کوټی څخه ووتله او وې ویل: څه شوي؟ بیا څه خبره ده؟
ومې ویل: ستا وراره یو څه بی نزاکته دی بهتره ده چی پام په ونیسی ځکه نه پوهیږي چی په دی کور کی میلمه دی او نباید د کور مالک ته بی نزاکتی وکړي
شګوفې د اوف ایستلو وروسته وویل: نصیره دننه راشه دا نجلی تل د جنجال پسی

ده بهتره ده چي هيڅ ورسره خبرې ونکړي ، مور يې دوی ته هيڅ تربيه نه ده ورکړي يوازې يې غټان کړې دي بس

ومې ويل: دا هلک اول توهين وکړ او بيا ته حق نلري چې حتي يوه خبره لا زما مور ته وکړي دا هلک بې ادبې کړي ماته يې وويل چې زه شيطان صفته يم وحشی يم او د ده عمه مې وهلې
په همدې وخت کې حميرا او سهيلا هم راغلل. شګوفې وويل: نصير هيڅ توهين نه دی زده ستا برخلافه يو با ادب او با نزاکته هلک دی که کم څه يې هم ويلی دي د دی د پاره يې ويلی چې زه ډيره ورباندې ګرانه يم زموږ په کور کې مشرانو ته احترام او ارزښت ورکول کيږي نه لکه تا چې په مشر و کشر نه پوهيږې

تر څو چي مې غوښتل يو څه ووايم حميرا وويل: هو معلومه ده چې څومره تاته احترام ايږدي او تا غواړي ، دا چې ته يې يو بوډا سړي ته چې ښځه او اولاد لری ورکړي ، دا خپله ستا د کورنۍ مينه او غوښتل ښکاره کوي چې څومره تا غواړي خدای پوهيږي چې څومره د حميرا دی خبرې خوند راکړ. شګوفې چې هيڅ يې ويلو ته نه درلود کوټې ته دننه شوه او دروازه يې داسی کلکه وتړل چې غږ يې په ټول سرای کې خپور شو. د شګوفې د تګ وروسته وراره يې ولاړ وو او په غوسه يې موږ ته کتل. ومی ويل:راځی نجونو چی کار لرو هله

او به له دي چې ورته کم ارزښت ورکړم د مخه يې تيره شوم.
شپه د دوی باندړار ښه تود وو د خندا غږ يې زموږ تر کوټې لا راتی. مور می وويل: دا څه حال دی لکه چی دوی هيڅ خوب نلري
ومې ويل: په کيسه کی مه کيږې چندان خلک نه دي ، ورينداره يې دومره لاره تر کابله راغله دوه قدمه رانغله چې روغبړ وکړي
سهيلا وويل: ولی بايد زموږ ليدو ته راشی؟

ومې ويل: دا کار د ادب او نزاکت ښکارونکی دی شګوفه خو شپه او ورځ وايی چې ادب څه شو؟ نزاکت څه شو؟ زموږ مور مشره ده يو روغبړ دومره شی نه وو

حمیراوویل: که راغلی وی ډیره احمقه معلومیدله ځکه مور د هغې د ایندرور سره کله ښه چلند کړی چی بیا احترام د پاره مور کوټې ته راشی؟
ومې ویل: بی معنی خبره مه کوه شګوفه همدا چی د بُن په حیث دي کور ته راغله ډیره غټه ګناه یی کړي ده ، د یوې ژوند یې خراب کړ بیا تمه لري چی خلک ورسره ښه چلند وکړې؟

حمیرا وویل: حق څخه مه تیریږه مور چیری ډیر ښه ژوند وو چی د دی د راتلو سره خراب شو؟ وې منه چی شګوفه هم د ډیر مجبوری څخه یی دا منلی
د هیچا نه خوښیږی چی د یو سپین ږیری سړی سره واده وکړي یو وار ځان د هغې پر ځای پریږده
مور مې وویل: حمیرا تر تاسو کوچنې ده خو رښتیا خبره کوي دا واده داسی واده نه دی چی څوک دی پر خوشاله وی دا هم خامخا مجبوره وه
د خبرو په حال کی وو چی پلار می په کوټې ننوتی. د روغبړ وروسته حمیرا وویل: څنګه نن شپه دلته راغلي؟
پلار می مور ته په کتو سره وویل: هغه کوټې کی ځای نشته نن شپه زه دلته بیدیږم
مور مې وویل: زه د لیلا سره بیدیږم ته د حمیرا او سهیلا سره په یو کوټه کی بیده شه

ما خپل پلار ته وکتل چی حیران وو بیا می خپل مور ته وکتل او ومې ویل: نه نن شپه زه دلته یم کورنی دنده لرم شمعه روښانه کوم تر ناوخته پوری درس وایم
مور می خپل وریځي زما خواته پورته کړل خو زه بی له دی چی هغی ته پام وکړم رازیاته می کړه: پلاره تاسو خپل په کوټې کی بیده شی دلته ځای نشته
سهیلا او حمیرا ماته کتل دوی ته می سترګه ووهل
ومې ویل: ښه نو لاړشی ناوخته دی ځی بیده شی زه درس لرم
د مور او پلار د تګ وروسته سهیلا وویل: ته د کمه دومره درس ویلو ته شوقې شوې یې؟

ومې ویل: عقل نلری، پرېږده چی بیرته سره جوړ شي مور مې تر شګوفې سل برابره بهتره ده که دوی سره جوړ شی زموږ په ګټه ده دعا وکړی چی پلار مو بیرته موږ سره ښه شي بی له ده کم بل نر نلرو حداقل یو د ملاتړ کس خپل شاته ولرو
سهیلا وویل: ښه نو داسی کیسه ده خدای دی وکړي چی شګوفه هم بیرته ولیږي سهار د چای څښلو وروسته ښوونځي ته د تللو د پاره تیاره شوم
شګوفې وویل: برایی خو دي پلار ستا د کاکا کور ته تللی وو؟
ومې ویل: نه پوهیږم ، زموږ سره خو نه وو
بیا یې وویل: برایی په کوټه کي ځای نه وو ومې ویل لاړشه خپل د ورور کورته خامخا هم هلته تللی

ومې ویل: نه پوهیږم ما نه دی لیدلی
د نجونو سره د کور نه ووتلم چی سهیلا پوښتنه وکړه: ولی دې درواغ وویل؟
ومې ویل: د خدای روی ته وګوره دومره بیعقلی مه کوه هرو مرو په یو څه پوهیږم کله چی ټولګی ته ننوتلم رضوان می ونه لیدی ځان سره می وویل چی نن چیري دی؟ شاوخوا می وکتل ، نه وو
مریم څخه لاړم او پوښتنه می وکړه: تا رضوان نه دی لیدلی؟

مریم: ته څه کار لري؟ ته نه هوښیاریږې ولی؟
ومې ویل: لیونتوب مه کوه ما یواځی غوښتل پوهه شم چی چیري دی ، په ما یی څه؟ هر ځای چی دي ، ودیسی بلا می ورپسی
مریم وویل: مخصد خپل پام ونیسه کرار کرار ځان سره داسی فکر وکه لکه چی د رضوان په نوم څوک د اوله هم نه وو
سر می کښته واچوی او ومې ویل: سمه ده هر څه چی ته ووایی زما هم همدا په فکر کی وه

زړه می وو چی ورپسی ورګرځم خو بیا می ویل چی نباید دا کار وکړم یو شیبه می هم زړه ارامه نه وو آخر ولاړه شوم لاړم د فوټبال میدان ته ګورم چی هلته هم نشته.

هر ځای چی می ذهن کی می ګرځیدی ، وګرځیدلم خو دی نه وو
خدایه ، په حاضری کی یي خو ځان حاضر نیولی نو چیري دی؟
کرار کرار د ټولګی خواته روانه وم چی ګورم رضوان د مدیر د شعبی څخه ووتی. په همدا وخت کی سترګه پر ما ولګیدله او سلام یی راکړ
ومې ویل: سلام څنګه یی؟
وي ویل: مننه ژوندي اوسي

او بي له دی چی بله خبری وکړي، زما د څنګ څخه تیر شو. ډیر بد احساس می پیدا کړ. ولی خبري ونکړه؟ لکه یو پردی انسان تیر شو نباید داسی کار یی کړی وی بیا می وویل: حق لری ما خپله وغوښتل چی همداسی چلند راسره وکړی
یو شی زه یی د دننه خوړلم ، غوښتل می ورسره خبری وکړم
خو.........
لعنت پر دی ژوند

.... رضوان ....

د مدیر د شعبی څخه ووتلم چی د لیلا سره سترګه په سترګه شوم د پخوا په یاد می ورته سلام ورکړ چی بیا می په یاد شوه موږ نباید خبري وکړو
ژر یی د څنګ څخه تیر شوم چی خپل کنټرول د لاسه ورنکړم او ورسره خبری کول پیل نکړم. غوښتل می لکه دوه عادی خلک یو بل سره خبری وکړو خو لیلا راحته نه وه او ما هم نغوښتل د ټولو ستونزو سره چی دا یی په ژوند کی لری زه هم یو بل ستونزه جوړ شم همدا چی څو کسان د دې په اړه خراب فکر کړی په کافی اندازه د دی روان ته یی ضربه وهلې.
بهتره ده چی ورڅخه لری واوسم ، که څه هم غوښتل می ورسره خبری وکړم.
خو ....

.... لیلا ....

د فاطمی ستنه و تار سبا وو او مورې هم باید دي محفل ته تللی وی. د ازموینې پیل هم د بل اوني د شنبی څخه وو او ما هم هیڅ تیاري نه وه نیولي.
ټول ستونزی یو خواته ، د شګوفې د ورور کوزني هم راغلي وه. کور کی داسی شور ما شور وو چی مه وایه. تر اوسه هیڅکله زمورې په کور کی دومره ګڼه ګوڼه نه وه ځکه زه ورسره عادته نه یم ، فاطمه او مور یی هم محفل ته د تیاري نیولو حال کی وه فاطمه په عادی حالت کی چا سره خبری نکوی اوس چی میرې یی وکړ نو بیخی بدتره کیږی.

د نوې ورځی د پیلیدو سره ټول خپل په کارونو بوخت شول. مورې هم لاړو خپل د کاکا کورته تر څو د دوي سره مرسته وکړو.
زه لاړم تر څو پیالی پریمینځم او د پخلنځی په کار کی مرسته وکړم
فاطمه دروازي څخه نږدی ولاړه وه زه یی چی ولیدلم وې ویل: دا دی هر څوک په همغه ځای کي دی چی لیاقت یی لری
ومې ویل: دومره عمر لری خو یو دوه کلمی سمی خبری نشی کولی ، څوک چیري دی؟ بی تربیې ، راغلم تر څو ستا محفل ته مرسته وکړم چی خسرګڼي دی ونه وایی دومره بد اخلاقه نجلی ده چی حتي د کاکا لور یی لا محفل ته رانغله
فاطمی وویل: په ما یی څه؟ تاسو خویندی تل ماسره په جنګ یاست کمه ورځ مو ښه خبره کړی؟ تل کنایه کوی

ومې ویل: بس بس اوس بیا پاک و سوچه شوې
نو ټوله ګناه زمورې وه؟ ځه زما مخ ته مه دریږه هر څه چی نه یی له بده مرغه سره اړیکه لرو ستا د آبرو سره زمورې آبرو هم ده
او د څنګ څخه یی تیره شوم. مور مې زما په لیدو وویل: څه شوې دی لیلا؟ خفه معلومیږی؟
ومې ویل: ورک یی کړه ، دا فاطمه نه انسانیږي یو ورځ ما ونه لیدل چی نیش و کنایه ونه وهي ، اوس مورې د دوی په کور کی څه کوو؟ هر څومره چی ښیګڼه وکړو پر دوی نه معلومیږي

مور مې وویل: حوصله وکړه پرېږده چې نن ورځ پای ته ورسیږي ، ته څه خبر؟
ښایی په دی محفل کی یو چا خوښه کړې او مرکه یی وکړه
ومی ویل: مووووووووووووری ، منګه زه په تاسو بار یم چې داسی زما تګ ته خوشاله یې؟

وې ویل: نه زما د زړه سرې هره نجلی باید واده وکړې ، که ښه کورنی وه ولی نه؟ ته چې خوشالی وشی زه هم خوشاله یم
شګوفه یو کنج کی ناسته وه او خپل د ورینداری سره یی خبری کول او خندل. ناری می کړه: شګوفې؟
ځواب یی راکړ: څه وایی؟
ومې ویل: که یو څه کار وکړې کم څه درڅخه نه کمیږی
وې ویل: همدا چې ته کار کوی بس دی
درې نجوني یاست شل نفره میلمانه څه دی چې تاسو یی نشی ګذرولی؟ ( یعنی نشی کولی چې خدمت وکړی)

زه چې په مزار کی وم یوازی به می پنځوس نفرو ته چاوی او ډوډی وړه ، کار وکړی چې یو څوک مو وه وینی خوښه مو کړې او مرکه راشی
ومې ویل: تا چې په کار ځان مړه کړه آخر چا وکړې؟ یو بوډا سړی چې ښځه او اولادونه لری
د ډیر غوسی څخه یی رنګ بدلون وکړ او په تنده لحجه یی وویل: نور اجازه نه راکوم چې ما سپکه کړې ، بو وار بل داسی کنایه لروونکی خبری وکړی ستا پلار ته وایم زما صبر هم حد لری ، تر اوسه لا مجرده یی وروکي نجلی یی ډیر په خلکو باندی خبری مه کوه څه خبره یی چې ستا په نصیب به څنګه څوک وشی؟ ستا په نصیب به هم یو بوډا سړی یي
ومې ویل: زړه دی جیمی سپین ږیری سړی زما نه په نصیب کیږی د هر چا بخت لکه تا نه دی

لا یی غوښتل کم څه ووایی چی زه د هغه ځایه ولاړه شوم.
سل نفره چی ووایی کاری او هنری يې ، څوک يې ، څه دې کړی ماته هیڅ یی.
د میلمنو د راتګ سره قند و دستمال یی راویستل او قند زما د پلار په لاس د نارینو کوټه کی مات شو.
د زوم خوا زر افغانی په پتنوس کی پریښودل ، یو غمي داره ګوتمی یی د فاطمی په لاس کړه او بابو یی راغی او یو جوړه غوړوالې یی د هغی په غوږ کړه. ټولو چک چکی وکړه او فاطمی ته یی مبارکی ورکړه
څو ښځی د دستمال راوړلو بدلې ویل پیل کړل:

ما دستمال آوردیم
به سر شال آوردیم
عروس بیادر جانه به جنجال آوردیم

چقه عروس زیبا و قشنگ هست
رسا و نازنین و شوخ و شنگ است

ما دستمال آوردیم
دو زلف او سیاه و چنگ چنگ است
به دستش گل رنگ رنگ است
ما دستمال آوردیم

ما دستمال آوردیم
به سر شال آوردیم
عروس بیادر جانه به صد ناز آوردیم

فاطمی خندل او خوشاله وه.
سهیلا وویل: لیلا د ناوی کم ځای ښایسته او ښکلی دی؟
ومې ویل: مجبوری ده ، اوس یی کړي ده نو څه ووایی؟ناوی څنګه بدرنګه ده؟

راځه چې چاوی ویسو د فاطمی په کیسه کی مه کیږه
هغه ورځ د ټول ستونزو سره پای ته ورسیدله او شپه ستړی ستومانه کورته راغلو.
سهیلا وویل: یو ښځه چی شنه کالی یی اغوستې وه ډیر یی موړ ته کتل
مور مې وویل: هغه د وریجی خرڅوونکي ښځه ده
په یاد می شوه چی مور د هغه څخه پوروړي یو
ومې ویل: موری ، پلار مې د هغې د میره څخه پوروړي دي تر اوسه یی ورته پیسی نه دي ورکړی همدی د پاره یی موړ ته کتل

مور می وویل: په هر صورت ښه ښځه معلومیدله ، زما سره یي روغبړ وکړ
ومې ویل: ښه ، ښه ده چی څوک پیسی ووینی ځان ورک نکړی او د ټولو سره یو رقم چلند وکړي
هغه شپه د ډیرو کیسو وروسته بیده شوو او سهار ښوونځی ته لاړو.
ټول ازموینې ته چمتوالی نیول حتي رضوان. د پخوا په شان شوی وو یو کنج کی کښیناستی او چا سره یی خبری نکول تل یی هم یو کتاب په لاس کی وو او درس یی ویل. سلام علیک مو درلود خو ډیر نه ، ما هڅه کول چی یو څه زده کړم خو هر څومره چی می ویل هیڅ می ماغزه ته نه تلل. ډیر موده د درسونو څخه لری وم او دا ډیر زیان راته رسولی وو.

مریم ته می وویل: په ځینی ځایونو کی چی ستونزه لرم مرسته راسره کولی شې؟
وې ویل: که زما زده وي ولی نه ، که نی نو خدای دی درسره مرسته وکړی
د مریم سره د خبرو اترو حال کی وم چی علی سلام واچول. سر می پورته کړ ، غوښتل می ووایم چی څه غواړی؟
چی ده وویل: مریم جانې کیږی خپل دری کتاب د څو ورځو د پاره په پور راکړي؟
زما کتاب خو پاڼی نلری هغه لیکم
مریم وویل: سمه ده

خپل د بکس څخه یی کتاب وایستل او د علی په لاس یی ورکړ علی هم مننه وویل او لاړی. په دا لنډ وخت کی چی راغلی وو هیڅ یی ماته ونه کتل. مریم ته مې وویل: ولی دی کتاب ورکړ؟ منگه طوبا د ده خور کتاب نلری؟
مریم وویل: ویییییي رښتیا وایی
نه پوهیږم گرانی ودی لیدل چی راغی ویی غوښتل ما هم ونه شو ووایم چی نه یی راکوم
ومې ویل: دا غواړی ستا سره خبری وکړی زه کم بل لامل نه وینم راځی حق و ناق کتاب غواړي ، بل وار چی راغی ووایه کتاب می لیلا ته ورکړی وگورم چی څه کوي د ښوونځی څخه چی رخصت شوو ، گورم چی رضوان کتابونه په لاس کی دی او په تلوار دباندی وځي

ومې ویل: دا کال هم رضوان د ټولگی لومړی زده کوونکی کیږی
طوبا لاس ما پر اوږی پریښود او وې ویل: ډاډمنه یی چی رضوان لومړی زده کوونکی کیږی

ورته می وکتل او ومې ویل: سلام څنگه یی؟
په خندا یی وویل: وبخښه ، سلام مننه خپله ښه یی؟
ومې ویل: هو مننه گرانی
بیا می ور زیاته کړه: هو سل په سله ډاډمنه یم چی رضوان لومړی زده کوونکی کیږی ډیر لایق دی
طوبا مسکا شوه او وې ویل: بیا معلومیږي گرانی ، دا دی د خیره څو ورځی ازموینې ته پاته دی هیله منده یم چی ته هم موږ سره په سیالی کی واوسئ
ومې ویل: نه گرانې همدا چی کامیابه شم راته بس دی څه ورسی و دیته چی په لومړیتوب ستاسو سره سیالي وکړم

طوبا په خندا وویل: نه گرانی داسی مه وایه هڅه وکړه ، هر څوک کوي شي هلک او نجلی نه لري

د طوبا سره د خدای پاماني وروسته د کور خواته روانه شوم
نه پوهیږم چی کم یو د ټولګی لومړی زده کوونکی کیږی خو زه همدا چی کامیابه شم بس دی خپل د خدای څخه نور هیڅ هم نغواړم.
یوه اونۍ د سترګو په رپ تیره شوه او د ازمویني وخت راورسید. وخت ډیر ژر تیر شو.

لومړی ورځ هم د ریاضی ازموینه وه. ډیره پریشانه وم  بس خدای دی راسره مرسته وکړی
د ازمویني په حال کی وو ، رضوان دوه میزه لری ناست وو او د تل په شان د پارچی حلولو حال کی وو او ما هیڅ ، پارچه می تش وه.
دوه سواله مریم راته وویل نور می هیڅ نه وه لیکلي.
نیم ساعت تیر شوی وو چی رضوان خپل پارچه ښوونکي ته ورکړه او خپل د ځایه ولاړشو

ښوونکي وویل: شاباس د تل په شان
رضوان که کم کار نلری په ټولګی کی وګرځه چی څوک نقل ونکړی زه باید څو نومونه په فورم کی ورسوم
رضوان وویل: سمه ده مشکل نشته
او په ټولګی کی په ګرځیدو شو ښوونکي هم خپل د میز شاته کښیناستی.
کله چی زما میز ته ورسیدی، ودریدی. د ده پښو ته مې وکتل او خپل سر می پورته کړ. ورته په کتو شوم چی ومی لیدل مستقیم زما پارچی ته ګوری
په ګوتی یو پوښتنی ته اشاره وکړه او کرار یی وویل: دا دی غلط حل کړی
او لاړي. په زړه کی می وویل: لیونی هلکه زه خپله پوهیږم چی غلط می حل کړی غسې زما په یادوي او زما زړه اوبه کوي
څو دوره نور یی هم ووهل او زما میز ته نږدی شو او کرار یی یو کت شوی پاڼه یی زما په غیږ کی وغورځول. په کراره می پاڼه خلاصه کړه ، د پوښتی ځواب یی لیکلی وو.

د ډیر خوشالی څخه می خپل لاس و پښی ورکي کړي وي. ځواب می ولیکل چی بیا راغی او یو بل پاڼه یی وغورځول
دا ځل مریم ولیدل او کرار یی وویل: بیشرفانو دا د منلو نه دی
ومې ویل: چُپ غږ مه پورته کوه
د مریم وروسته طوبا ولیدل چی رضوان څه کوي ، خپل پارچه یی پریښودل او موږ ته یی کتل. رضوان ډیر پوښتنو ځوابونه یی راته راکړه اشاره می وکړه چی بس دي او د سترګو په کنج می طوبا ته اشاره وکړه
رضوان د طوبا د لیدلو وروسته په لوړ غږ وویل: طوبا سر دې خپل په پارچی کی ېې د ټولو پام طوبا ته شو او هغې ته په کتو شول. طوبا هم وشرمیدله او خپل سر یی ښکته واچوی. هیڅ یی ونه ویل کولی شو ووایی ته نقل مه ورکوه خو هیڅ یی ونه ویل ډیره حیرانه شوم.

د ازموینې د ختمیدو وروسته ، د طوبا څخه لاړم چی خپل د ملګرو سره یی خبری کول
ومې ویل: طوبا جانې یو دقه وخت لری؟
زما خواته راوګرځیدله او وی ویل: صبر
او خپل ملګرو ته یی وویل: انشاالله صبا بیا ګورو او خبری کوو خدای پامان
د ملګرو د تګ وروسته یی ماته وکتل او وې ویل: کم څه دی ویل ګرانی؟ څه شوی؟
ومی ویل: امممم...... نن د پاره بخښنه غواړم
وې ویل: ته ولی بخښنه غواړی؟تا خو هیڅ نه دې کړی. رضوان هغه خبره وکړه چی هیڅ مهمه نه ده د عادت یی خبره یم که څوک یو مسوولیت ورته ورکړی په غوره توګه یی سر ته رسوی او ډیر هم مهربان هلک دی ومی لیدل چی څنګه یی درته نقل رسول

ومې ویل: هو ژوندې اوسې ډیر مرسته یی وکړه که ریښتیا خبره وکړم زه......
زما خبره یي پری کړه او وی ویل: ښه کار دی وکړ چی رضوان سره دی خبری بندی

کړی موږ د یو بل په نامه یو او زه هم نغواړم چی زما د راتلونکې میړه شاته څوک خبری وکړی

رضوان یو مهربان هلک دی ځکه ټولو سره مرسته کوي او همدارنګه چی ته هم پوهیږی ډیر غوره شخصیت لری ، زه د څوارلس کلنی څخه د رضوان په نامه یم ډیر هم د یو بل سره ښه ایسو ، همداسی نه ده؟
نه پوهیږم ولی خو ټول بدن یو په دوه وچ شو د هیڅ حرکت توان می نه درلود.
په ډیر سختی می خپل د خولی ناړی تیری کړی او ومی ویل: مبارک دی وی زه نه وم خبره ، ده نه وه ویلی چی نامزاد دي

وې ویل: پوهیږم ګرانی ، ما ورته وویل تر څو چی خپل درس مو پای ته نه دی رسولی چاته څه ونه وایي نغواړم د واده نه مخکی څوک خبر شی
طوبا د خبرو په حال کی وه او جالبه دلته وه چی ماته یی ډیر زور راکړی وو ، هیڅ ښه احساس می نه درلود.

طوبا ته می وویل: ښه خوشاله شوم ګرانی ، ښه بخت ولری ستا په اجازه زه ځم چی صبا بیا ازموینه لرو خداي په امان
د طوبا څخه چی جدا شوم ، زره می نیولی وو. سترګی می د اوښکو ډکی شوی
ومې ویل: خدایه زه ولی داسی شوم؟ په ما یی څه؟
خپل مخ می پاک کړ او ومې ویل: هر څوک واده کوي په ما هیڅ اړه نلري ، ولی پر ما دا خبره دومره بده ولګیدله؟
د ښوونځی دروازی څخه نږدی وم چی لاس می ونیول شو .....

چی ومی کتل رضوان وو. په مسکا یی وویل: هیڅ درس دی نه وو ویلی ، مکتب ته د لوبی د پاره راځی که څنګه؟ لږ پاته وو  چی ناکامه شی
پوه نشوم چي څه وشوه خو یو په دوه می وویل: مبارک دی وی
او خپل لاس می ځینی لري کړ.
وی ویل: څه دی مبارک وی؟

په همدا شیبه کی قباد ننوتی او وی ویل: اووووهووو ژړلی دي دې هههههههههه پارچه دی نه ده حل کړې پوه شوم
د ښنګ ښخه یی تیره شوم. په کوڅه کی چی هر څومره می هڅه کول هوسا ساه واخلم ، نه کیدل په ډیر سختی می ځان کورته ورسول. دروازه می وټکول چی نصیر خلاصه کړه. بی د کم څه د ویلو یی د ښنګ ښخه تیره شوم چې غږ یی راغي: سلام دی نزده؟

ځواب می ورنکړ او مور کوټی ته ننوتلم. مور می ماش پاکول ورته نږدی شوم او ومی ویل: سلام موری ، ښنګه یی؟
وی ویل: پخیر راغلی زویه؟ هو ښه یم ته ښه یی؟ ازموینه دی ښنګه تیره شوه؟
ومې ویل: ښه وو
لاړم یو ګیلاس اوبه می وڅښل زړه می اور نیولي وو داسی احساس می درلود لکه چی یو څوک می د لاسه ورکړې وی یا یو څوک مړ شوي وی
هغه شپه نه می کولی شو چی بیده شم او نه هم درس ووایم
صبا مو هم د جغرافیه ازموینه درلود ما هم هیڅ تیاری ورته ونه نیول. ډیر شدید سردرد می درلود حتي یو ګوله ډوډی می هم ونه خوړل.
مور مې وویل: په دې څه شوی؟

سهیلا وویل: د ریاضی آزموینه یی درلود هغه یی هم نزده خامخا پارچه يې نه ده حل کړې ځکه اوس داسی ده
مور می وویل: خیر دی زویه ، په بل ازموینې کې بیا جبران کړه هیڅه خبره نه ده بیخی  رنګ دی اووښتي زما د زړه سرې
ومې ویل: ما خپل په حال پریږدئ ، هیڅ نه دي شوي
او لاړم تر څو بیده شم.

سهار د لمر ختو وروسته ښوونځي تللو ته تیاره شوم. په لاره کی می قباد ولید ، پوښتنه یی وکړه: نن دې درس ویلی که نه؟

دومره بی حوصله وم چی یوازی د سترګی د کنج څخه می ورته وکتل نور می هیڅ ونه ویل.
د شا څخه یی غږ کړه: یو د پزی دستمال لرم در یی کړم چی د ازموینې وروسته خپل اوښکی پری پاکې کړی؟
هیڅ می ونه ویل او خپل لاری ته مې دوام ورکړ.

ښوونځی ته چی ورسیدلم لومړی لاړم د مریم لیدو ته
ومې ویل: مریم ، تر څو چې ازموینه پیلیږي غواړم یو څه درته ووایم
زما سره دباندی راووتله او وی ویل: جان څه شوی دی؟
ومی ویل: ګوره.........نه پوهیږم څنګه ووایم
پرون می طوبا ولیدله یو څه یی راته وویل
مریم: څه یی درته وویل؟
ومې ویل: ویل د رضوان نامزاده ده او د څوارلس کلنې څخه د یو بل په نامه دی
مریم په حیرانتیا وویل: څنګه تر اوسه څوک خبر ندی؟
ومی ویل: ما هم پوښتنه وکړه خو دی وویل چی نه یی غوښتل څوک خبر شی
مریم: ولی څوک خبر نشی؟ منګه کورنی یی د دی څخه ندی خبر چی بیا دا وایی نور خبر نشی؟

زما په نظر درواغ وایی رضوان یو باشخصیته هلک دی ما څو واره لیدلی چی ګلثوم ورته لیک لیکی او د ده د کتاب مینځ کی ایږدی یو ورځ رضوان ونه ویل چی دا کار مه کوه زه نامزاد لرم
ومې ویل: نو طوبا ولی دا خبره وکړه؟
مریم د څو شیبو فکر وروسته وی ویل: زه څه پوهیږم ګرانی؟ بی ټیمه نجلی معلومیږي رفتار یی یو رقم دی هم اجتماعی ده هم داسي ده لکه چی هیڅ څوک ورته ارزښت نلری یو څه مغروره ده
ومې ویل: نه پوهیږم مریم چی رښتیا یی ویلی که نه خو......

مریم: په تا څه شوې؟ د سترګو لاندی دی بیخی حلقی وهلی
ومې ویل: هیڅ نه دی شوی ښه یم

مریم: ډیر درس دی ویلی خامخا خوب دی پوره نه دی
نن زه یی ستا میلمنه ، برایی می ډیر وویل خو زده می نکړه
یی راسره؟ مرسته کوې؟
ومی ویل: د څه شی درس؟ سردرد وم ومی نه ویل ، بیده هم نشوم
ژوره ساه می واخیستل ، مریم زما لاس د نیولو سره وویل: د رضوان د نامزادې د
امله داسی یې؟
ومې ویل: نه په ما یی څه؟
مریم: هو په تا یی څه ، سهار زه وم چی اول راغلم او دا خبره می پوښتنه وکړه ، ته
نه وی برایی هم زه نه یم بیده شوی ستا رضوان خوشبیرې زه پوهه شوم
ومې ویل: بی معنی خبری مه کوه نه می خوشبیرې یوازی حیرانه یم ولی ماته ونه
ویل چی نامزاد دی؟

مریم: ولی ووایی؟ ته یی څوک یی؟ یوه ساده ټولګیواله یی خلاص
که ده طوبا خبره رښتیا هم وې رضوان داسی هلک نه دی چی چیغی ووهی زه
نامزاد لرم ښه یی پیژنی ډیری خبری نه کوی
ومې ویل: هو رښتیا وایی راځه ، ازموینه پیلیږی چی د ټولګی بهر پاته نشو
د ازموینې د پیلیدو سره خپل پر ځای کښیناستلم او یو الحمد شریف می وویل تر
څو خدای راسره مرسته وکړې درس خو می بیازو نه دی ویلی

د پارچې خواته می کتل چی ښوونکې وویل: څه شی ګوری؟ قلم واخله او حل یی
کړه
ومې ویل: په سترګو اوس یی حلوم
همدا وخت کی می د رضوان خواته وکتل چی ګورم ده راته کتل ژر می سر ښکته
واچول او ومې ویل: دا وار بیخی بی آبرویی جوړیږې د نامزاد دار هلک سره .......

توبه توبه...... خلک زر خبری باسی
شیبی یو تر بل وروسته تیریدل او زده کوونکی هم یو په یو خپل پارچی یی
ښوونکی ته ورکول ، خو زه همداسي پاته وه
ښوونکی وویل: رضوان ته ولی ناست یی؟ ولاړشه
تا باید تر ټولو مخکی پارچه راکړی وی
رضوان وویل: ښایی باور ونکړي خو بند پاته یم ههههههه
ښوونکي: خیر دي دوه سواله دي زه درته نمری درکوم ځکه لایقه هلک یی که ډیر
پاته دی نو یو لاره پیدا کړه

طوبا چی زما څنګ میز کی ناسته وه راته یی وکتل او اشاره یی وکړه چی د کم
پوښتنی ځواب غواړی؟
ومې ویل: هیڅ یو ګرانی
څه می غوښتلی وي؟ لعنتی ټول پاته وه
په همدی وخت کی رضوان وویل: ښوونکی یو قلم خپل د ټولکیوالې څخه اخلم
ښوونکي هم وویل: وایخله خو نقل ورنکړی
رضوان: زړه مو جیمی ، هر څوک باید خپله درس induvidually ووایی
زما میز ته راغی یوه پاڼه یی پریښودل ، زما قلم یی واخیستی او لاړي. پاڼه می
خلاصه کړه لیکلې وه: لیلا کله چی دی خپل پارچه ورکول زما د څنک څخه تیره شه
سر می پورته کړ او ورته می وکتل چی مسکا شو.
ځان سره می وویل خدایه څه یی په فکر کی دی؟؟

د ځایه ولاړه شوم ، ښوونکی خپل د لاس پاڼو د ویلو حال کی وو په کراره رضوان
ته نږدی شوم همدا چی ورته ورسیدلم د ځایه ولاړ شو ، ژر یی زما پارچه زما د لاسه
واخیستله او دوی پارچی یی د ښوونکی په میز پریښود زما پارچه یی هم خپل شاته
ونیوله
رضوان: ښوونکی دا دي زما او د لیلا پارچه
ښوونکي خپل عینکی سره برابری کړی او وی ویل: شاباس زویه پخیر لاړشی

او بی له دی چی مورې ته وګوری خپل لیکلو ته یی دوام ورکړ. مورې بهر لاړو. د دروازی څخه نږدی وو چی سترګی می په طوبا ولګیدلی چی ما او رضوان ته یی کتل.
د دروازی چی ووتلو رضوان په خندا شو او وي وويل: په ټول عمر کي می داسی کار نه وو کړي ګوره څنګه می لاسونه ریږدی (لرزیږی) هههههههه
توبه وه نجلی ته ولی هیڅ درس نه وایی؟ یو خط دی هم ویلی وي یوه پوښتنه دی حلولي شو

ومی ویل: وبخښه په عذاب شوی
رضوان: هغه پریږده ، برایی می هیڅ د فکره ونه وتل.
ومې ویل: څه؟
رضوان: پرون دی ولی تبریکی راکړه؟ تا باید مننه کړی وی نه دا چی تبریکی راکړی
د رضوان سترګو ته می وکتل او خپل ناړی د تیریدو وروسته می وویل: امممممم.....
کمه خاصه خبره نه ده

که اجازه راکړي چی زه لاړه شم نغوارم صبا هم ته راسره مرسته وکړي
وګرځیدلم تر څو لاړه شم چی زه یی د لاسه ونیولم او خپل خواته یی کش کړم
د یو قدم مخته راتللو سره یی وویل: ښه په خلاص غوږو واوره چی څه درته وایم
زه ډیر بی حوصله انسان یم پوه شوی؟ صبر می ژر خلاصیږی که ما نه پیژنی ومی ویل چی پوه شی ولی دی تبریکی راکړه؟

په داسی حال کی چی سترګی دی د اوښکو ډکی وې بیا چی درته ناړې کوم بی د کم څه د ویلو ځې
څو وخته کیږی چی ستا دا حال زغمم ، سترګی دی راته خاندی خو رفتار دی نه سم رفتار نه کوی لکه زه چی یو مزاحم انسان واوسم خو زه درته مزاحم نه یم
لکه هغه متل چی په لاس یی پوری وهی او په پښی یی بیرته کشوی زه دی خپل د ځان رشخند فکر کړی یم؟
تر اوسه دی لیدلی چی د کم نجلی سره خبری وکړم؟ زه اجتماعي شخصیت نلرم خو

د ښه نیت او پاک زړه څخه غواړم درسره مرسته وکړم خو ته داسی چلند کوی لکه چی زه خرابترینه کار کوم
ستا په فکر کی څه دی؟ برایی ټوله شپه می د دی په اړه فکر کول چی ته ولی د اوښکو ډکو سترګو سره ماته تبریکی راکوی او کله چی پوښتنه کوم ولی؟ ځي او دریږې هم نه
ژر ووایه چی څه خبره وه ژر ، همدا اوس او همدلته ، چي قباد هم راشی د ځایه ښوریدلی نشي تر څو ونه وایی څه شوی
زما سره په یو قدم فاصله کی ولاړ وو او زما بازو یی کلک نیولی وو. ډیره بیریدلي وم تر اوسه می رضوان داسی نه وو لیدلی
په بیری او لرزانده غږ می وویل: زه.......زه.........
چی طوبا د ټولګی څخه ووتله او په حیرانتیا یی زموږ خواته په کتو سره يي وویل: دلته څه خبره ده؟
رضوان ورته وکتل او وی ویل: شخصی خبری لرو که مداخله ونکړی خوشاله کیږم دروازه د آ خوا (هغه خوا) ده
طوبا په غوسی موږ ته وکتل او په داسی حال کی چی د ډیر غوسی څخه یی خپل پښی پر ځمکی ښه کلکی کلکی لګول زموږ څخه لري شوه
هیڅ نه پوهیدلم چی څه خبره ده
خپل ناړی می تیری کړی او یوه ژوره ساه می واخیستله
ومی ویل: طوبا.....پرون وویل چی........ستا نامزاده ته او تاسو د ماشومتوب نه یو د بل په نام یاست

د خبرو په حال کی وم چی زما بازو یی پریښود او په حیرانه څهره یی وویل: طوبا خپله دا خبره تاته کړی؟ یعنی وایم تا د طوبا د خولی څخه واوریدل؟
ومې ویل: هو پرون د ریاضی آزموینی وروسته
او ورزیاته می ورکړه: ګوره.....ما نغوښتل چی تا رشخند کړم..... هیڅ فکر می نه کول..... چی پر تا بد ولګیږی....... بخښنه غواړم
رضوان: خپل پام ونیسه چی بیا مجبوره نشی بخښنه وغواړی

ومی ویل: خامخا خپل پام نیسم بیا هم بخښنه غواړم
اوس نامزاد یاست که نه؟
رضوان خپل تندی وګروول او وي ویل: که رښتیا خبره وکړم مور د یو بل په نامه نه یو
څو کاله مخکې زما بابو خدای دی جنتونه په نصیب کړی ویلی وه چی رضوان او طوبا باید د یو بل سره واده وکړي
کاکا لور د کاکا د زوی ده ، د طوبا مور او پلار رضایت نه درلود ویل یی داسی نه کیږی دوی اوس ماشومان دی یو وار غټان شی چی یو بل څخه یی خوښ راځی که نه؟ او زر خبری نور
زما مور او پلار راضی وه او زما د بابو پر خبره یی هیڅ هم ونه ویل خو زما د کاکا کورنی دا کار یی ونه منل
هغه وخت زه کوچنی وم په یاد می نه دی دا خبری هم مور می راته ویلی نن چی تا وویل هغې ځان زما نامزاده جوړه کړی ډیر حیران شوم ولی دا خبره یی کړی؟
ومې ویل: زه هم نه پوهیږم
رضوان: څه پریږده یی ، وروسته بیا پوهیږم چی ولی دا کار کړی او هدف یی د دی خبری د ویلو څخه څه وو
اوس ستاسره کار لرم راځه دباندی
روان شو او زه یی هم شاته لاړم. د ښوونځی یو برخی ته چی د ټولګی شا ته نږدی وه ، لاړو.
رضوان یو کنج کی کښیناستی او وي ویل: راشه دلته
مخته لاړم ، بیا یی وویل: کښینه
څنګ ته یی کښیناستلم ، خپل ستوني صاف کړ او خبری یی پیل کړي: ګوره، ماته ارزښت نلری چی طوبا څه ویلی علی څه ویلی یا خلک څه وایی ته ما پیژنی زه داسی انسان نه یم چی خبری او رفتار می سره توپیر ولری د ځان ستاینه نه کوم نه وایم چی زه کامله او بی عیب و بی نیمګړتیا یم ، نه
نیمګړتیاوی لرم او هڅه کوم چی اصلاح یی کړم

په ژوند کي هیڅکله خپل د شاوخوا خلکو د پاره خپل پریکړه مه بدلوه ما په رښتیا لیلا نغوښتل چی درسره بد چلند وکړم خو د طاقته می ووتل او صبر می خلاص شو دا دی څه کم یو میاشت کیږی چی سمي خبری نه کوی ، ما زوروي ، پوهیږی؟؟؟
پخدای زه هره شپه فکر کوم ما څه کړی چی د دی لامل وګرځیدی چی خلک او په خصوص بیعقل علی زموږ په اړه داسی فکر وکړی؟
او تر هغه بدتر ستا رفتار ډیر راته خسته کنه شو
رضوان خپل مخی ته کتل او خبری یی کول
ومې ویل: ټولی خبری دی سمی دی زه دی یوه خبره هم نه ردوم خو یو پوښتنه لرم
رضوان: ووایه
ومی ویل: ولی دومره دی خوښیږی چی راسره مرسته وکړی؟ په داسی حال کی چی پوهیږی خلک زموږ په اړه څه وایی زر فکره کوی
څه زما د کور ستونزې
څه په ټولګي کي
څه د علی مخته یا د درس و ازموینې
ولی زما ستونزې تاته اړینې دي؟
خپله هم وایی چی زه اجتماعي هلک نه یم ما هم نه یی لیدلی دومره چی زما سره مرسته کوی نورو سره یی وکړی
په ځیر ځیر می رضوان ته کتل چی څه غواړی ووایی
رضوان خپل لاس یی پر سر تیر کړ او وی ویل: نه پوهیږم
په رښتیا نه پوهیږم چی ولی غواړم درسره مرسته وکړم
خو.......
هر کله چی ستونزه لری داسی احساس لرم لکه ستا ستونزه چی زما ستونزه یی غواړم چی تر دی هم ډیر تره درسره مرسته وکړم خو د کورنی مسائلو کی مداخله نشم کولی پوهیږي نو
هڅه وکړه داسی چلند ونکړی لکه زه چی هیڅ نه یم
زما د څنګ څخه تیریږی یو وار راته ګوری هم نه لکه زه چی هیڅ نه یم

دا می زوروي ، ډیر می زوروي ...... نه پوهیږم څنګه تا پوه کړم
برایی ټوله شپه ویښ وم سترګه می پټه نشوه چی سهار شی راشم ښوونځی ته
پوښتنه درنه وکړم چی څه شوی دی ولی غمجنه وی
لیلا زه بد انسان نه یم ، ځان مانه مه لری کوه ...... هیله کوم
په حیرانتیا می رضوان ته کتل ، ومی ویل: ما څخه دی خوښ راځی؟
راته یی وکتل ، حیران وو خو هیڅ یی ونه ویل
بیا می تکرار کړه: زما ځواب راکړه
وی ویل: زه........نه پوهیږم...... ښایی......
نه پوهیږم چی اوس زما په اړه څه فکر کوی خو باور پخدای وکړه چی زړه می
نغواړی داسی چلند راسره وکړي لیلا
ښایی په رښتیا ته می خوښیږی ښایی هم......

آه نه پوهیږم لیلا ، په رښتیا نه پوهیږم یوازی په همدا پوهیږم که ځان راڅخه لري
کړي لیونی کیږم دا نشم زغملی چی زما د څنګ څخه تیره شی او ما ونه ویني درته
حق درکوم چی زما په اړه زر فکره وکړی .........خو باور وکړه زه بد انسان نه یم
رضوان خپل د خبرو د ویلو وروسته د ځایه ولاړشو او رازیاته یی کړه: یوازی زما په
اړه بد فکر مه کوه لیلا ، هیله کوم
او لاړي.

د رضوان د تګ وروسته د ځایه ولاړه شوم د کور خواته می حرکت وکړ. د رضوان
ټول خبری می په غوږ کی وی یعنی په رښتیا زما څخه یي خوښ راځی؟؟؟

ولی دا خبره وکړه؟ خداااایه اوس څه وکړم؟
دا بل غم..... خدای دی وکړی چی سهار راشی خپل خبری بیرته واخلی
ولی رضوان دا خبری وکړی؟ یعنی زه ورته مهمه یم؟ اووووو خدایه څه وکړم
اوس؟؟؟؟

سبا څنګه ورته وګورم؟؟
دا هلک ولی داسی خبری وکړه؟

.... رضوان ....

د لیلا څخه لرې شوم. په رښتیا نه پوهیدلم ولی می داسی خبری وکړې خو دی ته می اړتیا درلود تر څو یو چا ته وو ایم او څوک بهتره تر لیلا؟
خدایه په دی برخی کي مي یوازی مه ایږده
که سهار هیڅ راسره خبری ونکړې څه؟
که بیا ځان ناګمانه واچوي څه؟
نه بد کوی چی ځان ناګمانه واچوي باید شکر هم وباسی داسی ګل هلک لکه ما نشی پیدا کولی خو......

که لیلا بل فکر وکړی څه؟ خدایه مرسته راسره وکړه نور می عقل کار نه کوي
کور ته چی ورسیدلم خپل مور می نارې کړه، مور می راغله او وې ویل: پخیر راغلي زویه؟
ومي ویل: هو کښینه غوارم یو خبره درته وکړم
وې ویل: جان زویه څه شوی دی؟
ومې ویل: طوبا په ښوونځی کی ټولو ته ویلی چی زما نامزاده ده
مور می وویل: څه؟؟؟ ولی داسی ویلی؟

ومی ویل: نه پوهیږم پخدای ، تاسو کم کار کړی چی زه خبر نه یم؟
مور می وویل: نه زویه ، که کم کار وکړو خامخا ستا څخه پوښتنه کوو زویه صبر چی شپه دی پلار راشی زه ورسره خبری کوم دا کارونه څه معنی ....... هغه وخت مور و پلار یی یو لاس وه ویل یی نه نکیږی ښایی زموږ د لور خوښ نه شی دومره نخرې وکړی اخر یی هم وویل نه
ومي ویل: ښه تاسو خپله پوهیږی ، زه ځه درس وایم چی سبا آزموینه لرم

کوټې ته دننه شوم او ځان سره مې وویل: باید دوه نفرو ته درس ووایم لیلا ښایی درس ونه وایي ...... لیونۍ نجلی

.... لیلا ....

د کور خواته روانه شوم ، هیڅ ښه احساس مې نه درلود.
دا څه حال دي؟ څنګه ورځ ده؟ دا هلک ولی دومره غټ لیونتوب وکړ؟ صبا څنګه ورته وګورم؟

د کور دروازې ته نژدې وم چې ګورم یو څوک زمونږ د کور دروازه ټکوي. ځان سره مې وویل: اوس نو ښه شو ، هر څوک راځي
ستونی مې صاف کړ او ومې ویل: د چا سره کار لري؟
یو شل ، دوه ویشتو کالو ، ډنګر هلک مخ راواړول او وي ویل: وبخښی دا ستاسو کور دی؟
ومې ویل: هو
وي ویل: د یو نفر سره د خان شاه په نوم کار لرم
ومې ویل: پلار مې دی ، ورته ووایم چی څوک راغلی؟
څو شیبې یی راته په ځیر ځیر وکتل او وي ویل: زه د نادر زوی یم ، نادر وریجی خرڅوونکي.

ناڅاپه مې لاس او پښی بی حسه شول خو ځان مې ټینګه کړه او ومې ویل: صبر وکړی که وو ورته غږ کوم
مننه یی وویل او په تمه شو. کور کی داخله شوم او په منډه مې ځان خپل مور ته ورسول:

موررررری مووووووورررررری
مور مې په بیریدلی غږ وویل: څه شوی دی څه خبره شوی؟
ومی ویل: هغه د وریجی خرڅوونکي زوی راغلی وایي پلار دی چیری دي؟

مور می وویل: دا خو بیره نلری لیوني نجلی زما زړه دی ودروول ، زه څه خبر چی پلار دي چیری دي لاړه شه د شګوفې کوټه وګوره
خپل د کوټی څخه ووتلم او په لڅو پښو د شګوفې تر کوټی وځغاستلم بی له دی چی دروازه وټکوم په کوټی ننوتلم. خپل د ورور د کورنی سره ناسته وه او چاوی یی څښل. ټول په حیرانتیا راته وکتل
ومې ویل: پلار ....... پلار می چیري دی؟

شګوفې وویل: یو سلام واچوي بده خبره نه ده مشر خلک ناست دي یو په دوه دننه کیږی
ومې ویل: پورورې یی راغلي ، ماته د اخلاقو درس مه راکوه ژر ووایه چی چیری دي
شګوفه: په حمام کی دي اوس څه وایی چی راغلي؟
ومی ویل: نه پوهیږم یوازی وویل پلار دی چیری دي؟
نصیر وویل: صبر زه ورسره خبری کوم
ومې ویل: ته کښینه په تا اړه نلری اوس خبره خرابوي
شګوفه: خدای دی ووهه چی یو ورځ دی لکه انسان خبری ونکړه نه پوهیږم ستا مور څنګه تربیه کړې یي ، نصیره د دی لیونې په خوله مه کوه لاړشه وګوره چی څه وایی خان شاه اوس حمام ته ننوتي په ډیر سختي می اوبه ورته تودی کړی د سماور د دوده می سترګی ړندی شوی پریږده چی ځان پریوي.

نصیر دباندی ووتی او وی ویل: زه خبری کوم ته ځه کور ته.
ومې ویل: پر ما امر مه کوه زه ستا خبره نه اورم ، آ خواته شه
نصیر: پخدای ډیره بی ادبه یې.
ومې ویل: همداسی یم
دروازه می خلاصه کړه او ورزیاته می کړه: دا دی دا هلک ستاسو ځواب درکوي
نصیر: خان شاه اوس کور کی نشته که ډیر ضرور کار دي ماته ووایه زه شپه ورته وایم

هغه هلک وويل: کمه خبره نه ده زه يو بل وخت راځم چی دي په کور کي وي ستاسو په اجازه زه لاړم.
نصير ماته په کتو سره وويل: دومره بيعقله يی؟ نه وايی چی پلار می کور کی نشته؟ دا ورخطايي بيا څه ده؟ ته چی جنګ ته راغلی وو.
په لرزانده لاسو او غږ وويل: د دي کور ستونزی زما ستونزی هم دی حق لرم چی ورخطا شم.
رښتيا تاسو خپل کورته نه ځي؟ تر کمه دلته ياست؟دوي اوني شوي.
نصير په غمجن نظر يی راته وکتل او وي ويل: زه ستا کور ته نه يم راغلی او ستا څخه هم اجازه نه اخلم.

او د شګوفې کوټی ته لاړی. ومی ويل: يو سپين ږيري سړی مو پيدا کړی ښه پيسی يی مصرفوي د ده زړه هم ښه دی چی ښځه می کړی.
نه پوهيږم ولی خو اعصاب می ډير خراب وه صبا هم ازموينه لرو او زه څومره د فکري نظر نه ستومانه يم
د رضوان سره څه وکړم؟ دا خپله غټ غم دی
دا څه معني چی زه يی خوښيږم؟ ليوني هلک.
ټوله شپه ويښه وم او هڅه می کول تر څو يو څه درس ووايم. دا دوي ورځی هر څنګه چی وه تير شوه ، سبا ناوخته ځم او ژر وځم تر څو رضوان هيڅ ونه وينم خدايه راسره مرسته وکړه

د لمر ختو سره د ښوونځی په لور روانه شوم. څومره هوا ګرمه وه لاس او پښی می سستی سستی کيدل. همدا چی ښوونځی ته ننوتلم د مريم پسی وګرځيدلم پيدا می کړه همدا چی می غوښتل د هغې خواته لاړشم چی رضوان ورته نږدی شو او ورسره يي خبری پيل کړه
د يو درختي شاته ماتله شوم تر څو رضوان لاړشی
د څو شيبو وروسته رضوان لاړی او ما هم ځان په ځغاستو مريم ته ورسول
: مريم

مریم په حیرانتیا راوکتل او وې ویل: همدا اوس رضوان درپسی ګرځیدی ، راغلی وو
چی زما څخه پوښتنه وکړي
ومی ویل: مریمممم راسره مرسته وکړه
مریم: خیریت خو دی ، څه شوی دی ګرانی؟
ومی ویل: کیسه یی اوږده ده لنډه یی درته وایم
او د پرون ټوله کیسه می ورته وکړه ، هر کلمه چی می ویل د مریم سترګی او خوله
به ډیرتره خلاصه شوه

د خبرو وروسته مې وویل: اوس ووایه چی څه وکړم؟
مریم د څو شیبو فکر کولو وروسته وویل: رضوان بد هلک نه دی بی ټوکو که ماته
یی دا پیشنهاد راکړی وی بی ځنډه می منل هههههههههه

ومی ویل: لیونې شوي یې؟ د څه شي پیشنهاد؟
ډیري خبري وکړې چې زه نباید دی نادیده ونیسم بیا می ورته وویل زه دی
خوښیږم؟ څکه دا خبري د دوو عادي ملګرو خبري نه دي وي ویل نه پوهیږم ښایی.
دی خپله لا شکمنده دی
مریم: نه پوهیږم ګرانې ، اوس راځه چی لاړشو آزموینه پیلیږي بیا وروسته خبری
کوو

د ازموینې د پیلیدو سره ټولګې ته ننوتلم او بی له دی چی رضوان ته وګورم خپل پر
ځای کښیناستلم. څومره می لاسونه په دی توده هوا کی ساړه شوې وه.
لومړني کس زه وم چی خپل پارچه می ښوونکي ته ورکړه او د ټولګی څخه ووتلم،
په ځغاستو د ښوونځی د دروازی خواته لاړم چی یو ښوونکی غږ کړه: وه نجلی صبر
وکړه

ودریدلم او ومې ویل: بله ښوونکی
وي ویل: ولی ځغلې؟ څه خبره شوي؟ خیرتي ده؟
ومې ویل: هو شکر خیرتي ده ژر باید خپل ځان کورته ورسوم څکه کورنی می یو

ځای ځي بیا زه د دروازی شاته پاتیږم
ښوونکی: ښه لوری سمه ده لاړه شه خو خپل پام نیسه داسی ځغاسته درته تاوان لری که ولویږي بیا څه؟ خوږیږی لورې
ومې ویل: سمه ده مننه خپل پام نیسم
تر څو چی می غوښتل حرکت وکړم چا نارې کړه: لیلاااااااا
وګرځیدلم چی ګورم رضوان دی

الا خدا جو خپله راسره مرسته وکړه اوس څه وکړم؟
لاسونه می خوله کړی وه ښوونځی هم تش وو ځکه ټول د ازمویني په حال کی وه او زه لومړی کس وم چی د ټولګي څخه ووتلم
نږدی راغی خپل یو ورځ یی پورته کړه او وي ویل: سلام ښوونکي څنګه یاست؟
د ښوونکي سره د روغبړ وروسته یی وویل: ستاسو په اجازه موږ به لاړشو کار لرو
او زه یی د لاس د بند څخه ونیولم او کش یی کړم او وي ویل: ژر راشه ژررررر، په دا غټ توب ما څخه تښتې؟؟؟

همدا چی دې پارچه ورکړه په ځغاستو شوې ما هم ستا پسی خپل پارچه ورکړه
ومې ویل: رضواننننننننن هیله کوم داسی مه کوه ، تا نباید داسی خبري کړی وی پخدای قسم ته تیروتنه کوی ما پلار ما مړه کوی د دي کارو اجازه نلرم هیله کوم زما لاس خوشي کړه هیله کوم
رضوان: نه دي خورم ، خبري کوم درسره څو دقیقې لکه انسان په لاری لاړه شه
د پرون ځای ته ورسیدلو چی رضوان خبري پیل کړه: ښه په خلاص غوږو یی واوره ، زه ښه پوره پوهیږم چی څه ستونزې لرې او دا چی څومره قید کورنی دې ده او زه ستا څخه هیڅ نه غواړم غیر د پاملرنې. تا هیڅ زما څخه پوښتنه ونکړه چی زه څه غواړم داسی وبیریدلي چی هر څوک ووینی زر فکره کوي
ته پوهیږی چی زما په فکر کي څه دي؟

ومی ویل: نه خو هر څه چي دي ښه نه دي
په لوړ غږ په خندا شو او په خندا لرونکی غږ یی وویل: ډیره ماشومه یی
زه دی درکوم ، ستا په حال پوهیږم زما ته خوښه شوې یې او د دي هدف هم نلرم
چی تاته ازار درکړم ته پرون پوه شوي چی ما څه وویل؟ ښه پوره می درته وویل
چی زما څخه ځان مه لری کوه ، ما ووینه ځان ړنده مه اچوه یا داسی چلند مه کوه
لکه زه چی بیخی نه یم زه ستا پاملرنه غواړم لیلا

خپل د خبري څخه نه اوړم چی ته می خوښه یی خو د یو نفر خوښیدل جرم نه دی
زما نه خوښیږي چی قباد یا طوبا یا علی زموږ مینځ کی واوسي
هیڅ څوک نه خبریږي یوازی په ښوونځی کی خبري کوو ، کټ مټ په همدی ځای
کي یوازی ما څخه ځان مه لري کوه زه په رښتیا نه پوهیږم چی څه احساس درته
لرم خو په دي ښه پوهیږم چی ستا دا بی توجهی ما لیونی کوي پوهیږې؟؟؟
زه هیڅ خراب فکر درته نلرم ځکه خراب انسان نه یم پوهه شوي چي څه می
وویل؟؟
هک پک پاته وم ،دا هلک څه وایی؟

په حیرانتیا سره می وویل: په دی معنی چی ته یوازی غواړې ماسره خبري وکړې؟
رضوان: نه هههههههههه
ومې ویل: مه خانده اوس د خندا وخت نه دی یعنی څه چی نه؟
رضوان: وګوره لیلا ما د مینی هندی فلمونه ډیر لیدلي په بعضی شیانو پوهیږم ، نه
پوهیږم غواړم دي که مئین یم درباندي خو په ټول فلمونو کي هلک و نجلي ته وایی
یعنی خپل د زړه خبره کوي خو زما احساس هر څه چي دی ډیر سوچه او پاک دی ،
غواړم چی یوازی مي څنګ ته واوسئ نه ډیر تره نه لږ تره بیا په راتلونکی کی پریکړه
کوو چی څه وکړو

ډیره حیرانه شوي وم ، ومې ویل: یعنی څه چی څنګ ته دي واوسم؟
د یو ژور ساه اخیستلو وروسته یی وویل: لیونی کړی دي یم...... شپه و ورځ می په

فکر کي يې ، په ټولګي کي چي دي وينم زړه می خوشاله شي پوهيږي؟ دا احساس هر څه دی پر ما ګران دی ، دا چی ستا په اړه په فکر باندی خوشالېږم دا يادوم.
ته کم خاص کار مه کوه يوازی ماسره واوسه بيا په راتلونکی کی پريکړه کوو چی څه وکړو پوهيږم چی ستا هم زه خوښيږم

د ډير حيرانتيا سره په غټو سترګو می وويل: څههههههههههه؟؟؟؟؟؟چا ويلي؟
په خندا يي وويل: هغه ورځ د طوبا په خبري دې ولي ژړلې وه؟
ومې ويل: ځکه په سترګو کی می خاوره تللې وه
رضوان: په دواړو سترګو کي؟
ومې ويل: هو په دواړو کي
رضوان: تر دي ډيرتره راته ژاړي زه درباندي پوهيږم
حسن يوسف ته زليخا څه ظلمونه چې ونه کړل
ښايسته خلک د زړه سړو دي، که څه پېغمبران وي
ومی ويل: بااااا څومره دی ځان خوښيږي
رضوان: هو نو هههههههه
ومې ويل: زه ځم خداي په امان

رضوان: ليلا يو شيبه صبر وکړه ........ ووايه چی راسره ښه چلند کوي؟
ومې ويل: نن هيڅ د پخوانۍ ورځو سړی نه يي ..... ناروغ شوی يي که څنګه؟
رضوان: هو ناروغ شوی يم
يوه نجلي ده چی هيڅ راسره ښه چلند نه کوي په داسي حال کي چي زه نغوارم د دې يو تار ويښته لا بی ځايه شي

ومې ويل: چاپلوسي نور بس دي ، په اړه يي فکر کوم بيا درته وايم تر هغه وخته پوري ته او خدای هره شيبه زما لاره مه نيسه اخر قباد به مو ووينې
او په تلوار د رضوان څخه لري شوم. خدايه دا هلک په دا دوو ورځو کی څومره بدلون موندلی آخر ولي؟ دا خبري او کارونه يي د کم ځايه زده کړي؟ فکر کوم د

مخه یی هم زده وه مورِ ته یی نه ښودل داسي بيشرف دی هههههههه
کور ته نږدي وم چی چا ناري کړم: سلام وبخښی؟؟؟؟
مخ می چی راوګرځول د هم هغه وریجی خرخوونکی زوی وو خدایه اوس ده ته څه ووایم؟

ومې ويل: سلام ښه یاست؟
وي ويل: هو مننه تاسو ښه یاست؟
ومې ويل: مننه ژوندی واوسئ
وي ويل: ډير ستاسو وخت نه نيسم ، کورته چی ولاړاست خپل پلار ته ووايست چي يو ځل دکان ته راشي پلار مي ورسره عاجل کار لري
په غمجن توب سره مي وويل: په سترګو خامخا وايم
د (مننه ، ژوندې اوسې) ويلو وروسته لاړی. ډير بد احساس می درلود دا سړی هره ورځ راځي پلار می هم خامخا ورځخه په تښته کي دی
خدايه خپله مورِ سره مرسته وکړه

په کور چي ننوتلم مور می ناري کړم: ليلا زويه شکر چي راغلي راشه چی درسره کار لرم
وبيريدلم ..... او خدايه بيا څه شوي دي؟
ومې ويل: جان ، جان زما موري څه شوي دي؟
مور مې وويل: زويه راشه يو څه درته وايم زه خپله هم ډيره ډاډمنه نه يم خو ومی ويل يو وار تا ته هم ووايم هر څه چي نه يي زما مشره لور يې
ومې ويل: موري څه شوي دي؟ خيرتي خو ده؟
زړه مي يو رقم نا کراره وو

زهرا: هو خيرتي ده لوري زه شرميږم خو......خو داسی احساس کوم لکه چی کوچنی لرم
ومی ويل: څه؟؟؟؟؟ کوچنی لري؟؟؟؟ هههههههه هرو مرو ټوکي به کوي؟

زهرا: نه لوري څلور ځله مور شوي يم پوهيږم چی حالات می بل رقم دي داسی احساس کوم خو ډاډمنه نه یم یو میاشت باید صبر وکړم تر څو وګورو څه کیږي
ومې ویل: موووووووووووري
وګوره نه غواړم تا خفه کړم خو فکر نکوم چی ته وکولي شي کوچنی راوړې هغه تیر وار د طبیب خبري دي په یاد دي؟ بیا دا یي هم وویل چی څلویښت کلنې ته نږدي يي خامخا کمه تیروتنه شوي ده.

زهرا: زه هم وایم چی تیروتنه به شوي وي ما یوازی داسی احساس وکړ نو ومی غوښتل چی لومړی تاته وو‌ایم ، څو ورځي کیږي چي داسي یم د پیازو بوي کله چی دیګ باندي کوم راباندي بد لګیږي ، دا عادي نه دي خو خداي دي وکړي چی نه یي پخداي د ټولو رشخند ګرځم
په خندا مي وویل: هو پخداي هههههههههه هغه هم په داسي وخت کي چي ستا کوچنی نه کیدی پلار می بله ښځه وکړه هههههههههه
زهرا: غلې شه وه نجلی اوس ټول خلک په مور خبروي د خلکو رشخند ګرځم
ومې ویل: ښه ښه پوهه شوم
شپه د ډوډي خوړلو وخت کي سهیلا خپل د ازمویني په اړه خبري کول چی څنګه یي نقل کړی او ښوونکي هم ګیره کړي وه ، مور ټولو خندل
ومې ویل: موري راشه ډوډي وخوره

مور مې وویل: زړه مي نه کیږي زویه ، تاسو يي وخورئ بیا زه به یي وروسته وخورم
ومې ویل: بس هر څنګه چي دي خوښه ده
او لوښی مو کوټی ته راویستل. همدا چی د شوروا کاسه می په ځمکي پریښودل او بوی یي په کوټي کي خپور شو زما د مور خوا وګرځیدله او د کوټی څخه ووتله.
حمیرا وویل: لیلا مور په مور څه شوي دي؟ ناروغه ده؟
خندا نیولي وم. په همغه خندا لرونکي غږ سره مې وویل: هو خو د اندیښنې خبره نه ده تاسو هم چاته څه مه وایست معلوم به شي ههههههه

حمیرا: لیلا لیونۍ شوې یې؟ مور مو ناروغه ده او ستا خوله د خندا څخه نه ډولیږي؟
ومی ویل: کرار لیوني نجلی ، اوس ډول خبروي غږ دي مه پورته کوه پر وخت یي بیا خپله پوهیږي

حمیرا په حیرانتیا راته وکتل او وروسته یي وویل: ښه ...... هر څه چی ته ووایي ما هم خپل په زړه کي زیاته کړه: خداي دي همغه وکړي چي زموږ په خیر وي

ومې ویل: ژر نجونو راشئ ډوډي وخورو چی بیا سړیږي

رضوان

د څو ساعت درس ویل وروسته می سر درد نیولی وو لاړم سرای ته تر څو یو څه تازه هوا تنفس کړم چی ګورم ورور می یوازی په سرای کی ناست دی، یو کتاب یی په لاس کی دی او د لمپي د روښنايي لاندي يي وايي.

ومي ویل: خیرتي ده؟ ورځ چیري یي چی شپه کتاب لولئ؟

په خندا یی وویل: د شعر کتاب دی ، خپل د ټولګیوال څخه می واخیستی

پوښتنه مي وکړه: د څه شي شعر؟

اجمل: د مینې شعرونه..... هم شعرونه لري هم کیسې لري

ځان سره می وویل: دا دی پخدای ته دی وګوره د مینې شعرونه وایي

او ده ته مي وویل: ښه ډیر ښه ښه دی چي بیکاره نه یي

وګرځیدلم کورته لاړشم چی یو وار مي په یاد شو د مینې شعرونه؟؟؟ زما خو سخت په کار دي

بیرته وګرځیدلم او غږ می کړه: وروره؟؟؟

اجمل: ها؟ کرار چیغي مه وهه

ومي ویل: دا کتاب مي په کار دی

اجمل: ته یی څه کوي؟ لاړشه خپل درس ووایه

بیا مي وویل: یو وار یي راکړه یوازی یو ورځ مي په کار دی خلاص

راته یی وکتل ، خپل یو ورځ یي پورته کړه او وي ویل: څه په کوي؟

ما هم چي دی پیژندی، په بیره مي وویل: یو مقاله لیکم چي شعر ورته په کار دی ،

خپل کتاب راکړه ورځه بیده شه څه تر دي وخته ویښ ناست یي؟
کتاب یي زما خواته وغورځول او وي ویل: سهار مخته تر دي چي ښوونځی ته لاړشي د کړکي څنګ ته یي پریږده چی په کار مي دی
ومي ویل: سمه ده په سترګو
کتاب می واخیستي او سرلیک می ولوستی لیکلي وه: ورقه او ګلښاد
پوښتنه می وکړه: د مینې په اړه دی نو؟
اجمل: هو د دوو مئینانو کیسه ده

ومي ویل: ځومره ښه زه باید دا ولولم، اجمله د څو ورځو د پاره دا راته په پور راکړه
اجمل وویل: سمه ده خو پام نیسه چی خراب یي نکړې ځکه زما نه دی
ومي ویل: سمه ده خپل پام نیسم
او ور زیاته مي کړه: رښتیا اجمل؟؟؟؟
وي ویل: بیا څه وشوه؟
ومي ویل: ته دا کتاب څه کوي؟ نه چي مئین شوی یي؟
په خندا یي ځواب راکړ: زما یي په مینې او مئینتوب څه؟ ملګرو ډیر ستاینه یي کول نو ما هم وویل یو ځل یي ووایم چي څنګه دی
ګران دی د ایرانه یي راوړی خراب یي نکړې
ومي ویل: سمه ده خپل پام نیسم
شپه تر سهاره مي کتاب ولوستې او څه یو ښه احساس مي درلود. هیڅ پوه نشوم چي څه وخت سهار شو

د سرو سترګو سره د ښوونځي په لور روان شوم او ځان سره مي وویل: دا کتاب خپل د خوا څخه لیلا ته ورکوم تر څو وې لولئ

..... لیلا ....

په ټولګي کي وم چي رضوان دننه شو دواړه سترګي یي سره وه زړه مي یو وار په ریژدیدو (لرزیدو) شو خدایه په ده څه شوي؟

همدا چي خپل پر ځاي کښيناستی غوښتل مي چي ورڅخه لاړه شم او پوښتنه يي وکړم چي ښوونکي راغی. آزموينه پيل شوه خو زما سترګي په رضوان کي وه چي په ده څه شوي دي؟ ژړلي دي؟ نه نر دی نه ژاړي
نو څه په شوي دي؟
مريم کرار وويل: وه نجلي
ومی ويل: جان
مريم: سترګې دي چيري نيولې دې؟ څه خبره شوي؟ ژر پوښتنې ځواب کړه چی ناوخته دی

ومې ويل: وګوره د رضوان سترګي څنګه سرې دي ، ستا په نظر ژړلي به يي؟ يعنی زما د پاره يي ژړلي؟ بيچاره ډير مي زړه ورباندی وسوځيدی
مريم قلم خپل په خولي کي نيولی وو او زما خبري يي اوريدل همدا چي دا خبره مي وکړل خندا ونيوله
ښوونکي وويل: څه خبره شوي؟
ازموينه ده که رشخندي چی خاندي؟
مريم په بنده ژبه وويل: زه......زه...... ښوونکي...
ښوونکي وويل: څه؟ يو ځل بيا وخاندي پارچه دي درڅخه اخلم
مريم سر ښکته واچوی او د (سمه ده ښوونکي په سترګو) ويلو سره خپل پر ځاي کښيناستله.

رضوان خپل مخ زمونږ خواته واړوی تر څو وګوري چي څه شوي دي. د سترګو د کتو سره مي لاسونه او پښي ساړه شوي او د بی حالي احساس می وکړ.
خدااااايه خامخا يي زما د پاره ژړلي دي ، بيچاره يعنی په رښتيا راباندي مئين شوی؟ وي خدايه

زه دي مړه شم ، دی څومره ما غواړي
په همدا وخت کي مريم وويل: وه مئينې ژر پارچه حل کړه څه سترګي دي برګي

ورته نیولي دي ، لیونۍ شوې یې؟ اوس پارچې ټولوي
ګورم چې رضوان خپل پارچه ورکړه ما هم ژر خپل پارچه ورکړه او د ټولګي څخه ووتلم. د دروازې څخه لرې شوی وو چې غږ مي کړه: رضواااااانه صبر کار لرم درسره
ودریدی او د یو ښایسته مسکا سره یي وویل: سلام
ومې ویل: وعلیکم السلام
خپل د خولې اوبه مي تیرې کړې. سترګې یې زما زړه ټوټې ټوټې کړې
ومې ویل: زما د پاره دي ژړلي؟ ولي دي ژړلي؟
رضوان لومړی په حیرانتیا راوکتل او وروسته یي وویل: هووووو ډیر می ژړلي وه نږدې وو چې ړوند شم ، تا څه راسره کړې لیلا؟

ومې ویل: ته نر یې ، نارینه خو نه ژاړې یعني دومره ما غواړې؟ پخداي نه پوهیدلم وایي مینه چې سپيڅلي یې د سترګو څخه اوښکي تویېږي،پرون دي زه باید قانع کړی وی چې دومره ما غواړې
رضوان یو په دوه په لوړ غږ په خندا شو او وې ویل: خداي دي تا ونه وهي هههههههههههههه د څه شي ژړا؟ برایي مي کتاب لوستل ډیر په زړه پوری وو هیڅ پوه نشوم چی کله سهار شو ومي کتل چې سترګې مي سرې شوي دي بیا مي وویل تر شپي پورې ښه کیږي هههههههههه

کله چي رضوان وویل چي نه دی بیده شوی او کتاب یي لوستل دومره خپل د خبرو څخه وشرمیدلم چي بیخي په ځمکه ننوتلم

د څنګ څخه یي تیریدلم چي وي ویل: صبرررررررر چیري ځې؟
ومی ویل: خبرې مه کوه هېڅ مه وایه
خپل قدمونه مي ژر ژر کړل تر څو ورڅخه لرې شم چی ځان یي راته ورسول او وي ویل: خیر دی اوس مه شرمیږه ههههههه بی د هغه هم زه دی غواړم
لیوني نجلي

یو وار ودریدلم او ورته په کتو شوم چی بیا یي وویل: هووو ډېر خپل سترګي مه راباندي باسه ، واخله دا کتاب ولوله
د میني کیسي او شعرونه دي برایي مي همدا ویل چي بیده نشوم خو ډېر ښه کتاب دی داسي فکر وکړه لکه چي زما د زړه خبري دلته لیکل شوي دي
د ده د خبرو وروسته می یو عجیب احساس پیدا کړ ،هم شرمیدلم هم بیریدلم.
کتاب مي د لاسه واخیستل او ومې ویل: سمه ده لولم بیا یي درته راوړم
رضوان: سمه ده ډېر پام کوه چي خراب نشي د اجمل کتاب دی.
سر مي ښکته واچوی او ومې ویل: سمه ده ، زه لاړم خداي په امان
او حرکت مي وکړ چي غږ یي کړه: کله چي شرمیږي لا سره توب دي ډېریږي ته هیڅ مه شرمیږه بدرنګ جانې

بی له دي چي ځواب ورکړم د کور خواته وځغاستلم او کتاب مي هم ټینګ په غیږ کي ونیوی.کله چي کور ته ورسیدلم ومې لیدل چي نصیر او کورني یي د خداي په اماني په حال کي دي چي بیرته ځي مزار ته.
د څنګ څخه یي تیره شوم او یو کلمه مي هم ونه ویل چي شګوفې غږ کړه: یو خداي په اماني وکړه چی میلمانه ځي د خیره
ومې ویل: د څه شي میلمانه؟ دوي بیخي د کور مالکان ګرځیدلي وه په خیر دي لاړشي په ما یي څه؟

نصیر راته وکتل او وي ویل: عمه جانې موږ د داسی خلکو خداي په اماني ته هیڅ اړتیا نلرو د خداي په امان موږ لاړو
د دوي د تګ وروسته شګوفه راغله او وې ویل: یو ورځ نه یو ورځ خپل د دي بي ادبي ځواب به ورکوي ته صبر چي پلار دي راشي
نه پوهیږم پلار دي دا څو ورځي چیري دی یو دوه ساعته راځي ډوډې خوري او بیرته ځي
ومې ویل: بل کار خو نلري ماتله یو چي پلار مي راشي بیا یي غوږونه ډک کړې

ليلا بی ادبي کړي
بي نزاکتي کړي

دا څوک نه کوي او زر خبري نور.
شګوفې راته وکتل او غږ يي کړه: زهرااااااااا وه زهرااااااااا
ته خو بده ښځه نه معلوميږې ليلا دي چاته ورکړي وه چي تربيه ورکړي؟
ځواب مي ورکړ: ته زما په تربې کار مه لره سر دي خپل په کار کي ونيسه بس
ما ، ما د پلار څخه لا نشي بيرولې هغه خپله د ښتني په حال کي دی ، ستا د خوبونو
شهزاده اوس په پور کي ډوب دی همدا نن سبا کي دي بيرته استوي ځکه چي زما
پلار نه يي ستا خرڅ هم نشته بايد همدا اوس خپل د کورنی سره تللی وی
شګوفې په خلاصو سترګو د حيرانتيا راته کتل چي ما ورزياته کړه: هو مه حيرانه
کيږه رښتيا همدا دي چي ما وويل چي ما پلار نه يي وچه ډوډي هم نلري
کور ته دننه شوم او د کړکي څخه مي وليدل چي شګوفه اوس هم حيرانه خپل پر
ځاي ولاړه ده او ځمکي ته ګوري

زما د مور خبره دې هم ډير بخت نه دی ګټلی خو څه په ما يي څه
د هغه کتاب لوستل مي پيل کړل چي رضوان راکړی وو. د دوو کسو د مينې کيسه وه
چي په عربستان کي ژوند کول او د لس کلني څخه پر يو بل مئين شوي وه
هههههههه په رښتيا يعني څوک په لس کلني کي هم مئين کيږي؟ خدايه خپله دوي
ته عقل ورکړه
د کتاب لومړنی شعر دا وو:
غم عشق در هر دو دل کار کرد
مر آن هر دو را زار و بيمار کرد
گل لعلشان شد به رنگ زرير
که سيمشان شد چو تار حرير
واه واه ډير ښه

په همدي وخت کي سهيلا وويل: وه نجلي؟
ومې ويل: ها څه وايي؟
سهيلا: ته سبا د ورقه او ګلښاد کتاب آزموينه لري څه بلا؟
په خندا مې وويل: نه خو دا کتاب امانت دی باید بیرته یي ورکړم همدي د پاره نن شپه یي باید ټول ووایم
سهيلا: د څه شي په هکله دی؟
ومي ويل: د میني کیسه ده هههههه

سهيلا: راکړه چي وي ګورم
خپل په لاس کي ونیوی او وې ویل: ویش عجبه ښه بوي لري
ومې ويل: هو د کتاب صاحب همداسي عطر وهي نو بوي يي په کتاب هم پاته شوی
سهيلا: د هغه عطرونو څخه چی د فاطمي مور وهي؟
ومي ويل: نه دا کتاب د ایرانه راغلی دا د هغه ښه عطرونو څخه دی معلومیږي چي د ښه پیسه داره سړي کتاب دی
سهيلا: اووو بيشک
ومې ويل: رایي کړه نو
او لوستل مي پيل کړل په رښتيا هم په زړه پوره کیسه یي درلود
..
..... رضوان ....

د ښوونځي څخه د کور په لور روان وم چي اجمل مي په لاره کي ولید. وي ویل: وه هلکه جمعي ته مي په سینما کی ټکټ اخیستی
ومي ويل: چیري؟
اجمل: د بریکوت سینما
ومي ويل: ښه ډیر ښه ځو دخیره
اجمل: کتاب دي څه کړ؟ نه په کور کي وو او نه هم اوس دي په لاس کي دی

ومي ويل: تا نه دی لیدلی په کور کي مي پریښی بیا یو دوه ورځي یي ماته راکړه بیرته یي درته درکوم

اجمل: مخصد زما نه دی خراب یی نه کړي جوړ یي راوړي
ومي خندل او په زړه کي مي وویل: هیڅ نه یي خبر چي کتاب چیري چکرونه وهي او ده ته مي وویل: ښه سمه ده

.... لیلا .....

تر نیمي شپي مي کتاب وویل په رښتیا چي ډیر ښه کیسه یي درلود. که د رضوان د خوا یي وواېم ډیر مینه ناک وو
دا هلک ځان سره څه فکر کړی چی دا کتاب یي ماته راکړی؟ څومره لیونی دی
پخداي سهار وختي په مسکا سره تیاره شوم تر څو ښوونځي ته لاړه شم چي دروازه وټکیدله. دروازه مي خلاصه کړه او د وریجي خرڅوونکي د زوي په لیدو د بیري څخه یو متر وپریدلم چی په خندا یي وویل: وبخښی نه مي غوښتل چي تاسو وبیروم

د څو ژور ساه اخیستلو وروسته مې وویل: مهرباني وکړئ څه مو ویل؟ پلار مي کور کي نه دی بیا دا څو ورځي یوازي راځي حمام کوي کالي بدلوي او بیرته ځي
وي ویل: ښه کمه خبره نه ده، ما فکر کول چي سهار وختي به یي ګیر کړم
ومې ویل: یوه پوښتنه وکړم؟
وي ویل: مهربانی

ومې ویل: پلار مي څومره پوروړی دی؟
په خندا یي وویل: موږ د دباندي خبري سیا سرو ته نه وایو
یو څه زور یي راکړ ، بیا مې وویل: دا کور یوازي یو نر لري نور ټول سیا سري دې زما په نظر دا بهتره ده چي راته وواېست پلار مي څو پوروړی دی تر څو پوه شو کیږي یو چاره وکړو که نه؟

سر تر پایه یي راته وکتل او پوښتنه یي وکړه: د څو کالو يې؟
ومې ویل: شپاړلس څو وخته وروسته د اولسو کیږم ، ولي؟
وي ویل: ښه په څوم ټولګی کي يې؟

ومې ویل: ستاسو پوښتني زما د پوښتني سره څه تړاو لري؟
وي ویل: ځکه کوچني یي د دي کارو د پاره
ومې ویل: کم کارونه؟
په مسکا یي وویل: دا راته ووایه هر کله چي یو څوک د دروازي شاته ستا د پلار لیدو ته راځي ستا پلار تا رالیږي تر څو ځواب ورکړې؟
دا چي وایي ماته ووایه یعني ته پور ادا کوي؟ څنګه یي ادا کوي؟
هر کلمه چي د دي هلک د خولي څخه ووتل زه یي ډیره په غوسه کړم
ومې ویل: هره نجلي خپل د مور و خور سره مه برابروه بي نزاکته
ته فکر کوي چي زما پلار په کور کي دی نه راځي او ما رالیږي؟
توف ستا په شرف باندي! حیف د انسان د کالو چي ستا په وجود کي دي
د لاسه مي ونیوی او ومې ویل: راشه ..... راشه د کور دننه وګوره که زما پلار دي پیدا کړ زه ځان مړه کوم

خپل لاس یي زما د لاسه کش کړ او وي ویل: لازمه نه ده
ومې ویل: بیا خپل خوله بی فکره مه خلاصوه پوه شوي؟
د ښهري څخه دي هیڅ نه معلومیږي چي داسی بی ادبه انسان به یي
او د سرای دروازه مي تر حده چي کیدل کلکه وتړل چي د غږ څخه یي خپله وبیریدلم. د دروازي شاته کښیناستلم ، زړه مي د ده د خبرو څخه ډیر بد شوی وو
یو انسان څنګه کولی شي چي دومره بي نزاکته شي؟ څنګه یي دا خبره وکړه؟ لعنتي ګورم چي سهیلا راغله او وې ویل: څه شوې؟ کله چي وتلې یي تر اوسه نه یي تللې؟
سهیلا ته مي وویل: د دي وروسته کي دروازه وټکیدل ته یي خلاصه کړه سمه ده؟
سمه پوهه نشوه بیا یي وویل: ښه سمه ده خو څه شوي؟
ومې ویل: هیڅ نه دي شوي

د دروازې د سورې څخه مې وکتل څوک نه وو. د کوره ووتلم او ښوونځي ته لاړم.
په ټولګي کې ناسته وم چې مریم راغله او وې ویل: څه خبرې دي؟درس دې ویلی که خپل غږ یې ښکته راویستی او دوام یې ورکړ: د رضوان د مرستې په تمه ناسته یې؟
ومې ویل: هو زړه دې جیمې ښه پوره درس مې ویلی
او په زړه کې مې وویل: د څه شي درس؟ ما مینه ناکه کیسه ولوستل. تاریخ بی د هغه هم اسانه دی.

ښوونکې ننوتی خو رضوان رانغی. یووووو دا هلک څه شو؟
ازموینه پیل شوه دا دی چی رضوان راغی ، خوله یې کړې وه ښکاره وو چې په ځغاسته راغلی. ماته یې وکتل مسکا یې وکړل او خپل پر ځاې کښیناستی په همدې شیبې کې مې سترګه په طوبا ولګیدله چی مستقیم یې ماته کتل د کتو څخه یې وبیریدلم او ژر مې سر ښکته واچوی
ځان سره مې وویل: دا نجلې هم خپل په کتو سره ما خورې
شل دقیقې تیرې شوې وې چې ما خپل پارچه ورکړه فکر مې کول چې رضوان هم زما پسې وځي خو ونه وتی. ځان سره مې وویل: خامخا یې پوښتنې نه دي حل کړې

کرار کرار د وتلو په حال کې وم چې نارې کړه: وه سرې
بی له دې چې خپل مخ واوړم ومې ویل: مرګګګګګګګ سرې
راته نږدې شو او وې ویل: څو دقیقې صبر نشې کولې؟ همداسې سر ښکته اچوی او ځې ، راکړه د اجمل کتاب چې په ډیر ویلو یې لیونی کړم
رښتیا ودې لوستل؟
ومې ویل: هو ومې لوستل بد نه وو
وې ویل: څه؟؟؟؟بد نه وو؟؟؟ تر ټولو غوره کیسه وه چې ما خپل په عمر کې لوستلې ده

ومې ویل: ښه اوس یې واخله چې زه ځم
رضوان: صبر یو څه مې درته راوړې ، سهار په کوڅه کې ودریدلم چې ټول رانوځې

بیا زه دننه شم او ووایم چي ناوخته شوی ژر دننه شم چي تلاشي مي نکړي
په حیرانتیا سره مې وویل: غیر قانوني څه دي راوړي څه بلا؟
په خندا یي وویل: نه راشه وي ګوره
د رضوان شاته روانه شوم د ټولګیو شاته چي ورسیدلو د یو کاڼي د شا څخه یي
رادیو راویستل او زما په لاس یي راکړ
ومې ویل: راډیو؟ دا دي ماته راوړي؟
رضوان: هو ، زده دي چي څنګه ځیني کار واخلي؟
ومې ویل: هو فاطمې دوي یو دانه لري

د ډیره خوشالیه نه پوهیدلم چی څه وکړم
وي ویل: هر کله چي خفه وي پکي سندري واوره
ومې ویل: منننه ، ډیره مننه
بیا مي ورزیاته کړه: دا ډیر ګران دی ، په څو دي اخیستی؟
رضوان: موږ په کور کي دري داني لرو یو دانه مي تاته راویستل
بیا مي ورڅخه مننه وکړه او ومې ویل: یو څه ووایم؟
رضوان: هو ووایه څه دي په زړه کي پاته نشي
ومې ویل: ته هغه وریجي خرڅوونکي ښه پوره پیژني؟
رضوان: څوک؟ هغه چي ستا پلار ته یي پور ورکړی؟
ومې ویل: هو همغه یادوم

رضوان: هو زامن یي پیژنم ، خپل یي بیا زما پلار پیژني
ولي څه شوي دي؟ د پیسو پسي راغلي که څنګه؟
ومې ویل: یو زوي یي نن زموږ د کور مخته راغلی وو ډیر خرابي خبري یي ماته
وکړي
رضوان په حیرانتیا وویل: څه یي وویل؟
ومې ویل: ما ورڅخه پوښتنه وکړه چي پلار مي درڅخه څو پوروړی دی؟ وایي ته
یي پور ورکوی څنګه یی پور خلاصوي؟

فکر کوي هر ځل چي راځي زه دروازه خلاصوم زما پلار ما رالیږي
رضوان فکر یوړ او وروسته د څو شیبو یي وویل: ډیره خرابه خبره یي کړي د څو کالو معلومیدی؟
ومې ویل: شل ....دوه ویشت ولي؟

رضوان: ګوره زامن یي ډیر با ادبه او دینداره هلکان دي
مشر یي جمال دی کشر یي جلال
جلال د یو ویشتو کالو دی خامخا هغه راغلی خو هغه هیڅکله یو ښځې یا نجلې ته سپکه خبره نه کوي څنګه یي تاته داسي خبره کړي؟
ومې ویل: نه پوهیږم ، زه یي خو نه پیژنم
رضوان: یو خبره مي په فکر کي وه نږدی وو د یاده مي ووځي چي پوښتنه وکړم لیلا وریجي خرڅوونکي همداسي چاته پیسي په پور نه ورکوي په سود یي ورکوي چي میاشت په میاشت یي واخلی او هغه کس هم باید کارګر یي یا ځمکه ولري یو غریب انسان ته پیسي نه ورکوي څنکه او په څه حساب یي ستا پلار ته پیسي ورکړي؟

ومې ویل: پخداي نه پوهیږم حتي خبره لا نه یم چي پور یي څومره دی
د یو خوا خفه وایم چي په ما اړه نلري د بل خوا خفه مي زړه ډیر نارامه دی
رضوان: څه خیر دی خداي دي خیر کړي
رښتیا یو بله خبره مي کوله هههههههه
ومې ویل: څه؟
رضوان: اخر دي زما ځواب رانکړ
ومې ویل: د څه شي ځواب؟
مسکا یي پر شونډو وچه شوه

وي ویل: هغه ورځ دې وویل چي په اړه یي فکر کوم هیر دي کړه؟
ومې ویل: اوو خدایه زه وایم چي اوس به څه ووایي

پرېږده ته و خداي  د دي خبرو شا مه نیسه ، ته لیونی شوی یي
رضوان: هو لیونی شوی یم ، اوریدلي دي نه دي چي وايي:
بی ساغر و پیمانه و دلدار نشاید
پیمانه بباید زد و تردید نباید
بر دلبر دیوانه بگوئید بیاید
دیوانه چو دیوانه ببیند خوشش آید

ومې ویل: هههههههههه زه دي هم لیوني وایستلم؟
رضوان: هو لیونتوب ښه دی راځه چي یو ځاي لیونیان واوسو
ومي ویل: ههههههه څه ښه توب لري؟
رضوان: وګوره کله چي لیونی واوسي هیڅ څوک دي په کار ، کار نلري حتي که په ځړک یا د خلکو مینځ کي نځا هم وکړي څوک درباندي کار نلري وايي پرېږده یي خداي هغه آزاده پریښی موږ څه کار په ولرو نو راځه چي لیونیان واوسو په داسي ځاي کي چي ټول ځان هوښیاران نیسي کله کله داسي فکر کوي چي تر نورو ډېر تره عقل هم لري ، راځه چي زه او ته لیونیان واوسو
په خندا مي وویل: لیونیان واوسو؟
رضوان: هو

ومې ویل: څنګه یعني وایم څه رقم؟
راډیو یي زما د لاسه واخیستله او وي ویل: راکړه چي درته یي وښیم خلک څنګه لیونیان کیږي هههههههههه
شاوخوا یي وکتل چي څوک نه یي ، راډیو یي روښانه کړه
همداسي موج یي بدلول تر څو په یو سندري برابر شو
وي ویل: راځه چي نځا وکړو
ومې ویل: څه؟؟؟ په ښوونځي کي؟ څوک به مو ووینې بیا ما نځا نه زده
رضوان: څوک یي ویني؟ ټول د ازموینې په حال کي دي لومړي کسان موږ ووتلو ، ولاړه شه نو

سخته خندا نیولې وم وروسته ولاړه شوم او ومې ویل: رضوانه
څواب یې راکړ: جان ووایه
ومې ویل: په رښتیا ما نڅا نه زده هههههههه
رضوان: هیڅ خبره نه ده ما هم نه زده خو راشه په همدا تازه او ښه هوا کې ځان وښوروه
نڅا مې پیل کړه ، ډیر راته جالب ښکاره شو. په عمر کې مې داسې کار نه وو کړی.
رضوان هم نڅا کول لاسونه یې خپل دوه خواته نیولي وه او میده میده ناڅیدی.
هم خندا نیولې وم هم خوند یې راکړې وو.
رضوان وویل: کټ مټ زما د انا په شان نڅا کوې د هغې خو ملا درد کوې په تا څه شوې؟ هههههههه

ومې ویل: خدای دې ونه وهه خو نه مې زده هسې انسان خیله کوي
او دواړو یو ځای وخندل چې یو چا وویل: هلته څوک دي؟ څه کوی؟
د غږ څخه یې دومره وبیریدلم چې چیغې مې ووهل. رضوان راډیو واخیستله او وې ویل: راشه ژر
او په ټول قدرت سره وځغاستلو
ومې ویل: پخدای ګیر یې کړو ، دا څوک دی؟
رضوان همداسې چې راډیو یې تر بغل لاندې وه په خندا یې وویل: د ښوونځی نګهبان دی سپین ږیری دی موږ نشي ګیرولی یوازې ژر وځغله ژررررر
دومره بیریدلې وم چې په تلوار ده ښوونځې څخه ووتلو او یو کوڅې ته ننوتلو.
دومره مې وخندل چې ګردې مې درد نیولې وې
د دیوال د کنج څخه مې وکتل او ومې ویل: دا دی بالا زموږ شاته رانغی
رضوان خپل لاسونه یې خپل په ځنګونونو نیولي وه او ولاړ وو ، وې ویل: ودې لیدل؟ چې لیونتوب څومره خوند لري؟

په خندا مې وویل: هو پخدای نږدې وو چې بیابه شو
رضوان: خو په لومړی کې خپل سختیانې لري وروسته بیا درته عادي ګرځې

.... رضوان ....

ليلا د خندا نه شنه وه او تر نور وختونو دوه برابره سره شوې وه. په رښتيا چي دا نجلي ډيره جذابه وه حتي که سره واوسې.
ليلا وويل: رضوانئن؟
ومي ويل: جان؟
راته يي وکتل او وي ويل: پوهيږي چي څومره ښه انسان يي؟
ومي ويل: هو ډير ښه انسان يم خداي مي دي وساتي
پر اوږي يي ووهلم او په خندا يي وويل: نه ته بايد ووايي زه ښه نه يم چي بيا زه ستا تعريف وکړم

ومي ويل: څه توپير لري؟ ښه ، ښه دی څه ته تعريف وکړي څه زه
ليلا: ښه ښه زه بايد لاړه شم
ومي ويل: تر يو ځايه راځم درسره
ليلا: نه رضوانه بيريږم چي څوک مو ووينې بيا څه ځواب ورکړم؟ همدا چي په ښوونځی کي هم يو بل ويني بيروونکی دی په کوڅه کي مي يوازي پريږده
ومي ويل: هر څنګه چي خپله خوشاله يي ګراني
ليلا بد بد راته وکتل او وي ويل: څه خبره ده د سهار څخه تر اوسه جان و قربان وايي؟ سپين سترګی شوي يي څه بلا؟

په خندا مي ځواب ورکړ: ولي؟ که نغواړي درته نه وايم ځم طوبا ته وايم بي د هغه هم ورباندي ګران يم
د ليلا خندا بنده شوه او وي ويل: هيڅ درسره خبره نه کيږي ، زړه دي هر څه چي ناري کوي ، ناري کړه زه کم ستونزه نلرم
ومي ويل: ښه داسي دی نو راځه چي لاړشو سره جانې
ليلا: نه نو هر څه بی د سره ، ښه پوهيږی هم چي په دي خبري حساسه يم
په خندا مي وويل: ښه سمه ده نه وايم راځه چي لاړشو

لیلا چپه خواته لاړه زه هم مستقیم لاړم. باید خپل د پلار دکان ته لاړشم او د نادر او د هغه د زوي په هکله ورځخه پوښتنه وکړم چي څه یي په فکر کي دي.

.... لیلا ....

د راډیو د درلودلو سره دومره خوشاله شوي وم چي احساس مي کول چا ټوله نړۍ ماته راکړي ده. خپل په غیږ کي مي ښه کلکه ونیوله او د ډیر خوشالي څخه هیڅ پوهه نشوم چي څنګه کورته ورسیدلم. کورته دننه شوم چي زلمی کاکا مي ولیدی. دی ولاړ وو او مخته یي هم زما پلار. خپل د پلار په لیدو سره مي وویل: پلاره یو څوک دی هره ورځ راځي ستا پسي ګرځي ته یي په کار یي
پلار مي په یو غمجن انداز راوکتل او وي ویل: پوهیږم ته لاړه شه کورته زه ستا د کاکا سره خبري لرم

فکر مي درګیره شوی وو غوښتل مي پوښتنه وکړم چي څو پوروړی دی چي پلار مې په لوړ غږ وویل: تاته وایم کڼه یي؟ځه کورته.
وبیریدلم. په بیریدلي غږ مي وویل: ښه دا دی لاړم

خپل کوټی ته ننوتلم ، مور مې یو کنج کي ناسته وه او په غمجن نظر یي دباندي کتل هیڅ زما راتګ باندي پوهه شوي نه وه
پوښتنه مي وکړه: سلام موري څنګه یي؟ خیریتي ده؟
مور مي راته وکتل او وي ویل: خیریت نور زموږ کور خواته نه راځي لوري
ومې ویل: خداي دي ونکړي ، ولي څه خبره شوي؟
مور مې وویل: ستا پلار کور یي په ګرو ایښی پیسی یي اخیستي
همدا چي دا خبره مي واوریدل لاسونه مي بی حسه شول ، لږ پاتي وو چي راډیو ولویږي ، بیرته مي ټینګ ونیول او لاړم خپل د مور څنګ ته کښیناستلم او ومې ویل: رښتیا وایي؟ همدا کور چي اوس پکي ژوند کوو؟
زهرا: هو زویه ، منګه موږ بل کور هم لرو چي ته دا پوښتنه کوي؟ واخیستل موږ ټوله یي بدبخته کړو

پوښتنه مې وکړه: موري اوس پیسي یي څومره دي؟
وې ویل: نه پوهیږم څو لکه دي تر څو چي مي خپل غږ وایستي چي ولي او څنګه بیابه بیابه یي کړم ، څه ووایم نو لوري

د دي وروسته په کوڅو کي د خیمو لاندي یو، کاکا دي هم معلوم دی چی مرسته نه کوي هغه دی وګوره چي څنګه په غمجن نظر ستا پلار ته ګوري
ومې ویل: موري نو په پیسو یي څه کړې دي؟ یو غران لا یي په جیب کی نشته
وې ویل: مزار ته چي تللی وو په یاد دې دي؟
ومې ویل: ښه؟

وې ویل: یو څه یي د شګوفې په ولور کي ورکړې نور یي هم قمار وهلي چي دوه چنده یي کړې اخرم واخیستل ګرده یي د خاورو سره یو کړل
هره خبره چي مي مور کول زه بی حال تره کیدلم حیرانه پاته وم چي څه ووایم؟
په حیرانتیا مې وویل: اوس دا هلک چي هره ورځ راځي وایي کور خالي کړئ؟
مور مې ځواب راکړ: نه پوهیږم ته صبر چي پلار دي راشي ووایي چي څه خبره ده خامخا یي نن په کوځه کي د غاړې نیولی چی اوس د زلمی سره مشوره کوي
لومړی واخلي کار خراب کړي بیا اخر کي راځي مشوره کوي دا مشوره هم یواځي د ده د ادې په درد خوري خلاص
زلمی چی خان شاه مړ شي کفن لا ورته نه اخلي د کور پیسي خو لا لري خبره ده یو ژوره ساه مي واخیستله او شاته مي تکیه وکړه چي مور مي پوښتنه وکړه: په لاس کي دي څه دي؟

ومې ویل: راډیو ده
وې ویل: دا دي د کم ځایه کړ؟ ګران هم دی
ومې ویل: دا مریم راته راویستل ته یي پیژني نو پلار یي په راډیو کلیک کي کار کوي په کور کي راډیو ډیر لري یو دانه یي ماته راویستل
په همدي وخت کي مي پلار د زلمي کاکا سره په کوټې ننوتل. شګوفه یي هم نارې

کړه. پلار مي خبري کول پيل کړه او وي ويل: نه پوهيږم څه وکړم خو يو کار دی چي شوی دی

د زلمی سره ځو يو څلور مياشتی يا ډير تره که وخت يي راکړ ، وخت اخلو چي په دا وخت کې حداقل نيمايي پيسي ورکړو تر څو مو د کوره ونباسئ
وګورو چي څه کيږي دعا وکړی چی وي مني
ومې ويل: همدا نيمايي پيسي د کم ځايه کوي؟
وي ويل: ځم سفر ته څو واره بار ورم ، تر يو لس مياشتو يي پيسي جوړيږي
مور مې وويل: تا کله د هغه کار څخه پيسي ګټلي؟ تل تاوان تل نقص ، چي تر دغه مو بدبخته نکړي

پلار مي ځواب ورکړ: تر دي ډير تره نه بدبخته کيږي زړه دي جيمي ، زه خپل هڅه کوم وګورم چي څه کيږي لاس پر لاس پريښودل څخه هم شی نه جوړيږي
زلمی کاکا وويل: ښه خبره ده زه ځم کور ته کالي اغوندم ته هم ځان تيار کړه همدا اوس ځو وګورو چي څنګه کيږي

د زلمی د وتلو وروسته ، شګوفه او پلار مي هم د وتلو په حال کي وه چي مور مي غږ کړه: خان شاه؟ ته يو وار راشه کار درسره لرم
پلار مي بيرته وګرځيدی ، شګوفې چی زما د مور غږ اوريدلی وو هغه هم راغله
مور مي وويل: کښينه مهمه خبره ده
پلار مي په ځنګونو کښيناستی او وي ويل: څه خبره شوي؟
مور مي وويل: نه پوهيږم..... ډاډمنه نه يم خو فکر کوم چي کوچنی لرم بايد طبيب څخه لاړه شم خو اوس وختي دی بل هفتي کي ځم
پلار مي په ډير حيرانتيا سره وويل: دا څنګه؟ ممکنه نه ده ستا خو کوچني نه کيدی
مور مې وويل: نه پوهيږم مخصد اوس خو شوي يم بايد طبيب ته لاړه شم چي ډاډمنه شم

پلار مي په مسکا وویل: خداي دي وکړي چي زوي يي

شکوفې ته مي وکتل چي رنګ يي پريدلی وو او په وحشت او بيري يي زما مور ته کتل.

ومې ويل: تر اوسه معلومه نه ده ښايي نه يي

خو بله اوني معلوميږي دخيره

پلار مي په خوشالي وويل: زه بايد تيار شم چی ځم خداي دي قدم پر مور نیک کړي

زما د پلار د تګ وروسته شکوفې وويل: ستا کوچنی کله په نس شو؟

مور مي وويل: همغه اوني چي ستا ورور دوي راغلي وه ستاسو په کوټي کي ځاي نه وو خان شاه راغی مور سره بيده شو.

د شکوفې د څهرې څخه خفګان خورا ښکاره وو ،د ځايه پاڅيدله او لاړه

مور مې وويل: زړه مي په دې بيچارې هم سوځې

ومې ويل: زړه دی بی له خپل ځانه پر هيچا ونه سوځي

زمور څخه بدبخت تره بل ځای نه پيدا کيږي خداي دي وکړي چي کوچنی هلک يي او جور و روغ يي

مور مي وويل: آمين زويه .... آمين

.... رضوان ....

په دکان کي مي خپل د پلار د خولي د ليلا د پلار د پور په اړه واوريدل چی څه خبره شوي ، ډير غمجن شوم

اجمل وويل: ښه نو خپل د عقل څخه يي بايد استفاده کړی وی

نادر داسي يو سړی دی چی د ټوپک په زور هم چي يي کور ورڅخه اخلي زړه دي جيمي انسان بايد خپل په ژوند کي لري حد هم وګوري

په رښتيا چي د ليلا او کورني په هکله يي انديښمن وم. خداي دي ورسره مرسته وکړي

اجمل بیا وویل: دوه ټکټه مي اخیستي یو صبا او یو نن شپې ته ، کم یو ته یي ځي؟
په خندا مي وویل: دواړو ته هههههههه
اجمل: نو پیسي دي وباسه ، زه څوک په وړیا بوتل سینما ته نه وړم
ومي ویل: ځان وړی مه جوړوه ، دا وار یي ستا په پیسو بل وار یي زما په پیسو سمه ده؟
اجمل: صحیح ده
څه چي لاړشو

د فلم لیدو په حال کي وو چي ومي لیدل د فلم هلک د فلم د نجلي ویښتان ږمنځ کړل او په کراره یي ووډل
نجلي ډیره خوشاله شوې وه ، ډیر مننه یي ورڅخه وکړه او مینه ناک الفاظ یي یو بل ته وویل په فکر کي مي راغله چي د لیلا ویښتان هم اوږده دي ، ویښتان یي ورته ووډیم ، ولا ښه خبره ده فلم پاي ته ورسید او موږ هم کورته لاړو. ګورم چي خور مې ، مدینه په سراي کي خپل ویښتان ژمنځوې.

ومي ویل: مدینې ته صبر .... ویښتان دې مه تړه په کار مي یې
وې ویل: څه خبره شوي ورور جانه؟
پوښتنه مي وکړه: د ویښتانو وودل دې زده؟
مدینه: څوټې یادوي؟
ومي ویل: نه پوهیږم ، ویښتان چي نجوني خپل شاته وویي هغه یادوم
مدینه: هو زده مي څه شوي دي؟
ومي ویل: یو وار یي زما مخ ته ووډیه زه یي وګورم
مدینې په خندا وویل: ښه صبر

لومړی ویښتان په درې برخو ویشي داسي وګوره
بیا د راسته خوا څخه و چپه خواته او د چپه خوا څخه و راسته خواته ویښتان راوړي او دوام ورکوي همداسي چي مې درته وښودل

ومي ويل: ښه ډير ښه يو وار راکړه چي زه ستا ويښتان ووٌيم
مدينه: نه نو ويښتان مې ښٌر کوي تازه مي ژمنځ کړي
ومي ويل: ته کښينه ژر يي خلاصوم

اخر مجبوره شوم چي يو څو روپي مي په لاس ورکړه ، خوشاله خپل ويښتان يي بيرته خلاص کړه همغسي چي ويلي وه ومي ووٌدل داسي خوند يي راکړی وو چي څه ووايي
ومي ويل: مدينې د دي وروسته ماڅخه راشه زه دي ويښتان درته ووٌيم
مدينې په خندا وويل: ښه ښه که پيسي هم راکړي نو سل په سله راځم
شپه تر سهاره په دي فکر کي وم چي شنبي ورځ د ليلا ويښتان ووٌيم د ډيره خوشالي خوب يو نه ورم..

د جمعي ورځ مي په هر سختي چي وه تيره کړه او بٌوله ورځ مي د مديني ويښتان ووٌدل تر څو ښه يي زده کړم
شنبي سهار وختي مي ځان ښوونځي ته ورسول. د ازموينې وروسته مي ليلا ته وويل: راځه چي د ښولګيو شاته لاړشو
په يو ستومانه حالت يي وويل: نن ځم کورته هيڅ حوصله نلرم
ومي ويل: زه ښوله جمعه درته ماتله وم او ته اوس کورته ځې؟
راشه چي عاجل کار دی هله نو
د لاسه مي ونيوله او هغه ځاي ته مي يوړه چي تل هلته تلو يعني د ښولګيو شاته.
پوښتنه يې وکړه: دا عاجل کار دي څه دی؟

ومي ويل: دومره غمجنه څهره ځان ته مه نيسه کښينه چي زه دې ويښتان ووٌيم
د ليلا سترګي د حيرانتيا څخه برګي ووتلي او په خندا شوه. په همغه خندا سره يي وويل: زما ويښتان؟
ومي ويل: هو کښينه نوی مى زده کړي
ليلا: اوس خو مي وودلي ، پخداي قسم هيڅ حوصله نشته

ومي ويل: کښینه خبري مه کوه ، تاته هم لکه مدینه رشوت درکړم که څنګه؟
په خندا یي وویل: ښه خو ژمنځ نه دي چي ګُبر یي نکړي
ومي ویل: په سترګو

ویښتان مي ځیني خلاص کړل او ومي ویشل ، د مدیني تر ویښتانو ډیر وه
هر څه چي مي وکړه د ویښتانو پاي یي ګُبر شو ، اخر د لیلا عصاب خراب شوه او
پاڅیدله.
وې ویل: تېوله دي وشکول
خداي دي تا ونه وهي تېوله دي ګُبر کړه ، اوس څنګه کورته لاړه شم؟
ومي ویل: پخداي زما ګناه نه ده، ستا ویښتان وچ دي ، خپله ګُبر شوه
لیلا: هو وچ دي ، زه د ویښتانو غوړي پیسي نلرم چي ویښتان مي شیشیان ( یعنی
ښه ) واوسي

ومي لیدل چي سترګي یي د اوښکو ډکي شوي
ومي ویل: وي وي ، دا خو ژړا نلری خیر دی اوس یي زه درته جوړوم ، قسم دی
لیلا: دا خبره نه ده زړه مي ډک دی ، غوښتل مي یو ځاي لاړه شم او ښه وژارم
ومي ویل: خداي دي نه کوي بیا څه شوي؟
وې ویل: پوهیږي پلار مي سراي په ګرو ورکړی او پیسی یي اخیستي
برایي پلار مي د زلمی کاکا سره د وریجی خرڅوونکي څخه لاړل د خبرو د پاره او په
ډیر سختي یي څلور میاشتي وخت واخیست ، رضوانه ..... که پیسي پیدا نکړي
بدبخته کیږو ، موږ د کوره باسی

پاڅیدم ، بارخوګان مي ځیني پاک کړل او ومي ویل: خیر دی خداي مهربانه دی ،
څلور میاشتي ډیر وخت دی حلیږي دخیره
غټه نجلی یي خپل مور و خویندو ته امید ورکړه که ته ځان د لاسه ورکړي دوي څه
وکړي؟
برایي زه هم خبر شوم ډیر خفه شوم ، انشاالله چي حلیږي

لیلا بیا خپل اوښکي پاکي کړې او وې ویل: ښه دا خبره پرېږده
اوس دا زما ویښتان څوک خلاص کړي؟ ته وګوره څه دي کړي
په خندا مي وویل: کښینه چي جوړ يي کړم
لیلا: نه یو وار تر همدي هم خراب نکړې ، زه خپله یو چاره کوم
غوښتل مي ورسره مرسته وکړم خو اجازه يي رانکړه ، ښکاره وو چي د کور په هکله
ډیر خفه ده

ومي ویل: راځه چي لاړشو دباندي
د لیلا سره د دوي د کور نږدی پوري لاړم او ومي ویل: لیلا؟؟
لیلا: عه؟
بیا مي وویل: لیلا؟
لیلا: بله څه وایې؟
بیا مي وویل: لیلاااا؟؟؟
لیلا: ښه عه عه جان لیلا ووایه؟
ومي ویل: پورته کوځي کي یو د مڼو باغ دی ، راسره ځې چي یو څو داني وشکوو؟
لیلا: د خلکو دی همداسي خو مور ته اجازه نه راکوي
ومي ویل: زما د پلار د انډیوالانو دی خو ماته يي ویلي چي هر څو وختو کي یو سر
ورښکاره کړم ، کیلي يي زما سره ده ځی چي لاړشو؟ فکر دي په بله کیږي
ګورم چي لیلا په فکر کي ډوبه شوه او وې ویل: ځو خو ژر بیرته راوځو چي زه
کورته لاړه شم په دا وضعیت دباندي ونه اوسم
ومي ویل: سمه ده بیا ژر وځو اوس راځه چي لاړشو
یو ځای باغ ته ننوتلو

ومي ویل: بکس دي خلاص کړه نو
په خندا يې وویل: یو دوه داني اخلو بکس ولي خلاص کړم؟
ومي ویل: خلاص يي کړه یو څه يي زاغ خوري، نور يي په ځمکي لویږي او خرابیږي
په دا یو څو دانو چي تا واخیستل څه کمیږي؟

ليلا خپل بکس خلاص کړ او وې ویل: هیڅ مي هم نه دي راوړي خالي دی هههههههههههه

څو سره ماڼه مي واچول چي وې ویل: زما سپین ماڼه خوښیږي هغه هم پریږده

ومي ویل: په سترګو

د ماڼو د ټولولو وروسته ، یو دانه لیلا واخیستل او یو دانه هم ما.

د درختو لاندي پریوتلو او آسمان ته په کتو شوو.

ومي ویل: لیلا؟

وې ویل: جان ووایه

ومي ویل: یو څه درته ووایم درباندي بد خو نه لګیږي؟

لیلا: اول پوهه شم چي څه دي بیا

ومي ویل: مخصد کم خراب څه نه دي

لیلا: خو ته ووایه چي څه دي

ومي ویل: ګوره ما چي خپل ښوونځي او زده کړه خلاصه کړه

لیلا: ښه

ومي ویل: بیا ځم پوهنتون ته

لیلا: ښه

ومي ویل: بیا ځانته یو کار پیدا کوم

لیلا: ښه نو بیا

ومي ویل: بیا راځم ستا مرکي ته ، ما مني؟

لیلا په لوړ غږ په خندا شوه او خوله یې د خندا نه ټولیدل

همداسي چي مي لیلا ته کتل تر څو وګورم چي څه ځواب راکوي ، یو بل چک مي هم خپل د ماڼه څخه وکړ

لیلا خپل د خولي ناړي تیري کړي او وې ویل: نه پوهیږم پخداي

تر هغه وخته څوک مره څوک ژوندي

ته هم لیونی وي پخداي

ومي ويل: يوازې ووايه هو که نه؟

ليلا په همغه خندا سره وويل: زه خپل د څلور مياشت وروسته څخه خبره نه يم بيا څنګه دومره اوږد مهاله ژمنه تاته درکړم؟

ومي ويل: زما د زړه ښه کيدو د پاره يو هو ووايه

ليلا: هو منم دي ته خوشاله

ومي ويل: ښه ډير ښه نو راځه چي لاړشو دروازه همداسي خلاصه پاته ده

.... ليلا ....

د رضوان څخه د جدا کيدلو وروسته د کور خواته روانه شوم. بکس مي دروند شوی وو وړلی مي نه شو

کور ته دننه شوم. لاړم خپل د مور څخه سلام مي ورکړ او بکس مي پر ځمکي پريښود.

ومې ويل: د ورځي يو دانه وخوره چي ماشوم لري

د مور په لاس کي مي تسبيح وه، وې ويل: دا څه دي؟

ومې ويل: ماڼه دي د پورته کوځي د باغ څخه مي وشکول

مور مي په حيرانتيا وويل: غلا دي کړه؟

ومې ويل: نه مالک يي هملته ولاړ وو ورته مي وويل يو څو داني راکړه مور مي ماشوم لري

مور مي په لوړ غږ په خندا شوه او په خندا يي وويل: خداي دي تا ونه وهي ، چا ته دي ويلي مور پيژني؟

ومې ويل: نه پوهيږم فکر نکوم چي مور به وپيژني ، طبيبې څخه کله ځي؟

زهرا: نه پوهيږم ښايي سه شنبي يا چهارشنبې ، دقيق نه ده معلوم

ومې ويل: زه هم درسره راځم

زهرا: سمه ده راشه طبيبه به هم د نږدی ووينې

رضوان

د باغ وروسته کور ته لاړم. څو ځله مي مدينه ناري کړه تر څو پيدا شوه
ومي ويل: ته خپل په ويښتانو باندي غوړي وهي؟
وي ويل: هو څنګه؟

ومي ويل: ژر يي راوړه زه يي وګورم
مديني بد بد راوکتل او وي ويل: راوړم يي ، خو د ښځو د پاره دي د ګل بوي کوي ستا په درد نخوري
ومي ويل: ښه ښه ته لاړشه رايي وړه
لاړه څو شيبې ورکه وه بيا راغله. ګورم چي يو کوچنی بوتل دی چي غوړي يي تر نيمايي مصرف شوي دي
پوښتنه مي وکړه: دا دي د کم ځايه اخيستي؟
مدينه: ما نه دي اخيستي طوبا د پاکستانه راوړي ، د دي په شان دلته نه پيدا کيږي
ومي ويل: نور هم ځان سره لري؟ که ته خبره نه يي؟

مدينه: نه پوهيږم بيا پوښتنه کوم
ومي ويل: شاباس هوښياري نجلي مخصد ورته ونه وايي چي ما غوښتلي ، ووايه ستا خپل پکار دي تير بوتل دي مصرف کړي
مدينه په حيرانتيا ووېل: ښههه ورته وايم
يو څو روپي مي ورته ورکړه او ومي ويل: چاته ونه وايي چي ما درڅخه غوښتني حتي مورِ مور ته ، سمه ده؟
مديني په حيرانتيا راوکتل او وې ويل: ښههه نه وايم که درلود يي درته يي راوړم
بيا مي ورزياته کړه: ښه ښه سمه ده زه هم څم درس لرم

.... ليلا ...

څو ورځي زما او د رضوان د ليدو څخه تير شوي وه. هر وار هم چي د ښوونځی ازموينه به مي خلاص شو ژر کورته تلم تر څو پيدا مي نکړي ، بهتره ده چي د يو بل څخه لري واوسو يو څو وخته کيږي ډيره ورسره عادته شوي يم

مور مې وويل: راځه چي نن ځو د طبيبي څخه
یو ځاي لاړو د طبيبې څخه او طبيبې د معاینې وروسته وويل: کوچنی لري زما په خيال چي زوي هم دی
ومې ویل: د نس د مخه څنګه پوهه شوي چي زوي دی؟
وې ویل: نه زویه زړه مي وايي چي زوي دی
مور مي خوشاله شوه او په خوشالي یي وويل: خداي دي ستا په خولي آمين کړي یو څه پيسي یي ورکړه او راووتلو.
کورته چي راغلو ټولو ته مو وويل چي څه شوي، فاطمه او مور یي ډير حېران شوي وه

فاطمې وويل: ښه اوس خداي دي وکړي چي په رښتيا ماشوم ولري
ومې ویل: لرې زړه دي جيمي ، زوي هم دی د دښمنانو سترګي دي وچوي دخيره مور مي جوړ تيار روغ رمټ زوي نرې ته راوړي
فاطمه: ښههه خداي دي وکړي همداسي چي وايي ، یي
د ازموينو وروسته رخصتي شوه او ما هيڅ رضوان ونه ليدی. شل ورځي رخصتي ډير ژر تيره شوه داسي چي زه هيڅ پوهه نشوم.
په دي ورځو کي شګوفه ډيره عاجزه شوې وه ، کله کله به مي زړه ورباندي سوځيدی خو کله کله به مې هم ويل خداي ورته ماشوم ورنکړ زموږ ګناه خو نه ده
د ښوونځی د خلاصيدو وروسته هوا د ساړه توب خواته روانه وه او مني په راتلو وو.

ورځي د سترګو د رپ په شان یو تر بل تيريدل او موږ یو نيم مياشت د راکړي څلور مياشت وخت څخه تير کړی وو
نه پوهيدلم چي پلار مي څومره پيسي ټولي کړي وي؟
پيسي یي ټولي کړي دي که نه؟
کله چي په تمه یي وخت نه تيريږي
او کله چي تمه لري وخت تير نشي د باد په سرعت تيريږي او ته هيڅ نه پري پوهيږي

ډېر مي فکر نارامه وو چي مریم راغله او وې ویل: وه نجلی څه شوي دي درباندي؟
ته چی میرې دې مړ شوی
ومې ویل: کاشکي دا خبره وی تر دي هم غټ تره ستونزه ده
وې ویل: څه شوي؟

ټوله کیسه مي ورته وکړه مریم هم خفه شوه.
وې ویل: ډیره غټه ستونزه ده دعا کوم چي په خیر تیره شي
په غیږ کي مي ونیوله او ځینی مننه مي وکړه
طوبا د لري څخه راته کتل ، نږدی راغله او وې ویل: وخت لري چي خبري وکړو؟
ومې ویل: هو خو څه شوي دي؟ خیریتی ده انشاالله؟
وې ویل: هو ته یو وار راشه
شاته یي لاړم چي څه وایي ، یو ځاي ودریدله او وي ویل: ګوره لیلا زه بی عقله نه
یم پوهیږم چي ستا او د رضوان تر مینځ کمه خبره ده
ومې ویل: نه پخداي هیڅ خبره نه ده موږ لکه دوه ټولګیوال سره خبري کوو
طوبا په خندا وویل: ته فکر کوي چي زه بیعقله یم؟
ومې ویل: نه ولي خداي دي نه کوي

طوبا: خبره نه اوږدوم یوازي دا وایم چي د رضوان څخه ځان لري ساته
اول و آخر رضوان باید زما سره واده وکړي
دا زموږ د کورني رسم دی کاکا لور د کاکا د زوي ده په مینځ کي یوازي ته استعمال
شوی دستمال جوړیږي چي یو هلک درڅخه خپل استفاده کړي
د خبرو د اوریدلو سره مي ستوني ډک شو او لږ پاته وو چي د سترګو څخه مي
اوښکي راشي
نه پوهیږم ولي په دي ورځو کي دومره حساسه شوې یم
خپل د خولي ناړي مي تیري کړي تر څو د ستوني لاره مي خلاصه شي او وکولی شم
چي خبري وکړم

په کراره داسي چي د غږ لرزه مي ښکاره نشي ومې ویل: زه هم کم علاقه رضوان ته نلرم زړه دي جیمي ستا خپل دې یي
د رضوان غږ راغی چی وي ویل: هر څوک لکه علي فکر مه کوه چي د نجونو څخه استفادي کوي زه غرور لرم او شخصیت مي ډیر پورته دی د کاکا لورجانې
او هر چا هم چي ویلي د کاکا لور د کاکا د زوي ده تاته یي دوکه درکوله ، زه په دي خبري نه باور لرم او نه هم عمل کوم
د رضوان سترګو ته مي وکتل چي ماته یي وکتل او وي ویل: راشه په کار مي یي د لاس څخه یي ونیولم او کش یي کړم. ورپسي لاړم چي وي ویل: څو ورځي کیږي چي راڅخه په تښته کي یي ، پام دي دی؟
ومې ویل: په تښته کي نه یم برابر نشو چي سره وګورو ، کار مي درلود
رضوان: ځه خیر

خپل د بکس څخه یي د ویښتانو غوړي وایستل او راته یي راکړه
پوښتنه مې وکړه: دا څه دي؟
وي ویل: د ویښتانو غوړي دي
نور د ویښتان وودلو وخت کي غالمغال ونکړي
ومې ویل: نههههه مننه دا نشم اخیستلي
وي ویل: د ګل بوي لري د ښځو د پاره دی زما په درد نخوري ، زړه دي چي اخلي که غورځوي په ما اړه نلري

د غوړو بوتل یي زما په لاس راکړ او رازیاته یي کړه: زه باید لاړشم سیالی لرم خپل په ځان ډیر پام نیسه خداي په امان
د ویښتان د غوړو د لیدلو سره ډیر خوشاله شوم حتي ونشو چي د رضوان څخه مننه وکړم ، ژر لاړی.
غوړي مي بوي کړه څومره ښه او په زړه پوره بوي یي درلود.
د ښوونځی وروسته کور ته لاړم او خپل ویښتان مي د ویښتانو په غوړو غوړ کړه ، ویښتان مي ځلا پیدا کړي وه

شګوفه خپل د کوټې د کړکي څخه یي راته کتل
وې ویل: څه کیسه ده؟ یو ورځ راډیو یو ورځ د ویښتانو اصل غوړې
دا دي کم ملګرې ده چي دومره زړوره ده؟
ومې ویل: په تا هیڅ اړه نلري

ته خپل شیان ټول کړه چي دخیره ځي ، یوازی څو میاشتي پاتي دي
زما د خبرو سره شګوفي هیڅ ونه ویل او خپل خوله یي وتړل.
ځان سره مي وویل: یعني کله چي ورور مي نړې ته راشي پلار مي دا د کوره باسي؟
خداي خبر

هره ورځ چي تیریدله امید مي د پیسو پیدا کولو څخه لړیدی.
دوه نیم میاشتي تیري شوي وه او د پلار څخه مي هیڅ خبر نه وو شوی.
د ښوونځی څخه وتلي وم او د کور په لور روانه وم. کورته چي نږدي شوم ، ګورم
چي یو هلک د لوکس کالو سره زموږ د کوځي پر سر ولاړ دی او شا یي زما خواته ده.
غوښتل مي د څنګ څخه یي تیره شم چي غږ یي کړه: وبخښي خوري؟
ورته مي وکتل او دواړه حیران شوو ، د وریجي خرڅوونکي زوي وو. داسي
معلومیدل لکه تمه یي نه درلود چي ما ووینی
ومې ویل: بله مهرباني وکړئ

وي ویل: د تیر وار د خبرو د پاره بخښنه غواړم په رښتیا خپل خبرو ته مي هیڅ پام
نه وو که کیږی ما وبخښی
زه داسي هلک نه یم چي د ښځو او نجونو سره په بده طریقه خبري وکړم
خو هغه ورځ نه پوهیږم چي راباندي څه شوي وه
په یاد مي شوه چي رضوان ویلي وه دی یو با ادب او با نزاکته هلک دی ښځو او
نجونو ته ډیر احترام لري ، دوي ته سپکاوئ نه کوي
ما هم ځکه چي لاس مو د دوي تر کاڼي لاندي وو ، په نرمي لحجي سره مې وویل:
هیڅ خبره نه ده ځینی ورځي امکان لري چي د انسان اعصاب نورماله نه یي

د مننې وروسته یې وویل: خوشاله شوم چې دومره آزاده فکر لرې
ما هم د مننې وروسته وویل: دلته مو کار درلود؟

وې ویل: نه زه یوازې راغلی وم چې ستاسو څخه بخښنه وغواړم ، زه خپل په عمر کې دومره نه وم بی ادبه شوی لکه چې ستاسو سره مې چلند وکړ
د خبرو څخه یې ډیره حیرانه شوم. د ځان سره مې وویل: نه په رښتیا ده هغه خبره څومره جدې نیولې ده؟
ومې ویل: دا ستاسو د ښه توب ښکارونکی دی ما په کامله توګه هغه پیښه هیره کړې فکر مې د ده کالو ته شو ، څومره یې ځان لوکس کړې دی ، د یو بخښنې د پاره یې دومره ځان جوړ کړی هههههههه
ښایې هم د دې ځای څخه میلمستیا ځای مای ته به ځې
وې ویل: ښه خوشاله شوم که ستاسو اجازه وې زه باید لاړ شم
ومې ویل صبر یو پوښتنه لرم
وې ویل: مهربانی

ومې ویل: د څلور میاشت وخت څخه چې تاسو موږ ته راکړی وو تقریبا درې میاشتې تیرې شوی ، که احیانا پیسې په وخت تیارې نشوې تاسو څه کوی؟
راته یې وکتل او د خو شیبې ځنډ وروسته یې وویل: هغه مې د پلار په لاس کې دی ، ستاسو پلار زما څخه پور نه دی اخیستی د زما د پلار څخه یې اخیستې او بیرته یې باید زما پلار ته ورکړې
که زما په لاس کې یې وایم هر کله چې مو پیسې لاس ته راغلې خپل پور خلاص کړې خو د بده مرغه مې د پلار په لاس کې دی او زما د لاسه هیڅ نه کیږې
رښتیا ستاسو نوم څه دی؟
په زړه کې مې وویل: کله چې هیڅ کاره یې بیا څه دپاره د دروازی شاته راځې بیعقله؟
ومې ویل: لیلا یم

ستاسو په اجازه زه ځم کار لرم خداي په امان
همداسي چي تلم شاته مي وکتل چي دی تر اوسه ولاړ وو او ماته يي کتل

.... شکوفه ....

زه په هيڅ عنوان اجازه نه ورکوم چي زهرا هلک وزيږوي او ما بيرته طلاقه کړي زه نور په هغه کور کني ځاي نلرم چي بيا لاړه شم. بوډا خان شاه مي خپل د آزادي د پاره وکړ او اوس په هيڅ عنوان بيرته نه ځم حتي که ووژل شم
خپل چادري مي پر سر کړه د وتلو په حال کي وم چي د ليلا سره ټکر شوم
ليلا خپل لاس ونيوی او وې ويل: کرااار...... خوږه دې کړم ، ړنده يې؟؟؟ چيري ځې؟؟؟

ومې ويل: ځم کار لرم په تا اړه نلري
ليلا: ښهههههه ته صبر چي پلار مي راشي وايم چي دباندي وځي نه پوهيږم چي چيري ځي
ومې ويل: سودا پسي ځم ناقه خبري مه باسه ، يو څه شرم وکړه په دا هر خبره کي ځان اچوې
ليلا: صبر چي حميرا راشي هغې ته پيسي ورکړه
ومې ويل: پيسي ډيري دي چي حميرا يي ورک نکړي ، خپله ځم
نور مي ليلا ته اجازه ورنکړه چي څه ووايي او راووتلم.
ځان مي عطاري ته ورسول. يو سپين ږيری سړی ناست وو او نصوار يي وهل.
ومې ويل: سلام کاکا

وي ويل: عليکم السلام څه دي په کار دي لوري؟
نږدي لاړم او په کرار غږ مي وويل: زه پينځه نوږي لرم ميړه مي ويلي که دا وار لور وزيږوي مړه کوم دې ، او زه دا وار بيا اميدواره شوې يم يو درمل راکړه چي کوچنی مي د مينځه لاړشي
د چادري کنج مي خپل د سترګو څخه ونيول چي فکر وکړي زه ژاړم.

کاکا وویل: لوري ډیره لویه ګناه ده مه کوه دا کار ، توبه وباسه انسان مړ کوي؟
ومې ویل: کاکا پخداي چي بیچاره او بدبخته یم دا وار مي مړه کوي
تیر وار یي دومره ووهلم چي لاس مي مات شو ، کاکا خیر دی ثواب دي کیږي ګناه یي زما په غاړه

او د دوکان څنګ ته یي کښیناستلم او ژړا ته مي ملا وتړل
د دوکاندار زړه وسوځیدی ، وي ویل: خداي دي ستا میړه ته عقل ورکړي لوري
یو درمل دی درته یي راکوم ، ته نام خدا پیاوړې معلومیږي پر تا دومره اغېز نه لري ، یو وار یي وخوره که تاثیر یي ونکړ یو وار بل یي هم وخوره
څو دواوی سره یو ځاي کړل ، په یو پاڼي کي وپیچل او وي ویل: پام دي یي چي ګناه یي ستا په غاړه ده ، زما د غاړي څخه خلاص دي
ومې ویل: په سترګو غتې ښځه یم خپل په ښه او بد پوهیږم
په سترګو ګناه یي زما په غاړه یوازي زما کوچنی نخصان (ضایع) شي ، خداي دي تا خپل ارمانونو ته ورسوي کاکا جانه

د دکاندار سره د خداي په اماني وروسته خپل سترګي مي پاکي کړي او د کور خواته روانه شوم.
ځان مي کور ته ورسول او پاڼه مي خپل په کالو کي پټه کړه. اوس چي خان شاه نشته ، تر ټولو ښه وخت دی یوازي د لیلا څخه بیریږم چي هغه هم سهار ځي ښوونځي ته.
شپه تیره شوه او ما سترګه هم پټه نه کړه.
سهار د نجونو د تګ وروسته لاړم پخلنځي ته. ځان ته مې ډوډي تیاره کړه چي زهرا راغله راته یي وکتل او وې ویل: کله چي دي کار خلاص شو ووایه چي زه هم پخلی کوم نجوني د ښوونځي څخه راځي
ومې ویل: زهرا جانې نن غرمه یو ځاي ډوډي خورو چي دوه دیګه نشي بي د هغه هم کور یو دی

زهرا په حیرانه نظر راوکتل او وې ویل: ښههه
نو یو څه ډیر تره پخه کړه نجونو ته هم
ومې ویل: سمه ده ګرانې
د زهرا د تګ وروسته مي یو څه نور عدس هم راویستل چي کم نشي. غرمي ته نږدې وو او ډوډي هم تیاره شوي وه.
درمل مي خپل د کوټي څخه راویستل ، د زهرا غاب ته مي واچول او ښه سره ګډ مي کړه. زهرا څخه مي یوړه تر څو یوځاي وخورو.
وې ویل: نه نه صبر چي نجوني هم راشي
ومې ویل: نجوني چي راغله بیا خوري ، اوس دا یخیږي
زهرا یو ګوله واخیستل ، خوند یي ځیني وکتل او وې ویل: څه پکي دي خوند یي بل رقم دی؟

ومې ویل: هیڅ نه دي ګراني ماشوم لري د خولي خوند دې اووښتی
زهرا: نه خوندور دي مننه خو د عدسو خوند نلري
یو ګوله مي د هغې د غابه واخیستل ، ومي خوړل او ومې ویل: وګوره یو بل سره هیڅ توپیر نلري
زهرا هم خپل غاب تر آخره وخوړل او وې ویل: پوهیږي زما خوراک ډیر شوی که نې یو غاب مي پوره نه خوړل
په خندا مې وویل: هو نو ماشوم لري ځکه
بیره او وحشت زما ټول وجود نیولی وو ، که اغیز ونه کړي څه؟
خدایه پوهیږم چي دا کار مي یوه تیروتنه ده خو دا اولاد لري د دي څخه څه نه کمیږي خو زه څه؟

ما خامخا طلاقوی او بیرته مي لیږي ...... دعاوي مي کول چي اغیز وکړي
لوښي مي پریویستل چي زهرا وویل: زه بیدیږم د ډوډي د پاره هم مننه
ومې ویل: هیڅ خبره نه ده ګراني سبا بیا ته پخلی وکړه
په خندا یې وویل: په سترګو درته یو خوندوره د لوبیا غورمه پخوم

استرس او بیره مي په وجود کي خپره شوې وه. لاړم خپل په کوټې کي کښیناستلم ډیر مي ذهن درګیره وو ، برایي هم نه وم بیده شوې سترګي مي سوځیدل همدا چي مي سر پر بالښت پریښود نور پوهه نشوم او خوب یوړم.

.... لیلا ....

د رخصتي وروسته ګورم چي رضوان خپل د ملګرو سره کیسي کوي ژر مي د مریم سره خداي په اماني وکړل او ومې ویل: مریم جانې زه ځم بهتره ده چي رضوان ما ونه ویني که ني مي کشوي هر ځاي ته مي وړي
مریم په خندا وویل: ښه بخت لري کاشکي زه یو نفر ولرم چي ما هم هر ځاي ته یوسي

ومې ویل: ښه همدا یي ستا هههههههههه
د څو خبرو وروسته مو سره خداي په اماني وکړل. د سهیلا او حمیرا سره د کور خواته روان وو چي ومې ویل: نجونو په پورته کوڅي کي یو باغ دی ، څوک یي دننه نه دي راځی چی لاړشو او مڼي واخلو
دواړو ومنل او یو ځاي لاړو.

لکه پرون یوازي یو زنځیر امانت ایښی وو او ژر خلاصیدی ، دروازه مي پرانیستل او دننه لاړو. خپل بکسونه مو ډک کړه او کور خواته روان شوو.
کور ته ننوتلم ګورم چي مور مي د درد څخه ځګیروی کوي ، ورخطا شوم نږدي لاړم او په غیږ کي مي ونیوله ، رنګ یي د ګچ په شان تک سپین شوی وو او شونډې یي شني شوي وي. کالي یي په وینو کي خیشته وه. دومره بیریدلې وم چي ژر مي ځان د شګوفې کوټې ته ورسول او ویښه مي کړه ، ومې ویل: ولاړه شه مور مې مړه کیږي

مرسته راسره وکړه
شګوفه راغله او وې ویل: ژر طبیبې ته خبر ورکړه هله حمیرا ژرررررر

خپل د وینو ککړ لاسونه مې ولیدل او زما د مور په وینو خیشته کالي ، روح مي د بدن څخه لاړه.
خدایه څه شوي دي؟ په مور مي څه شوي؟
په غیږ کي مي ونیوله ، سترګي یي پټي وي او څګیروی یي کول.
اوښکې زما د سترګو وړاندي یي خړ کړی وو ، سهیلا اوبه راوړي وه او زما د مور لاس او پښي یي پاکول

طبیبه د څو شیبو وروسته راغله ، وې ویل: کالي ورته راوړی په وینو کي خیشته ده مور درو سرو ( دری واړو ) ژړل.
ما هیڅ ځاي سم نشو لیدلی خو په سختي د بخچي څخه مي ورته کالي راویستل.
کالي مو ځیني بدل کړل.
غاښونه یي پر یو بل لګیدل هیڅ عادي حالت یي نه درلود
د طبیبي د لاسونو د نیولو سره مې وویل: نغوارم چي مور مې مړه شي ولي داسي شوې ده؟ خاله خیر دی مور سره مې مرسته وکړه خیر دی
وې ویل: ماشوم یی نخصان کړی خو خونریزې یی نه بندیږي دعا ورته وکړی که نې مړه کیږي

کم خوني هم لري او داسي وینه چي دا د لاسه ورکوی حتي روغتون ته یي هم رسولی نشو ژر لاړشی د کوڅي پر سر دوکاندار څخه هغه ګاډي لري ، دا تر روغتونه ورلی شي که نې دا مړه کیږي او زما د لاسه هم هیڅ نه راځي
سهیلا په ځغاستو د دوکاندار څخه لاړه. او ما خپل د مور ساړه لاسونه په لاس کي ونیول ، هیڅ شی مي نشو لیدلی ، ښکل مي کړه او ومې ویل: زما په مور جانې څه شوي دي؟

ولي داسي شوي یي قربان دی شم؟ داسي مه کوه رنګ دي پیکه سپین ګرځیدلی ولاړه شه مورې خیر دی
پخداي قسم یوازینی امید مي ته یي ، داسی مه کوه موري ځان مړه کوم که په تا کم

څه وشي زما لاسونه یي ډیر کرار او په بي وسي سره کښیکاږل او وي ویل:
لیلا.........
ومې ویل: جان زما موري ووایه
وې ویل: لیلا خپل خویندو ته دي پام یي
ومې ویل: نههههههههههه
خپله پام پر ونیسه ، دا خبره مه کوه موررررررییییي مه کوه داسي کار خیر دی موري مه ځه

سترګي مي په دروازي کي وي چي سهیلا به راشي خو سهیلا رانغله
مور مې وویل: ستا په غاړي دین دی ........ پام دي خپل خویندو ته یي .........
حمیرا......... ماشومه ده
بیا به یي ژوره ساه واخیستل. داسی احساس مي کول چي زما د مور د هر ساه سره روح مي د بدنه وځي.
ټینګه مي په غیږ کي ونیوله او ومې ویل: موري ته خپله یي ماته هیڅ اړتیا نشته ، خپله خپل پام ونیسه موریییییییې
خیر دی داسی مه وایه ما خپل په دي خبرو مړه کوي خیر دی مه کوه دا خبره مه وایه

څو ژوره ساه نور یي هم واخیستل او بیا یي خوله خلاصه پاته شوه. طبیبې ماته وکتل او په غمجن او نا امیده لحجه یي وویل: لوري آخر غم دي یي
چیغي مي کړې: نههههههههه داسي مه وایه
خپل مور مي په غیږ کي ونیوله او ومې ویل: ولاړه شه خیر دی مورې لیلا بی تا څه وکړی؟
زه بی تا څوک لرم مورییییییې

شګوفې ټینګه ونیولم او د اوښکو ډکو سترګو سره یي وویل: لیلا جانې مور دي نور نشته زموږ څخه لاړه

همدا چي شګوفې ته مي وکتل يو څو کلکي څپيړې مي ورکړې او ومې ويل: خداي دي ووهه کاش ته تللی وی
کاش ته لعنتي هيڅ نه وی راغلی
طبيبی زه يي ټينګه نيولي وم او کرار يي ويل: آرامه شه ليلا زويه دا خبري کيږي مرګ حق دی
خداي دي ګناوي ځيني وبخښي جنتونه دي ځاي شي ، دا کار مه کوه حرام دی
سهيلا راغله ، په مخ يي خولي بهيدلي او ويښتان يي د خولو څخه خيشته وه ، دوکاندار يي راوړی وو

غږ مي کړه: خداي دي تا هم واخلي
ولي دومره ناوخته راغلي؟؟؟؟ مور مو لاړه ستا د راتګ څخه اوس څه ګټه؟ ها؟؟؟ څه ګټه؟؟؟؟
زما د چيغو د امله ټول خبر شوي وه چي څه خبره شوي ده. فاطمه او مور يي هم راغلې وه غوښتل مي چي يو هم ژوندی نه يی
ومې ويل: ولي راغلاست؟ څه ته ګوری؟ ځی ورک شی دا ښځه ستاسو يو څخه يي خير ونه ليدی ، ولي د دې د جنازې ليدو ته راغلې ياست؟
د ګاونډې ښځی راغلي وه او هڅه يي کول چي ما آرامه کړي. دومره مي چيغي وهلي وه چي ستونی مي درد نيولی وو. زه يي ټينګه نيولې وم او ښوريدلو ته يي نه پريښودلم. دوي ټول مي مړه غوښتل.

هيچا زما د مور په حق کي ښيګړه کړي نه وه نو نن يي دلته څه کول؟
زلمی خبر شوی وو راغلی وو او يو کنج کي ناست وو. غوښتل يي ځان غمجن او خفه وښيي. نارې مي کړه: ته هم تر نورو بالا نه يي
ته هم حق نلري چي په دي کور کي واوسي او زما د مور جنازه ووينې
ځه دباندي
مردار رنګ دي ورک کړه
د پست ترينو خلکو څخه يو دانه يي ته وي

هر څومره چي هڅه يي کول ما ارامه کړي خو نه کيدل ، زړه مي اور نيولی وو ، هر څومره چي مي وويل: ايله مي کړی (پريميږدی) غوارم خپل مور په غيږ کي ونيسم ، هيچا نه اوريدل

ومې ويل: پخداي قسم چي يو ورځ زما نوبت هم کيږي ........
داسي ورځ راځي چي خپل حق واخلم ............
ولي مي نه پريږدی چی په غيږ کي ونيسم؟؟؟ولي؟؟؟؟؟؟؟ خداي مو ووهه
د چيغو په مينځ کي مي سترګو خپل ديد د لاسه ورکړ او نړی راباندي تياره شوه.

..... شګوفه ...

ليلا دومره چيغي ووهل چي بی هوشه شوه.
ډيره پښيمانه وم ما نغوښتل چي مړه شې .......
زما اوښکي تر نورو ريښتيني وه ، خداي خبر دی چي زه د هغې پر مرګ راضي نه وم کاش مړه شوی وی خو د هغه درمل اخيستلو ته نه وی تللی.
کور د خلکو څخه ډک شوی وو ، زهرا يي پر تختي پريښودل.
يو سپين سرې ښځه راغلی وه او هغه يي پريويستل.
يو سايه وان يي ووهل ځکه نه بايد په جنازې باندي د لمر څانګې خپري شي.
يوې د قرآن کريم تلاوت کول.

د څو ساعتو په موده کي زهرا مړه شوه ، يو څاڅکي وينه يي هم په بدن کي پاته نه وه ، د هغې ليدل زه يي ليوني کولم.
سهيلا او حميرا يو کنج کي ناست وه او ژړل يي.
لاړم په غيږ کي مي ونيول. زما څخه يي خوښ هم نه راتلل خو زه يي ټينګه په غيږ کي ونيولم او ژړا يي کول
زرهاو واره مي د مرګ ارمان وکړ چي ولي مې داسي يوه تيروتنه وکړه.
کاش ليلا ټينګه نيولی وی چی بهر لاړه نشم

کاش زه خپله مړه شوی وی خو بهر نه وی تللی
خدایه ولي دي زما مخه ونه نیول؟

عذاب وجدان لیونې کړې وم. په ټول وخت کي لیلا بی هوشه وه ...... هیڅا یي پوښتنه ونه کړه یو کنج کي بی کسه او یوازې پرته وه.ورته نږدی شوم او مخ مي ځیني ونازول ، هیڅ اوښکي مي د بندیدو نه وي. په مخ مي ښکل کړه او ومې ویل: خداي دي وکړي چي ما وبخښی نجونو
د پریویستلو او کفن کولو وروسته یي د زهرا مخ خلاص ایښی وو. یوې غږ کړه نجلي په هوش راوړی چی د وروستی ځل د پاره خپل مور ووینی چي جنازه وړي د لیلا پر مخ مو اوبه ووهل او پر هوش مو راویستل.

سترګي یي سرې شوې وه ، ومې ویل: لیلا مور دي وړي یو وار بل یي وګوره لومړی یی په حیرانتیا راوکتل ، بیا یي چي په جنازی نظر ولګید چیغی یي ووهل ، او په چغو یي وویل: نههههههه زما مورررررررر
او په ځغاستو یي ځان په جنازی واچول. ټینګه مي ونیوله خو دې یوازي چیغي وهل پر له پسي یي ویل زما مور مه وړی ما خداي په اماني نه ده کړې
د دروازي څخه چي ووتل لیلا زه یي پورې وهلم او خپل د مور پسي وځغاستله. هر څه چي مو کول ټینګه یي ونیسو خو لیلا بیا هم تښتیدله.

خپل ځان یي د نارینو خواته رسولې وه او د هر چا لاس یي نیول او ویل یې: ښکته یي پریږدي خیر دی زما مور مه وړی
تر اوسه یي لا وخت نه دی
ټولو ته یي زاري کول. ویل یي: یو مور مي درلود که دا ستاسو مور وی بیا څه؟ مه یي وړی انسانان یاست که نه؟ مه یي وړی خیر دی
زلمی ټینګه په غیږ کي نیولي وه او لیلا په ډیرو چیغو ځان مړه کړه. لاړم لاسونه مي ځیني ونیول هر څه چي مي کول نه آرامه کیدله. بیا بی هوشه شوه په غیږ کي مو ونیوله او کور ته مو یوړه.

..... رضوان ....

کور ته راغلم د ډوډي خوړلو او يو څه کښيناستلو وروسته د اذان غږ راغی.
مور مي وويل: الله دي خير کړي خامخا څوک مړ شوی دا د اذان وخت نه دی
ومي ويل: خامخا قدير کاکا مړ شوی ډير سپين ږيری او ناروغ وو
مور مي وويل: خداي دي وبخښی بيچاره
څو شيبي تيری شوي وه چي اجمل راغی او وي ويل: موررررررررري
ژر خپل کالي واغونده چي ځو د خان شاه کورته
مور مي وويل: ولي خيريت خو دی؟
اجمل: همدا څو شيبي مخته يي ښځه مړه شوه
يو متر د ځايه وپريدلم او پوښتنه مي وکړه: کم ښځه يي؟

اجمل: مشره ښځه
د دي خبري د اوريدلو سره مي داسي احساس وکړ لکه جوش اوبه چي راباندي توي شي.
يوازی مي وويل: ليلاا ....

..... ليلا .....

احساس مي کول چي هوا ساړه شوي وه ، ډير يخ نيولې وم.
نارې مي کړه: موريييي يو توس ( کمپله ) راباندي واچوه
څو شيبي تيری شوی ، کښيناستلم. سترګي مي ډيري سوځيدل.
ګورم چي کوټه تشه او تياره ده. خپل د مور په کوټي کي وم. څو شيبي تيری شوي چي پوهه شوم څه شوي دي.

يو په دوه مي ستونی ډک شو هر څه چي مي وکړه خپل د اوښکو د توييدلو مخه می ونشو نيولی. خپل شونډي مي په غاښونو ونيول او سر مي په ديوال تکيه کړ.
..... څو ساعته........ يوازی څو ساعته ته څنګه لاړې موري

دومره هوسا هم څوک تللی چی ته لاړې؟
پوړني یی په کوټي کي پروت وو. وا مي خیستل او خپل په غاړي کي مي واچول ، زما د مور بوي يي درلود.

مور مي هيڅکله عطر نه استعمالول خو تل ښه بوي يي درلود.
د ځايه پاڅيدم او بهر لاړم ګورم چي کور د خلکو ډک دی او زه يي يو هم نه پيژنم.
غوښتل مي دباندي لاړه شم چي شګوفي تر لاسه ونيولم او وې ويل: مه ځه کښينه ، دومره خلک د فاتحې د پاره ستا څخه راغلې ، خپل پوړني پر سر کړه او کښينه خپل مور ته د احترام د پاره
خپل په ټول توان سره مي ټېله کړه او ومې ويل: ته هيڅ څوک نه يي چي زه ستا خبره واورم

پاته شوه زما مور ته د احترام خبره چي هغه نه په تا اړه لري او نه هم په دي خلکو چي راغلي  په غټي کوټي ننوتلم ، ټولو زما سر و مخ ته کتل پوهيدلم چي نورماله نه وم. لاړم يو کنج کي کښيناستلم. د قرآن کريم تلاوت زما زړه يي يو څه آرامول. پام مي شو چي ټول  کور ته ګوري او پسپسکي کوي يو نفر هم خپل په دوو پښو کيناستلې وه ، فکر يي کول چي کور مردار دی.
ومې ويل: سلام تاسو ټولو ته
ښه ياست؟

يوه پوښتنه مي درلود ، ولي دلته راغلي ياست؟ زما د مور مړی ژبه نلري چي تاسو څخه مننه وکړي او تاسو ته اړتيا هم نلري
هغه ورځي چي ژوندې وه کم يو يي ليدو ته راغلاست؟
يوه ورځ مو د هغې غريبانه دروازه وټکول؟
حتي روغبړ مو ورسره نه کول چي شخصيت مو ښکته رانشي
خپل د کاکا ښځي خواته مي وکتل او ورزياته مي کړه: همداسي نه ده تروري؟
خپل سر يي ښکته واچول او سترګي يي ځمکي ته ونيول.

ومې ویل: خامخا وایست لیلا غم لری عقل یي کار نه کوي
نه زړه مو جیمي په ټول عمر کي دومره خپل د خبرو څخه ډاډمنه نه وم
هیڅکله مي دومره زړه نه درلود چي خپل پر مور ودریږم او دفاع یي وکړم خو نن
یي کوم د هغې د یاد څخه دفاع کوم او وایم دا چاوي چي تاسو نن شپه څښی
ستاسو دي زهر شي

زما د مور پسي دانه دانه ټوله لاړشی
ومي خندل او په خندا مې وویل: ستاسو ټولو جنازې دي قطار شي ، زما مور چي
نشته هیڅوک دي نه یي
یوې وویل: لوری داسي مه کوه دا دي مور ته بی احترامي ده
ومې ویل: نه خاله جاني بي احترامي دا ده چي شیطان صفته خلک لکه تاسو زموږ
په کور کي ناست یاست او چاوي څښی ، زموږ زوږ کور ته ګوری او ملنډی وهی
بیا مې ورزیاته کړه: وځئ دباندی هر څوک دي خپل مرغانچي ته لاړشي
موږ ستاسو د یو خواخوږي ته هم اړتیا نلرو

اوښکي مي د زنې څخه بهیدل ، دوام مي ورکړ: هله ژر څوک حق نلري په دي کور
چي زما مور د زړه په وینو جوړ کړي، ملنډي ووهي
وځئ ، ټوله ووځئ
شناخته او پردی مهم نه دي ټول وځئ هله ژر
شګوفې په بازو ووهلم چي ومې ویل: ته لري ګرځه
ستا حوصله خو هیڅ نلرم

لومړی مې د کاکا ښځه ولاړه شوه او د فاطمی سره لاړه او د هغې وروسته ټولي
ښځی یو پر یو د کوټي څخه ووتل.
یوې ښځی وویل: لوري آخر غم دي یي ، رضوان زما زوی دی ډیر خفه شو ته یي
ټولګیواله یي نه؟
د رضوان د نوم د اوریدلو سره مي ښځی ته وکتل او ومې ویل: هو خاله جانې زه

يي ټولګيواله يم
وې ويل: لوري خپل اعصاب نورماله کړه مرګ حق دی ، د مور وخت دي پوره شوی وو د ماشوم نخصان يو بهانه وګرځيدل

همداسي چي راته يې نصيحت کول په غيږ کي مې ونيوله او ومې ويل: خاله مور مي زما ټوله شتمني وه ، نشته زه د هغې په شان نور هيڅوک نلرم
وبخښئ چی تاسو ته مي هم سپکاوی وکړ خو دا ښځي يو هم زما مور سره ښېګڼه نه ده کړي
هره ورځ به يي پر ملنډي وهل ، پر کالو يي خندل پر کور يي خندل نور زه اجازه نه ورکوم چی د دي په نشتون کي هم دا کار وکړي
په تندي يي ښکل کړم او وې ويل: لوري غټه نجلي يي پام دي خپل خويندو ته يي دوي ماشومان دي که ته ځان د لاسه ورکړي دوي څه وکړي خاله جاني؟
ومې ويل: سمه ده خپل پام نيسم

زما اوښکي يي پاکي کړې او وې ويل: زه ځم بی د هغه هم تلم ښه شو چي خپله دې وويل ناوخته دی
د رضوان مور مي تر دروازي ورسول او خداي په اماني مو وکړل
په همدا وخت کي ګورم چي د شپي په تياره کي يو څوک نږدی شو او غږ يي کړه: ليلاا!

د رضوان غږ وو ، دروازي ته نږدی شو او خپل د مور اړخ ته ودريد.
د رضوان د سرو سترګو په ليدو سره مي زړه د وينو ډک شو ، ده هم ژړلي وه.
وي ويل: ليلا آخر غم دي يي خداي دي د زړه صبر درکړي ، غرمه خبر شوم راغلم هلته چي خاله يي وړه ته مي وليدلې خو بی هوشه شوې
اوس ښه يي؟ مرستي ته اړتيا لري؟ که لري چي مور مي پاته شي؟
ومې ويل: نه مننه اړتيا نلرم

ښه شو چي راغلاست ستاسو د ليدو څخه مي انرژي واخيستل
د رضوان مور زما مخ ښکل کړ او وې ویل: انشاالله اخر غم دي يي زما لوري ، خداي دي بيا دا ورځ دربادي نه ويني ګراني
د رضوان سره يو ځاي لاړل خو رضوان تر اخره ماته کتل.
غوښتل چي کم څه ووايي خو خپل د مور مخته يي ونه ویل.
لاړم خپل د مور کوټې ته او خپل د مور پر بالښت مي سر پریښود. د هغې توس مي ټینګ په غیږ کي ونیول او په ژړا شوم.
دومره مي وژړل چي پوه نشوم کله سهار شو.
خپل د مور پوړني مي پر سر کړ او د کوټې څخه ووتلم ، لاړم خپل د کاکا د کور دروازه مي وټکول قباد دروازه خلاصه کړه ، پوښتنه مي وکړه: زما د مور قبر چیري دی؟

قباد ښوونځي ته د تلو د پاره تيار شوی وو ، وي ویل: راشه چي درته وي ښيم شاته يي لاړم ، زما د مور قبر ته لاړو. په لاس يي اشاره وکړه هغه يو دی چی سپین ټکر پر اچولی دی.
نږدی لاړم او د قبر څنګ ته يي کښیناستلم. خاوره مي په لاس کي ونیوله او خپل سر مي د هغې پر قبر پریښود.
ومې ویل: پرون دا وخت ژوندې وې مورې ته دي چاوي جوړې کړې نن ولي نه يي موري؟؟؟؟
دا نړې څومره بده وه زه نه پوهیدلم
ولي دي ونه زغمل موري؟؟؟ زه سهیلا او حمیرا دي چاته پریښودلو؟؟؟؟
شکوفه؟؟؟
که زما پلار؟؟؟؟

کم يو دومره چي ته پر مورې مهربانه وې پر مورې مهربانه دي او مورې ته ارزښت راکوي؟
زه د دي توان نلرم چي خپل ژوند بی تا تیر کړم
ما هم ځان سره يوسه.....

ما هم یوسه موري ........ راشه زما خوب ته او ما هم یوسه .....
سهیلا او حمیرا دي هم زموږ سره راشي
یا د دوي زړه چي راځي که نه ........
چي زه دې هم وړې وی څه کیدل؟؟؟؟
پخداي ډېر مي خلق تنګ دی ، د پرون تر اوسه مي نه دي زغملي ، د دي وروسته به یي څنګه وزغمم؟

ډېره خودخواهه وې مورې ، کمه مور یوازي ځان د غمو څخه خلاصوې چي تا خلاصه کړه؟ نو اولادونه دې څنګه کیږي؟؟؟؟
زه ستا د نشتون غم سره او د خپل خراب ژوند سره څه وکړم؟؟
خپل د مور د قبر څنک ته پریوتلم او خپل د مور پوړنی می خپل پر مخ واچول او ومې ویل: همدلته بیدیږم ، هیله کوم ویښه نشم ما هم ځان سره یوسه ، سمه ده مورې؟؟؟ ما ځان سره وړې؟؟؟
دعا کوم چي ما ویسي ځکه زه بیرته کورته نه ځم.
سترګي مي پټي کړي او خپل خیالونو کي مي خپل د مور سره خبري کول.
یو څوک راغی او زما څنګ ته څملاستی. پوړنی مي لري کړ ګورم چي رضوان دی زما لاس یي خپل په لاس کي ونیول او وي ویل: په دي حال کي دي ونه وینم لیلا
ومې ویل: رضوان

وي ویل: جان ووایه
ومې ویل: مور مي لاړه پوهیږي؟؟
رضوان: هو د بده مرغه پوهیږم
ومې ویل: رضوانه مور مي ډېره ښه ښځه وه ډیرررررره ښه
رضوان: پوهیږم لیلا پوهیږم ښه خلک ژر ځي
ومې ویل: رضوانه زه بی د هغی مړه کیږم ، تل کله چي مي ژړل راتله او زه یي آراmolم اوس مې څوک آرامه کړي؟
څوک مي په غیږ کي ونیسي رضوانه؟

د چا مور داسي ځي؟
کاش پرون ښوونځي ته نه وی تللی .......
کاش باغ ته نه وی تللی .....

ټول کور وینو نیولی وو رضوانه زه ناوخته ورسیدلم ........ ډیر درد یي زغملی وو هیڅوک یي څنګ ته نه وه ...... حتي په دي وخت کي هم زه یي څنګ کي نه وم ....... کله چي زه ناروغه وم مور مي سترګي هم نه پټول ، ولي زه پرون نه وم؟؟؟
زه نباید ژوندۍ وواسم ...

.... رضوان ....

د لیلا سترګې پرېسیدلې وه او اوس یي هم ژړا دوام درلود.
ومي ویل: لیلا ولاړه شه
ولاړه شه
په پاڅیدو کي مي ورسره مرسته وکړه او کلکه می په غیږ کي ونیوله. په مینه مي پر سر لاس تیر کړ او ومي ویل: زه یم
د مور ځاي نشم نیولی خو نور نه ایږدم چي وژاړې
تل دې څنګ کي یم ، هر څه چي وشي بیا هم درسره یم
پر ما حساب کولي شي زما لیلا ګکې
د لیلا سترګي مي د اوښکو پاکي کړي او د کور خواته مي یوړه.
سهیلا ته مي وویل: خپل پام لیلا ته ونیسه چي بهر لاړه نشي پر ځان کم چم ونکړي
سهیلا هم ومنل او لیلا یي یوړه.
پوښتنه مي وکړه: سهیلا پلار دې نشته؟

وې ویل: نه سفر ته تللی دی ، د هیڅه هم خبر نه دی
د ښوونځي خواته لاړم ، زړه مي پر لیلا کباب وو بیچاره نجلی څومره بدبختي ګالي.
زلمی خان
زه باید پوه شم چي څه خبره شوي وه ولي یو په دوه داسي کیسه وشوه؟

لاړم د طبیبې کورته. زوي يي دروازه خلاصه کړه ، ومي ویل: مور دي شته؟
وي ويل: هو مهرباني
لاړم او ومي ويل: وبخښی خو زما په نظر یو څه سم نه دي
طبيبه چي ښه ښځه وه ، وي ويل: زه هم پوهه شوم ، د ماشوم ځايه کيدل په عادي حالت کي دومره خونريزي نلري خان صایب

د زهرا جانې نخصان بی رقمه وو ، خامخا يي یو څه خوړلې وه ، هيڅ عادي نه وو هر څه چي مي کول خونريزي يي نه بنديدل داسي معلوميدل ته چي اصلي رګ دې ځيني پري کړې یي کله چي زه ورسيدلم وينه يي پر کالو وچه شوي وه لکه چي دوه یا دري ساعته يي خونريزي درلود
ومي ويل: کله چي لاړې یو بله ښځه ورسره وه؟
وې ويل: هو وه
ومي ويل: څنګه هغې په هغه اوله کي تاته خبر درنکړ؟
وې ويل: نه پوهيږم کوچني لور يي زما پسي راغله .......
د طبيبې د کوره ووتلم او د خان شاه کور خواته لاړم د شګوفې ليدو ته. په تلوار د خان شاه کور خواته تلم. دروازه مي وټکول چي خپله شګوفې خلاصه کړه.
ومي ويل: یو څو پوښتني لرم
وې ويل: خيريتي ده وروره؟
ومي ويل: نه هيڅ خيريتي نه ده ، پرون زهرا دومره وينه د لاسه ورکړه ته چيرې وې؟

د شګوفې رنګ وپريدی ، وې ويل: پخداي زه بيده وم وروره ، ليلا ويښه کړم د غرمي ډوډې وروسته بيده شوم زهرا هم لاړه چي بيده شې
سترګو ته مي ښه په ځير وکتل او ومي ويل: داسي خو نه دی چي تا د هغې په اميدواري د بخيلی د امله کله چي هغې چيغی وهلي تا ځان په خوب وهلې بې؟
شګوفه: نه داسي نه دی د ليلا څخه پوښتنه وکړه زه په رښتيا بيده وم بيا زهرا هيڅ چيغي ونه وهل که نی ما اوريدل وروره قسم دی رښتيا وایم

لارې د ليلا د کوټې خواته ګورم چې د کړکې نږدې لمر ته پريوتلې ده ، دننه لارې او نارې مې کړه. کله چې پاڅيده ټول مخ يې پړسيدلی وو. خپل ويښتان يې خپل د غوږ شاته ووهل او وې ويل: څه ......... بيا څه شوي دي؟
ومې ويل: پرون چې لاړی شګوفه ويښه کړې په ريښتيا بيده وه که ځان يې په خوب اچولې وه؟

ليلا د لږ ځنډ وروسته چې د فکر کولو د امله وو ، وې ويل: نه پوهيږم چې بيده وه که نه خو توس يې خپل پر سر کش کړی وو
دقيق مې په ياد نه دي زما حالت هيڅ ښه نه وو
د ځايه پاڅيدم بهر لارې د شګوفې څخه چې ګورم رنګ يې پيکه سپين پريدلی دی.
ومې ويل: تا که کم کار نه دی کړی ولې رنګ دې پريدلی دی؟
شګوفه: نه وروره د برايې څخه مې ډوډې نه ده خوړلې وږې يم رنګ مې نه دی پريدلی

ومې ويل: زه ځم کور ته خان شاه ته احوال ورکوم چې راشي دا وضعيت سره ټول کړي

او د کوره ووتلم. اعصاب مې ډير خراب شوه دا نجونې څه وکړي؟ دا شګوفه خو د دوو روپو ښځه نه ده دوي څوک ټول کړي؟ خان شاه بايد بيرته راشي.
د بازار خواته تلم چې نادر او زامن مې د مخه راغلل.
نادر وويل: سلام وروره څنګه يې ښه يې؟
ومې ويل: مننه ، پرون د خان شاه ښځه وفات شوه سر و نيم سر اولادونه ځيني پاته شوه ډير ورته خفه شوو
نادر: اووووو د پرون جنازه ستاسو وه؟
آخر غم مو يې خداي دي تاسو ته د زړه صبر درکړي
د نادر څخه مې مننه وکړه او ومې ويل: ژوندی واوسي
نادر: خان شاه خپله چيري دی؟

ومي ویل: څم خبر ورکوم چي بیرته راشي او خپل د اولادو پر سر یي ، اولادونه یي ماشومان دي یو مشر ته اړتیا لري
نادر: ښه دی ښه خبره ده ، د راکړل شوي وخت موده هم کمه پاته ده دوه اوني یا ډیر تره
صبر چي راشي خبره سره خلاصه کړو ، پوهیږي نو مړی خپل پر ځاي دی ژوندی خپل پر ځای

ومي ویل: هو پوهیږم وروره خیر یوسي چي وخت دي ورکړ
نادر لاړی او زه هم خپل په لاری روان شوم. ډیر مي زړه سوځیدی. زه هیڅ د نورو په هکله نه اندیښمن کیږم ، هر څوک خپل د کار او ژوند مسئول دی خو په نوړو ( لورګانو) مي ډیر زړه سوځي ..... خدایه خپله مرسته وکړه ، په راتلونکي کي به څه کیږي

خان شاه پیسي ټولي کړي که نه؟ په کور کي پاتیږي که نادر به دوي وباسي؟
د خان شاه یو انډیوال مي ولیدی چي سفر ته د تلو په حال کي وو ، ورته مي وویل:
وروره چي لاړي خان شاه ته خبر ورکړه چي بیرته راشي
وي ویل: سمه ده وروره
بیا هم آخر غم مو یي خداي دي د زړه صبر درکړي
ومي ویل: مننه ، ژوندی واوسي

.... لیلا ....

ټوله ورځ بیده وم او ډیر شدید سردرد مې درلود. بهر لاړم یو بوشکه مي د دیوال په کنج کي ولیدل هغه مي واخیستل او خپل پر سر مي خالي کړه.
یو څه مې دمه راسته شوه ، لاړم پخلنځی ته چي ګورم ټول هغه خواړه چي خلکو راوړي وه، خراب شوي دي.
دا شکوفه چیري ده چي خپل پام یي نه دی نیولی؟
یو ټوټه وچه ډوډي مې د یو ګیلاس اوبو سره واخیستل او لاړم په سراي کي

کښیناستلم. د دیوال د سیورۍ په ساحه کې مې ډوډې خوړل پیل کړل. ډوډې وچه شوې وه او خوړل یې خوندور وو.
حمیرا راغله او وې ویل: لیلا؟
ومې ویل: څه وایې؟

حمیرا: زه هم وږې شوې یم
ډوډې مې په خوله کې همغسې پاته شوه ، ومې ویل: ته صبر
لاړم شګوفه مې نارې کړه: شګوفیییییییې؟
شګوفیییییییییییې؟
د کوټې نه راووتله او وې ویل: خیریتې ده؟
ومې ویل: نه نشته د وخته چې ته راغلې یې خیر زموږ د کوره تللی
ته د همدې کور ښځه یې که نه؟ دومره ډوډې خرابه شوې ده ولې دې ټول کړې نه وه؟

کامله د کوټې څخه د راوتلو سره یې وویل: اوس یې ټولوم
خو د دې وروسته خپل کار خپله وکړی په ما اړه نلري
زه مو مور نه یم چې تاسو ته د غرمې ډوډې جوړه کړم او ستاسو کالي پریمینځم
سترګې مې د اوښکو ډکې شوې ....... ومې ویل: بی د هغه هم ته هیڅکله زما مور نشې جوړیدلی
هغه ګوله چې مې په خولې کې همداسې پاته وه ومې غورځول. خپل په خولې کې مې د تریخ توب احساس کول
زما مور جانې که ته وی ........ ارمان چې نه یې
دا کور بې تا ډیر خالې معلومیږي زما ګرانې ...

حمیرا ته مې وویل: اوس یو وچه ډوډې واخله وې خوره بل څه د خوړلو د پاره کور کې نلرو ، هغه خواړه چې خلکو راوړې وه ټول خراب شوې
بله چاره نلرو خورجانې

لاړم د کوټې په کنج کې کښیناستلم چې په یاد مې شوه باغ مڼه لري .....
د پورته کوڅې باغ .....
ومې وویل: حمیرا ژر ولاړه شه چې لاړشو
وې ویل: چیرې؟
ومې ویل: لاړشو مڼه وخورو
حمیرا خوشاله پاڅیده او زما سره راغله.

د کوڅې تر سره چې ورسیدلو ، جلال مې ولیدی.
وبیریدلم او یو قدمه شاته شوم ، پام یې شو راته او وې ویل: وبخښی
نه مې غوښتل چې تاسو وبیروم
ومې ویل: کمه خبره نه ده ، کار مو درلود؟
جلال: ستاسو د مور د ناڅاپه مړینې د امله ډیر خفه شوم تسلیت وایم
ومې ویل: مننه ژوندی واوسی خدای مو د عزیزانو غم په تاسو نه وینې
خپل سر یې ښکته واچول او وې ویل: آمین
ومې ویل: که کم ستونزه نه یې موږ باید تر یو ځایه لاړشو
جلال: نه مهربانی وکړئ

د حمیرا سره یو ځای یې تر څنګ تیر شوو چې حمیرا وپوښتل: دا څوک وو؟
ومې ویل: همغه کس چې موږ یې د پلار پوروړي یو
حمیرا: ښههههه کور غواړې؟
ومې ویل: خود یې غواړې ، ته صبر چې پلار مې راشې که مو وکولی شو چې کور وساتو او په کوڅو کې پاته نشو
باغ ته ننوتلو او د مڼو د ټولولو په حال کې وو چې د باغ د دروازې د اوسپنې غږ راغی. موږ دواړه وبیریدلو او پر ځمکې پریوتلو.
د پښو د غږ څخه ښکاره کیدل چې یو نفر زموږ خواته د راتلو په حال کې وو.
ومې ویل: حمیرا مالک یې راغی پخدای تباه شوو

چي سر مې پورته کړ ، وي ويل: وا وا غلو ته وګورئ
رضوان وو.

پاڅيدم او د کښيناستلو سره مې وويل: زړه مي ودريدی ولي خپل غږ نه باسي؟
په خندا يي وويل: دا پروت مو ډير جالبه وو د لري څخه هم ښکاره وی هههههه
کورته تلم چي تاسو مي وليدلی زه هم ستاسو شاته راغلم
په مسکا سره مي وويل: عقل که نباشد جان در عذاب است
رضوان د حميرا د باړخو د کشولو سره وويل: څومره قندولکه ده ماشاءالله
حميرا وشرميدله. ومې ويل: دا غټه ښځه ده دې ته اوس ناز ورکوي؟
رضوان: کله غټه ده زموږ مدينه تر دې مشره ده لا زه ورته ناز ورکوم دا خو نوې
دوولس کلنه شوې
ومې ويل: ځه خير

رضوان: په باغ کي څه کوی؟
ومې ويل: ستا څخه پټه نلرم د پرون څخه مي ډوډي نه ده خوړلي په کور کي مو
څه نه درلود بيا دلته راغلو
رضوان: برايي زما مور بولاني ستاسو کور ته راوړه ودې نه خوړل؟
ومې ويل: نه ټول خراب شوې وه هوا توده ده

رضوان: خير کمه خبره نه ده ته ولاړه شه يو څو مانه واخله او ځه کور ته
زه بيا تاسو ته ډوډي راوړم
ومې ويل: نه ، نه يي غواړي ما د دي د پاره ونه ويل چي ته راته ډوډي راوړي
رضوان: خبري بند ، هله ژر څه نو
د حميرا سره مې بيرته د کور خواته حرکت وکړ ، رضوان هم لاړی خپل کور ته.
يو دوه ساعته وروسته مور يي د کوچني خور سره راغلل ، په لاس کي يي يو ديګ
وو.

وې ویل: زویه بولاني به مو خوړلی وی خرابیږي هوا ګرمه ده
ومې ویل: وبخښئ خاله ، لاسونه مو درد ونه کړي خو برایی مې اوبو ته هم زړه نه کیدی
فکر مي هم ونشو چي چا څه راوړي ټول خراب شول
د دیګ سر يي خلاص کړ او موږ درو ته يي بوډي ځاي کړه.
ومې ویل: رضوان چیري دی؟ ورځخه مي مننه ونه کړه
وې ویل: بهر د دروازي څخه ولاړ دی
کور ته راغی وې ویل ژر بوډي پخه کړه چي د لیلا کور ته يي یوسو داسي ورخطا وو چي مه وایه نه پوهیږم په دي ورخطایي کي به وریجي څنګه راغلي يي
ومې ویل: نه مننه خوندور راغلي دي ، ما ورته وویل چي اړتیا نشته ځان په زحمت کړې

بیا مي ورزیاته کړه: خاله ورته ووایه چي دننه راشي ، هله حمیرا ورشه ورته غږ کړه
مور يي وویل: نه لورې نه يي غواړي ، پریږده چي بهر ولاړ يي
ومې ویل: نه خاله جانې ورته ووایه چي راشي
حمیرا لاړه رضوان ته يي غږ کړ ، رضوان دننه راغی او خپل د مور څنګ کي کښیناستی.
خپل غاب مي ورته مخته کړ او ومې ویل: واخله
وي ویل: نه مننه تاسو يي وخورئ نوش جان
ومې ویل: واخله که ني بیا مي زړه نه کیږي
مسکا شو او یو ګوله يي واخیستل. هغه غرمه موږ ټولو یو ځاي د غرمي بوډي وخوړل. ما او رضوان په یو غاب کي ، د رضوان د شتون سره مي ډیر ښه احساس درلود ، زړه مي سکون موندلی وو.

څومره دا زوي او مور راباندي ګران دي ، د ښه توب څخه هیڅ کمي نه لري.
زما د ګراني مور د مړیني څخه یوه اوني تیره شوي وه او یوه اوني هم کیدل چي ښوونځی ته تللې نه وم. پلار مي راغلی وو هغومره چي باید غمجن شوی وی ،

غمجن نه شو. لکه دا چی هیڅوک مړ شوی نه یې ، هیڅوک یي د لاسه ورکړي نه یې.
ډیر بی تفاوته چلند یي کول او دا کار یي ډیر زما اعصاب خرابول. څو ځله مي وغوښتل ورسره خبري وکړم چي ولي دومره بی غمه یي لکه چی هیڅ نه یي شوي خو خپل د پریکړي څخه وګرځیدلم ....
انسان باید خپله پوه شي په خلکو نه کیږي چي هر وار ورته ووایي
حیف زما د مور د ځوانۍ .....

حیف د دې د عمر په دي لعنتي کور کي ....... چي د خاورو سره یو شو .....
او د چا د پاره وسوځیدله ......
چاته یي د انسان ارزښت ورکړ ......
دا یي هم اجر و پاداش ...... هیچا ورپسي ونه ژړل او د دې د تګ څخه غمجن نه شو.

ټول داسي چلند کوي لکه چي د اوله هم هیڅوک نه وو.
په پخلنځی کي وم او پخلی مي کول. زلمی کاکا او پلار مي د دباندي څخه راغلل.
پلار مي غږ کړه: لیلا راشه کار درسره لرم
نږدي لاړم چي پیل یي کړه: زویه یوه خبره شوي ده چي باید درته ووایم
ومې ویل: څه شوي دي؟ خیریت دی؟
وي ویل: ما ونشو کولی چي پیسي تیاري کړم ، مور دي هم لاړه او مورې یي یوازي پریښودلو ، د هغې په فاتحې کي هم پیسي مصرفي شوي زویه
یوه خبره شوي ډیره یي نه اوږده کوم
ومې ویل: اوس څه شوي دي چي دومره یي وایي؟

خان شاه: نادر چي مورې یي پوروړي یو ډیر لطف یي وکړ او وي ویل چي د دوي زوي جلال ته بې خوښه کړي یي ، ګرچه د نادر کورني په تا راضي نه دي خو خپله جلال یوه اوني کیږي چي شله ګي کوي تر څو خپل کورني یي راضي کړې ، تاته مرکه راځي لوري

خپل د پلار خبرو د اوریدلو سره مې وویل: نه
ما د کور د پور پر ځاي ورکوي؟؟؟ زه په هیڅ عنوان راضي نه یم زه هغه نه کوم
خان شاه: بیعقلې مه کوه لیلا
زه دلته ستا ډوډي نشم راکولي پوهیږي که نه؟
په لس کاله د خلکو زاړه کالي لا درنه نه رسي ، نادر پیسه داره دی لاړشه شکر وکړه
چي د ده زوي ته یي خوښه کړي یي خپل د ټول کورني سره یي ضد کړی چی تا غواړي

سترګي مي د اوښکو ډکي شوي او ومې ویل: ما خرڅوې چي کور وساتي؟
پلار مي په لوړ غږ چیغي کړه چي وبیریدلم.
وي ویل: نههههه بیعقلې
دا ستا خپل په ګټه دی زه چي ډیر کار وکړم ستا د دوو خویندو ډوډي ورکړم ، عقل لري که نه؟
یو نوي کلن سړي ته خو دي نه ورکوم ، یو غریب او بدبخت ته دي خو نه ورکوم ،
جلال نوم لري په منطقی کي ، خوشبخته کیږي پخداي هره نجلی ارمان لري چي د ده سره واده وکړي
هغه ته یي خوښه کړي یي

موږ نن لاړو چي د پیسو یو برخه یي ورته ورکړو پلار یي وویل چي نه کیږي پیسي باید پوره راوړی ، موږ سره یي جنګ وشو جلال خپل د پلار مخ یي ونیوی او وي ویل مه کوه دا کار او د ټولو مخته یي وویل چي تا غواړي
درته واده نیسي ، یو غټ او په شان و شوکت واده

يو څه خپل سِد پر سر کړه وه نجلی ، خوشبخته کیږي
خپل د پلار مخته یي وویل که لیلا ما وغواړي او ما ومني کور د لیلا په نامه کوم
ستا خوښیږي چي سهیلا او حمیرا په کوڅو کي پاته شي؟؟
بی له دي چي کم څه ووایم ، اوښکي مي د سترګو څخه راتلل او د رضوان څهره مي د سترګو د وړاندي نه لري کیدل.
خان شاه: بیعقله نجلی نه یي
مور بیچاره دې خداي دي دا وبخښی ، که ژوندې وی هغه هم راضي وه ځکه ته ورباندي ګرانه وې او دا چي یو ښه میړه پیدا کړي د هغې ارمان هم وو ..... نه وو؟؟؟

زما ځواب راکړه
ومې ویل: زه هیڅ ویلو ته نلرم
خان شاه: ولي نه لري؟؟ یعنی منلي دي ده؟
ومې ویل: نه
ته حق نلري چي زما د مور او د هغې د ارمانونو څخه خپل په ګټه استفاده وکړي
مګر تا زما د مور غوښتنو ته ارزښت ورکړ؟
کم ورځ دي د هغې په زړه کار وکړ؟
اوس چي بند پاته شوی یي د هغې نوم مه اخله
او دا چي زه د جلال سره واده کوم که نه یو پریکړه ده چي زه خپله یي کوم نه بل څوک

زلمی کاکا وویل: سمه ده چي ته هوښیاره نجلی یي ، غټه شوې یې خو بهتره ده چي خپل د خویندو په اړه هم فکر وکړي ته نه بدبخته کیږي
جلال د هر نجلی ارمان دی
خداي شاهد دی که زما فاطمې باندي یي مرکه کړی وی خپل سر مي ماتول فاطمه مي ورته ورکول

خپل عقل پر ځاي کړه او ښه فکر وکړه ، زما خبري درته ارزښت هم نلري خو بيا هم زړه دي

خان شاه: د څه شي زړه؟
څه کوې وه نجلی؟؟؟ زه ستا ډوډي نشم راکولي پوهيږي که نه؟
ټول د کوره باسي بيا څه کوي؟
حق نلري چي ټوله خپل د غوښتنو د پاره قربان کړي
نه يي کوم بيا څه معنی؟؟؟
ما وخته دوي ته د هو ځواب ورکړی ومي ويل ډير هم خوشاليږم چي دا دوستي وشي

کله چي زما پلار خبري کول يوازينی احساس چي په ما کي پياوړي کيدی ، هغه کرکه وه. خپل غاښونه مې پر يو بل وچيچل او لاسونه مي موټ کړل.
ومې ويل: تههههه هيڅ حق نلري چي د پلار توب ادعا زما په حق کي وکړي
په کم حق دي مخ تر مخه دوي ته د هو ځواب ورکړی؟ زما څخه دې پوښتنه کړي وه؟؟

ماته دي څه کړي چي اوس بيا ځان ته پلار وايي؟؟
دا چي زما د زيږولو لامل وګرځيدلي؟؟ که دا چي د دي اجازه دي راکړه چي لکه سپې په دي کور کي ژوند وکړم؟؟
پلارتوب همدا دی؟؟ د پلارتوب څخه دي بل څه نه زده؟؟
راسته او چپه خپل د اولادو پر مخ وهي ته چي ډول دی
تا مورې په څپيړو لويان کړو
کمه ورځ دي ښه چلند کړی؟؟ هره ورځ دي ويل چي کاش هلک وی ، په مورې شرميدلي

او نن زما څخه غواړي چي د ټولو په اړه فکر وکړم؟؟
ته غير د خپل ځان د بل چا په اړه نه فکر کول او نه يي هم کوي

ځکه چي خپله سرګردانه کيږي دا خبره کوي
پلار مي په غوسه راته کتل او زما خبري يي اوريدل ، په پاي کي يي وويل: شاباس شااااااااباس

ما خپل ژوند ستاسو د پاره په خطر کي واچول ، په شپو شپو مي موټر چلول څو واره مي ټکر وکړ چي نږدي وو خپل ژوند د لاسه ورکړم
دا چي تر دي ډير تره پيسي مي پيدا نکړي تقدير به همدا وو
ما څه کولی شو؟؟؟
زه ده اوله فيوډال وم؟؟ چي بيا غريب شوم؟؟
نور دي د څه تمه درلود؟؟
غريب کاره سړی يم
د خداي غوښتنه وه زما ګناه څه ده؟؟

دومره هم مه ګډيږه
خبره حل شوي ده ما د هو ځواب ورکړی دی
ستا د مور د پاره دوه اوني صبر کوي چي څلويښتمه يي پوره شي
ما وويل چي نامزادي ته ارتيا نشته مستقيم واده ، دوي هم ومنل
واي دي و ستا حال ته يي ليلا که دې خرابي وکړه ، داسي يو کار وکړم چي د دي مردار ژوند څخه چي اوس يي لري د همدي ارمان وکړي پوهه شوي؟؟
زه ستا د بيعقلۍ د پاره د دومره خلکو ژوند نه خرابوم

سر د سبا نه هم حق نلري ښوونځی ته لاړه شي ، ټوله ورځ په کور کي کښيني د خبرو کولو او د ښه رفتار طريقه به زده کوې پوهه شوې؟؟ چي کله راغلل فکر ونکړي چي يو ګلګې (خوسکې) د ناوې په حيث خپل کورته وړې
خداي دي وکړي چي عقل دي پر سر شي که ني واي دې وې ستا حال ته
په پس خانې کي دي بندي کوم چي د لوږی مړه شي په همدي سراي کي درته قبر کِينم او پټوم دي تر څو څوک خبر هم نشي

زه راغلی وم چي د انسان په څير درسره خبري وکړم خو ته انسانه نه يي چي په دي خبرو پوهه شي خره يي او د خر سره مجبور زور وکړي
سترګي مي د ډير ژړا څخه سوځيدل. په نا اميدي سره خپل پلار ته مي وکتل بيا مي زلمی کاکا ته وکتل. خپل د خولي اوبه مي تيري کړي او د دامن په کنج مي خپل پزه پاکه کړه

ومې ويل: څه رقم خلک ياست ، ته فکر کوي چي زه د جلال سره واده وکړم او دی کور زما په نوم کړي بيا زه اجازه ورکوم چي ته او شګوفه په دي کور کي واوسيږی؟؟
پلار مي په غوسه راوکتل او يو کلک څپيړه يي پر مخ ووهلم چي غوږ مي بينګګګګګ غږ وکړ.په بغل ولويدلم. مخ مي اور ګرځيدلی وو او سوځيدی.
په لوړ غږ يي چيغي کړه: ته اوس دومره شوي يي چي ما زما خپل د کور څخه باسي؟؟؟
ته پسته لعنتي؟؟؟؟

د لاس څخه يي ونيولم او کش يي کړم. هيڅ د ولاړيدو توان مي نه درلود. ملا مي د دروازي په دستګير ولګيدله او ما د ډير درده چيغې کړي. ومې ويل:
ايله مي کړه زما لاس دي وشکول
په پس خانې کی واچولم او وي ويل: تر څو انسانه شوي نه يي همدا دي ځاي دی يوه ګوله ډوډي هم نخوري پوهه شوييييي؟؟؟؟
د اتاق په تل کي ولیدلی وم. د ژړا حوصله لا نه وه. هيڅ اوبه مي په سترګو کي د ژړا د پاره پاته نه وه. خپل سر مي خپل پر لاس پريښود او ومې ويل: خداي چيري دی؟؟
زما بدبختي هيڅ نه ويني؟؟ ولي؟؟؟

بيا مي رازياته کړه: کله چي دومره بندګان ولري معلوم داره ده چي يو دي خامخا هيريږي زه هغه هيرشوې يم پوهيږم تر نيمو شپو په پس خاني کي وم. ساعتونه يو تر بل تيريدل.خپل سترګې مي پټي کړې وې ، پس خانه د خاورو بوي درلود داسي

احساس مي كول لكه چي په ځنګل كي يم چي يو چا دروازه وټكول.
فكر مي وكړ چي مور مي ده ، خپل د ځايه پاڅيدم او دروازي ته د نږدي كيدو سره
مي وويل: مووووررررييبيې؟؟؟
د حميرا كرار غږ راغی چی ويل يې: ليلا

نا اميده د دروازي څخه لري شوم او ومې ويل: كمه ده مور دي بيعقلې ليلا؟؟؟ ته
مور نلري چي په نيمه شپه كي دي احوال واخلي
لعنت پر دي ژوند
بيا حميرا وويل: ليلاا؟؟
ومې ويل: څه شوې دي ولي نه يي بيده شوې؟
وې ويل: ليلا زه وږې يم .... شګوفه ډوډي نه راكوي وايي پلار دي ويلي چي بايد
ادب زده كړی

آه زره مي كباب شو. ومې ويل: ولي تاسو ته ډوډي نه راكوي؟؟ ګناه ما كړي
دروازه مي په لغته ووهل او چيغې مي كړې: خان شااااااه
خاااااااااان شاااااااااااااه؟؟
د چا د پښو غږ مي واوريدل چي راغی او دروازه يي خلاصه كړه. پلار مي كټ مټ
زما مخ ته ولاړ وو.

ومې ويل: ولي دي دوي ته ډوډي نه ده وركړې؟ د دوي ګناه څه ده؟
لعنت پر تا ، لعنت په هغه ورځي باندي چي ته پيدا شوي ، لعنت ستا پر ټوله كورني
ستا مور ستا وروڼه په ټولو ، لعنت پر تاااااا
خپل لاس مي موټ كړی وو غوښتل مي وربانديي حمله وكړم
وي ويل: خپل اصلي ذات دي ښكاره كړ د سپې لورې
زه ستا د بيعقلې د پاره ځان نه سرګردانه كوم ، يا راضي كيږې يا د نجونو سره به يو
ځاي وږی توب زغمئ
ښوونځي ته هم اجازه نشته

تر سبا سهاره وخت لري چي فکر وکړي ، ته هوښياره نجلی يي زه پوهيږم
ومې ويل: حميرا او سهيلا ته ډوډي ورکړه زه يي نه خورم
دوي څه ګناه کړي؟؟ ته د دوي پلار نه يي؟؟
خان شاه: کله چي د خوب د پاره ځاي ونه لرې بهتره همدا ده چي د وړی توب څخه مړې شي

حميرا ته مي وکتل ، د اوښکو ډکو سترګو سره يي ماته کتل. لاسونه مي موټ کړي وه او خپل غاښونه مي پر يو بل چيچل. په ډير سختي سره مې وويل: منم يي ښه شوووووو؟؟؟؟ منم يي خداي دي تا لعنت کړي.
خان شاه: شاباس هوښيارې نجلی همداسي ښه کارونه کوه هم ته خوشاله هم زه
ومې ويل: خبري مه کوه نور دي غږ وانه ورم
د څنګ څخه يي تيره شوم او لاړم د شګوفې څخه. د الماري څخه مي وچه ډوډي واخيستل. د چاوو پياله يي چي مخته ايښي وه په لغتي مي په ديوال ووهل او ومې ويل: دا ورځي دي ښه په ياد يي ، ډيره بيعقله يي ، ډيره
لاړم حميرا او سهيلا ته مې چاوي او وچه ډوډي يوړه او ومې ويل: د چهارمغز سره يي وخورئ

يو کنج کي کښيناستلم او خپل مخامخ ته په کتو شوم. خدايه رضوان څنګه کيږي؟؟ څنګه امکان لري؟؟ زه ...... بی د هغه مړه کيږم زما د مور وروسته رضوان زما د زړه پياوړتيا دی.د فکر کولو په حال کي وم چي حميرا وويل: ليلا؟
ومې ويل: څه وايي؟

وې ويل: هغه هلک چي په باغ کي مو وليدی ستا ټولګيوال دی نه؟؟
ومې ويل: هو
حميرا: هغه ته ووايه چي مرکه راوليږي بی د هغه هم د وکيل زوي دی ، پيسه داره خلک دي
سهيلا وويل: ربښتيا وايي زما په نظر هغه هلک تا غواړي که خبر شي چي تا بل چاته

ورکوي خامخا راځي
ومې ویل: نه پوهیږم
یو وار یي راته ویلې وه کله چي خپل درس مي پاي ته ورسول او وظیفه مي پیدا
کړه بیا ستا مرکې ته راځم
خو اوس ....... نه پوهیږم

سهیلا: اوس حالت فرق کوي ته ورته ووایه
ومې ویل: ته صبر چي سهار شي ورته وایم
ټوله شپه مي د دي په اړه فکر کول چي څنګه رضوان ته ووایم؟؟ یعنی مرکه
رالیږي؟؟؟ خداي دي وکړي چي وي مني.
سهار شو سهیلا او حمیرا ښوونځی ته تلل. کرار مي وویل: حمیرا ځي رضوان ته
وایي چي په باغ کي وروسته د رخصتیدو یي باید ووینم ، پوهه شوې؟؟
حمیرا وویل: ښهه ورته وایم
ومې ویل: څوک خبر نشي
حمیرا: سمه ده په سترګو

په کور کي ناسته وم پلار مي هم په کور کي وو او د ښوونځي تللو اجازه یي نه
راکول.د کړکي شاته ناسته وم چي د سراي دروازه وټکیدل ...
پلار مي دروازه خلاصه کړه. د سلام علیک او ستړی مشې غږ یي راتی. ومې لیدل
چي لومړی جلال دننه شو او زما د پلار لاس یي ښکل کړ او وروسته یوه چاغه ښځه
دننه راغله ، دوه کسه نور هم د دوي سره راغلي وه یوه نجلی او یوه سپین سرې
ښځه.

ومې ویل: خدایه دوي دلته څه کوي؟؟
پلار مي دوي د شګوفي کوټي خواته راهنمایی کړه او په منډه زما خواته راغی.
وي ویل: ولاړه شه ژر خپل ځان جوړه کړه
ومې ویل: ولي؟؟

وي ویل: ضد مه کوه ، جلال ، او د ده مور ، خور او بي بي راغلي چي تا وګوري هله ژر ګوره بیابي ونه کړي وه نجلی چي پخداي مي دي قسم یي ژوندۍ دي په قبر کي ننباسم

ومې ویل: زه همدا رقم چي یم ځم ، پوه شوي؟؟؟
باید وګوري چي څوک خپل زوي ته کوي ، ځان د هیچا د پاره نه جوړوم
پلار مې وویل: خداي شاهد دی چي په کار یي که ني ستا ژبه مي درته پرې کول
ژر کوه ځه د سپې لوري زه نه پوهیږم چي ستا مور د څه شي شیدي تاته درکړي
ومې ویل: حققققق نلري چي یوه خبره لا زما د مور په اړه وکړي
که مي صبر خلاص شو بیا ما تشي ټولولي پوه شوي؟؟؟
د څنګ څخه یي تیره شوم او په اوږه مي ووهل. د شګوفې کوټي ته دننه شوم او ومې لیدل چي شګوفه د چاپلوسي په حال کي ده.

خپل ستونی مي صاف کړ او سلام مي واچول. لاړم او د دوي مخامخ کښیناستلم.
شګوفې وویل: پوهیږی نو ګوشه ګیره شوې ده مور جانه یي تازه وفات شوې
یوه ښځه د هغوي د مینځه وویل: لور جانې اخر غم دي یې ، د مور مرګ ډیر لوي غم دی خپل سر مي پورته کړ ، هغه چاغي ښځي خبري کول په څه کبر او غرور ناسته وه ، وریښمین تور او شین بخمل کالي یې اغوستی وه ، ښایسته وه خو د عمر د امله یي پوست یو څه ولیدلی وو. توري سترګي یي درلود ، او کټ مټ لکه جلال ډبل او اوږده وریځي یي درلود. پښتنه وه ، جګه پزه ، په اندازه خوله ، نرې شونډان. جذابه څهره یي درلود. څهره یي ډیر جلال ته ورته وه یوازینی توپیر یي دا وو چي جلال ږیره درلود او دې ښځه نه. فکر کوم چي همدا یي مور ده.

ومې ویل: مننه ژوندۍ واوسی خداي دي دا غم زموږ د ټولو څخه لري ، لرې.
جلال د تل په شان سپین کمیس پرتوګ اغوستي وو ، څومره یي ځان ته رسیدګي کړي وه

هغه چاغه ښځه ولاړه شوه ماته نږدی شوه ، خپل د پوړنۍ څنډه يي خلاصه کړه يو ګوتمي يي وايستل او زما په لاس يي کړه

وې ويل: زما د زوي نامزاده شوې ، مبارک دي يي الله دي سفيد بخته کړه
د دي کار سره مي ټول بدن په لرزيدو (ريږديدو) شو.
او خدايه دې څه وکړل دا ګوتمي بيا څه وايي؟؟
پلار مي غږ کړه: وه نجلی مننه وکړه
ومې ويل: مننه ژوندي واوسی
زه يي په تندي ښکل کړم او خپل لاس يي زما پر سر تير کړ او بيا يي وويل:
ماشاءالله لوري  دوه اوني وروسته واده نيسو
زما خوله بنده وه او حيرانه وم چي څه ووايم
د جلال مور رازياته کړه: جلال يوه اوني کيږي چي د ټولو وينه يي په ښيښه کي کړي چي زه ليلا غواړم

د جلال د پاره نجوني ډيري دي خو بس څه ووايم زړه يي درباندي تللی دی
او په خندا سره يي دوام ورکړ: ما خپل زوي ته ډير ارمانونه درلود بس څه وکړم زما خبره نه اوري
په زړه کي مي وويل: ما خپل د تور مخی زوي وړ هم نه ګڼي
نو کله چي دي خوښه نه وه څه د پاره دي ګوتمي راويستل؟؟
خپل سر مي ښکته اچولی وو او ګوتمي ته مې کتل.
ومې ويل: خداي دي وکړي چي رضوان يي ومني ، خدايه ته راسره مرسته وکړه
د جلال مور غږ کړه: ښه نور موږ ځو
شکوفې وويل: پاته شی اوس چاوي ايشي راوړم يي
وې ويل: نه مننه چاوي مو څښلي
راغلې وم چي د ليلا قد و اندام ووينم

صبا ورته د جلال په لاس کالي راليږم د واده او د دي مراسمو د پاره
يا که دې خوښه وه راشه چي يو ځاي بازار ته لاړشو
پلار مي غږ کړه: نه نه ستاسو خوښه د ليلا خوښه هم ده ، هر څه چي تاسو خوښ کړي همغه صحيح دي
د جلال مور وويل: داسي خو نه کيږي دا هم زړه لري
لوري راځي چي خريد ته لاړشو؟؟
ومې ويل: نه هر څه چي تاسو خوښ کړه زما خوښ هم دي خاله جانې
د دوي سره مي روماچي وکړه او دوي لاړه. د دوي د تګ وروسته شګوفې وويل: خداي ښګه بخت درته درکړی

ومې ويل: خپل خوله ترې که زه يي درته وترم؟؟
زما او زما د خويندو په اړه به يوه کلمه خبره هم نه کوي حتي زما د مور نوم به لا نه نيسي چي ډير درته ګران تماميږي
څو ساعته وروسته حميرا او سهيلا راغلل او وې ويل چي رضوان ته يي ويلي او اوس زه بايد باغ ته لاړه شم. خپل ګوتمي مي وايستل او د توشکي لاندي مي پريښودل.

پلار مي نه وو په تلوار خپل پوړني مي واخيستل او تر باغه وځغاستلم. باغ ته ننوتلم هر خواته چي ګورم رضوان نشته. خدااايه دی چيري دی؟؟؟
ګورم چي زما پسي باغ ته دننه شو. ورته نږدی شوم او ټينګ مي په غيږ کي ونيوی.
ومې ويل: رضوان ما ميړه ته ورکوي څه وکړم؟؟؟
رضوان چي زما په ليدو سره يي په شونډو مسکا راغلي وه ، زما د خبري په اوريدو سره يي خندا پر خوله وچه شوه او سترګي يي د ډير حيرانتيا څخه برګي ووتلي.
وي ويل: چااااته؟
ومې ويل: همغه بيعقل جلال ته ، د نادر زوی
د رضوان خوله خلاصه پاته شوه.
رضوان: دی د کمه شو؟ کله؟؟؟

ومې ویل: نن یې مور راغلي وه ماته یې ګوتمي راویستل ویل یې چي صبا هم کالي رالیږي ته .........
نه کیږي چي ته زما مرکي ته راشي؟؟؟
رضوان چي ډیر خفه شوی وو وي ویل: راځم سل په سله راځم خپل مور او پلار هم راوړم تا نباید بل چاته ورکړي نه پریږدم چي دا کار وشي ، قسم خورم.

په غیږ کي مي ونیوی ، د ډیر خوشالیه مي په سترګو کي اوښکي راغلل.
رضوان زما تندی ښکل کړ او وي ویل: هیڅ غم مه کوه ښه ..... زه یم نه پریږدم چي تا په زوره چاته ورکړي زړه دي جیمي

په همدي حال کي قباد او پلار مي په باغ ننوتل او موږ یي ولیدلو.

پلار مي موږ خواته راغی او په رضوان یي حمله وکړه. په لوړ غږ یي ویل: زما لور ته نوم بدی اړوي؟؟؟
هر څومره چي مي هڅه کول د یو بل څخه یي جدا کړم خو دومره توان مي نه درلود. څو کلک سوکان یي د رضوان پر مخ ووهل چي د هر وهلو سره زما زړه درد نیوی.
قباد چي زه د لاسه نیولې وم ، وي ویل: طوبا نن راته ووایل خو ما فکر وکړ چي هسي وایي هههههههه زه وایم چي څنګه د رضوان دا بیعقله او بدرنګه خوښه شوي؟؟؟؟
خو ته وګوره
دلته مو څه کول؟؟؟؟

بیا یي رازیاته کړه: کاکا بس یي دي پریږده تر څو چي څوک نه دي خبر شوي باید لاړشو
پلار مي رضوان پریښود او یو کلکه څپیړه یي زما پر مخ ووهل او وي ویل: همدا نن سهار نامزاده شوې دلته دې څه بد کول؟؟؟
رضوان ته یي وکتل او دوام یي ورکړ: خداي دي وکړي چي بي عفته کړې دي نه یي ،

که نی تا او ستا پلار یو ځاي مړه کوم
د لاسه یي ونیولم او د باغ څخه یي وایستلم. تر اخره پوري مي سترګي په رضوان کي وه چي خپل پزه یي ټینګه نیولي وه ..... د ځان څخه یي هیڅ دفاع ونه کړه او اجازه یي ورکړه چي زما پلار یي ښه ووهي

اوښکي مي د زنې څخه څڅیدل. څو واره ولویدلم چي بیرته یي پورته کړم. کورته ننوتلو او زه یې بیا په پس خانې کي واچولم.
وي ویل: همدلته واوسه تر څو زه طبیبه راوړم
دعا وکړه چي بي عفته کړې یي نه وسي ، دعا وکړه ........ که نی  دوژغ د ځمکي پر سر درته ښیم
او دروازه یي کلکه راباندي وتړل.
تړلي دروازي ته مې کتل.

نور مې د هیچا څخه بیره نه درلود ، د وهلو څخه ، د بیابیدو څخه یا هر څه چي د پیښیدو امکان یي وو
د چا آبرو وساتم؟؟ د پلار؟؟ یا د هغه مور لا چي نور نشته؟؟؟؟
څو شیبي وروسته یي دروازه خلاصه کړه او همغه طبیبه چي زما د مور د پاره راغلې وه ، دننه راغله. پلار مې څنګ ته ولاړ وو او وې ویل: خورجانې د کیسي څخه خبره یي ، زړه مي جیمي کړه د دي نجلي واده نږدي دی
طبیبی وویل: په سترګو

دروازه یي وتړل او طبیبي ماته وویل: لوري اجازه راکړه تا معاینه کړم پلار دي نارامه دی حق ورته ورکړه لور جاني
ته ډیر ښه بخت لري د نادر د زوي سره واده کوي ستا د پلار زړه هم جیمي شي ښه دی
ورته په کتلو سره مي وویل: خاله تا زما مور پیژندله
ما هم پیژني

سهیلا او حمیرا تا زیرولي اوس ځنګه دا خبره ماته کوي؟؟ ما نه پیژني؟؟؟
زه خرابه نجلی نه یم او تر هغه مهمتره ما کم خراب کار نه دی کړی
بهتره ده چي لاړه شي نغوارم ستا سره هم جنجال وکړم
خاله طبیبی وویل: نو ستا د پلار ځواب څه ورکړم؟

ومې ویل: که ما پیژني نو ځواب دي باید یوازي یو څه یي خاله.
د طبیبی خواته می کتل چي اوس څه ځواب ورکوي ، د ځایه پاڅیده او بهر لاړه.
نه پوهیږم ما پلار ته یي څه وویل ، پلار مي دننه راغی او وي ویل: زر واره شکر چي بي عفته شوې نه یي لیلا که ني ........ نن دي د ژوند وروستی ورځ وه
ورته مي وکتل او خندا ونیولم. ومې ویل: ښه دی نورې لري چي خپل د بازو زور وښیي که نی به دي څه کړی وی؟؟

تا خپل نرتوب د خو بی وزلو نجونو په وهلو کي پیدا کری بس
اعصاب یي خراب شوه ، خپل غاښونه یي یو پر بل وچیچل او وي ویل:  ځه شکر وکړه چي واده دي نږدي دی نه دې وهم که ني مي نن شپه مړه کولې
اوس هم ځم ستا د میني لیونی ښځه ، پلار یي خپل د اولاد د تربیي او ادب ښځه بوله نږي خبره کړې صبر چي پوه شي هوښیار او با ادبه زوي یي د نجونو سره په باغو کي ملاقاتونه کوي ، هغه هم د چا سره؟؟؟

د یو بي ادب او بي شخصیتي نجلی سره
حیف د جلال ...... حیف
پخداي قسم ستا په خیر نجوني یوازي د کوڅو د پاره دې
یوازی دی دي چي ته یي خوښه شوې یې
ومې ویل: رښتیا؟؟؟؟
هغه څه مې چي په وینو کي دي زه همغه یم
که زه د کوڅو نجلی یم ته څه یي؟؟ زه خو ستا لور یم

ښه دی چی څهري مو یو بل سره وایي که نی په دا غیرت چي ته یي لري سل په سله دي ویل چي لیلا هرمونې ده زما نه ده

د لاس په شا یي کلکه په خوله ووهلم. طبیبه خاله ژر د ده اوږه ونیول او وې ویل:
خیر دی وروره کوچنې ده ، بیعقله ده خپل په خبرو نه پوهیږي
ته مشرتوب وکړه ته ګذشت وکړه خپل مور یي تازه د لاسه ورکړي اعصاب یي نورماله نه دې
پلار مې وویل: نه خورې ته نه پوهیږي
یوه اوني کیږي چي زه یي پزي ته رسولی یم ، ما څه ګناه کړي خپله خبر نه یم چي خداي داسی یو لور راته راکړه؟؟
ته د خلکو لور وګوره ته زما لا وګوره

خپل په لستوڼي مي خپل د خولي وینه پاکه کړه او ومې ویل: هو رښتیا وایي
د خلکو پلار وګوره ته ځان وګوره
دیګ و دیګ ته وایي چي مخ دي تور دی ، ته څه یي چي تمه لري زه ښه واوسم؟؟
ستا خپل اولاد یم
پلار مي خپل دواړه لاسونه آسمان ته ونیول او وي ویل: الله خدا جو ما بی غمه کړه یا زما ساه ونیسه یا د دې نجلې لا. لیونی شوم
ومې ویل: ولي زما ساه ونیسي؟؟؟ ستا ساه دي ونیسی بي ارزښته انسان د ساه ایستلو حق نلري

غوښتل یي بیا راباندې حمله وکړي چي قباد دی یي ټینګ ونیوی او دباندي یي یووړ.
وي ویل: کاکا فکر دي چیري دی؟ مه کوه مړه کوي یي
قباد ته یي وویل: که دا نجلی د کوره ووتله ستا پښي در ماتوم
قباد نږدي راغی چي کم څه ووایي ولاړه شوم او دروازه مي کلکه وتړله او ومې ویل:
د دروازي شاته لکه سپی نګهباني ورکړه
بی د هغه هم دغه دي کار دی.

.... رضوان ....

د باغ څخه ووتلم او خپل د خولي وینه مي تو کړه.
ځان سره مي وویل: صبر زه نه پریږدم چي لیلا هغه د سپي زوي ته ورکړی
خپل د پلار تر دوکانه وځغاستلم. دوکان ته چي ننوتلم پلار مي د میز شاته ناست وو
همدا چي زه یي ولیدلم د ځایه پاڅیدی او وي ویل: څوک وهلی یی؟
ومي ویل: پلاره واوره چي څه درته وایم
زه غوارم چي واده وکړم
پلار مي همدا چي زما خبره واوریدله په خندا شو او وي ویل: ښههههه یعني نر شوی
یي ښځه غواړي؟؟؟

اوس ووایه چي چا وهلی یي؟؟
ومي ویل: پلاره وخت نشته نجلي بل چاته ورکوي
زه غوارم چي همدا نن شپه یي مرکي ته لاړشو
پلار مي وویل: ښه ښه دا څوک ده چي دومره ورته تلوار لري؟؟
ومي ویل: د خان شاه لور
د پلار سترګي مي د ډیر حیرانتیا څخه برګي ووتلي. وي ویل: څوک؟؟؟
هغه چي د لیونی نادر و زوي ته یي ورکړی ده؟؟
ومي ویل: هو همغه نجلی ده

په همدا وخت کي خان شاه دوکان ته ننوتی. راغی زما د پلار غاړه یي ونیوله. ما
هڅه کول چي خپل د پلار څخه یي جدا کړم
وي ویل: ستا زوي زما نامزاد داره لور ته نوم بدی اړوي
د هغې د بیعقلي څخه استفاده کوي هغې ته دوکه ورکوي او باغ ته یي وړي ، همدا
ده ستا تربیه؟؟؟ چي خوله دي د ستایني څخه یي نه ډولیدل؟؟ هاا؟؟؟؟ ځواب
راکړه

نن قباد پرینښودم که ني مي ستا زوي ټوټې ټوټې کول کوچنی دی که غټ وي سم صحیح مي درته خوړول
پلار مي خان شاه پوري وهل او وي ویل: ښه یي کړي نر دی ، خپل لور به دی ټوله کړې وی چی نن دی د ابرو او عزت چیغي نه وی وهلي
رضوان چي هرڅه کړي جار یي شم ښه یي کړي خپل لور ته به دی سمه تربیه ورکړې وی اوس بیا راغلی یي زما غاره نیسي؟؟
څه وخه که ني ټوله درباندي خبروم او د لور واده دي هم درته خرابوم هغه وخت بیا هیڅوک ستا لور نه کوي نو څه رنګ دي ورک کړه
خپل د پلار د خبرو په اوریدلو سره حیران شوم. په حیرانتیا سره مي وویل: پلاره وي ویل: غلی شه غږ دي مه باسه
همدا وخت کي اجمل راغی. زما په لیدو ورخطا شو او وي ویل: څه شوي دي؟ خیریتي ده؟؟؟

پلار مي وویل: هو خیریتي ده ته رضوان کورته یوسه زه هم راځم
ومي ویل: پلاااااااره داسي مه کوه باید د هغې مرکې ته لاړشو
اجمل زما لاس ونیوی او وي ویل: راځه چي لاړشو
په لاره کي یي وپوښتل: د چا مرکي ته ځي؟؟ ته دي دا وضعیت ته وګوره چا وهلی یي؟؟؟

ومي ویل: ورورہ مرسته راسره وکړه پلار مي نه پوهیږم ولي داسي وکړل ...... باید د لیلا مرکي ته لاړشو هغه بل چاته ورکوي
اجمل: لیلا څوک ده؟؟؟
ومي ویل: لیلا د خان شاه لور ده
اجمل: هغه نجلی چي د نادر مځور (اینګور) کیږي خو نه یادوي؟؟
ومي ویل: هو همغه یادوم
اجمل په خندا وویل: بل څوک نه وو؟؟
د خلکو د ښځي سره کار لري هههههههههه

خپل عمر ته دي پام دی چي د څو کالو يي؟؟؟
د اجمل خندا مي ډير په اعصابو بده لګيدله.
ومي ويل: د واده د پاره اړينه نه ده چي خامخا د شلو څخه دي عمر ډير يي

ما اراده کړي او سرته يي رسوم
اجمل بيا په خندا وويل: ښه ښه ته صبر چي پلار مي راشي
څو شيبي تيري شوي او پلار مي کورته راغی. په سراي کي ناست وم چي راته نږدي شو او يوه کلکه څپيړه يي پر مخ راکړه
دوهمه څپيړه .....
دريمه .....

اجمل ټينګ ونيوی او وي ويل: پلار جانه بد يي کړي کوچنی دی نه پوهيږي
خپل د پلار د کار څخه حيران وم.
پلار مي وويل: ته د سپي زوي تللی يي د خلکو ښځه دي په باغ کي ليدلي؟؟؟
ته څوک يي؟؟؟؟
نادر خبر شي ټوټي ټوټي کوي دي هغه وخته خپل په قوم کي ويلي چي د زوي ناوې يي څوک ده ستا عقل چيرته تللی ته خو زما هوښيار زوي وي ، په تا څه شوي؟؟؟
ومي ويل: دا څه معني ورکوي چي راغلي ګوتمي يي په لاس کړي هغه هم د کور د پاره

پلاره منګه د کور پيسي څومره دي؟؟؟ ته پيسي لري ور يي کړه او کور يي واخله چي ليلا په زوره د نادر زوي ته ورنکړي
پلار مي وويل: خپل غږ پر ما باندي مه لوړوه د نا ...... بسم الله اولاده .... زه کور واخلم چي ته د خان شاه لور ته ورسي؟؟؟
خر کړی يي پخداي تاته يي دوکه درکړي ، خان شاه څوک دی چي بيا لور يي ، بې؟؟
يعني دومره ارزښت لرې؟؟
بيا د هغه کور پور ورکړم چي د سود سره دوه برابره شوی د هغه د پيسو سره دوه

کوره اخیستل کیږي
ته ما څه ویني؟؟ په بانک ناست یم؟؟؟

واي دي وي ستا حال ته رضوانه که بیا د هغې نجلی لیدو ته لاړشي
ماته غمونه مه جوړوه تا ته دي ستا د مور پر سر قسم یي
په همدي وخت کي مي مور د مدیني سره د دباندي څخه راغلل.
وې ویل: څه کیسه شوي؟؟؟ خیریتي ده؟؟؟ غږ مو د کوځي تر سره راتی
پلار مي وویل: هو غټه خبره شوي ، ستا هوښیار زوي د خلکو د ښځي سره تللی چکر ته. خوله او پزه یي ورته نه دي ایښي
د شکر ځاي دی چي خان شاه څه نشي ویلي چي د لور نوم یي بدیږي که نی د وخته یي ټوله منطقه خبرول
مور مي وویل: زویه رښتیا وایي؟؟؟

ومي ویل: نههههه رښتیا نه وایي
څو میاشتي کیږي چي زه لیلا غواړم
هیڅ نادر نه وو ، زوي یي نه وو
د خلکو ښځه د کم ځایه شو؟؟ خپل د زړه څخه خبري مه باسئ
پلار مي بیا یوه جانانه څپیړه راکړه چي څو قدمه شاته لاړم.
مور مي وویل: د خدایه وبیریږه ولي یي وهی ګوره مخ یي څه حال ته رسیدلی
پلار مي وویل: وه ښځې دی دومره خر دی چی نه پوهیږي
ګوره خپل په ژبه وایي چي کور واخله تر څو زه لیلا ته ورسم
نادر چي وګوري ما پښه مخته کړي سود یي څو برابره کوي
هسي هغه ما سره مه دښمن کوه

دومره چي دي زړه ښځه غواړي ووایه ، خپل لاس پر هر نجلی چي پریږدي زه یي درته کوم
پریږده د خان شاه لور ما لیدلې هم نه ده خو پوهیږم یوه ده لکه خپل پلار

مور مي وويل: نه ښه نجلي ده ما ليدلې
پلار مي وويل: نو څه؟؟ اوس د خلکو ښځه شوې ، زما څخه څه تمه لرې؟؟
د يو ژوره ساه اخيستلو وروسته مي وويل: پلاره زړه دي ، نه پوهيږم چي څه کوي
خو يا به ليلا خپله راته کوي يا قسم دی چي ورسره تښتم
نو په نيک نامه يي راته مرکه کړه
ته د دي کار پيسي لري پوهيږم ، خو ځکه چي زه درته بی ارزښته يم يو قدم هم
مخته نه ځي

پلار مي بيا غوښتل ما ووهي چي مور مي ټينګ ونيوی.
د پلار لاسونه مي د ډير غوسي څخه ريږديدل(لرزيدل).
وي ويل: خداي دي تا لعنت کړي
چي دومره بی فکري کوي نادر دا بی آبرويي نشي زغملی مړ کوي دي
زه يو روپه څه چي يو غران هم پر هغي نجلي نه ورکوم ځکه ارزښت نلرې
اجمله واخله دی په پس خاني کي واچوه بهتره دی چی بندي يي کړم تر دي چي
جنازه يي په غيږ کي ونيسم

ومي ويل: هيڅوک حق نلري چي زما پر ځاي پريکړه وکړي
غوښتل مي د سراي د دروازي خواته لاړشم چي اجمل او پلار مي ټينګ ونيولم. هر
څومره چي مي هڅه وکړه ځان خلاص کړم ونه شو.
ومي ويل: پلاره پخداي قسم کور پريږدم ځم
نور بيا ما نشي پيدا کولي ، مه کوه دا کار
په زوره يي يوړم ، په پس خانې کي واچولم او دروازه يي هم قلفه کړه.
پلار مي د دروازي د شا څخه غږ کړه: نه پوهيږم چي کم څه يي درباندي خوړلي يا تا
ځان په ليونتوب اچولی خو صبر چي د هغې د واده څخه څو ورځي تيري شي بيا
دروازه خلاصوم

بيعقل هلکه خپل د ژوند څخه موړ شوی يي؟؟؟
هر څومره چي مي لغتي ووهل او چيغي مي کړه چي دروازه خلاصه کړي ، هيڅا ارزښت رانکړ
خپل د پلار غږ مي واوريدی چي وي ويل: هر چا چي دروازه خلاصه کړه وينه يي حلاله ده پوه شوی؟؟؟؟
د دروازي شاته کښيناستلم. زړه مي درد کول ، سترګو کي مي اوښکي راغلي وي ، پاک مي کړه او ومي ويل: نر نه ژاړي
خو زړه مي اور اخيستی وو. ليلا ورکوی بل چاته او زه دلته بندي يم
دا ظلم دی

په لوړ غږ مي چيغي کړه: که دا دروازه مو خلاصه کړه خو ښه ، که مو خلاصه نه کړه او اجازه مو ورکړه چي ليلا د بل چا سره واده وکړي پخداي قسم چي نور ما نه وينيييييييی .......
پوه شوی چی څه مي وويل؟ ځم دا کور پريږدم
ټول بدن مي اور ګرځيدلی وو ، لاسونه مي لرزيدل.
يوازی مي غوښتل چي يو څوک ووهم ، اعصاب مي ډير خراب شوي وه

..... ليلا ....

په پس خانې کي وم او فکر مې کول. زړه مې جيمې وو چي رضوان راځي.
د هغه شناخت په اساس چي زه د رضوان څخه يي لرم خامخا راځي. په شونډو مي مسکا راغله. په فکر او خيال نړي کي وم چي دروازه خلاصه شوه. وبيريدلم.
پلار مې وويل: نن ستا د پاره په يو پيسه شوم
خداي دي تا ووهي

وکيل سپک سپانځه کړم ( يعني ډير سپکاوی يي راته وکړ). خپل زړه هسې مه خوشاله کوه چي هغه هلک به ستا مرکې ته راځي
او دروازه يي کلکه وتړل. ومې ويل: يعني څه؟؟؟؟ دا څه معني ورکوي؟؟؟؟

رضوان ماسره هوډ کړي سل په سله راځي .......
هو راځي ما نه ايله کوي پوهيږم
خپل د پلار د خبرو په اوريدلو سره مي زړه نارامه شو. شپه مې په زر بدبختي سهار کړه.

سهار ، شګوفې دروازه خلاصه کړه او وې ويل: ولاړه شه خپل ځان جوړه کړه چې اوس خسرګڼی دي راځي درته کالي راوړي داسي دي ونه ويني
لاړم سراي ته او د سراي دروازه مې خلاصه کړه. قباد چي د دروازي مخته ناست وو ، ودريدی او وي ويل: بيرته دننه لاړه شه هسې ما په جنجال کي مه اچوه هله ژر
زه يي پوري وهلم او دروازه يي بنده کړه.
په سراي کي ناسته وم. ډير مې زړه ناارامه وو.
احساس مي کول چي کمه پيښه کيږي. خدايه رضوان ولي نه راځي؟
لاړم حميرا څخه او ومې ويل: حميرا؟؟؟؟
حميرا: څه وايي؟؟؟

ومې ويل: لاړشه د رضوان دوي کور مخته وګوره چي څه خبره شوي
که دې وکولی شو د مور څخه يي پوښتنه وکړه ښه ښځه ده درته ځواب راکوي
حميرا: ليلا قباد مي نه ايږدي
سهار يي هم ښوونځي ته پرينښودم
ومې ويل: دا څه معني بيعقل هلک په ده يي څه؟؟؟
لاړم دروازه مې خلاصه کړه او ومې ويل: زه بندې يم سهيلا او حميرا خو نه دې دوي ولي دباندي نه ايږدي؟؟

قباد وويل: کاکا مي ويلي چي هيڅوک حق نلري دباندي ووځي څه دننه داسي مه کوه چي مجبور شم د زور نه کټه واخلم هله ژر
بيا يي دروازه وتړل. فکر مي ډير نارامه شو داسي نه کيږي.
که رضوان راغلی يي پلار مي دی نه يي پريښودلی څه؟؟؟

زه د کم ځایه خبره شم؟؟
يو ساعت تير شوی وو او زړه مي همغسي نارامه وو
دروازه وټکيدل ، خوشاله شوم او لاړم خلاصه يي کړم چي يو کس يا الله وويل او ننوتی. د ليدو سره يي نااميده شوم. جلال او مور يي وه چي کالي يي راوړي وه.
احساس مي راته ويل چي ليلا بدبخته شوي
ورسره مي ستړي مشي ورکړل چي مور يي وويل: يو خياطه مو راوړی چی ستا اندازه ونيسي او درته کالي وګنډي

يوه سپين سري ښځه يي راوړي وه ، زما اندازه يي ونيوله.
د جلال مور وويل: لوري ټکران دې خوښ شوه؟؟
ومې ويل: هو مننه ژوندی واوسی
يو جوړه غوږوالي او غاړګي اوه دانه اي پونډ يي راوړی وو
هر څومره چي مي کالو ته کتل هغومره مي حال خرابيدی. خدايه رضوان چيري دی؟؟؟
خداااااااااااااايه .....
راسره مرسته وکړه

ورځي يو تر بل تيريدل او هره ورځ واده ته تيارياني نيول کيدل. ټاکل شوي وه چي د زلمی په کور کي واده ونيسي.
فاطمه د ډير بخيلي څخه ليونۍ شوې وه. زه هيڅ دا نجلی نشم درکولي.
هره ورځ چي تيريدل ما خپل اميد د رضوان د راتلو په وړاندي د لاسه ورکول. هيڅ نه پوهيدلم څه خبره شوي چي دی نه دی راغلی؟؟؟
رضوان تل خپل په خبرو ولاړ وو ، دا کار يي هيڅ په منطق برابر نه وو. بی د کم خبر او احوال څخه يو په دوه ورک شوی وو
يوازي يوه ورځ واده ته پاته وه او د جلال د مور تګ راتګ هم ورځ تر بلي زياتيدل .....

..... رضوان ....

مور مي د پس خاني د کړکي څخه راته ډوډي راوړل خو ما نه خوړل يوازي يو کنج کي ناست وم او داسي احساس مي کول چي د ځان د ښوريدو هم نه يم.
مور مي غږ کړه: زويه لاړم د ملا څخه وي ويل چي پر تا يي تعويذ کړی
درته مي يو تعويذ راوړی خپل په غاړي کي واچوه چي دخيره روغ شي زما د زړه سره

آخر به مړ شي ولي ډوډي نخوري؟؟؟
زما د مور د ژړا غږ لکه د ميخ غږ په اوسپنې وو ، ما نشو زغملی.
ومي ويل: ښههه خورم يي مه ژاړه خو خپل تعويذ لري کړه زه د کامله روغتيا او عقل سره مئين شوی يم

دا ورځي دي ستاسو يو هم هير نشي موري چي داسي ما په عذابوی
ليلا واده وکړي نور ما نه وينی موري پوهيږي چي څه وايم؟؟؟
دا زما د پلار غوږ ته هم ورسوه
مور مي وويل: مړه شم خو ستا دا حالت ونه وينم
پخداي قسم هره نجلی چي وغواړي درته يي کوم يوازي ليلا پريږده زويه ، هغه د خلکو ښځه ده سبا يي واده دی
واده ته يي بلل شوي يو

خپل د مور د خبري د اوريدلو سره مي ناڅاپه احساس وکړ چي مړ شوم.

سر مي شديد درد ونيوی. په لرزانده غږ مي وويل: سبا دی؟؟؟
وې ويل: هو زويه کار تر کار تير شوی هيڅ مو د لاسه نه کيږي
ومي ويل: زه مو مړ کړم پوهيږي؟؟؟؟؟ مړ مو کړم
اوښکي مي د سترګو د کنج څخه پر ځمکي څځيدل.
ډير بي وسه وم ، هيڅ کار مي د لاسه نه کيدی
ډير بی وسه او ناتوانه وم تر دي چی مړ شم راته ښه تره دی

مور مي وويل: داسي مه وایه زویه ، ته تعویذ شوی یي دا واخله خپل په غاړي کي واچوه

او د کړکی څخه یي یو شین شی راوغورځول. خپل د مور پر حال خندا نیولی وم.
خپل اوښکي مي پاک کړه او ومي ویل: ښه اچوم یي لاړه شه دلته مه دریږه
ما یوازي پریږده

.... لیلا .....

په پس خانې کي بندې وم هر کله چي د جلال کورني راتله زه یي دباندي ایستلم.
ټوله ورځ مي حال خراب وو ، زړه مي مرګ غوښتل.
ځان سره مي وویل: داسي نه کیږي څوک حق نلري ما په زوره میړه ته ورکړي
رضوان چیري دی؟؟؟؟

دی داسي کار نه کوي چي هوسا او بي غمه ما پریږدي
سهیلا د دروازي شاته راغلې وه ، وې ویل: لیلا؟؟
ومې ویل: بیا څه شوي دي؟؟؟؟
سهیلا: هیڅ
زما په نظر دي واده ته رضایت ورکړه رضوان که د راتلو پلان درلودی وی تر اوسه راغلی وو
دا کورني هم بد خلک نه دي ، څومره درسره ښه چلند کوي
راځه وې منه

د دي زندان څخه ازاده کیږي ، د ملکو په شان ژوند کوې تر دې بالا څه غواړي؟؟؟
ټول غواړي چي ستا پر ځاي واوسې
رضوان ماشوم دی خامخا پښیمانه شوی ، ته څه خبره یې؟؟؟
حتي د دروازي تر شاه هم رانغی  ته دننه یي زه خو دباندي یم هیڅوک نه دي راغلي
زړه دي جیمي

کرار کرار مي د سهیلا په خبرو باور کول چي په رښتیا رضوان پښیمانه شوی.
د نکریزو شپه یي ونیول ټول خوشاله وه او نڅاګاني یي کول خو ما یوازي خپل لاسو او خپل د لاسو نکریزو ته کتل.
زړه مي هیڅ خوشاله نه وو.

سهار وختي د جلال کورني راغله او زه یي د واده حمام ته یوړم.
په حمام کي ناسته وم دوه کسه زما لاسونه چاپي کول او سندري یي ویل نورو هم چک چکي کول.
سترګه مي پر یوه ښځي ولګیدل چي په حمام کي نور ښځي یې کیسه کول خپل مور مې په یاد شوه شاوخوا مي وکتل.
زه ...... مور نلرم ....... زړه مې پر ځان ډیر وسوځیدی او اوښکي مي د سترګو څخه توې شوې.

د جلال مور وویل: څه شوي دي لورې؟؟؟ ښه یې؟؟؟
د نیولې او لرزانده غږ سره چي سمي خبري مې نشو کولی ، ومې ویل: نه ښه نه یم ډیر خپل د مور پسي خفه یم ،خپل مور غواړم
او خپل سر مي ښکته واچوی. زه یي په غیږ کي ونیولم او وې ویل: خیر دی لورې دا خبري کیږي مرګ حق دی
خو زما زړه اور اخیستی وو. که نن دلته وی څومره به خوشاله وی
تل یي ویل لورې د واده د سپین کالو سره دې ووینم
لعنت پر دي ژوند چي دا یي خپل ارمان ته ونه رسول
د جلال مور ډیر تسلي یې راته راکړه او خواخوږي یې راسره وکړه خو ما یوازي خپل مور غوښتل.

زما خپل مور ......
خدایه ډیر بي وخته دي راځخه واخیستله ، ډیر ......
د جلال مور وویل: لورې د دي وروسته ماته مور ویلي شي

ورته مي وکتل او په زړه کي مې وويل: هيچا ته مور نه وايم
په ژوندون کي مي هيڅ کار خپل مور ته ونشو کولی او تر دي چي د هغې نوم بل
چاته ورکړم مړه شم ښه تره دی
څه مې ونه ويل او خپل سر مې ښکته واچول.
د جلال د خاله نوري داسي په غرور راته کتل. هر چا پسپسکي کول او زه يي ښودلم
د دي حالت زغمل ډير ستونزمن وو.
کله چي داسي چلند لری بيا ولي د غريب لور کوی؟؟؟
زړه مي د هر خوا څخه ټوټي ټوټي وو.

سپين کالي يي راباندي واغوستل. ځان سره مي ويل کاش کفن وی ، کاششش
هر څوک چي مي ليدل خوشاله وه او خوله يي د خندا ډکه وه نو ولي زه نه يم؟؟
ولي زه خوشاله نه يم؟؟؟؟
زړه مي په چاوديدو وو
ټولو نڅاګاني کول او خوشاله وه. کرار کرار محفل خلاص شو او د تګ وخت
راورسيد ...
رضوان
نن مي نور طاقت نشو کولی. ناري مي کړه: اجملللللل؟؟؟
مدينههههههههههههه؟؟؟
موريييييې؟؟؟

څو ځله مي غږ کړه چي مدينه راغله او وې ويل: څه شوي دي وروره؟؟ څه دي په
کار دي؟؟؟
ومي ويل: مدينې دروازه خلاصه کړه
جار دي شم دروازه خلاصه کړه چي ووتلم ډيري پيسي درته راکوم
ښه ډيرررررري پيسي
مدينه: پخداي پلار مي ما مړه کوې

ومي ويل: مديني ته يي خلاصه کړه بيا وايم چي اجمل خلاصه کړي په تا بيا کار نلري

ښه ډيري پيسي درکوم درته خلاص يي کړه ورور دي جارشي
مدينه لاړه کيلي يي راويستل او دروازه يي خلاصه کړه.
وي ويل: کمه دې زما پيسي؟؟؟
لاس مي په جيب کي کړ او هر څه چي مي درلود ورته مي ورکړه او په څغاستو د کوڅي خواته لاړم

.... ليلا ....

پلار مي راغی زما ملا يي وتړل او پر تندي يي ښکل کړم
زما زړه يي تور کړی وو خپل ځان مي ورڅخه لري ونيول په زوره يي زما مخ ښکل کړ.

د جلال سره د کوره ووتلو. يو ګلپوشه موټر يي راوړی وو.
قباد ناري کړه: اوهووووو ټول په آس وړي تا په ولګا موټر کي ، بيشک ليلا
قباد ته مي توجه ونه کړه او حرکت مو وکړ.
په موټر کي کښيناستلم ، شاته مي وکتل د لري څخه مي رضوان وليدی. زړه مي ودريدی. څههههه؟؟؟؟ دی راغی؟؟؟؟
موټر حرکت وکړ سترګې مې په رضوان کي پاته شوې وه. خپل پر ځاي ولاړ وو او موټر ته يي کتل.

.... رضوان ....

په منډه مي ځان ورسول چي ګورم ليلا موټر کي سپره شوه.
په ځنګونو په ځمکه ولويدلم. هيڅ د دريدو توان مي نه درلود ، لاس او پښي مي بي حسه شوي وه.
همداسي چي مي سترګي په موټر کي وه ، ليلا هم لاااړه

نور د دریدو توان نه وو
کرار کرار موټر زما د سترګو د وړاندي ورک شو.
لیلا لااړه ....

زه ناوخته ورسیدلم .....
سترګي مي په هغه لاري کي وه چي لیلا تللي وه ، قباد د لري ولیدلم او زما خواته راغی.
وي ویل: واه واه مئین ته وګوره ، مجنون ته وګوره
او بیا یي دوام ورکړ: واده داسي خوند وکړ چي څه ووایي
ناوخته راغلي ته صبر چي یو غاب ډوډي درته راوړم
په همغه لږ توان سره مي چي په بدن کي پاته وو ولاړ شوم او د قباد خواته لاړم.
یو کلک سوک مي په خولي ووهل. په ځمکي مي وغورځول ، پر ځیګر یي کښیناستلم او تر هغه وخت چي مي لاسونه په درد شوي نه وه ، وهل مي.
ومي ویل: بیا هم شیطانت کوي؟؟؟؟

په کلک او زورور سوکانو مي وهل نه پوهیږم اجمل د کم ځایه راغی او زه یي ورڅخه لري کړم
اجمل: راځه چي لاړشو مړ دي کړ
ته چا آزاده کړي؟؟؟؟
ډیر ضعیفه او ډنګر شوی وم نږدي وو چي بی هوشه شم
اجمل مي پوري وهل او ومي ویل: لري شه زه کورته نه ځم
ما پریږده
په زور یي خپل خواته کش کړم او وي ویل: ته بد کوي
چټک راځه

هیڅ خپل د ځان د خلاصیدو توان مي نه درلود ، شاته یي لاړم.
کور ته چي ورسیدلو مدینې ژړل. پلار مي وهلې وه.

خپل د پلار په لیدلو سره مي وویل: ماشاءالله عجبه کار دي کړی ، خامخا ستا نوم یو ځان لیکم زړه دي جیمي
خپل پیسی د ځان سره ګور ته یوسه
نور هم ماته زویه ونه وایي چي نه دي پیژنم ، زه نور ستا په نامه هیڅوک نه پیژنم
زموږ لا سره خلاصه شوه
یو نجلي دي ونشو کولی چي راته یي وکړي
نادر ته لیونی وایي ...... د هغه نیمایي غیرت نلري
دی خو خپل د زوي د زړه د پاره هر څه کوي ، تا څه وکړل؟؟؟
پلار مي وویل: سمه ده چي دومره شوی یي ځه کور پریږده

ستا اوبه او ډوډي زه درکوم چیغي هم پر ما وهي؟؟؟؟؟
ځه ورک شه چي ودي نه وینم
وګرځیدلم لاړشم چي اجمل ټینګ ونیولم. مور مي زما پلار ته زاري کول: مه کوه ماشوم دی نه پوهیږي یو بد یي کړي
ومي ویل: نه څه بد مي کړي؟؟؟
بد تاسو کړي ، ومو لیدل لیلا لاړه
لیلا لاااااړه زه هم ځم
نور په دي کور کي نه کښینم

سترګي مي د اوښکو ډکي شوي وي. غږ مي ریږدیدی ، په همغه لرزانده غږ مي وویل: نور دا کور د اوسیدلو ځاي نه دی
پلار مي وویل: ته بی غیرته ژاړي؟؟؟؟؟
ته اوس نر یي که ښځه؟؟؟
ومي ویل: زه نر نه یم که وی لیلا یي راخخه نه وړه پوهیږي؟؟؟؟؟؟
نه یم نر ، زه یو بي غیرته یم چي زما ډوډي زما پلار راکوي تر دي چي مړ شم ښه دی زه نباید ژوندي واوسم
خپل اوښکي مي پاکي کړي. پلار مي غږ کړه: ښه کښینه خپل ډوډي خپله پیدا کړه

خپل بیچاره مور مه زوروه ، دومره پست شوی یي چي د ځان د سره چپ بل د هیچا په اړه فکر نکوي

غرور انسان د مینځه وړي ، زه د داسي لایق زوي د درلودلو د پاره مي غرور کول چي خداي راته وښودل
خپل د مور د پاره کښینه وګوره د ډیر ژړا څخه یي ځان ړنده کړه
غیرت لري که نه؟؟؟
لاړه نو ، اوس د خلکو د ښځي پسي ژاړي؟؟؟؟؟
خپل سد پر سر کړه
مور مي راغله زما لاس یي ونیوی او ښکل یې کړ ومي ویل: مه کوه ، څه کوي موري؟؟؟

وې ویل: زویه مه ځه زما د پاره مه ځه زما زویه
مور دي ستا تر سر وګرځي مه ځه
خپل د مور اوښکي چي مي ولیدل زړه مي د وینو ډک شو. په غیږ کي مي ونیوله او ومي ویل: مه ژاړه نه ځم

خپل د مور سره د کور خواته لاړو.
مور مي وویل: زه درته ډوډي راوړم ډیر ډنګر شوی یي وي خوره چي یو څه روغ شي زویه
لاړم خپل په کوټي کي کښیناستلم. زړه مي اور اخیستی وو ، لیلا لاړه ......
اوس څه وکړم؟؟ لعنت پر داسي ژوند
رادیو مي روښانه کړه
لیلا خنګه داسي هوسا په موټر کي سپره شوې
ولي دي سپین کمیس اغوستی وو؟؟؟
یعني زه یي هیر کړم؟؟؟ دومره ژر؟؟؟؟؟

لومړۍ سندره چی د راډيو څخه خپره شوه کټ مټ زما د حال څرګندونه يي کول.
سترګي مي د اوښکو ډکي شوي او په ژړا شوم.
ستا د سترګو بلا واخلم

بيا دي سترګي ولي سرې دي
پام چي وار دي خطا نشي
ما منلي غر غري دي
نازولي ليلا راشه
د مجنون ګريوان ته ګوره
دا باران د مرغلرو

که د اوښکو فواري دي
مخ دي بلي لمبي کاندي
خوله دي ګل شي بيا غنچه شي
ځکه ماته ډير ګرانې
د بلبل پر ګل نخري دي

.... ليلا ....

د رضوان د ليدلو سره په موټر کي په ژړا شوم.
خدايه په رښتيا راغلی وو؟؟؟؟
زه يي هيره کړې نه يم راغلی وووووووو
جلال وويل: بيا دې خپل مور په ياد شوه؟؟؟
ومې ويل: هو
جلال: خير دی دا ورځي هم تيريږي مه ژاړه
د جلال کور ته ورسيدلو او زما پښو ته يي يو پسه حلال کړ.
تر اوسه هم نځاګاني روانې وي او ما خپل د مخ د جالي شاته ژړل. ژړا مي هيڅ نه بنديدله.

خپل سترګې مې پاکې کړې.
میلمانه لاړل او د جلال مور زما لاس ونیوی ، زه یې یو کوټې ته یوړم او وې ویل:
لوري دلته ستاسو کوټه ده ، نن شپه همدلته بیده شی ونشو چي ستاسو اصلي کوټه
تیاره کرم ځکه رنګ یي تر اوسه نه دی وچ شوی هغه ښایسته تره دی نن شپه همدلته
واوسئ

او د کوټې څخه ووتله. د هغې وروسته د فاطمې مور راغله ، زما سره راغلې وه چي
نن شپه یوازي ونه اوسم
وې ویل: مور دي ټوله شیان درته ویلي پوهیږي نو؟؟
ومې ویل: هو پوهیږم.
وې ویل: بي ادبي او بي نزاکتي ونه کړې هر څه چي وشوه ماته غږ کړه سمه ده؟؟؟
ومې ویل: ښه
خدای خبر دی چي څومره مي د دې ښځې څخه بد راځي ، پسته لعنتي
په تا یي څه چي ته راسره راغلې؟؟؟؟
د زړه درزا مي دومره ډیره وه چي احساس مي کول اوس به ودریږي
خدایه څه وکړم؟؟؟

لاسونه مي ساړه شوې وه. یو کنج کي کښیناستلم او هره شیبه د دې امکان وو چي
جلال کوټې ته ننوځي.
یو وار یو یخ شمال مي پر مخ ولګید چپه خواته مې وکتل پرده وه ، پرده چي مي
لرې کړه کړکي وه او د کړکي مخامخ هم د سرای دروازه او دروازه هم خلاصه.
د کوټې دروازي خواته مې وکتل ، خدایه لاړه شم؟؟؟؟

آبرو مي ځې وایي ناوې وتښتیدله
بیا مې وویل: زما د پلار آبرو ځې پریږده چي لاړشي
د کړکي څخه سرای ته وپریدلم او په ټول توان د کوڅي خواته وځغاستلم. خپل لمنه

مي ټوله کړه او بوټونه مي د پښو څخه وايستل. هوا تياره شوې وه.
د رضوان د کور خواته لاړم. په لاره کي زما د ويښتانو جالي زما د سترګو مخه يي نيولې وه هغه مې د سره لري کړه او ومې غورځول.
تل د تياري څخه بيريدلم او نن شپه ټول ځاي تياره او ويروونکی وو.
تر توانه پوري تنده ځغاستلم. هيڅ مي په پښو نه وه بوټونه مي لري کړې وه. کوچني کاڼي (تيريړی) زما پښي ژوبل کړي وي. د څو شيبو وروسته د رضوان د کور مخته ورسيدلم.

دوه منزله کور يي درلود او د رضوان د کوټي شمعه روښانه وه.
وګرځيدلم يو کوچنی کاڼي مي پيدا کړ او ومې غورځول خو په ديوال ولګيد.
يو بل مې واخيست ، ومې غورځول چي په ښيښې ولګيد. څو شيبي ماتله شوم خداي خداي مي کول چي کړکي خلاصه کړي.
چي ګورم رضوان بي له دي چي کړکي خلاصه کړي دباندي ګوري.
ومې ويل: اووووف خدايه ولي ښکته نه ګوري؟؟؟؟؟؟
بيا مې يو تيږه واخيستل او په ښيښې مي وغورځول چي دا ځل يي ښيښه خلاصه کړه

ومې ويل: هيييييی
رضوان زما په ليدو حيران شو او وي ويل: ليلا؟؟
خپله يې؟؟
په خندا مې وويل: هو زه يم
رضوان: ښنګه راغلې؟؟ يعني دلته څه کوې؟؟
ما وليدل چي ته يي يوړي
ومې ويل: وتښتيدلم
اوس مي پريږدی چي دلته راشم که نه؟؟؟
رضوان: هو هو ته صبر
لاړی ....... بيرته ژر راغی.

رضوان: ليلا پلار مي ويښ دی ته په دا کنج کي د وني تر څنګ ځان ونيسه زه درته رسۍ غورځوم راشه پورته
ومې ويل: ښه ښه ژر کوه.

.... رضوان ....

د ليلا د ليدو څخه هم خوشاله وم هم حيران وم چي څنګه تښتيدلې ده.
لاړم پس خانې ته او رسۍ مي راواخيستل. ښه په ځير مى شاوخوا ته وکتل څوک نه وو ژر خپل کوټې ته لاړم.
د رسۍ يو سر مي ښکته وغورځول او په کرار غږ سره مي وويل: هيييىى
دا خپل په ملا وتړه او په لاس يي ټينګ ونيسه چي کشه دې کړم
ليلا رسۍ واخيستل او خپل پر ملا يي وتړل. هيڅ د کشيدو توان يي نه وو په ډير ستونزمنتيا سره مي يو څه پورته کشه کړه او بيا مي تر لاس ونيوله.
کوټې ته دننه شوه. په غيږ کي مي ونيوله.
خندا نيولى وم ويښتان يي ګُډ وه.

پوښتنه مي وکړه: څنګه وتښتېدلي؟؟؟ دا ويښتان دي ولي داسي دي؟؟
ليلا: جالي مې لري کول ويښتان مې هم ورسره خراب شوه هههههه
ومي ويل: شکر چي ښه يي.
ليلا: ته ولي دومره ډنګر شوی يي؟؟
ومي ويل: زما پلار زه بندي کړي وم چي ستا ليدو ته رانشم هههههه
ليلا په خندا وويل: زه هم بندي وم خو ماته يي ډوډي راکول تاته يي لکه چي نه درکول؟؟

ومي ويل: ډوډي يي راکول خو ما ويل يا دروازه خلاصه کړي يا ځان د وږيتوب نه مړ کوم
بيا مي ورزياته کړه: دا خبري پريږده
خپل يو جوړه کالي مي ورته ورکړه او ومي ويل: دا واغونده

د کور شاته يو ځاي دی ورېم دې هلته پټه شه.
ستا د ميره کورني لومړي ځي ستا د پلار کورته بيا دلته راځي ، ته نبايد دلته واوسي
خپل مخ مي د ديوال خواته کړ او دوام مي ورکړ: ليلا ژر چي وخت نلرو.

..... جلال ....

د ملګرو سره د خداي په اماني وروسته مور مې وويل: زويه هغه د راسته لاس کوټه
مي تاسو ته جوړه کړي ليلا هلته ده
ستاسو خپل کوټه د رنګ بوي درلود ونشو چي هغه تياره کړم
ومي ويل: هيڅ خبره نه ده مور جانې ، هغه بيا سبا يا بل سبا ته جوړوو
کوټې ته دننه شوم هيڅوک نه وو بيرته راووتلم او خپل مور ته مي وويل: مورې ليلا
نشته

وي ويل: خامخا تشناب ته تللې ده
لاړم د تشناب مخته هلته هم څوک نه وو.
مور مي وويل: زويه څه شوې دي ولي دومره ګرځي؟؟؟
ومي ويل: مورې ليلا نشته
بيرته لاړم کوټې ته پرده شمال وهل ، پرده مي لري کړه کړکي خلاصه وه او د سراي
دروازه هم د کړکي مخامخ وه.
زړه مي نارامه شو بيا مي وويل نه ، نه ده تښتيدلې
ولي بايد وتښتې؟؟
لاړم کوځي ته. د کوځي تر سره لاړم چي ګورم د سر جالي او څو قدمه مخ تره هم
بوټونه يې ولېدلې دې.
دا تښتيدلې ده.

بوټونه او د سر جالي مي واخيستل او د کور خواته مي منډه کړه.
مور مي زما په ليدو سره خپل لاس خپل د خولي مخته ونيول او وې ويل: تښتيدلې
ده؟؟؟

ومي ویل: همداسي معلومیږي
پلار مي د کور څخه غږ کړه: څه خبره ده؟؟
مور مي وویل: ناوې تښتیدلې

پلار مي د کوره ووتی او مور خواته راغی. د لیلا د جالي او بوټونو په لیدو یي وویل:
هغه اوله ورځ مي ونه ویل چي دا نجلی ستا په درد نخوري؟؟؟
دا په آبرو او حیثیت څه پوهیږي؟؟؟؟
شله وی چی پلاره همدا نجلی څنګه شو خوند یي درکړ؟؟؟
ته څنګه نر یي چي ښځه دي د واده په شپه تښتي؟؟؟؟؟
تر دي چي مړ شي درته ښه دی

توف ستا په غیرت باندي ....... یو سیاسره دي ونشو ساتلي
ومي ویل: ورپسي ځم دومره نه ده لري شوې
مور مې غږ کړه: څه ورپسي ځي؟؟ تښتیدلې نجلی بیا راوړې؟؟؟
نادره جمال او خپل د ورور زامن واخله لاړشی سهیلا راوړی د دي بي ادبي او بي
حیثیتي ځواب یوازي باید د لیلا پلار راکړي
هغه نجلي که بیرته هم راشي په دي کور کي نور ځاي نلري
لاړشی سهیلا راوړی
ومي ویل: مورې څه وایي؟؟؟ سهیلا؟؟؟؟؟
ما د لیلا سره واده کړی
مور مي وویل: دا د ناموس او حیثیت خبره ده نور یي ماته پریږده د دي کور آبرو
نباید د یو نجلی د پاره لاړه شي

نادره څه نو ولي ولاړ یي؟؟؟؟
پلار مي زما د کاکا زامنو ته غږ کړه او وي ویل: تاسو دواړه لاړشي لیلا پسی هر ځاي
چي مو ګیره کړه خپل کورته یي یوسئ
تر څو چي زه نه یم راغلی هیڅوک خبر نشي

زه او ستاسو تروری (د کاکا ښځه) ځو سهيلا راوړو
ومي ويل: پلاره دا څه کار دی؟؟
سهيلا ولی راوړئ؟؟ زه هغه نه کوم دا څه معني ورکوي؟؟؟
پلار مي وويل: خپل خوله وتړه
اوله ورځ مي درته وويل چي دا نجلی د ځنګه کورني څخه ده
خان شاه چيري انسان دی چی بيا لور يي واوسي؟؟ خو زما خبره دي وانوريدل
اوس هم پريږده چي خبره سره ټوله کړو که ني تر څو چي ژوندی يي ټول به درته بيغيرته وايي

لاړم خپل د يو ملګري کورته او بهر مي وغوښتل
ومي ويل: فاروقه ليلا خو دي ليدلي نه؟؟؟
وي ويل: هو
ومي ويل: تښتيدلې ده ، مخته زما د پلار او کاكا څخه يي راته پيدا کړه
څوک يي خوږه نکړي پوه شوي؟؟ هله ژر وروره
رضوان
غوښتل مي ليلا دباندي يوسم.
ومي ويل: د کړکي څخه خو نه کيږي د سراي څخه ځو سمه ده
ليلا: سمه ده
ليلا ته مي وکتل خندا ونيولم.

ليلا: ولي خاندي؟؟؟
ومي ويل: د کميس پرتوګ سره ډيره ښايسته معلوميږي
په خندا يي وويل: مجبوري ده ليونتوب مه کوه
ومي ويل: ليونتوب نه کوم ، رښتيا وايم
د ځينو څخه ښکته کيدلو چي مدينې وليدلو.
ژر مي وويل: مدينې چپ ،خپل غږ ونه باسئ
مدينه: دا ليلا نه ده؟؟؟ منګه دې واده نه دی کړی؟؟؟

ستا کمیس پرتوګ یي څنګه اغوستې؟؟؟
ومي ویل: یوازي غلې شه درته پیسي راکوم
خپل لاس یي اوږد کړ او وې ویل: راکړه پیسي
ومي ویل: مدینیییېې زما ګرانې ټول پیسې دي ماښام راڅخه واخیستل
اوس یي نلرم سبا ..... سبا یې درته راکوم
په همدا وخت کي چي ما مدینه پوهول پلار مي د کوټي څخه ووتی او موږ یي ولیدلو.

زموږ په لیدو سره د ډیر حیرانتیا څخه یي سترګي غټي شوي او وي ویل: الله اکبر دلته څه خبره ده؟؟
دا نجلی دلته څه کوي؟؟؟
لیلا وویل: زه یي په زوره میږه ته ورکړم خو زه رضوان غواړم نو ځکه وتښتیدلم
پلار مي وویل: بدبخته دي کړو ، ولي وتښتیدلې؟؟؟
رضوان ته دا لاس نیولي چیري وړي؟؟
ومي ویل: پټوم یي
پلار مي غږ کړه: اجمله .... اجمللللللله
اجمل د خوبه پاڅیدی او وي ویل: څه خبره شوي؟؟؟
پلار مي وویل: ژر دا نجلي واخله خپل د کاکا کورته یي یوسه
اوس لیونی نادر راځي
هله ژر

ومي ویل: زه هم ورسره ځم
پلار مي وویل: ته بد کوي ، ته په کور کي پاته شه چي کله راغله تا ووینی فکر ونکړي چي لیلا دلته وه
لیلا د اجمل سره لاړه. زه هم ورسره د سراي تر دروازي پوري لاړم ، لاس مي ځیني ونیول او ومي ویل: د اجمل سره لاړه شه سبا سهار سره ګورو زړه دې جیمي
لیلا: ښه سل په سله راشي

ومي ويل: سل په سله راځم اوس لاړه شه هله
پلار مي وويل: ته دا بدبختي ته وګوره ..... دا نجلی ولي باید وتښتې؟؟ اوس به څه وشي؟؟ خداي دي وکړي چي خبره غټه نشي
بیا یي ماته وکتل او دوام یي ورکړ: ښه وګوره چي څه دي وکړه
دعا وکړه چي ستا د دي میني د لاسه خبره غټه نشي
جلال
د ګلپوشه موټر سره لاړو د خان شاه کورته.
تر وروستی شیبو مي هڅه کول چي خپل مور خپل د پریکړي څخه واړوم خو بریالی نشوم.

خان شاه زموږ په لیدو ډیر حیران شو.
پلار مي وویل: لیلا چیرې ده؟؟
خان شاه: خیریتي ده څه خبره شوي؟؟؟
پلار مي وویل: نه ده څه شي خیریت؟؟؟؟
کم خیر؟؟؟ لور دي تښتیدلې څه ځواب لري چي رایي کړي؟؟؟ څه ویلو ته لري؟؟؟
مور مي کوټي کي ننوتله سهیلا یي د لاسه ونیوله او راویستل. سهیلا خوبجنه وه او په کامله توګه نه وه ویښه شوې. په بیروونکی نظر یي ټولو ته کتل.  ډیر مي زړه وربادی وسوځیدی.
مور مي وویل: د بی حیثیتي ځواب داسي اخلو
لور دي تښتیدلې ، پر ځاي یي باید یو لور راکړي

موږ سهیلا د لیلا پر ځاي وړو
خان شاه وویل: نه داسي نه کیږي ، زه د کم ځایه پوه شم چي لیلا په رښتیا تښتیدلې ده؟؟؟
پلار مي وویل: ته فکر کوي زه دومره پست یم چي راغلی یم هسې دا خبره کوم؟ او غواړم ستا دوهمه لور یوسم؟؟؟

خان شاه: نه داسي خبره نه ده خو سهيلا مه وږئ زه د ليلا پسي ګرځم پوهيږم چي چيري تللي ده

پلار مي وويل: د ليلا مړی او ژوندی يی نور زموږ نه دی پکار والسلام
مور مي سهيلا يوړه او په موټر کي کښينول. پلار مي هم لاړی.
ومي ويل: کاکا؟؟ ليلا چي دلته نه ده راغلي نو چيري تللې؟؟
خان شاه: يوازي يو ځاي تللې شي
ومي ويل: چيري؟؟؟
خان شاه: د رضوان ښځه ،رضوان د وکيل زوي
د کوره ووتلم او په موټر کي کښيناستلم. ټول لاره کي سهيلا ژړل.
کورته لاړو سهيلا او مور مي ښکته کړل ، بيرته مي حرکت کول چي پلار مي وويل:
ته چيري ځي؟؟؟

ومي ويل: ليلا د وکيل زوي ښځه تللې ده
پلار مي وويل: ښههه نو اجمل زموږ ناوې وړي ده؟؟
ومي ويل: اجمل نه دی هغه کشر زوي يي دی
پلار مي په خندا وويل: زويه تاته مرګ ښه دی
کشر زوي يي ماشوم دی او ستا ښځه يي تښتولې ده
ومي ويل: کيږي ما دومره ملامت نه کړي؟؟؟
وي ويل: نو څوک ملامت کړم؟؟
ومي ويل: هيڅوک

ښه تره دی چی بحث ونه کړو هيڅ حوصله نلرم
د وکيل د کور خواته مو حرکت وکړ.
پلار مي دروازه وټکول او د څو شيبو وروسته وکيل ووتی او ستړي مشي يي وکړل.
وي ويل: خيريتي ده؟؟؟
پلار مي وويل: خيريتي خو نه ده ، رضوان کور کي دی؟؟؟

وي ویل: هو په کور کي دی ته صبر اوس یي ناري کوم
پلار مي راوکتل. رضوان راغی او روغبړ مو وکړ.
وکیل وویل: خیریتي ده؟؟؟ کمه خبره شوي وروره؟؟؟
پلار مي وویل: ناوې مي تښتیدلې ، تاته وایم بل ځاي یي خو نشم ویلی
وکیل: اوووو همدا چي نن ماښام یي واده وو؟؟؟
پلار مي وویل: هو همدا

او رازیاته یي کړه: وروره ستا څخه راغلم چي زامن دي پور واخلم او ورپسي وګرځو ، نن شپه یي جنازه پلار ته لیږو
وکیل: وروره موږ نه خوښیږي چي لاس مو د چا په وینو ککړ شي
زما زامن نشي راتلی ، وبخښي نو
پلار مي وویل: خیر دی تاسو هم حق لری چي داسي ووایست
اجمل چیري دی؟؟؟ ومي نه لیدی؟؟
وکیل: اجمل کور کي نه دی ، تر اوسه نه دی راغلی
پلار مي وویل: د شپی ناوخته دی ، چیري تللی چي تر اوسه نه دی راغلی؟؟
وکیل: ولا ځوان دی ، ځوانان چیری زموږ خبري اوري؟؟؟
پلار مي په خندا وویل: هو رښتیا وایي
موږ ځو چي کار لرو بیا دي احوال اخلم وروره
په موټر کي کښیناستلو او حرکت مو وکړ.
پلار مي وویل: د اجمل سره یي بل ځاي لیږلي ده
ژر پوښتنه وکړه چي د وکیل خپلوان څوک موک دلته شته که نه؟؟؟
ومي ویل: سمه ده پوښتنه کوم صبر چي کورته ورسو

.... اجمل ....

د طوبا دوي کورته نږدی وو چي ومي ویل: لیلا؟؟
لیلا چي زما سره یو ځاي ځغاستلې وه او ساه یي لنډه لنډه کیدل وي ویل: څه

شوي؟؟
ومي ويل: زما د کاکا کورته نه ځو
د يو ملګري کور ته به لاړشو ښايي دلته هم راشي ، نادر ليونی دی ستا پسي ټوله ځايونه ګرځی
ليلا: خپله بهتره پوهيږي مخصد ما پيدا نکړي ، اول مې پلار ما مړه کوي هيڅ د دوي لاس ته نه رسم

..... ليلا ....

اجمل ډير تيز ځغاستی او ما يي هم شاته منډې وهل.
د طوبا دوي د کور څو کوڅي پورته رسيدلي وو چي وي ويل: ليلا د سپينې دروازي پسي وګرځه ، يو تازه جوړ شوی کور دی
ومې ويل: ته نه پوهيږي چي د ملګري کور دي کم يو دی؟
په خندا يي وويل: نه ، د قران کريم ختم يي نيولی وو وي ويل راشه زما هم هير شوي وه رانغلم ځکه نه پوهيږم کم کور دی خو نښاني يي راکړي چي څنګه کور دی
ومې ويل: خدايه خپله راسره مرسته وکړه ...... دا څه حال دی؟؟
د کور پسي ګرځيدلم چي اجمل نارې کړم: راشه پيدا مي کړ
دروازه يي څو واره وټکول خو چا خلاصه نکړه

ومې ويل: ښايي ميلمستيا ځاي ماي تللي يي چي دروازه نه خلاصوي ، خلاص شو بدبخته شوم
اجمل وويل: ډير جګرخونی مه کوه اوس ټوله بيده دي ، د ورځ په مينځ کي خو د خلکو کور ته نه يو راغلي ، د سهار اذانونه نږدي دي پوهيږې؟؟
ومې ويل: ښه سمه ده ، ډاډمن يي چي کور دي غلط کړی نه دی؟؟؟
اجمل: هو زړه دې جيمې
څو دقيقې نور يي هم دروازه وټکول چي د يو چا غږ راغی چی ويل يي: څوک دی؟؟

اجمل غږ کړه: نظیره! زه یم اجمل دروازه خلاصه کړه
وي ویل: کم اجمل؟؟

اجمل: وه هلکه ، اجمل د وکیل زوی ، ودي نه پیژندلم؟؟
زه همداسي ولاړه وم او دعاوې مې کول چي دروازه پرانیزي
د اجمل ملګري دروازه خلاصه کړه او وي ویل: سلام وروره څنګه یي ښه یي؟؟ په دا نیمه شپه خیریتي ده انشاالله؟؟
اجمل: لومړی پریږده چي دننه راشم ، بیا وایم
کور ته ننوتلو.

نظیر وویل: کرار په لاری لاړشئ ټول بیده دي
موږ یي د ناستو کوټي ته یوړو او یوه لمپه یي روښانه کړه. زما په لیدو لومړی حیران شو بیا خندا ونیوی.
وي ویل: ما فکر وکړ چي رضوان دی ، ځان سره وایم چي دا رضوان څنګه وړوکی شوی هههههههه نو مه وایه چي رضوان نه وو نجلې وه
اجمل: هو نجلې ده ، د زوم د کوره تښتیدلې ده هغه هم خپل د واده په شپه.
دا پر رضوان مئینه ده او رضوان هم دا ډیر غواړې
د نظیر سترګي د ډیر حیرانتیا څخه برګي ووتلي او وي ویل: یعني دا نجلې ناوې ده او همدا نن شپه د زوم د کوره تښتیدلې ده؟؟ ته دا زما په کور کي پټوي؟؟؟
اجمل: هو همدا خبره ده ، دا د نادر مژور (اینګور) ده

بیا یي په خندا دوام ورکړ: نادر وریجي خرخوونکي ، همغه لیونی
نظیر چي په دقیقه توګه د اجمل خبري اوریدل ، ماته یي وکتل او وي ویل: پخداي شاباس!
د شیر زړه لرې! چا داسي د نادر آبرو نه وه وړې لکه چي تا یوړه
هر څومره چي د نادر په هکله یي خبري کول ، زما بیره هم ډیریدل.

خپل د پلار څخه مي هيڅ بيره نه درلود يوازي جلال ما پيدا نکړي
خدايه راسره مرسته وکړه

..... جلال .....

بيرته کور ته ورسيدلو. د کاکا زامن مي راغلي وه. پلار مي غږ کړه: څنګه شو؟؟ پيدا مو کړه؟؟؟

يو يي وويل: کاکا ټوله ځايونه مو ولټول

هغه يوه نجلۍ ده منګه څومره تيز ځغاستلې شې؟؟ خامخا يو څوک ورسره مرسته کوي او پټه کړې ېې ده

پلار مي وويل: هو پوهيږم ، دواړه ژر لاړشئ وګورئ د وکيل د ورور کور چيري دی چي پيدا مو کړ ماته خبر راکړئ

پلار مي دننه لاړی او زه فاروق ته په تمه وم چي پلار مي وويل: دننه راشه دباندي څه کوي؟؟

ومي ويل: پلاره ته لاړشه زه هم راځم يو څه کار لرم

فاروق د څو شيبو وروسته راغی. ومي ويل: څنګه شو وروره؟ پيدا دې کړه؟؟

وي ويل: نه زر ځايه تللې شې ، د ټولګيوالې کور د يو ملګرې کور

په دي شپه او تياري کي دباندي نه پاته کيږي چي پيدا شي

ومي ويل: رښتيا وايي

او دوام مي ورکړ: سهار ته هم څه نه دي پاتي ته لاړشه کور ته زه بيا سبا درپسي راځم ووره

کور ته ننوتلم. ټول خبر شوې وه چي څه خبره شوي ده.

مور مي غږ کړه: زويه د کاکا ښځه يي تښتيدلې ده حتي خپل چپلکي لا نه دي په پښو کړي

پوړني يي هم همغسي پاته دی

که وی يو تار ويښته مي د هغې پر سر نه ايږدل

ومي ویل: دا کورني په تښته کي ډير تکړه وه موږ خبر نه وو
کوټي ته ننوتلم. هيڅ مي پام نه وو چي سهيلا يي راوړي ده.
ډير يې ژړل. ومي ویل: ګوره زه حوصله نلرم نن شپه ستا خور په کافي توګه خفه
کړی یم ته بیا خپل غږ مه باسه
یو کنج کي کښیناستلم او آسمان ته مي کتل چي کله روښانه کيږي خو د سهيلا ژړا
هېڅ نه بنديدله

په زړه کي مي وویل: خير دی بيريدلې ده څو شيبي وروسته ارامه کيږي
څو شيبي تيري شوي او زما حوصله هم خلاصه شوه
ومي ویل: غلې کيږي که نه؟ داسي يو څپيړه درکړم چي يو زما څخه وخوري یو د
دیوال څخه
او بيا مي دوام ورکړ: زه خوشاله یم چي ته دلته يې؟؟ دعا وکړه چي سبا ليلا پیدا
شي که پیدا شوه ته بیرته ځې
ته نه زما خوښيږې او نه مي هم درسره واده کړی نو هسې مه ژاړه هيڅ کار درسره
نلرم پوهه شوې؟؟

سهيلا خپل د پوړنې په څنډه خپل اوښکې پاکې کړې او وې ویل: لیلا دي وځورول
چي وتښتيدله؟؟؟
ومي ویل: کاش ليدلی مي وی ، ماښام د ډوډۍ پر وخت مي وليدله د هغه نه وروسته
تر اوسه مي نه ده ليدلي
خپل لاس مي د کړکي خواته وغځول او ومي ویل: د دغه کړکي څخه تښتيدلې ده ،
وینی؟؟ نو خپل غږ مه باسه زه بهر نشم تلی مور مي خفه کيږي
ته هغه خواته بیده شه زه هم دي خواته تر څو چي سهار کيږي دومره ژړا هم مه کوه
حوصله نلرم
پريوتلم او خپل مخ مي د دیوال خواته کړ. خدايه راسره مرسته وکړه چي لومړی يي
زه پیدا کړم ....

..... اجمل .....

هوا روښانه شوي وه او ليلا بيده وه. لاړم د نظير څخه او ومي ويل: وروره پام دي ،
دې نجلې ته يي زه ځم ګورم چي څه خبري دي ژر بيرته راځم
نظير ومنل. د کوره ووتلم شاوخوا مي ښه وکتل څوک نه وه.
خپل د پلار تر کوره وځغاستلم. چي ورسيدلم دروازه مي وټکول رضوان ته چی د
دروازي شاته ولاړ وو ژر يي دروازه خلاصه کړه.
ساه مي لنډه لنډه کيدل وي پوښتل: وروره څنګه شو؟؟ ښه يي؟؟؟ ليلا ښه ده؟؟
ومي ويل: پلار مي چيري دی؟؟

پلار مي د کوټې نه ووتی او زموږ خواته راغی. علی هم ورسره وو.
ومي ويل: علی دلته څه کوي؟؟
رضوان: سهار وختي هوا روښانه شوي لا نه وه تللي وه د علی دوي کورته ليلا يي
لټول موږ هم فکر وکړ چي ته او ليلا هلته ياست ..... ته چيري وي؟؟
ومي ويل: خپل د يو ملګري کور ته لاړم ، پوهيدلم چي د علی کورته ځي
پلار مي وويل: شاباس ښه کار دي وکړ
ومي ويل: پلاره څه وکړو؟؟ تر کله به تښتو اخر مو ګيروي
پلار مي وويل: زه هم حيران پاته يم

ګوره ..... عمه دي پاکستان کي ده نجلې هلته يوسه
څه چاره لرو؟؟ نجلې مړه کوي! نه مي خوښيږي چي لاسونه مي د يوې نجلې په
وينو ککړ شي

اوس يي يو بيعقلې کړي چي نه جبرانيږي ، نادر دا کار بی ځوابه نه ايږدي
پلار مي کورته لاړی ، بيرته راغی او يو څه پيسي يي راته راکړه او وي ويل: پاکستان
ته لاړشئ همدا نن حرکت وکړئ
مور مي د کور څخه کالي راوړل او وې ويل: دا هغه نجلې ته ورکړه چي د نارينو
کالي يي اغوستي دي ، فکر دي يي چي څوک دي ونهويني

زویه پام دي لیلا ته یي ، بیچاره بی وزله او معصومه ده یوازې یي مه ایږده
ومي ویل: سمه ده مورې پام مي دی ، زړه دې جیمې
پلار مي وویل: لومړی جلال آباد ته ځي بیا د قاچاق په کوچني موټرونو کي پاکستان ته لاړشئ

هله زویه خداي دي وساته
خپل د مور و پلار سره مي خداي په اماني وکړل.
رضوان وویل: وروره لیلا ته دي پام یي
ومي ویل: ښه دومره یي مه یادوه نو ، پوه شوم
د کوره ووتلم او د نظیر د کور خواته روان شوم.
په لاره کي مي ډېر استرس درلود چي څوک مي ونه ویني.
کور ته ننوتلم. لیلا ویښه وه.
ومي ویل: باید پاکستان ته لاړشو ، که دلته پاته شو تا مړه کوي او ما چي تا سره ګیر کړي زه هم وژل کیږم
لیلا زړه نازړه وه.

ومي ویل: د څه په اړه فکر کوي؟؟ کم بل فکر دي په سر کي دی؟؟
وې ویل: نه
ومي ویل: ښه نو
ولاړه شه ځان تیاره کړه چي وخت نلرو ، همدا سهار وختي ټکټ شته که ناوخته کړو بیا سبا سهار ته ټکټ اخیستلی شو
باید تورخم ته لاړشو ، هله لیلا ژرړر

.... لیلا ....

د سهیلا او حمیرا سره مې خداي په اماني ونکړل.
خدایه ولي داسي وشوه؟؟ خدایه خپله دوي خپل په پناه کي وساته
اوس بی د دوي د لیدو مجبوره یم چی لاړه شم.

سترګې مې د اوښکو ډکې شوې. ولاړه شوم کالي مي بدل کړل او د اجمل سره د کوره ووتلم.
په لاري کي وو چي ومې ويل: اجمله وروره؟
وي ويل: څه شوي؟؟؟
ومې ويل: کيږي چي زما د مور تر قبره لاړشو؟؟
اجمل يو اوووف وايستی او وي ويل: لومړی ټکټ واخلو که وخت پاته شو ستا د مور ليدو ته هم ځو

د ټکټ اخيستلو وروسته په مسافرخانې کي په تمه وو.
ومې ويل: اجمله زما د مور ليدو ته نه ځو؟؟؟
اجمل وويل: قبر ستاسو د کور نږدي دی که لاړشو او ګير مو کړي بيا څه وکړو؟؟؟
په نااميده نظر ځمکي ته په کتو شوم. اوښکې مې د سترګو نه پر لمني څڅيدل.
يو ژوره ساه مې واخيستله او په زړه کي مې وويل: مورې د لري نه مې درسره خداي په اماني وکړه خو خپله ښه تره پوهيږې چي ژوند مې په خطر کي دی
بخښنه غوښتلو ته راتلم تر څو يو څه مې د زړه بوج کم شې
سهيلا او حميرا دې ماته پريښودل خو ما دوي دواړه خپل د پلار په لاس ورکړه او خپل ځان مې وژغورل

ښايي هم ځان مې نه ده ژغورلې ...... تښتم تر څو مې مړه نکړې
مورې ليلا دې پښيمانه ده
ما وبخښه! دروند بار دې زما پر غاړه پريښود .... ډير دروند.
بيعقلې مې وکړه او خپل ژوند مې په خطر کي واچول خو راته مهمه نه ده
د سهيلا او حميرا ساتونکې شه
کلينر غږ کړه: تورخم .... د تورخم مسافرين
اجمل وويل: ولاړه شه زموږ نوبت شو
په موټر کي کښيناستلم او د وروستی ځل د پاره بهر ته په کتو شوم. د لري نه مې جلال وليدی

زرہ مې ورژدید. ومې ویل: اجمل .... اجمل هغه جلال نه دی؟؟؟؟؟
اجمل په ورخطایي نظر واچول او وي ویل: الله اکبر جلال دی
د کم ځایه پوه شو چي دلته یو؟؟؟
ومې ویل: نه پوهیږم خامخا یي تعقیب کړی یي
اجمل تر ما بدتر بیریدلی وو ، وي ویل: که ګیر راغلو خلاص دی لیلا هم ته وژل کیږې هم زه
د ډیر بیرې څخه نږدې وو چي بی هوشه شم.
اجمل وویل: لیلا زه د موټر څخه کښته کیږم
بازو مې ځیني ونیول او ومې ویل: نه مه ځه ما یواځې مه ایږده! پخداي ما مړه کوي

اجمل: تا یوازې نه پریږدم یواځي یي فکر په بله کوم
پر ما دي څه فکر کړی؟ بی غیرته خو نه یم
څنګ ته دي کښینم هیڅ مو لاس ته نه راځي ، ګیروي مو
مه بیریږه زه بیرته راځم یوازي خپل چادري ښکته کړه چي تا ونه ویني
اجمل لاړی. زړه مې د دریدو په حال کي وو. ډیره بیریدلې وم.
تر اوسه جلال د زومتوب کالي نه وه ایستلي او په غمجن نظر یي شاوخوا ته کتل.
لاړی د مسافرخانې خواته.
د څو شیبو وروسته اجمل راغی یوه ښځه یې زما څنګ کي کښینول او وي ویل: د دې خاله پیسې مي تر تورخمه ورکړي

لور درته وایي خپل غږ ونه باسې لیلا پوهه شوې؟؟؟
زه ښکته کیږم د لاري په اخر کي دریږم بیا په موټر کي سپریږم
زړه نازړه مې وویل: سمه ده لاړشه مخصد ما یوازې پرینږدي
وي ویل: زړه دې جیمې ، یوازي دې نه ایږدم
په موټر کي ناسته وم. دومره بیریدلې وم چي لاسونه مې ساړه شوې وه. خداي خداي مې کول چي زموږ د موټر خواته رانشي.

په آخر سیټ کي ناسته وم او سترګې مې د موټر په دروازې کي وه چي که دننه شو وې وینم.
د شا د دروازې نه موټر ته وختی. همدا چي بسم الله یې وویل زړه مې د څو شیبو د پاره خپل تکان د لاسه ورکړ

زما د څنګ ښځې په غیږ کي یو ماشوم وو ، هغه مي واخیست او خپل په غیږ کي مي ونیوی.
د ډیر بیرې نه مي ساه نشو اخیستلی. جلال د موټر تر مخي پوري لاړی او بیرته راغی. ټولو ته یې په ځیر ځیر کتل.
زما د ښه بخت څخه هغه ورځ ښځې په موټر کي ډیرې وې.
کرار کرار راغی او سترګي یې پر ما ودریدلي.
د چادري د جالي د شا څخه مې مستقیم ورته وکتل.
ځان سره مې وویل: پوه شو لیلا ، بس مړه شوې همدلته دې ښخ کوې کورته لا نه رسې

خپل سترګې مي ښکته کړې. دعا مې کول چي تیر شي او څه ونه وایي.
خدایه هیله کوم ما وژغوره نور بیعقلې نه کوم ، خدااااایه نن مې وژغوره
د جلال غږ مې واوریدی چې وي ویل: خاله ، دا خور ستاسو سره ده؟؟
لاس او پښې مې سستې شوې.
خپل د څنګ ښځې خواته مې وکتل. همدي شیبي کي نه ما ساه اخیستل او نه جلال.
ښځې وویل: هو اینګور مې ده

کور مو په تورخم کې دی ځو خپل کور ته ، خیریتي ده زویه؟؟
جلال یوه ژوره ساه واخیست او همداسي چي ماته کتل ، وي ویل: هو خیریتي ده د یو ښځي پسي ګرځم چي زما د کور څخه یې غلا کړې ده ، یوه ځوانه ښځه ده خاله تا نه ده لیدلې؟؟؟ د یو جګ ، ډنګر او غنم رنګه هلک سره؟؟
ښځې وویل: نه زویه نه مې دې لیدلې

بیا بې دوام ورکړ: خپل پام نیسه زویه ښځې ډیری خرابي شوې دې
جلال وویل: هو همداسي ده ، خو زه هر څنګه چي یي نن یي پیدا کوم
د جلال د ښکته کیدو سره مې یوه ژوره ساه واخیستل. نږدې وو چي زړه مې ودریږي.

ښځې وویل: لورې څو دې غلا کړې؟؟؟ یو څه یې هم ماته راکړه ډیره غریبه یم
ومې ویل: خاله د څه شي غلا؟؟؟ زه تښتیدلې ناوې یم
زه یې په زوره دې سړي ته نکاح کړم زه هم وتښتیدلم
ښځې وویل: یووو د همدي هلک سره چي ماته یي پیسي راکړه؟
ومې ویل: نه د ده د ورور سره
او دوام مې ورکړ: خاله دومره پوښتنې مه کوه لاس و او پښی مې د بیرې اوس هم بی حسه دې

موټر حرکت وکړ. دباندي مې کتل چي ګورم جلال هم ماته ګوري ، یو ځاي دریدلی وو چي زما د خوا کړکي په کامله توګه معلومیدل او کتل یي چي کم کار کوم که نه خپل مخ مې واړول او ومې ویل: خدایه بیرته رانشي که دا وار راغی سل په سله مې ګیروي

لږ چي مخته لاړو اجمل هم موټر ته وختی راغی خاله یي ولاړه کړه او خپله زما څنګ ته کښیناستی. تر ما ډیر تره خوله یي کړې وه.
وي ویل: همدا چي مي ولید جلال موټر ته وختی ومي ویل خلاص شو نو خداي دي لیلا وبخښي هههههه څنګه یي ونه پیژندلې؟؟؟
ومې ویل: ټوکي مه کوه ، نږدې وو چي مړه شم
لاسونه مې همغسي لړزیدل.

.... جلال ...

سهار چي د کوره وتلم ومي ليدل چي سهيلا ځان يي سره ټوله کړې او بيده ده.
څومره دا بدبخته ده. واده چا کړې ، تښتيدلې څوک ده او جزا څوک ويني
يو توس مي ورباندې واچول او د کوره ووتلم. په موټر کي نه وم سپور شوی چي يو
چا نارې کړم ورته مي وکتل خو ومي نه پيژندی.
ومي ويل: وبخښی تاسو څوک ياست؟؟ ومي نه پيژندلي
وي ويل: زه علی يم د رضوان د کاکا زوي
حيران شوم خو ومي ويل: ښه څه خدمت؟؟؟
وي ويل: ما ليلا پيژندله ، خرابه نجلې وه ماته يې هم علاقه درلود خو زما داسي
نجوني نه خوښيږي خو د بده مرغه رضوان ته يې دوکه ورکړه
دومره د ده دا خبره راباندي بده ولگيدله چي غوښتل مي ښه کلک په خوله يي ووهم
دوام يي ورکړ: نن سهار اجمل راغی او خپل د پلار څخه يي پيسي واخيست ، د ليلا
سره نن د تورخم د لاري ځي پاکستان ته

که ژر لاړشي ليلا گيرولي شي
خو اجمل گناه نلري ښه هلک دی د هغه سره کار مه لره
ومي ويل: سمه ده مننه ژوندی واوسي
فاروق او د ده دوه ورونه مي واخيستل او د تورخم د موټرانو د هډې خواته مو
حرکت وکړ.يو موټر ته وختلم ، په يو ښځې شک مند شوم خو هغه نه وه. ټوله ورځ
په هډې کي وگرځيدلو هوا هم گرمه وه خو ليلا نه وه.
تر شپه کښيناستلو خو زه يي د پيدا کولو څخه نااميده نشوم
که پاکستان ته لاړه شي سل په سله دلته راځې

..... حميرا ....

د ليلا او سهيلا د نشتون سره مې زړه بوډي نغوښت. يو کنج کې ناسته وم او ټوله
ورځ مې په ژړا تيروله.
د فاطمې مور راغلې وه. پښې يې ژوبل شوې وې ، ويل يې چي تر کوره په لڅو پښو

تښتيدلې تر څو د ليلا د تښتې د پاره يي مړه نکړې.
زړه مې خپل د مور ، ليلا ، سهيلا پسي ډيرررررررررررررررررر تنګ شوی وو
خپل ځنګونونه مې په غيږ کې نيولې وه او ژړل مې.
پلار مې هم ډير خفه وو ، هيڅ مې ورسره خبري نشو کولی چي يا ما په غيږ کي
ونيسي ، راسره خبري وکړي .... شګوفه هم ما نغواړې

مور مې نشته چي ما په غيږ کې ونيسي او څنګ ته يي پريوځم.
کاش زه يې هم د سهيلا سره وړې وی.
وايي ليلا ورکه شوې ده ، ليلا يي چي د کوره يوړه جوړه روغه وه خامخا يي مړه
کړي ده بيا راغلي د سهيلا پسي.
سهيلا هم مړه کوي ، کاش ما هم يوسې! يوازې څه وکړم؟؟
هر څومره چې مې په لوړ غږ ژړل څوک نه وو چي زما د ژړا غږ واورې.
د سراي دروازه کلکه وتکيدل. پلار مې لاړی چي دروازه خلاصه کړي. په خوشالې
سره د کړکي شاته لاړم او ومې ويل: ليلا راغلې ده
خو کله چي دروازه يي خلاصه کړه ، د ليلا خسر وو.
وي ويل: بايد کور خالی کړئ وخت مو پوره شوی

پلار مې وويل: داسي نه کيږي تا ژمنه کړي وه
نادر: ستا لور مورږ ټوله کورني يي بي حيثيته کړه د اوله مي نبايد دا واده منلی وی
خان شاه کور همدا نن بايد تش کړی ، پوه شوي؟؟؟
پلار مې پر نادر حمله وکړه او سره لاس تر غاړي شوه. (يعني د يو بل وهل يي پيل
کړل)

بيريدلې وم او ژړل مې. زما پلار يي ډير ووهل زلمی کاکا راغی تر څو مرسته وکړي
او جګړه پاي ته ورسوي. ګاونډيان راغله او زما پلار يي وژغورل.
نادر په لوړ غږ چيغي وهل: ليلا د دي سړي لوږ تښتيدلې ده
زموږ معامله فسخه کيږی او دا سړی همدا نن بايد کور خالي کړي

پلار مې د نادر د خبرو په اوریدلو سره رنګ یي سپین وپریدی او پر ځمکه ولویدی.
پلار می بی هوشه شوی وو ، دباندي یي یوورِ تر څو ډاکټر ته یي یوسي.
په ځغاستو لاړم د کالو د بخچي (د کالو غوټه) څخه مې خپل دوه نوې جوړه کالي واخیستل په یو پوړني کې مې وتړل. بهر لاړم او د نادر مخته ودریدلم.
ومې ویل: ما هم ځان سره یوسه

لیلا او سهیلا دي چیري وړي؟؟ ما هم همِلته یوسه
شګوفه راغله تر لاس یي ونیولم او وې ویل: غلې شه ته چیرې ځې؟
ومې ویل: خپل د خویندو څخه ، هغوې هم همدغه سړي یوړه ما دې هم یوسې
د شګوفې لاس مې پوري وهل او بیا د نادر څخه لاړم ، خپل اوښکې مې خپل په لستونې پاک کړل ، زنه مې ریژدیدل. مستقیم مې د ده سترګو ته کتل. نادر هم په یو غمجن نظر راوکتل او وي ویل: ګوره لوزې لیلا تښتیدلې ده
سهیلا هم د جلال ښځه کیږي زه تا چیرې یوسم؟؟
ومې ویل: خو ما هم جلال ته وکړه .... منګه څه کیږي؟؟؟
نادر لومړی په خندا شو بیا یي وویل: ته ماشومه یې د واده وخت دې نه دی ، بیا خپل د خور بنه کیږې؟؟؟

ومې ویل: نه یوازي غواړم چي د لیلا او سهیلا سره واوسم
ځم په پس خانې کي بیده کیږم ... یوازې ما هم یوسه
د نادر سترګي د اوبو ډکي شوي ، ژر یي سترګي ورپول او د ولاړیدو سره یي وویل: نه کیږي لورې ، ته خپل د مور او پلار څخه واوسه زه تا نشم وړلې
شګوفې ته په کتو سره یي دوام ورکړ: خپل شیان ټول کړه خان شاه خو بی هوشه شو نور زه کار نلرم کور خالي کړی
همداسې چي د اوښکو ډکو سترګو سره مې ورته کتل ټینګار مې کول چي ما هم ځان سره ویسي خو هیڅ ارزښت یي رانکړ او لاړی.
شګوفې د بازو څخه ونیولم او وې ویل: ته صبر چي پلار دې راشي ته چیري ځي بي ادبې؟؟

لاس مې ځینې پوري وهل او ومې ویل: په تا هیڅ اړه نلري
کوټې ته ننوتلم او دروازه مې بنده کړه. باید خپل د مور شیان ټول کړم.

.... جلال ....

لمر په زړورتیا او پیاوړتیا سره خپل ځانګې خپري کول او تر اوسه د لیلا څخه هیڅ خبر نه وو شوی.
ټول موټران مو وکتل او ولټول خو ..... لیلا نه وه.
نه لیلا وه ، نه اجمل.
خامخا علی دوي خپله رالیږلی وو تر څو ما ګمراهه کړي
هرو مرو همداسي ده که ني دا هلک لیونی دی چي خپل کورني ته خیانت وکړي؟؟؟
زه یي خر کړی یم.

د ملګرو سره بیرته کور ته راغلو. د سهار څخه مي څه نه وه خوړلي. خپل مور ته مي غږ کړه او ومي ویل: ډوډي تیاره ده؟؟؟
وې ویل: هو زویه تیاره ده ، هغه نجلې لیلا څنګه شوه؟
ومي ویل: نه پوهیږم موري ته چی اوبه شوې او په ځمکه ننوتلې
مور مي وویل: آخر پیدا کیږي تر کله پټیدلې شې؟؟
ومي ویل: هو دا خبره ده ، آخر خامخا ځان ښیي
کوټې ته ننوتلم چي ګورم سهیلا همغسې خپل پر ځاي ناسته ده. د برابي شپې د ځاي څخه یو ذره هم نه وه ښوریدلې.
ومي ویل: تا هیڅ ډوډي خوړلي؟؟؟

زما په لیدو وبیریدله او سلام یې راکړ. علیک مي کړ چي وې ویل: هو خوړلې مې ده
ومي ویل: کله دې خوړلې؟؟
سهیلا: پرون ، مور خپل په کور کي
خندا ونیولم. ومي ویل: ته اوښه یې؟
په حیرانتیا یې وویل: څنګه؟؟؟

ومي ویل: خو اوښه یو ځل ډوډي خوري بیا څو ورځي ډوډي نخوري
خپل سر یې ښکته واچول او هیڅ یې ونه ویل.

بیا مي دوام ورکړ: ولاړه شه چي لاړشو ډوډي وخورو ، اوس یو وار د وږي مړه نشې
سهیلا: نه زه مړه یم ، نه یې خورم تاسو یي وخورئ
عصاب یي را خراب کړل. د لاسه مي ونیوله او په یو کشیدو مې پورته کړه
ومي ویل: اوس ښه شو ، ژر ځه چي ډوډي وخورو
په ټیلو ټیلو مي ډوډي خوړلو ته یوړه.

د دسترخوان پر سر وو چي پام مي شو سهیلا چي ډوډي خوري په غړ سره یې
خوري او چړپ و چړوپ کوي. ټولو هغې ته کتل زه یي پر ځاي وشرمیدلم.
ډوډي خوړل چي خلاص شوه ، سهیلا غوښتل لوښې ټول کړې چي ومي ویل: راشه
درسره کار لرم
راپسي راغله. دروازه مي وتړل او ومي ویل: کښینه او ښه واوره چي څه وایم
لومړی کله چي ډوډي خوري خپل خوله پټه ونیسه
دوهم خپل سر په غاب کي مه ننباسه

ماته ارزښت نلري چي ته څه رقم ډوډي خورې یوازي نغوارم چي څوک درباندي
ملنډې ووهي نو هڅه وکړه چي د نورو څخه ډوډي خوړل ، خبري کول ، کالي
اغوستل زده کړې
پوهه شوې؟؟
سهیلا وویل: په سترګو
دوام مي ورکړ: ګوره معلومه نه ده چي تر کمه په دي کور کي یي خو پوهه شه چي
د چا نه خوښیږې نو هڅه وکړه چي سم چلند ولرې

خپل سر یې ښکته واچوی او هیڅ یي ونه ویل.
ورزیاته مي کړه: خفه کیږه مه زه ستا د ښیګڼې د پاره وایم
د کوټي نه ووتلم او لاړم خپل د مور څخه.

ومي ويل: مورې ، سهيلا مور نلري او دا د ليلا كيسه هم شوه سهيلا مو په زوره دې كورته راوړه نو ښه چلند ورسره وكړئ
ډير مي زړه ورباندي سوځي
مور مي وويل: مورې هيڅ نه دي كړي خپله يې ځان بندي كړې ده د وخته چي راغلی د كوټې څخه وتلې نه ده
ومي ويل: خو ورسره خبري وكړه خامخا بيريږي چي د كوټې څخه نه وځي ، په زوره مو دي كورته راوړه هر څوک چي وسي بيريږي
د كوره ووتلم او مستقيم د دوكان خواته ولاړم. بايد خپل پلار مي ليدلی وی چی د ليلا په كور څه كوي.

..... رضوان .....

څو ورځي د ليلا د تګ څخه كيږي او زه ورڅخه هيڅ خبر نلرم. زړه مي ډير ناارامه دی خدای دي وكړي چي ښه او جوړه واوسې. د يو خوا څخه مي چي ليدل جلال نه ده پيدا كړې دا خپله لويه خوشالي ده.
په فكر كي وم چي پلار مي وويل: يوه خبره درته كوم ښه په خلاص غوږو يي واوره هڅه وكړه چي خپل ځان پري پوه كړي او ليونتوب ونكړې
ومي ويل: څه خبره ده؟؟؟
وي ويل: په ټوله منطقي كي خلک يو رقم مورې ته ګوري ، غټه خبره شوي! د خلكو ناوې تښتيدلې

سمه ده چي تا هره ورځ ويني چي همدلته يي او ځاي تللی نه يي خو د خلكو خوله څوک وتړې؟؟؟
ومي ويل: په دي خبرو خپله پوهيږم ، اوس څه شوي دي؟؟؟
پلار مي ښه ژور راوكتل او وي ويل: تا د طوبا سره نامزاده كوو تر څو ارامي شي او خلک نور دا خبره پريږدي
ومي ويل: نه لازمه نه ده ، د دي د پاره چي د خلكو خولي وتړې طوبا زما نامزاده مه

جوړوی ، زه یي نغوارم
پلار مي وویل: یو ځل فکر وکړه
لیلا لاړه پاکستان ته او ته دلته یي یواځي یو آوازه خپروو چي نامزاد شوی یي ،
خبره خلاصه شي

مور مي وویل: هو زویه
طوبا زموږ خپل ده څه نه وایي که دي بیا وروسته طوبا خوښه شوه نو تر دي بالا
همغه طوبا درته کوو خو اوس لازمه ده چي د خلکو فکر پر بله شي که وغواړو په
دي منطقي کي ژوند وکړو
ومي ویل: هر څه مو چي په فکر کي دي باید ووایم چي زه نجلۍ نه یم چي یو
څوک په زوره راباندي یو کار وکړي
که خبره یوازي د آوازه خپرولو ده سمه ده خو د محفل اجازه نه ورکوم پوه شوی؟؟؟
پلار مي وویل: ښه باید ستا د کاکا سره په اړه یي خبري وکړم

.... لیلا ....

چي د خوبه ویښه شوم هوا تیاره شوي وه. ګورم چي اجمل ویښ دی او سترګي یي
سرې دي.
پوښتنه مي وکړه: ولي بیده شوی نه یي؟؟؟
ځواب یي راکړ: خوب نه راځي ، زه په ناستو خوب نشم کولی باید یو ځاي وسي
چي پریوځم او ارام وکړم
ومې ویل: داسي خو نکیږي ښایي څو ورځي خوب ونشي کولی بیا څه؟؟؟
اجمل: څو ورځو ته خبره نه ځي ، موټر تیز رفتاره دی تر څو ساعته وروسته دخیره
پیښاور ته رسیږو ، که کم څه دي په کار وه راته ووایه چي درته یي واخلم
ومې ویل: نه مننه ، څه مي په کار نه دي
اوس موږ چیرې ځو؟؟؟

اجمل: موږ مستقيم اسلام اباد ته ځو زما د عمه کور هلته دی
زه څو واره پاکستان ته راغلی یم په دي ځایو ښه پوره بلد یم
د هوا د روښانیدو سره د خوبه ویښه شوم او ومې لیدل چي اجمل تر اوسه نه دی بیده شوی

بيچاره څومره په عذاب به يي.
د موټر د دريدو سره اجمل وويل: ولاړه شه ليلا ورسيدلو
د موټر څخه چي ښکته شوو اول يې راته شير چاي واخيستل او وي ويل: دا وخوره چي بيا حرکت کوو زما د عمه د کور خواته
ومې ويل: زه تر کله دلته پاته کيږم؟؟؟
اجمل: نه پوهيږم ته مې چي ورسولې بيرته ځم بايد خپل د پلار سره خبري وکړم چي څنګه کيږي خو د اوس د پاره مو يوازي همدا په فکر کي وه چي ستا ژوند وژغورو نور نه پوهيږم ليلا څه هسې درته يو څه ووايم زما پلار درته پريکړه کوي
ومې ويل: ښه هر څه چي مو په خير يي

د شير چاي څښلو وروسته مو حرکت وکړ. نيم ساعت لا نه وو تير شوی چی د رضوان د عمه کور ته ورسيدلو. دروازه اجمل وټکول چي د يو دريش ، دو دريشو کالو هلک دروازه خلاصه کړه.
د اجمل د ليدو سره ډير خوشاله شو. د سترې مشي وروسته يي دننه وبللو. زموږ د ننوتلو سره يوه ډنګره ښځه چي د سر ويښتان يي سپين شوې وه زموږ خواته راغله. پوهه شوم چي دا د رضوان عمه جانه ده.
راغله او د اجمل مخ يي ښکل کړ. زما په ليدو حيرانه شوه او په حيرانوونکي لحجه يې وويل:  دا ښايسته څوک ده؟؟؟

نه چي واده دي کړی موږ دي نه يو خبر کړي؟؟؟
اجمل په خندا وويل: نه د دې نجلې کيسه اوږده ده ، بيا يي درته وايم
يو ځاي کورته لاړو. اجمل ټوله خبره خپل عمه ته وويل. ما هم خپل سر ښکته

واچول. هیڅ مې ویلو ته نه درلود.
عمه غټې او قهوه اي رنګه سترګې درلود ، یوه جګه او نرۍ پزه ، نرۍ شونډان او د
ډنګر مخ درلودونکې وه. یو څه یې څهره خپل د وراره ګانو سره سر خوړل.
د څو دقیقي خبرې کولو وروسته ، عمه وپوښتل: دا نجلۍ تر کله دلته پاته کیږي؟؟؟
اجمل وویل: نه پوهیږم بیا زما پلار تاسو ته احوال درکوي
زه خپله باید بیرته لاړشم نن شپه پاته کیږم بیا سهار وختي حرکت کوم
د ډوډې خوړلو وروسته اجمل لاړی چې بیده شي.
عمه خوش اخلاقه ښځه وه. راته یې وویل: راځه لورې چې کیسي وکړو
یو غټې کوټې ته لاړو او کښیناستلو. ځان ته یې هم چاوي ځای کړه او ماته هم.

وې ویل: تر ټولو لومړی ستا د مور د ناځاپه مړیني د امله درته تسلیت وایم ، ډیر لوی غم دی
غټ خلک یې لا نشي زغملی ته خو لا وړه یې زغمل یې تاته به بیحده سخت وه
او دوام یې ورکړ: نه پوهیږم د څه د پاره وتښتیدلې
نه دې پیژنم او نه دې هم د دردونو نه خبره یم خو دا درته وایم چې هیڅکله مه
ایږده چې څوک درباندي زور وکړي نه یوازې په دې خبرې کې په ټولو موضوعاتو کې
یو ځل چې دې ومنل ، دوهم ځل یې هم منې او بالا همدغسې اموخته کیږې او هر
څه چې زړه یې وغواړي ، کوي تر دې حده چې بالا څوک ستا څخه نظر نغواړې وایې
بې د هغه هم بیعقله ده څه ووایم څه ونه وایم ځواب یې هو دی
ومې ویل: مننه عمه جانې ، ستاسو خبرې په غوږ کې نیسم
وې ویل: ګوره لورې زه درې نوړې لرم ، دوې مړندې

نوړې مې واده کړې نه دی ، او کوچنې لور مې ډیره جنګره ده اوس په ښوونځي کې
ده چې راغله وې به وینې زه ډیر ورته نصیحت کوم خو ته ورسره هیڅ خبرې مه
کوه چې داسې نشي تاته کم څه ووایي او زه درته وشرمیږم لورې
ومې ویل: نه ستاسو دښمن دې شرمنده وې عمه جانې ، کور ستاسو دی که غواړی زه
په پس خانې کې اوسیږم هیڅ نه وځم

عمه: نه نو داسي هم نه ، یوازي مې وویل چي پام دې یې ځکه هغه نجلې هیڅ خبره نه اورې ومې ویل چي ته یو څه غټه یې فکر دې یې که نې میلمه زمونږ د سترګو تور دی خپل د عمه د زړه سرې

یو غړب چاوي یي وڅښل او دوام یې ورکړ: وې څښه چي یخیږي بیا بیده شه پوهیږم چي خسته یاست ، دا لاره ملا و مغزی چا ته نه ایږدي
د چاي څښلو وروسته لاړم چي بیده شم. عمه راباندي یو شړې (کمپله) واچول او وې ویل: بیده شه چي ستړیا دې ووځې ، بیا د شپې ډوډي ته دې ویښه وم ګرانې مننه مې وکړه. ډیر ښه احساس مې درلود. څومره دا ښځه ښه ښځه ده زما مور یې را په یاد کړه.
همدا چي سر مې پر بالښت پریښود ، خوب یوړم.
حمیرا
زمونږ د کور ټول شیان یې وایستل او مور زما د کاکا کور ته یوړه. نادر د سراي دروازه کلکه وتړل او یو غټ قلف یي واچول. پلار مې تر اوسه د ډاکټر څخه وو او نه وو راغلی.
زما د کاکا د کور د سراي په تل کي ناسته وم چي فاطمې وویل: هغه د سراي د کنج کوټه تشه کړئ بخاري او د بخاري نل وباسئ ، پاک یي کړئ او ځان ته یي فرش کړی بی د هغه هم درې نفره مو نشته هملته ځاییږی
زه او شګوفه لاړو تر څو کوټه سره تیاره کړو. شګوفې ژړل. هیڅ اوښکې یې نه بندیدل.

پوښتنه مې وکړه: زما د پلار د پاره ژاړې؟؟؟
وې ویل: نه ، خپل د تور تندې د لاسه ژاړم ... هیڅکله مې فکر نکول چي داسي حال به راباندې راشې
بدبخته وم ، ستا د پلار د منلو سره لا بدبخته شوم
اوس خلک خپل د سراي په کنج کي په خیرات یوه کوټه راته راکوې
ومې ویل: د بدبختې نه څه مه وایه چي زه ترتا بدبختره یم

مور او خویندې مې زه خوشې کړې یم ...... پلار مې هم ما نغواړې
سترګې مې د اوښکو ډکې شوې او غږ مې په لرزیدو شو.
ومې ویل: د نادر هم راځخه خوښ رانغله ځکه یې ځان سره یو نه وړم
شګوفه: څه هسې ګډه یې دی تا ولي باید ځان سره یوسې؟؟؟؟
لیلا یې د زوي ښځه وه ، وتښتیدله نه پوهیږم چې چیرې ده ډوډي لري چې وخوري که نه؟؟؟ د اوسیدلو د پاره ځای لري که نه؟؟؟
سهیلا یې هم په بد یوړه

پوهیږې بد څه معني؟؟؟؟ خدای خبر چې سهیلا په ورځې کي څو ځله وهل خوړې لاړشه شکر وکړه
د شګوفې د خبرو د اوریدلو سره لاړم یو کنج کې کښیناستلم او په لوړ غږ په ژړا شوم. هر څه یې چې ویل: آرامه شه یو په دوه څه وشوه چې لیونې شوې؟؟؟؟ خو زړه مې هېڅ نه آرامه کیدی.
لیلا او سهیلا ووهې ، دوي ته ډوډي ورنکړې زړه مې چوې.
کاش زه یې هم وړې وی حداقل څنګ ته یې خو وم.

.... رضوان ...

خپل د کاکا کورته لاړم. موږ یي میلمانه کړي وو. د دسترخوان پر سر د نامزادي خبره پورته شوه.
ومي ویل: کاکا جانه طوبا لکه مدینه ده راته ، هیڅ توپیر نلري
زه ورسره نشم نامزاد کیدلی ، ما د لیلا سره ژمنه کړي
کاکا مي وویل: ستا ژمنه ستا تر کورني پوري ارزښتناکه ده؟؟؟
ومي ویل: غلط فهمي نشي کاکا جانه خو زړه مي د بل چا سره دی
طوبا ښایسته او با شخصیته نجلې ده بهتره ده د داسي چا سره واده وکړي چې په قدر یې پوه شي زه یي نشم کولی
که غواړې چي زما سره د لیلا د تښتي خبره د خلکو د خولي څخه وغورځوی یوازي

يو آوازه خپره کړئ خلاص تر څو خبره ساړه شي او هر څوک خپل ژوند ته دوام ورکړي

زه ورسره نه نامزاديږم کاکا جانه دا مي اول او اخره خبره ده
هيله مند يم چی رانه خفه نشی
پلار مي وويل: نه پوهيږم چي څه ووايم وروره .... خپله يي ويني نو
انسان چي ډير مغروره شي بيا همداسي کيږي څومره د رضوان په درلودلو د خدايه مننداوي وم ټولو ته مي ويل چي ښه کاکه او هوښيار زوي لرم خو اوس چي هره خبره کوم دی په ځواب کي يو څه ويلو ته لري

همداسي چي مي پلار خبري کول ، سترګي مي پر طوبا ولګيدل چي په ډير قهر او غوسي باندي يي راته کتل.
زه دا نجلۍ هيڅ نشم درکولی! ما هيڅ ژمنه د دې سره نه ده کړې چي دا داسي راڅخه تمه لري.
که د هر چا سره واده وکړي سفيد بخته کيږي خو نه ما سره.
کاکا مي وويل: ښه سمه ده داسي کارونه په زوره نه کيږي
واده او نکاح ايجاب او قبول دی چي دا نه يي باطل ويل کيږي
داسي چي ده زه خپل نوم نه بدوم او هيچا ته نه وايم يا به سمه نامزادي مني يا آوازه خپرول بی معني ده

وروسته ته بل نفر سره واده کوي بيا زما لور څوک کوي؟؟؟
پلار مي وويل: ته خپله بهتره پوهيږي وروره ، ستا لور ده زه څه نشم ويلی
رضوان هيڅکله د طوبا په څير ښه نجلۍ نشي پيدا کولی ډير ښه جوړه کيدل خو بيعقل دی مئين شوی! په خبره نه پوهيږي
خداي دي وکړي چي پوه شي
خپل سر مي ښکته اچولی وو او څه مي نه ويل خو طوبا د هغه شپي تر پايه راته په قهر او غوسه کتل.

ځان سره مې وويل: خداې دې وکړي چې راځخه يې کينه په زړه کې نه يې نيولې ،
دا بهتره ده تر دې چې هسې راسره نامزاده شې
زه يې په درد نخورم.

.... ليلا ....

د يو چا د غږ د اوريدو سره د خوبه ويښه شوم. سترګې مې ډير سوځيدل او نيم سر
مې درد کول. ورته مې وکتل ، سترګې مې نه خلاصيدل. اجمل وو.
ومې ويل: کمه خبره شوي وروره؟؟؟
وې ويل: نه خو جيګه شه چې لاړشو ډوډې وخورو ، شپه شوي ده
پوهيږې څو ساعته کيږي چې بيده يې؟؟؟ ولاړه شه په موټر کې هم بيده وې
د اجمل په غږ سره ويښه شوم. ولاړه شوم او لاړو دهليز ته. ګورم چې د عمه د
کورني ټول غړې راغلي دي. نوري ، مژندي او زامن.
ټولو ته مې سلام وکړ او د اجمل سره د دسترخوان په کنج کښيناستلو. ډير صميمي
خلک معلوميدل. عمه خپل د کورني غړي معرفي کول پيل کړه: دا ښايسته نجلې چې
زما څنګ کې ناسته ده شبانه نوميږي ، زما مشره لور ده د شل کالو کيږي دخيره
او د شبانې تر څنګ زما ښايسته مژور ده بينظير جانه او څنګ ته يې زما زوي دی
جهان او زما کوچني لور فرشته

او ستا تر څنګ زما دوهمه مژور ده ، آمنه او خاوند يې ادريس جان
ټولو ته مې په دقيقه توګه کتل چې عمه وويل: پوهه شوې لورې؟؟؟
ومې ويل: هو عمه جانې ، ډيره مننه ستاسو د پيژندلو نه خوشاله شوم
آمنه زما څنګ ته ناسته وه ، لاس يې زما پر پښې پريښود او وې ويل: زه هم خوشاله
شوم ګرانې ، خداې دې وکړي چې زموږ کور دې خوښ شي
غوښتل مې مننه وکړم چې د کور کوچني لور ، فرشتې وويل: هيڅ دې څهرې ته نه
پاته کيږي چې تښتيدلې ناوې واوسې او خلک دې ستا شاته يې تر څو تا مره کړې
ډيره عاجزه معلوميږې

مشر ورور يي ، جهان وويل: يو ورځ مي ونه ليدل چي ته با ادبه واوسې ، دا زمونږ په کور کي ميلمنه ده ژر بخښنه وغواړه هله فرشتې ژر
ومې ويل: نه لازمه نه ده .... رښتيا خبره يې وکړه زه خپله هم نه پوهيږم چي څنګه مې وکولی شو دا کار وکړم او تر هغه مهمتره ډيره پښيمانه يم
خو د شاته تګ لاره مې خرابه ده  بيرته نشم ګرځيدلې که ني همدا اوس تلم
آمنې وويل: هيڅه خبره نه ده ګرانې ، فرشته جانه هم کم هدف نلرې زړه يې پاک دی ګرانې

عمه وويل: ښه بيا د ډوډي خوړلو وروسته خبري کوو ، اوس ډوډي وخورئ که ساړه شوه بيا خوند نکوي
د ډوډي خوړلو په وخت کي پام مې شو چي بينظير ، د جهان ميرمن ډير راته ګوري
ځان سره مې وويل: خامخا همدا يې عادت دی
په فکر کي وم چي اجمل وويل: زه سبا دخيره بيرته ځم ليلا دي ستاسو څخه امانت يې
زه د يوه اوني يا لږ تره بيرته راځم
بينظير وويل: ښه دی چي ژر راشي ځکه مونږ اضافه کوټه نلرو ، زمونږ ځاي هم تنګ دی

جهان خپل ماينې (ښځې) ته په کتلو سره وويل: يو کس دی ، زړه چي تنګ نه يي ځاي پيدا کيږي
ما ژر خپل ځان د دوي د خبرو مينځ کي واچول او ومې ويل: نه نه هيڅ مشکل نشته زه په پس خانې کي هم اوسيدلې شم ماته مشکل نه دی بينظير جانه رښتيا وايې ستاسو ځاي هم تنګ دی زه مزاحمه شوې يم بخښنه غواړم هڅه کوم چي هر چي ژر تره د دي ځايه لاړه شم

عمه وويل: ليلا جانه زما ميلمنه ده قدم يې زما پر سترګو
زما سره زما په کوټي کي بيديږی بي د هغه هم زه يوازې وم بيا يوه اوني ده

اوس خپل ډوډي وخورئ چي ساړه شوه ډېر هم د خبرو پسی مه ګرځئ
نور هيچا څه ونه ويل او ټول په ډوډي خوړلو بوخت شول.
د ډوډي خوړلو په حال کي پام مې شو چي بينظير په ډېر قهر او غوسې سره جهان ته ګوري.

ومې ويل: خدايه دا څه حال دی؟؟؟
کاش دلته نه وی راغلی ...... خدای دي وکړي چي ژر د دي ځايه لاړه شم. نابللې ميلمه چي وايي ، زه يم. خداي دي وکړي چي په دا يوه اوني کي زما د امله کمه خبره په دي کور کي جوړه نشي که ني هيڅ ځان نشم بخښلې.
د دسترخوان ټولو وروسته ، عمه ناري کړم او خپل کوټي ته يې وغوښتلم. چي لاړم وې ويل: کښينه لورې ، څو کلمي خبري درسره کوم
ومې ويل: اورم عمه جانې ، څه شوي دي؟؟؟
عمه: بينظير يو څه بخيله ده

په دسترخوان باندي ما خبره خلاصه کړه خو ته يې زړه ته مه نيسه خپل د عمه د زړه سرې
د فرشتې په اړه مې هم مخته درته ويلې وه چي بي ادبه ده او زه د دې د بی ادبې د لاسه تل شرميږم
نه غواړم چي د خبري څخه خبره جوړه شي ګرانې
خداي دي وکړي چي زړه ته دي څه نه يې رسيدلې
ومې ويل: نه زړه مو جيمې ، ما زړه ته نه دې نيولې
دوي هم حق لرې خپل کور يې دی عمه جانې زه د نا بللې ميمله په شان راغلم
عمه په خندا وويل: د کور مالکه زه يم او ستا د راتلو نه خوشاله يم ته نور څه کوې لورې؟؟؟

سهار چي شي هر څوک ځي خپل د کار پسي ، زه پاته کيږم او خالي کور ښه شو چي راغلې د دي وروسته نور د ورځي د خوا په کور کي يوازې نه يم ګرانې

د عمه د خبرو څخه ډېره خوشاله شوم او ښه احساس مې پیدا کړ. ډېره خوږه ښځه وه.

هغه شپه یې زما ځاي ځان ته نږدي وغوړول او وې ویل: فکر وکړه چي زه دې مور یم هوسا بیده شه د هیڅ شي په اړه هم فکر مه کوه اوس خو کار تر کار تیر دي خداي دي ستا راتلونکې ژوند ښه کړي لورې ، په هر کار کي یو خیر شته موږ خو نه پوهیږو خامخا ستا په تښته کي به هم یو خیر یې
د عمه لاسونه مې ونیول او ځیني مننه می وکړه ، ډېره خوشاله شوه. د څو شپو وروسته په آرام فکر او جیمي زړه بیده شوم.

.... سهیلا ...

په کوټي کي ناسته وم او خپل د لمني څنډه مې په لاس کي نیولې وه. خپل د کمیس ګلان مې حسابول چي دروازه خلاصه شوه. وبیریدلم. چي ومې کتل د جلال مور وه.
وې ویل: راشه چي په کار یې
د بیرې سره یې شاته لاړم. لاسونه مې ساړه شوې وه.
خدایه! د دې ښځې څخه ډېر بیریږم خپله راسره مرسته وکړه د هغه شپې څخه چي زه یې د خوبه ویښه کړم او دلته یې راویستلم تر اوسه ....
په فکر کي وم چي وې ویل: ستا د خور په واده کي مو ډېر خلک نه وه بللي ډېر خلک فکر کوي چي ته لیلا یې ، څهره دې ورته پاته کیږي

څو نفرو هم پوښتنه وکړه چي زموږ د ناوې تښته رښتیا ده که نه؟؟؟ ما هم وویل: نه زما ناوې زما سره په کور کي ده ته هم باید همداسي ووایې پوهه شوې؟؟؟
ومې ویل: ښه ، پوهه شوم
وې ویل: شاباس ، قسمت به همدا وو ... که ني ما سل نجونې لکه تا او ستا خور خپل د جلال د یو تار ویښته نه قربان کول خو څه وکړم .... دا د جلال غوښتنه وه چي ځان داسي بدبخته کړي

زموږ په کور کي د کور کار خاله کوي ، راځي کالي پريمينځي او په فرش مينځل او جمع و جارو کي خاله مرسته کوي خو ډوډې پخول زموږ په غاړه دی
په پخلنځي کي واوسه تر څو پخلی زده کړې ، پوهيږم چي نه دې زده
ښه خپل فکر ونيسه ماته مردار خوري خوند نه راکوي بايد ټول شيان پاک و سوچه يي

زما لور شمايل درته ښيې چي موږ څنګه پخلی کوو او څنګه ذائقه لرو
د وخته چي راغلې يې په کوټه کي دي ځان پټه کړې ، ووځه سلام عليک زده کړه
ميلمه چي راشي تا ويني څه ووايم؟؟؟ چي ګونګې ده که شرميږې؟؟؟
هر څه چي د جلال مور ويل ما سر ښکته اچولی وو او هيڅ مې نه ويل
خدايه! خپله راسره مرسته وکړه
لاسونه مې ريږديدل. د ډير بيرې نه مې خوله کړې وه.
ومې ويل: په سترګو خپل پام نيسم

د څنګ څخه مې تيره شوه. يوه ژوره ساه مې واخيستل. د شمايل د خندا غږ راغی چی په خندا يې وويل: څومره بيريدلې وې! زه خو دې د خندا مړه کړم
ډير مې خپل شونډه وچيچل چی د خندا غږ مې ونوځې
شمايل د سپوږمې په شان ښايسته وه. تورې سترګې او وريځي ، کوچنې او ښايسته پزه چي د څهرې سره يې ډير ښه معلوميدل او ګلابي رنګه شونډې يې درلود. څه ناڅه د جلال څهره يې کول ، خو سپين توب يې د مور خواته تللی وو. کله يې چي خندل لا ښايسته کيدل. قد يې تر ما پورې جيګ وو ، هر څومره چي مې ورته کتل ډير تر ډيره به راباندې ښه لګيدل.

وې ويل: سترګې دې چيرې نيولې؟؟؟ راشه پياز ټوټې کړه ناوې جانې
لاړم لاسونه مې پريمينځل او راغلم چي ورسره مرسته وکړم.
وې ويل: زما د مور د خبرو څخه څه زړه ته مه نيسه ، همداسي عادت يې دی
يوازې هڅه وکړه چي ډيره پاک او بانظافته واوسئ که نې سل په سله ځينې وهل

خورې! په دي کي ډېره حساسه ده
ومې ویل: ښه په سترګو خپل پام نیسم

شمایل په خندا وویل: داسي په سترګو په سترګو وایي ته چی د څو کالو یم ګرسره دوه کاله تر تا مشره یم ، راته شمایل ووایه
ومې ویل: ښه په سترګو
ورته مې وکتل او دواړه په خندا شوو.
یو ځاي مو پخلی وکړ. شپه شوه او هوا تیاره شوه. ټول راغله. د شمایل په مرستې سره مو ډوډي د دسترخوان پر سر یوړه.
ټولو ډوډي خوړل پیل کړل چي پام مې شو جلال اشاره کوي راشه زما څنګ ته.
سترګې مې د حیرانتیا نه برګې ووتلي. الا خدا جوو دی ما ته وایي چي راشه؟؟؟؟
ورته مې اشاره وکړه چي ما یادوي؟؟؟

خپل سر یې وخوځول یعني هو.
خپل سر مې چپه او راسته خواته وخوځول یعني نه.
په ځیر ځیر یي راکتل. یو پوزخند یي ووهل او په لوړ غږ یي وویل: سهیلا راشه دلته کښېنه
ګورم چي ټول راته ګوري. ولاړه شوم او څنګ ته یي کښیناستلم. یو کاچغه (قاشقه) یي راته پریښودل او کرار یي وویل: پر ما ناز کوې؟؟؟
سرېمبې ما وویل راشه دلته کښینه که دې بیا په غږ سره ډوډي وخوړل چي زه دي پوهه کړم او نورو ته مزاحمت ونکړې کم بل مطلب نلرم
داسي زور یې راکړ. ده څه فکر کړی؟؟؟ یوازي ده ډوډي خوړل زده نورو نه زده؟؟؟
شمایل ته مې وکتل. خپل دواړه پښې یې یو خواته ایښې وه او ډېر ښایسته او استواره ناسته وه. زه هم د هغې په رقم کښیناستلم او خپل دامنه (لمنه) مې خپل پر پښو واچول. هر څه چي شمایل کول ، ما هم کول. یو ځاي کي خپل ویښتان یې د غوږ شاته ووهل ، ما هم ووهل.

پام مې شو چې جلال ګوله يي په خوله کي په حيرانتيا راته ګوري.
ومې ويل: څه؟؟؟ بوډۍ دي وخوره
يو وار خندا ونيوی. خپل د خولي ګوله يي تيره کړه او رانږدې شو. کرار يي وويل: د شمايل څخه کاپي کوې؟؟؟
ومې ويل: نه توبه توبه
جلال: د شمايل څخه نه ، زما د ورينداري څخه کاپي وکړه
ومې ويل: کمه ده ستا ورينداره؟؟؟
په خندا يي وويل: همغه چي شنه کالي يې اغوستې ، تر اوسه دې نه وه ليدلې؟؟؟
هغه خواته چي جلال اشاره وکړه ومې کتل. په ربښتيا ما هيڅ دا ښځه نه وه ليدلې. فکر مې کول چي ميلمنه ده.

ځومره ښايسته ده! ښايسته شنې سترګې يې درلود. ځومره په ناز يې بوډۍ خوړل! بوډۍ خوړل يې لا د نورو سره توپير درلود.
روښانه رنګ ويښتان او کمان شکله وريځې يې درلود. يو ښايسته خال يې هم د شونډو پر سر وو. جګه او نرې پزه چي ټول مخ يې ښکلی کړی وو.
خپل شونډې يې سرې کړې وې او سرې شونډې يې د شنو سترګو سره قيامت جوړ کړی وو.
ورته مې کتل چي جلال په څنګل په اوږې ووهلم او وي ويل: خلک خپل په سترګو مه خوره ، بی ادبي ده
خپل سر مې ښکته واچول. کرار مې خپل بوډۍ وخوړل. دسترخوان مو ټول کړ او لاړو پخلنځي ته.
شمايل ته مې غږ کړه: شمايل هغه ښځه چي شنه کالي يې اغوستې وه ، د جمال ښځه ده؟؟؟

وې ويل: هو څنګه؟؟؟
ومې ويل: نو څنګه هيڅ نشته؟؟؟ برابي ولې پر دسترخوان نه وه؟؟؟ نن غرمه هم نه وه يوازې لومړی ورځ چي راغلم دا مې وليدله

فکر مې کول چي ميلمنه ده
شمايل: هغه زما د پلار د انډيوال لور ده ، په مينه يې د جمال سره واده کړی
پلار يې د کابل پوهنتون ښوونکی دی
د لومړي ورځ نه يې وويل چي لور يي کار نه کوي ، سپين و تور ته لاس نه وهې
ځکه يې يوازي د ډوډي خوړلو پر وخت وينې نور وختونه په پورته منزل کي ده هيڅ
ښکته نه راځې
ومې ويل: ښه داسي ده نو
شمايل: هو ، ډيره مغروره ده بهتره ده چي هيڅ ورسره خبري ونکړي يو څه درته
وايي زړه دې در ماتوي

ومې ويل: نه زه څه کار لرم ګرانې
شمايل: شاباس راځه ، لوښي خاله مينځي ته راشه چي خپل کالي درته وښيم
د شمايل سره د شمايل د کوټي خواته لاړو. يوه ښايسته او غټه کوټه وه. دوه کړکې
يې درلود چي په سپين او شين رنګونه وه. ډير زړه خلاصه کوټه وه.
وې ويل: رښتيا سهيلا؟؟
ومې ويل: جان سهيلا؟؟؟
شمايل: مورې ليلا ته ډير کالي جوړ کړه خو ليلا هيڅ لاس لا ونه وهل
ته تر ليلا وړوکې يې خو فکر کوم چي يو اندازه به واوسی ستا د خور کالې دې ستا
يې ، مور مې زما کوټي ته راوړي خو پر ما نه راځې
ومې ويل: نه پوهيږم ګرانې

هر څه چي ستاسو مور ويلې همغه خبره سمه ده
شمايل راوکتل ، وې خندل او وې ويل: ډيره رسمې يې
کښينه ليونې نجلې اوس چاوي راوړم چي يو ځاي وڅښو او کيسي وکړو کالي هم
دانه دانه واغونده چي زه يې وګورم څنګه ښکاري
شمايل لاړه او تر څو چي راتله زه هم کښيناستلم.

د کوټې د کنج کالو ته مې وکتل او فکر یوړم. لیلا ولي وتښتیدله؟؟ دوي خو ډیر ښه خلک دي یعني لیلا اوس چیري ده؟؟؟

په فکر کي وم چي شمایل راغله. چاي او شیرپیره یې راوړې وه.
وې ویل: واخله وې خوره زما مور جوړ کړې ښه خوندور دي
یو ټوټه مې وخوړل. تر اوسه مې شیرپیره نه وه خوړلي. زما په نظر خو ډیر ښه وو.
د شیرپیري دننه ته مې کتل چي څه شي لري
شمایل وویل: ولاړه شه نو کالي واغونده چي وې وینم
ولاړه شوم یو جوړه کالي مې واخیستل وا یې غوندم چي شمایل وویل: د کړکي څخه دیخوا راشه چي څوک دي ونه وینې ، زه د دروازي شاته دریږم قلف یي خراب شوی او نه بندیږي چي یو وار څوک رانشي
ومې ویل: ښه سمه ده

کالي مې واغوستل. کټ مټ زما د پاره تیار شوې وه یوازي یو څه اوږده وه ځکه لیلا تر ما پوري جګه وه.
شمایل چي زه یې ولیدلم نږدې راغله زه یې د بازخوګانو څخه ونیولم او وې ویل: پخداي عجبه قندوله شوې یې ، ماشاءالله ، ته چی تاته یې جوړ کړې
خندا ونیولم. په همغه خندا سره مې وویل: زه چیرې قندوله یم؟؟؟ ډیره بدرنګه یم پوهیږم
شمایل: نه بیعقلې مه کوه ، ته تر لیلا پوري لا ښایسته یې هغه سره وه هههههه
په خندا مې وویل: هو تر لیلا پورې شیشیَکه (ښه تره ، ښایسته تره) یم ، ما هم همدا ویل خو لیلا زه وهلم چي نه ته ښایسته نه یې
شمایل همداسي چي په اوږې وهلم ، وې ویل: ای ځوانیمرګې! ښه خپل ستاینه کوې هههههه

مورږ دواړو کالي بدلول او بله جوړه به مو اغوستل. ځیني کالي پر شمایل هم برابر وه او ډیره ورسره ښایسته ښکاریدله.

شمایل راوکتل او وې ویل: سهیلا خبره یې چي د واده په خرید کي لیلا نه وه بیا دانه دانه دا ټکران زما ورور خوښ کړه
ومې ویل: ښه ځومره ښه سلیقه لري
سهیلا: رښتیا سهیلا ته ده څو کالو یې؟؟؟
ومې ویل: پینځلس ولي؟؟؟
شمایل: هیڅ همداسي مې پوښتنه وکړه

ټینګار مې وکړ: نه رښتیا ووایه ګرانې ، کمه خبره شوې؟؟؟؟
شمایل: ولا برايي زما مور جلال ته وویل چي باید تا ورته نکاح کړې ، یو ورځ یو ملا راوړي ته نکاح کیږي خلاص
بیا ورور مې وویل چي نه سهیلا ماشومه ده زه دا کار نه کوم
ته خو غټه نجلې یې ، میاشتنی مریضي دې راځې؟؟
په بیري سره مې وویل: نه نراځې
شمایل په خندا وویل: خداي دي مه وهه ته دا درواغ ته یې وګوره
ولي بیریږې؟؟؟ بي د هغه یې هم ته د لیلا پر ځاي راوړې یې ته نور زما د ورور ښځه حسابیږې ، یوازې نکاح مو کړې نه ده چي ښایي مور مې سبا سهار ملا راوړي
خپل سر مې ښکته واچول. شیرپیره مې زهر شوه. یعني نور لیلا نشته؟؟؟ زه د تل د پاره دلته پاته کیږم؟؟؟؟
نو حمیرا څنګه کیږي خداایه

ومې ویل: شمایل جانې که لیلا بیرته راشي بیا هم زه باید دلته پاته شم؟؟؟
شمایل راته وکتل او وې ویل: په کم باغ کي یې؟؟؟ دعا وکړه چي لیلا بیرته رانشې پلار مې هغه مړه کوې
او نور دا ستا کور دی ، زموږ سره ژوند کوې ته زما د ورور ښځه یې دې ته دې پام دی؟؟؟؟
د شمایل د خبرو په اوریدلو سره مې زړه ډیر نارامه شو.
خدایه! دا څه معني؟؟؟ یعني ما واده کړی خپله نه یم خبر؟؟؟؟

په همدې فکرونو کي وم چي پام مې شو جلال د دهليز څخه مورې ته ګوري.
کوټې ته راغی او وي ويل

کوټې ته راغی او وي ويل: د چا په اجازي سره مو دا کالي اغوستي؟؟؟؟
ډير په غوسه شوی وو.
په لرزانده غږ مې وويل: زه ...... زه .....
جلال: ته څه؟؟ تاته چا اجازه درکړې؟؟؟ منګه دا ستا کالي دي چي تا اغوستې؟؟؟؟
شمايل ته يې وکتل او دوام ورکړ: تا څه شي د پاره اغوستې؟؟ نه پوهيږې چي د چا شخصي وسايلو ته لاس ونه وهی؟؟؟
شمايل وويل: بس دي بس دي ډير دي چيغي ووهل
دا کالي ستا مور راته راکړې لاړشه خپل پر مور چيغي ووهه
او نور لکه بی تربيه ګانو د خلکو کوټې ته مه ننوځه ، لکه پيرى کوټې ته ننوځي څه وځه

جلال: ژر دا کالي به باسئ
سهيلا دا کالي وباسه او ښکته راشه چي په کار مي يې ، هله ژر
په بيړې سره مې کالي وايستل. شمايل يوه ژوره ساه واخيستل او وې ويل: دی ليونی دی ، هر څه يي چي وويل ته څه مه ورته وايه يوازي يې واوره او بخښنه وغواړه ، سمه ده؟؟
ښکته لاړم ګورم چي خپل د مور په کوټې کي دی او غږ يي راځي چي وايي هيڅوک حق نلري د ليلا کالي واغوندي
مور يي ويل: ليلا تښتيدلې ده که تا غيرت درلود ساتلی به دي وی
ډير زما پر سر چيغي مه وهه وه هلکه کي ني پخداي چي آق کوم دي
همدا شيبه کي د کوټې څخه ووتی او وي ويل: ته راشه دلته
نږدي لاړم. د لاسه يې ونيولم او کش يې کړم ، کوټې کي پوري وهلم او وي ويل: ښه په خلاص غوږو زما خبره واوره

ته دلته د دوو ورځو د پاره راغلې یې ژر تر ژره دې بیرته لیږم
ستا خور لیلا چي مي پیدا کړه تا بیرته لیږم پوهه شوې؟؟؟؟
زه یوه ښځه لرم او هغه هم لیلا ده ، ډیر ژر یې په پاکستان کي پیدا کوم او ځان
سره یې راوړم ته حققفق نلري چي د هغې و کالو ته لاس لا ووهې ، ډوډي دې وخوره
او د پردو په کور کي خپل پرده وکړه
پوهه شوې که نه؟؟؟؟

د ده د لوړ چیغي سره مې احساس وکړ چي د غوږ پرده مې څیري شوه.
ومې ویل: ښه ښه پوهه شوم
لاړې. دومره مې لاس او پښې لرزیدل چي په ځمکي ولویدلم. دومره مې زړه ډک
شوی وو چي په ژړا شوم.
شمایل راغله او وې ویل: خیر دی ګرانې مه ژاړه دی لیونی دی
د پخوا نه همداسي دی یو وار خفه کیږي او ټول شیان خرابوي بیا وروسته راځي
بخښنه غواړي
خیر دی ګرانې پریږده یې مه ژاړه
شمایل مې په غیږ کي ونیوله. ډیر مې زړه د لیلا او حمیرا پسي تنګ شوی وو.
شمایل مې په دي فکر سره چي لیلا ده په غیږ کي ونیوله.

..... لیلا ....

سهار شوی وو. چي ویښه شوم ګورم عمه نشته. بهر لاړم یوازي بینظیر او آمنه وه
نور هیڅوک نه وو.
آمنه چي زه یې ولیدلم سلام یې وکړ او سهار پخیر یې راته وویل ما هم سلام ورکړ.
بینظیر نږدې راغله او وې ویل: راته مهمه نه ده چي د کم ځایه تښتیدلې یې او ولي
تښتیدلې یې
که په یوه اوني کي لاړې خو ښه که لانږې په زوره دې د دي کوره باسم موږ دلته
میږه لرو ځوانه ښځه نه ایږدو

که مې ولیدل چې د جهان سره دې تش سترېي مشي لا وکړل بیا خپل په حال به ژاړې
آمنې وویل: آ خدااااااا ، توبه ستا د لاسه بینظیر ، دې بیچارې خو هیڅ نه دي کړې ، مختره مې هم درته وویل چې خرابه نجلې نه ده

بینظیر: زه کار نلرم چې ښه نجلې ده که خرابه ، ما خپل خبره درته وکړه هوښیاره نجلې یې نور خپله پوهیږې
خپل د خولي اوبه مې تیري کړي او ومې ویل: پوهیږم ګرانې زه ژر تر ژره .....
خبره مې لا نه وه پوره کړې چې عمه وویل: بینظیرې! ډېره خرابه خبره دې وکړه ، هره شیبه ما د دې نجلې مخته خپل په کارو او خبرو شرموی
پزه خو نه ده پاته ، پزه مو برایي پرې کړه
دومره چې بیریږي ستا میرې غلا کړي خپل میرې واخله او د یو اوني د پاره لاړشه خپل د ادې کورته

بینظیر: ولي زه لاړه شم؟؟ دلته مې د میرې کور دی
عمه: مخته تر دي چې ستا د میرې کور یې ، زما د میرې کور دی نو زه وایم چې څوک یې څوک نه یې که خوشاله یې لورې خو ښه تر ښه که نه یې د یوه اوني د پاره لاړشه خپل د مور کورته ما د خلکو لور امانت اخیستې ، دا چیري ولیږم؟؟؟ په کوڅې کي پریږدم؟؟؟یو څه شرم وکړه جهان دې هم لیونی کړی
ومې لیدل چې خبره په غټیدو ده ، ژر مې وویل: عمه جانې هیڅ خبره نه ده زه دا یوه اوني په پس خانې کي پاته کیږم هیڅ د پس خانې څخه نه وځم
ډوډي هم مهمه نه ده ، بي ډوډي خو انسان نه مرې کیږي
عمه: نه لورې یوازي ستا خبره نه ده

نن یم سبا نه یم نو دا فرشته هم د کوره باسې؟؟؟ ځکه فرشته د چا خبره نه اوري دا کور دی او د ځانه ځیني اصول او مقررات لري ، څوک یې چې نشي زغملی خپل د پلار کورته تللی شي

بینظیر وویل: زه ځم خپل د پلار کورته خو یوازې بې د جهان
شپه چې جهان راغی ورته ووایست چې څه مو وکړه خپل مړور مو د یو نجلۍ د
پاره چې هیڅ یې نه پیژني د کوره وایستل
عمه: زړه دې لوري چې خپل د میړه سره ځې که یوازې ځې د دې کور یوه کوټې یې
ستا ده نه ټول کور ، زه پریکړه کوم چې د څو ورځو د پاره میلمه وساتم هر څوک
هم چې راضي نه دی په خپل یې اړه لري
زما لاس یې ونیوی او دوام یې ورکړ: راشه لورې سراې ته چې د سهار چاوې څښو ،
راشه
د عمه شاته روانه شوم. د بینظیر مخ د ډیر خفگان څخه تک سور شوی وو ، ډیره
خفه وه.

آمنې وویل: مور جانې زه چاوې راوړم تاسو لاړشی
عمه ته مې وویل: پخدای ډیر بد کار وشو
عمه: هیڅ په کیسه کې کیږه مه ، دا د دې ورځنی کار دی یا وایې زما په زړه دې یې ،
یا ځم خپل د پلار کورته ، خفه کیږم ، طلاق اخلم
موږ یې بیخي لیونې کړې یو ، په کیسه کې مه کیږه
همدې وخت کې آمنه راغله او چاوې راویستل.
وې ویل: لیلا جانې د بینظیر د خبرو څخه مه خفه کیږه د هغې خاصیت همداسې دی
واخله چاوې وڅښه
او کرار یې زما په غوږ کې وویل: د اعصابو ناروغې لري
او په خندا شوه.

خو زه د دوې د خبرو نه هیڅ خوشاله نشوم. خداې دې وکړې چې دا یوه اونې ژر
خلاصه شي او اجمل راپسی راشي.

... رضوان ...

څو ورځي کيدل چي د ډېر فکره د خوراک او څښاک نه پاته شوی وم. بايد نن اجمل راشي او خبر راکړي چي ليلا يي روغ او جوړه رسولې ده. په همدي فکرونو کي وم چي د مدينې غږ راغی چي ورو مې راغی.
د ځايه پاڅيدم ، د کړکي نه مي وليدل چي اجمل راغلی.
د ځينو څخه نه پوهيږم چي څنګه ښکته شوم نږدي وو چي د پښي بجلکي مي واوړي لنګ لنګ (ګوډ، ګوډ) مي ځان اجمل ته ورسول او ومي ويل: ستړي مشي وروره ، څه خبري دي؟؟؟
اجمل راته وکتل او وي ويل: اوس نو ځان مړ کړه

په خندا مي وويل: که ضرور وی خامخا مي ځان مړ کول زړه دي جيمي
مور مي پر سر ووهلم او وې ويل: خوله دي په بسم الله خلاصه کړه
اجمل وويل: يو چاوي راوړئ چي د ستړيا څخه مړ شوم
چاوي يې وڅښل او وي ويل: د عمه جانې څخه مي ورسول
مور مي وويل: څنګه وه دوی ښه خو وه انشاالله؟؟
اجمل: هو شکر ټول ښه وه ، عمه سهار تر موټرانو راسره راغله سلامونه يې درته ويل مورې

مور مي وويل: عليکم السلام ، ژوندې دي وې
اجمل: ښه اوس څنګه کوی؟؟ ما يوه اوني وويل خو فکر کوم چي غږ به يې د بېنظير سره پورته شي
مور مي وويل: هو هغه نجلې ډېر د بهانو پسي ګرځې حتي خپل د واده په شپه يې لا ويل چي خپل کالي مي خوښ نه دې دومره يې بهاني کول چي مه وايه
آفرين دي وي جهان ته چي دا ښځه زغمي.
پوښتنه مي وکړه: وروره ليلا خوشاله وه؟؟ په لاري کي خو په عذاب نشوه؟؟؟
اجمل راوکتل او ځواب يي راکړ: نه ټول لاري کي بيده وه ، هيڅ په سفر پوهه نشوه او بيا يي دوام ورکړ: صبر چي يوه مشکوکه خبره تاسو ته وکړم
ومي ويل: څه شوي دي؟؟؟

اجمل: دا بیعقل جلال راغلی وو هڅې ته
لکه چي چا ورته خبر ورکړی وو چي مورې چیري ځو ، مستقیم راغلی وو د تورخم د موټرانو پسي ګرځیدی
د لیلا موټر ته هم وختی خو خدای فضل وکړ چي ګیر یي نکړو
ومي ویل: دا څنګه امکان لري؟؟ د دي څخه خو یوازي مونږ خبر وو
اجمل: ولا نه پوهیږم

فکر یوړم چي څنګه داسي کار شوی؟؟ په یاد مي شوه چي علی هم دلته وو بیا مي وویل سمه ده چي علی ښه هلک نه دی خو دا کار نه کوي
په فکر کي ډوب وم چي په یاد مي شوه قباد هغه ورځ په باغ کي وویل چي طوبا ورته ویلې او ده هم لیلا تعقیبه کړې تر څو مونږ ګیر کړې
پاڅیدم خپل کالي مي بدل کړل او د طوبا د کور خواته روان شوم. دروازه مي وټکول چي علی خلاصه کړه او وي ویل: دننه راشه
ومي ویل: پوهیږي نن جلال دوکان ته راغلی وو وي ویل چي تا ورته ویلي چي لیلا د اجمل سره ځي پاکستان ته

ګورم چي رنګ یي وپریدی. وي ویل: نه! نه! دروا غ وایي ما نه دي ویلي
ومي ویل: ولا نه پوهیږم جلال خپله وویل
د علی ژبه په بندیدو شوه. په بنده ژبه یي ویل: نه پخداي چي دروا غ وایي وروره ، غواړي ما او ستا لا خرابه کړي
ومي ویل: څومره هم ما او تا جوړ یو چي خلک وغواړي زمونږ لا خرابه کړي
علی: وروره پخداي ما څه نه دي ویلي هیڅ مي دی لیدلی نه دی ، زه ولي باید داسي یو کار وکړم؟؟
ومي ویل: نه پوهیږم
بیا مي دوام ورکړ: طوبا کور کي ده؟؟
علی: هو ده راځه دننه

ومي ویل: نه ژر بیرته ځم ته یوځل ور غږ کړه
علی لاړی څو شیبي وروسته طوبا راغله. سینګار یې کړی وو او خپل شونډي یې سرې کړې وې.
وې ویل: څنګه چي زما لیدو ته راغلي؟؟ پښیمانه شوي؟؟؟
په خندا مي وویل: ټوکه وایي؟؟؟
مسکا یې ټوله شوه ، وې ویل: نه ، ولي؟؟؟
ومي ویل: څه پریږده یې ، ښه زما خبره واوره
په یاد دې دي چي لاړې قباد ته دي وویل چي لیلا د رضوان سره جوړه ده؟؟؟؟ بیعقل قباد هم موږ تعقیب کړو او په باغ کي ګیر کړو؟؟؟ ښه په دي خبري کي تاته څه ورسیدل؟؟؟ بی له دي چي خپل ځان دي زما مخته سپکه کړه

زما په مینه کي هیڅ توپیر نه دی راغلی لا تر پخوا یي بالاتره غوارم یوازي په مینځ کي ته سپکه شوې
د طوبا سترګي سرې شوې وې.
ورزیاته مي کړه: همدومره خبره مي درلود خلاص زه ځم زما سلام کاکا جان ته ووایه د هغه ځایه ووتلم او مستقیم د دوکان خواته مي حرکت وکړ. یو پاڼه او قلم مي واخیستل. باید لیلا ته لیک ولیکم.

.... حمیرا ....

غرمه وه هیڅ مو خوړلو ته نه درلود او زه هم ډیره وږې شوې وم. خپل د نس په غم کي وم چي دروازه وټکیدل لارم خلاصه مې کړه چي څو ښځې د دوو نارینو سره په کور ننوتل.د فاطمې مور دوي یي د کړکي نه ولیدل سلام یي وکړ او د کوره ووتله راغله د دوي سره یي سترې مشي وکړل.
هر څومره چي مې فکر وکړ په یاد مې نشوه چي دوي څوک دي.
لاړم موږ کوټي ته ، شګوفه د چهارمغز ماتولو حال کي وه.

زما په ليدو يې وويل: راشه مرسته وکړه ، بې د هغه هم پلار دي ځاي پر ځاي پروت دي ورېې پاته کيږو

نږدي لاړم تر څو مرسته وکړم. شګوفې وپوښتل: دروازي کي څوک وو؟؟
ځواب مې ورکړ: نه پوهيږم ، دوه نارينه او څو ښځې وې زما د تروري سره دننه لاړل زه يي نه پيژنم چي څوک دي
شګوفه: زه پوهيږم چي څوک دي ، د فاطمې خسرخيل (خسرګنې) راغلې دي چي واده وکړي
هغه ورځ فاطمې ويل چي واده يې نږدي دی
ګوره ليلا بيعقله وتښتيدله مور ټول يي بدبخته کړو فاطمې ته وګوره خوش خوشاله ځي خپل د بخت پسي
ومې ويل: مور ليلا بدبخته نکړو ټول زما د پلار ګناه ده
شګوفه: پوهيږم پلار دي بي ګناه نه دی خو ليلا کولی شو چي مور ټول وژغوري خو ليونتوب يې وکړ

ته کوچني يي بی د هغه هم په دي خبرو نه پوهيږې
لاړم خپل د کاکا کورته. فاطمه د دروازي نږدي ولاړه وه وې ويل: څه دي په کار دي؟؟؟
ومې ويل: ته ناوې کيږې؟؟؟؟
فاطمې راوکتل او ځواب يې راکړ: هو دخيره .... واده مې څو اوني وروسته دی ټول شيان تيار دي
او دوام يې ورکړ: ولي دي پوښتنه وکړه؟؟؟
ومې ويل: هيڅ ، ته هم ځې زه يوازي پاته کيږم
فاطمې همداسي چي راکتل ، نږدې راغله او وې ويل: خير دی ، ما اوريدلې دي چي د سهيلا خسرګنې ډير پيسه داره دي هغې ته ووايه چي تا ځان څخه يوسي
ومې ويل: ټول ورځ سهيلا وهې هغه يې په بد ورېې ، نشې کولی چي ما ځان څخه يوسې

فاطمې په خندا وویل: چا ویلې چې هغه وهې؟؟ داسي یې سات تیر دی چې هیڅ پوښتنه مه کوه
مور مې په یو محفل کي لیدلې وه خپل د خوابښې سره راغلې وه ډیره خوشاله وه خندل یې او د ټولو سره یې ټوکي ټکالي کول
د فاطمې د خبرو نه حیرانه شوم. نو ولي زما لیدو ته رانغله؟؟؟
ومې ویل: ښه زه نه پوهیدلم
فاطمه: زه ځم چاوي ورم بیا وروسته خبري کوو
د دهلیز څخه ووتلم او سراي ته لاړم. ځان سره مې وویل: د سهیلا کور چیري دی؟ یعنی ما ځان څخه ورلې شې؟؟
لاړم شګوفې څخه چي وې ویل: دومره دم چیرته لاړې؟؟ کښینه چي چهارمغز خلاص کړو

ومې ویل: شګوفې پوهیږې چي د سهیلا کور چیري دی؟؟؟
شګوفه: ولي ته یې څه کوې؟؟؟
ومې ویل: فاطمه وایې چي سهیلا خوشاله ده ، څوک یې نه وهي ، د هغه کور ناوې شوې ده ورته وایم چي ما هم ځان څخه یوسې
شګوفه: ته بد کوې ، خپل پلار یوازي ایږدې؟؟؟
ومې ویل: زه خپل په پلار کار نلرم ، ځم د سهیلا څخه
صبر چي قباد راشي د سهیلا کور یي لیدلی ورته وایم چي راته یې وښیي ځم ورڅخه

.... شګوفه ....

د حمیرا د خبرو سره فکر یوړم.
که د ربښتیا سهیلا دا ځان څخه یوسې ، زه د دي سپین ږیري سږي سره څه وکړم؟؟
اوس خو د کاره هم نه دی ځاي پر ځاي ولیدلی.
سبا چي دا نجلي لاړه شي زلمي به مې د کوره وباسې.

نه نباید داسي وشي. د ځایه ولاړه شوم او ومې ویل: خپل پلار ته پام ونیسه زه بیرته راځم
حمیرا وویل: چیري ځې؟؟؟

ومې ویل: ځم د سودا پسي غرمي ته د خوړلو د پاره څه نلرو
د کوره بهر ووتلم. باید نصیر ته خبر وکړم چي عاجل ځان کابل ته ورسوي. مرستي ته یي اړتیا لرم

..... سهیلا ...

غرمي ته نږدي وو چي د شمایل سره پخلنځي ته لاړم تر څو ورسره مرسته وکړم او د غرمي ډوډي تیاره کړو.
شمایل وویل: پوهیږي سبا ملا راوړي تا و جلال ته نکاح کوي؟؟؟
ومې ویل: نه پخداي نه یم خبر ، چا وویل؟؟؟؟
شمایل: سهار زما مور زما پلار ته ویل جلال هم ناست وو فکر مې وکړ چي ته یي هم خبره کړې یې
ومې ویل: نه چا ماته څه نه دي ویلي
شمایل: خیر دی خامخا جلال به خپله درته ووایي

ماش مې پاکول او په فکر کي وم چي جلال پخلنځي ته راغی او زما په لیدو یي وویل: دلته یې؟؟؟ ټول کور کي درپسي وګرځیدلم ، راشه په کار مي یي
شمایل په خندا وویل: څه ولاړه شه اوس به خامخا درته ووایي
د جلال پسي لاړم. په دهلیز کي ودرید او کرار یي وویل: واوره ، زه اوس یو ځاي عاجل کار لرم ځم تر شپي هم نه راځم
سبا ملا راځي د نکاح په وخت کي وایي چي زما قبوله نه ده زه هم خبري کوم چي تا بیرته ستا د پلار څخه ولیږي ، پوهه شوې؟؟؟
همداسي مي ورته وکتل چي بیا یي وویل: پوهه شوې که نه؟؟؟
په بیره مې وویل: هو ...... هو پوهه شوم

جلال: ښه شاباس ، ښه دی هوښیاره یې
زه ځم خداي په امان

د جلال د تګ وروسته همداسي حیرانه خپل پر ځاي ولاړه وم. یعني ما بیرته لیږي؟؟؟؟
بیا مې ځان سره وویل: نو چاره څه ده؟؟؟ بیرته ځم بي د هغه هم په زوره یې راوړي وم
شمایل غږ کړه: راشه چي ناوخته شو
لاړم په پخلی کي مې ورسره مرسته وکړه. شمایل ته مې وکتل چي په شونډو یې مسکا وه.
څومره دا نجلې خوږه ده!

تر شمایل ښه ملګرې نشم پیدا کولې.
ومې ویل: تا غیږ کي نیولې شم؟؟؟؟
شمایل په خندا ځواب راکړ: هو ولي نه؟؟؟
ټینګ یې په غیږ کي ونیولم. په زړه کي مي وویل د دي ځایه چي لاړه شم نور دي نه وینم ښه دی چي په غیږ کي دي خو ونیسم
شمایل: ډیره مینه ناکه شوې یې وه نجلې ، خیریت خو دی؟؟ ما نه جلال په غیږ کي ونیسه هههههه

په خندا شوم او ومې ویل: لیونې شوې یې
شمایل: ښه څه ته یې هوښیاره ، نن خاله نه ده راغلې واخله د زلیخا ډوډي ورته یوسه
پوښتنه مې وکړه: زلیخا څوک ده؟؟؟
شمایل: د جمال ښځه ده ، هغه شپه خو مې درته وویل چي هغه ښکته نه راځي ما هم ورسره جنګ کړی

تل خاله ورته ډوډي وړه نن بهر تللې تر اوسه نه ده راغلې
ته د هغې ډوډي یوسه چي راغلې بیا موږ یو ځاي ډوډي خورو

یوازي غوري پریږده او ژر راشه چي ډیره جنګره ده یو وار درسره جنګ ونکړې
په خندا مې وویل: داسي به هم نه یي نو ، خوړه نجلې معلومیږې
شمایل: هو په لومړی دید کي همداسي معلومیږې
همداسي چي مې خندل ومې ویل: توبه ستا د لاسه
د زلیخا د کوټې خواته لاړم. دروازه نیمایي خلاصه وه دننه لاړم غوري مي پر ځمکي پریښود. همداسي ارام بیرته د کوټې وتلم چي غږ یې کړه: اوهووو
نن د کور تازه ناوې ماته ډوډي راوړې
د غږ څخه یې وبیریدلم. په خندا شوه او وې ویل: راځه دننه نه دې خورم چي داسي بیریږې

خداي خبر شمایل څومره زما شاته بد ویلي چي داسي رانه په تښته کي یې
ومې ویل: نه شمایل جانې څه نه دي ویلې ، ستاسو په اجازه زه ځم چي د ډوډي وخت دی
وې ویل: صبر ، په کار مې یې
نږدې راغله زما لاس یې خپل خواته کش کړ او دروازه یې وتړل او وې ویل: راشه خاله او شمایل شته تاته اړتیا نشته
ومې ویل: نه ګرانې خاله نشته شمایل یوازې ده زه ورسره مرسته کوم
زلیخا: څوک ستا سره مرسته کوې؟؟؟
ومې ویل: څه؟؟؟ څنګه؟؟؟

زلیخا خپل ویښتان خپل د غوږ شاته ووهل لاړه د هینداړې مخته ، یو لاشتک یې واخیستی او همغسي چي خپل ویښتان یې تړل ، وې ویل: ته ټولو سره مرسته کوې ، څوک ستا سره مرسته کوي؟؟؟
ومې ویل: زه د چا مرستې ته اړتیا نلرم

زليخا: اړتيا لري ، ډېر هم اړتيا لري
ما واوريدل چي جلال درته څه وويل خو ته سبا د نکاح په وخت بايد هو ووايې
په حيرانتيا مې ورته وکتل او ومې ويل: زه يي د اوله هم ښځه نه وم همداسي يې
دي کورته راويستلم

دی ما نغوارې ولي بايد هو ووايم؟؟؟ داسي ژوند څه معني؟؟ بايد نجلې و هلک يو
بل وغوارې که داسي نه يي لکه ليلا او جلال کيږي
زليخا په خندا وويل: ډيرررررررره بيعقله يې
خبره يې راباندي بده ولګيدله ، ومې ويل: ولي؟؟؟
زليخا: ځکه بيعقله يې
هم ته بيعقله يې هم ستا خور ليلا
ومې ويل: د شمايل خبره رښتيا وه ستا سره مې د هغه اوله نبايد خبري کړې وی
د ځايه ولاړم شوم د کوټي څخه يې ووځم چي وې ويل: خلک پر تا د جلال د ښځې
خيال کوي بيا ته بيعقله د دي کوره وځې ځې خپل د پلار کورته بيا ستا سره څوک
واده کوي؟؟؟

تر څو چي ژوندې يې ټول درته کونډه وايې ، مجرد هلک درته مرکه نه راځي
کم بوډا يا کونډ سړی راځي تا کوي
ته يې د جلال د ښځې پر ځاي راوړې يې څهره دې هم دومره د ليلا سره توپير نلري
نو د جلال ښځه واوسه
سبا د نکاح پر وخت هو ووايه جلال خو بي د هغه هم هو وايي
کرار کرار جلال پر ځان مئين کړه منګه ته د ليلا سره څه توپير لرې؟؟؟ ته تر ليلا هم
ښايسته يې
که فکر کوې چي ليلا بيا دي کورته راځي هيڅکله هم داسي يو ورځ نه راځي د ليلا
پښې ماتوې ، ته خپل خسر نه پيژنې
د دروازي د خط ديخوا ته يې لا نه ايږدي

که ته د دي کوره لاړه شي ستا پر ځاي یوه بله نجلۍ راځې خو هغه نجلۍ لیلا نه ده بخت ستا دروازه ټکولې ده نو ته بي غوري مه کوه

سبا هو ووایه او د جلال ښځه شه نادر او زما خواښې جانه هیڅکله تا د کوره نه باسې څه بلا وهلې یې ړنده یې؟؟؟ ګونګه یې؟؟؟ بدرنګه یې؟؟؟؟ چي یو جلال د ځانه نشې کولې؟؟؟؟

هره کلمه چي د زلیخا د خولي وتل ، زه یې ډیره حیرانه کولم.

زلیخا دوام ورکړ: سبا هو ووایه د لیلا بیعقلې ته مه تکراروه

اوس هم ښکته لاړه شه خپل ډوډي وخوره ، ښه فکر وکړه ته یوازي یو شپه د فکر کولو د پاره وخت لرې سهیلا ګکې

زه هم خپل ډوډي خورم چي ساړه شوه

د زلیخا د کوټي څخه ووتلم په زینو کي وم چي د جلال مور مې ولیدله.

زما په لیدو سره یې وویل: راشه لورې په کار مې یې

شاته یې لاړم چي دوام یې ورکړ: نن بازار ته ځو تر څو نکاح ته شین ټکر واخلو ژر خپل ډوډي وخوره چي یو ځاي لاړشو

زلیخا د پورته یې ځان وزرړول او وې ویل: موووووور جانې زه هم ستاسو سره راځم

د جلال مور ورته وکتل او وې ویل: سمه ده ته هم راشه

زلیخا: نو زه ځم خپل کالي اغوندم

د جلال مور وویل: بغیر د ځانه هیچا ته ارزښت نه ورکوې ته صبر چي بازار ته لاړشو دومره ټکر واخلې چي حیرانه پاته شي

په بازار کي وو ، زلیخا هر ټکر چي ځانته خوښول یو به یې ماته هم اخیستل

کرار یې زما غوږ کي وویل: ختړه شین رنګ واخله

ومې ویل: څه؟؟؟

زليخا: اووووف ..... وايم د نکاح ټکر خټه شين رنګ واخله جلال خټه شين او لاجوردي رنګونه داسي خوښوي چي هيڅ پوښتنه مه کوه
په حيرانتيا مې ورته کتل چي غږ يې کړه: مور جانې سهيلا وايي ساده شين وانخلې خټه شين واخله
د ژبې د چالاکي څخه مې خوله خلاصه پاته شوه.
د جلال مور وويل: ښه سمه ده هر څه چي سهيلا ووايې
ټکران مو واخيستل او خياط ته مو يوړل.
د جلال مور وويل: شين کميس مې سبا لسو بجو ته په کار دی
نور دي هر کله چي روغ کړه مشکل نلري

زليخا غږ کړه: دا جوړه هم ماته تر سبا شپي روغ کړه هير دي نشي
د اندازه نيولو وخت کي مې وويل چي زما کالي دي غټ ونيسي چي زليخا غږ کړه: نه ولي غټ؟؟؟
ښه تنګ يي چي په بدن يې وچسپې
ومې ويل: نههه تنګ کالي مې نه خوښيږي
زليخا کرار وويل: ليونتوب مه کوه لکه اناګانو کالي اغوندې ، ځوانه يې ښايسته کالي واغونده چي همدا چي جلال تا ويني ليلا يي هير شي
بيا نکاح ده بايد ډيره ښايسته شې
او خياط ته يې وويل: ښه چسپ يې ورته جوړ کړه
خياط هم وويل: سمه ده هر څه چي تاسو وواياست
د کور په لاري کي وو چي زليخا وويل: ښه استواره په لاري لاړه شه چي قد دې جګ معلوم شي

کله چي د يو چا سره خبري کوې ځمکي ته مه ګوره ته چی مينځه يې او جلال ته چي ګوري مستقيم يي سترګو ته وګوره داسي شرميږي لکه چي جلال زما ميړه يې نه ستا
تر کوره زليخا دومره خبري وکړي چي سر مې په درد شو.

کوټې ته ننوتلم پښې مې ډېر درد کول. خپل د پښو چاپې کولو حال کې وم چې زليخا راغله او وې ويل: وه نجلې ولاړه شه چې ځو ارايشگاه ته ، خپل ويښتان توني کړه

ومې ويل: ولې؟؟؟ نه نه زه نه ځم
زليخا: ته بد کوې ، ما مور جانې ته ويلې چې ته ځې ارايشگاه ته اجازه يې راکړه راځه چې لاړشو ښايسته کيږې هله نو
په زوره يې ارايشگاه ته يوړم. آرايشگره زموږ د ګاونډې لور وه کورته يې لاړو.
د زليخا سره يې ستړې مشي وکړل. زما په ليدو سره يې وويل: دا دی ستاسو تازه ناوې مو هم د نږدې نه وليدل
ماشاءالله څومره ښايسته يې
ومې ويل: مننه ژوندې واوسې

زليخا وويل: ژر هم زما هم د سهيلا ويښتان توني کړه
نيمايي ويښتان مې د توني په حال کې وشکيدل. ويښتان مې د کالو مينځلو تشت په اندازه شوی وو. خپل ويښتان په ليدو سره مې ډېر وخندل.
زما سر يې کلک په پوړنې وتړل او وې ويل: تر سبا دې بايد پر سر يې
دا لرګې دې سردرد کوې خو خير دی حوصله وکړه
د زليخا سره يوځاې د ګاونډې د کوره راووتلو. د ډېر سردرده مې زړه بد بد کيدی.
شمايل چې زه يې وليدلم په خندا يې وويل: څنګه سر دې لکه ګلپې جوړ شوی هههههه

ومې ويل: مه خانده سردرده يم
شمايل: دا کارونه لري نو ، يو د نکاح ورځ ده پريږده چې ښه ښايسته شې
وبيريدلم چې جلال ما داسې ووينې ، شمايل ته مې وويل: شمايل کيږې نن شپه ستا سره  بيده شم؟؟؟
شمايل: هو ګرانې ولې نه کيږې

بي د هغه هم سبا نکاح کیږي بیا زما د ورور سره بیدیږې
ومې ویل: توبه ستا د لاسه څومره سپین سترګې یې
زلیخا چي خپل د کوټې خواته تله ، وې ویل: توبه ستا خپل د لاسه چي څومره شرمیږې هههههه

شمایل: بیشک ښه سره جوړ راغلې یاست
یو ځاي بازار ته ځی ، یو ځاي ارایشګاه ته ځی افرین شاباس
ومې ویل: هیڅ خبره نه ده ډیره خوږه نجلې ده زما خوښیږې
شمایل: نه ته حق نلري چي بل څوک دي خوښ شي یوازي باید زه دې خوښه شم
په خندا مې وویل: ښه ښه وبخښی بخیل جانې
هغه شپه حتي د ډوډې پر وخت لا ښکته ولانړم. ډیره بیریدلم. ټوله شپه مې د زلیخا خبرو په اړه فکر وکړ.

سهار وختي زلیخا د سرو سترګو سره راپسي راغله او وې ویل: راځه لاړشو چي ویښتان مې خلاص کړې برایي د ډیر سردرده مې سترګه لا نه ده پټه کړې
ومې ویل: پخداي زه هم نه یم بیده شوې
یو ځاي لاړو د ارایشګرې څخه او خپل ویښتان مو خلاص کړل. خپل د ویښتان د مینځل او وچولو وروسته دومره ښایسته شوې وم چي هیڅ مې باور نه کیدی.
د زلیخا سره یو ځاي لاړو کالي مو د خیاط څخه واخیستل. کورته چي راغلو ملا هم راغلی وو. جلال سپین کمیس پرتوګ اغوستي وه.
زلیخا وویل: راشه چي زه دې جوړه کړم

شین کمیس می واغوستی او زلیخا هم زما په سینګار کولو بوخت وه. سره لبسرین یې زما پر شونډو ووهل چي ومې ویل: ستا په نظر ډیر نه شوه؟؟؟
زلیخا: نه لا کم دي هههههههههه ته نکاح کوي وه نجلې کمه ساده خبره خو نه ده ما جمال د جلال ورور وکیل وټاکل. جلال په بل کوټې کي د ملا سره ناست وو ، کله یې چي زما څخه پوښتنه وکړه زلیخا ته مې وکتل او د یو ژوره ساه اخیستلو

وروسته مې (هو) وویل. لومړنی کس زلیخا وه چي چک چکي یې پیل کړې. د جلال مور راغله زما مخ یې ښکل کړ دوه بنګړي یې هم زما لاس ته واچول او وې ویل: مبارک دي شه سفید (سپید) بخته شي لوري
مننه مې وکړه او په بیرې سره مې زلیخا ته وکتل او ومې ویل: جلال مې بیابه بیابه کوي

وې ویل: هیڅ بد نشي کولی خپله یې هم هو ویلي خبره خلاصه ده
د لیوره ښځه مې شوې راشه چي په غیږ کي دي ونیسم
ما هم په غیږ کي ونیوله.
شپه یې ډېره مفصله ډوډې جوړه کړې وه. خپل د شنه کالو سره د دسترخوان پر سر ناسته وم ټولو ته مې چي کتل خوشاله وه زه هم خوشاله وم.
جلال راغی زما څنګ کي کښیناستی او کرار یې زما په غوږ کي وویل: ما درته څه وویل؟؟ هیر دې شوه؟؟؟
د غږ څخه یې ښکاره وو چي ډېر خفه دی. سر مې پورته کړ چي په حیرانتیا یې راوکتل او وي ویل: نن څومره د لیلا په شان شوې یې
ومې ویل: اوس دا ښه دی که بد؟؟؟
جلال همداسي راکتل او زه یې ځواب ته ماتله وم چي د جلال پلار وویل: مبارک مو شه انشاءالله چي قدم یې زموږ پر کورني نیکمرغه شي
که څه هم د اولنه دا یو حماقت وو خو بیا هم شکر چي زموږ آبرو او حیثیت وساتل شو

نن مو د جلال او لیلا نکاح باطله کړه او نوي نکاح وتړل شوه او یوازي ملا او زموږ د کور غړي په دي خبر دي
دا خبره نباید د کوره بهر ووځي ، د ملا د خولي د تړلو د پاره مي ډېري پیسی ورکړې پر دي واده مي ډېري تیروتني وکړې خو نور اجازه نشته نه د دي کور لور او نه د دي کور زوې حق نلري چي یوه کلمه خبره لا زما پر خبري وکړې ستاسو ټولو تر غوږه مي تیر کړه

همدا وخت کي جلال ولاړ شو او د کوټې څخه ووتی. زړه نازړه وم چي ورپسي لاړه شم که نه
سترګه مي پر زليخا ولګيد ګورم چي اشاره کوي (ورپسي لاړه شه)
لکه چي يو ټيلي ته ماتله وم د ځايه ولاړه شوم او بهر لاړم.

لاړم سراي ته او ومې ليدل چي پر صوفي پريوتلی او آسمان ته ګوري. نږدي لاړم او په يو متري کي کښيناستلم.
خپل د پوړني پر څنډه مې ساعت تيرول ....... هيڅ مې زړه نه کول چي خبره وکړم زړه مې وربادني سوځيدی خو زه مجبوره وم چي نن هو ووايم. په فکر کي وم چي وي ويل: هڅه مه کوه چي ځان لکه ليلا جوړه کړې ، زما د زړه داغ مه تازه کوه
د کالو او رفتار څخه دې معلوميږي چي د زليخا سره جوړه راغلې يې زليخا تر څو چي د هغې په نفع نه يې چا سره ښيګڼه نه کوې
هغه خوشاله ده ته يې د ليوره ښځه شوې يې ځکه مور مې غوښتل ماته زما د خاله لور وکړي خو زه پر ليلا مئين شوم او ومي ويل يا ليلا يا کور خوشي کوم
زليخا زما د خاله د لور څخه کرکه لري فکر مه کوه ته يې خوښيږې چي ستاسره ښه چلند لري

سهيلا واوسه ، هڅه مه کوه ځان ليلا يا زليخا جوړه کړې د نورو د لاس لوبته مه جوړيږه
او په زليخا هم ډير باور مه کوه ، د شمايل سره ښه چلند وکړه زړه يې پاک دی لکه ستا
په هر حال ښه شپه زه د فاروق کورته ځم
ته مي نه خوښيږي ، نغواړم درته درواغ ووايم او درڅخه استفاده وکړم
پوهيږم د ليلا هم نه خوښيدلم ځکه وتښتيدله خو اوس مي حالت ښه نه دی زما څخه کينه مه اخله هيله کوم
ومې ويل: نه زړه دي جيمي ، کينه اي نجلې نه يم
جلال: ډير ښه زه لاړم خداي په امان

او بي د څه د ويلو د کوره ووت. سترګي مي په دروازي کي وي او همداسي ناسته وم. د لومړي ځل د پاره مې په ليلا بخيلي وشوه زه تر ليلا لا ښايسته يم خو راته يي ولانه کتل.

ښايي د دي د پاره چي ما ځان د ليلا په شان جوړه کړې ، هيڅ نه پوهيږم هر څه چي نه يي دا کور زما د پلار تر کور او د شګوفې تر زغملو ښه تره دى ..... حتي که جلال ما ونغواړې.

.... شګوفه ...

نصير د مزاره راغلى وو. نه کيدل چي د زلمي کورته يي راوړم مجبور ورپسي د انډيوال دوکان ته يي لاړم.

زما په ليدو يي سلام وکړ او په ورخطا لحجه يي وويل: څه شوي دي عمه جانې؟؟؟

ومې ويل: کښينه په کار مي يې

نصير: دومره دي عاجل وغوښتلم خو ووايه نو

ومې ويل: ګوره کور په پور کي لاړى اوس د زلمي په کور کي يو

خان شاه ځان په ناروغي وهلى وايي چپه لاس او چپه پښه مې کار نکوي خو ډاکټر وايي ده سکته نه ده کړې چي داسي شوي واوسي

ليلا د واده نه وتښتيدله ، سهيلا يي پر ځاي په بد يوړه اوس خبره دلته ده چي حميرا غواړي د سهيلا څخه لاړه شي

که زلمى ما د کوره وباسي هغه وخت مې بيا هيڅ شى په لاس کي نشته

نصير: دا خو خبره ډيره خرابيږي  او امکان يي هم شته حميرا چي لاړه شي تا باسي اولاد خو نلري خان شاه هم ناروغه دى څه دې په فکر کي دي عمه جانې؟؟؟

ومې ويل: يو فکر لرم خو ته بايد راسره مرسته وکړې

نصير: ووايه څه فکر دى؟؟؟

ومې ويل: حميرا د دوولسو کالو ده دومره مشره نه ده ورته يو اخيستونکي پيدا کړه

که په ښه قیمت یي اخیستل حمیرا ورکوو پیسي اخلو ځو
پیسي هم نیمایي کوو

نصیر: الله عمه جانې داسي مه کوه پخداي ګناه کاره کیږې ، هغه ماشومه ده د پلار
څخه یې مه لري کوه
زه په دي ګناه کي درسره نه شریکیږم دا مي اخره خبره ده
ومې ویل: همدا غرمه ډوډي نه وه چي وې خوري ، که یو پیسه داره کس یي څه ګناه
ده؟؟
باید زما سره مرسته وکړې ، تر نیمایي زیادتره پیسي یي هم ستا
ما چي د کوره وباسي د چا زړه سوځي؟؟؟ د هیچا ........ اصلا شګوفه څوک ده؟؟؟؟
یو بیعقله ښځه چي یو سپین ږیري سره یي واده وکړ اخر یي هم طلاقه کړه او بیرته
یي ولیږل
نصیره که راسره مرسته ونکړې ځان مړه کوم هغه وخت بیا زما ګناه هم ستا په غاړه
ده

نصیر: عمممه جانیییې پخداي ګناه ده حمیرا ماشومه ده مه کوه دا کار
ومې ویل: که ته څوک پیدا کوي خو ښه که نه یي کوي زه خپله نفر پیدا کوم پیسي
اخلم او بالا ځان ورکه وم ، نور بیا به ما په ژوند ونه وینی
دومره ګناه ګناه مه ګډیږه ټول ګناه یي زما په غاړه ښه شو؟؟؟ اوس څه وایي؟؟؟
نصیر: یو څوک ده چي لور نلري ، یوه زړه ښځه ده زامن ډیر لري خو لور نلري ښه
ښځه ده پیسه داره هم ده

زه ورسره خبري کوم حمیرا خو کمه ناروغي نلري؟؟؟
ومې ویل: نه روغه ده ، تر وچي ډوډي بالاتره یي تر ستوني ښکته شوي نه دي خو
خپل په خویندو کي هم ښایسته ده هم چاغکه ده
نصیر: ښه ته اوس کورته لاړه شه زه سبا درته خبر درکوم

ومې ویل: ښه
خداي په اماني مو وکړل او د کور خواته روانه شوم.

.... زلمی خان ....

د قباد سره د کوره ووتلم. باید بازار ته تللی وی.
قباد وویل: رښتیا پلاره د فاطمې لونګ او دارچین په کار دي
ومي ویل: څه په کوي خو همدا تیره اوني مي ورته واخیستل
قباد: ولا نه پوهیږم ، د حلوا پخول زده کوي په دي ورځو کي زر کاره لري خپله یي خو ویني
ومي ویل: خیر دی اخلو یي
دوکانو ته مي کتل چي فکر مي شو د عطاري دوکان پرانیستل شوی.
ومي ویل: وي دا خو یو میاشت ورک وو چیري تللی وو؟
نږدي لاړم او د روغبړ وروسته مي وویل: بیخي ورک ورک وي چیري وي خیریتي وه؟؟؟

زما په لیدو خوشاله شو ، وي ویل: هو د ځمکو جرګه وه کلي ته تللی وم
ومي ویل: ښه شکر حل شوه دخیره؟؟؟
وي ویل: هو شکر ټول راضي شول
ومي ویل: ښه شکر چي وشو زه دي هره ورځ د دوکان مخته تیریدلم ته به نه وي بیخي مي فکر ستا خواته شو چي دا سړی چیرته دی؟؟؟
بل وار لومړی خبر راکړه بیا لاړشه
وي ویل: ښه بل وار خامخا درته وایم
ومي ویل: ښه شو چي نن دي دوکان پرانیستی یو څه سودا مي هم په کار وه ، لونګ او دارچین لري؟؟؟
وي ویل: هو لرم

دوکان ته د داخلیدو سره یي دوام ورکړ: یوه خبره مي واوریدل ډیر پري خفه شوم خداي دي وکړي هغسي نه یي چي زه فکر کوم
پوښتنه مي وکړه: څه خبره ده وروره؟؟؟
وي ویل: خبر شوی یم چي همدي منطقي کي یو امیدواره ښځه خپل د کوچني د ضایع کولو د امله مړه شوې ده ...... دا خبره رښتیا ده؟؟؟
تر څو چي مي غوښتل خوله خلاصه کړم او یو څه ووایم قباد وویل: هو زما د کاکا ښځه وه خداي دي وبخښې
نوري یې ماشوماني ځیني پاته شوې

د دوکاندار رنګ وپریدی. نږدي وو ولویږي چي د لاسه مي ونیوی او ومي ویل: ښه یي؟؟؟ ډاکټر ته دي یوسم؟؟
وي ویل: هو ښه یم ..... ډیره لویه ګناه شوي ..... الله مي دي وبخښي
ومي ویل: څه شوي دي؟؟؟
وي ویل: هغه ښځه ما څخه راغلې وه ، درمل یې واخیستل وې ویل چي غواړي خپل ماشوم نخصان کړي

څو نوري لري که دا وار بیا لور وزیږوي میړه یي دا مړه کوي ..... ما فکر کول چي ثواب به وکړم څه خبر چي داسي یوه بده پیښه کیږی
ومي ویل: خپله راغله ستا څخه یي درمل واخیستل؟؟؟؟
وي ویل: هو ژړل یې ډیر یې هم زاري وکړل چي ورته درمل ورکړم
ومي ویل: هیڅ امکان نلري! زهرا کلونه کلونه دعا کول چي امیدواره شې بیا ولي خپله خپل په لاس داسي یو کار وکړي؟؟؟؟
وي ویل: ښه قوي ښځه معلومیدل ما وویل ځه په دې خو څه نه کیږي راځه چي یو ثواب وکړم

ومي ویل: قوي ښځه؟؟؟
وي ویل: هو په سُرت کي تکړه وه

ومي ويل: څهره يي څه رقم وه؟؟؟
وي ويل: سپين پوست او شنه سترګي يې درلود
د شنه سترګو په اوريدلو سره مي ورخطا قباد ته وکتل.
قباد وويل: د شګوفې سترګي شني دي .....

... شګوفه ...

د کور په لاره کي وم چي سترګه مې پر قباد ولګيدل ښه چي مې په خير وکتل زلمی هم ورسره وو او پښو ته يي يو څوک ناست وو.
لږ مخته لاړم ، د چادري د لاندي نه ښه نه معلوميدل.
عطار فروش مې وليدی. قباد خپل لاس خپل پر خولي نيولی وو او عطار فروش هم په غمجنتوب يو څه ويل.

د زلمی خان د څهري په ليدو سره پوهه شوم چي د ټولي کيسي څخه خبر شوی.
په تلوار د کور خواته روانه شوم. دروازه مې خلاصه کړه ، زړه مې بيخي په دريدو وو. ساه مې لنډه ، لنډه کيدل. په کور ننوتلم يو څه خپل سره زر او پيسي مې واخيستل او غږ مې کړه: حميرا!!!!!!
حميرا!!!!!!!!!!!
چيري يې؟؟؟

حميرا د تشنابه ووتله ، ورخطا راغله او وې ويل: څه شوي دي؟؟؟
ومې ويل: هيڅ نه دي شوي راځه چي لاړشو بازار ته
حميرا: په دې ماښام بازار څه کوي؟؟؟
ومې ويل: د چهارمغز خرڅوونکي څخه مې پيسی واخيستل راځه چي يو څه ميوه واخلو

ژر راځه چي دوکانونه تړل کيږی
حميرا خوشاله شوه او وې ويل: زردآلو اخلو؟؟؟

ومې ويل: اخلم يې ، ماېه و ناک هم درته اخلم
ډيره خوشاله شوه او زما شاته رارروانه شوه.
ومې ويل: ژر ژر راځه چي دوکان ونه تړل شي
حميرا تر ما مخ تره ځغاستله او خوشاله وه.
د شا کوڅي نه راووتلم او ځان مې د نصير د ملګري دوکان ته ورسول.
ومې ويل: نصير چيري دی؟؟؟؟

د نصير ملګري وويل: هلته شاته ناست دي چاوي څښي صبر اوس ورته غږ کوم
نصير راغی او زما په ليدو يي وويل: اوس؟؟ ما خو وويل چي سبا درته احوال درکوم
ومې ويل: نه کيږي! نن شپه بايد مزار ته لاړشو
نصير: ولي خيريت دی؟؟؟
ومې ويل: نه ، ما ډير يو بد کار کړی فکر کوم چي راباندي خبر شوي
نصيره يا بايد نن شپه لاړشو يا بيا تګ مو نه کيږي
د نصير ملګري ته مې پيسي ورکړي او ومې ويل: دې نجلې ته ميوه راوړه
حميرا د دوکان مخته ولاړه وه او دباندي يې کتل. دوام مې ورکړ: دا هم يوسه چي خپله يې خوښ کړي بيرته يي بيا راوړه
حميرا او د نصير ملګری لاړل.

ټوله کيسه مې نصير ته وکړه. نصير په کرکي راکتل.

ومې ويل: داسي مه ګوره ، ما نغوښتل چي داسي وشي خداي مې د زړه نه خبر دی خو که نن شپه لاړنشو زلمی مې ګيروي
نصير د (اوفففففف) ايستلو وروسته وويل: څه چاره لرم؟؟؟ بله لاره دې هم راته پريښي؟؟؟ تر ټولو مخ تره حميرا ته د بی هوشي دوا په کار ده پينځه کلنې ماشومه خو نه ده

بیا یو موټر کریه کوو تر مزاره پوري ..... زه ځم د دوا پسي
نصیر لاړی څو شیبي وروسته حمیرا راغله او وې ویل: راځه چي لاړشو کورته
ومې ویل: صبر چي نصیر راشي یو شی راوړي هغه واخلو بیا ځو
زما څنګ ته کښیناستله چي دوام مې ورکړ: میوه وخوره
حمیرا: صبر چي کورته لاړشو ، خپل د پلار سره یې یوځاي خورم
ومې ویل: ته یې وخوره پلار دي ناروغه دی نشي خوړلی
د خلطي نه یې زردآلو وایستل ، ډیره خوشاله وه. څو دانې یې وخوړل او وې ویل:
ډیر خوږه دي

ومې ویل: هو وې خوره لوري
دعاوي مې کول چي نصیر ژر راشي. یو ساعت وروسته نصیر راغی. هوا تیاره شوي
وه.
ومې ویل: دوا دي راوړل؟؟؟
نصیر: هو راوړي مي دي
حمیرا ته یي وکتل ، حمیرا هم مسکې شوه او وې ویل: سلام
نصیر: علیکم السلام ، راشه کاکا جانې دلته شاته ښایسته کتابچي دي وې ګوره په
کار به دي شي

حمیرا ولاړه شوه او وې ویل: چیري دي؟؟؟
نصیر: مخته لاړه شه ، د سرې پردي شاته دي
حمیرا همداسي روانه وه ، نصیر دستمال وایستل دوایي ووهل او د حمیرا پر پزي یي
پریښود.
حمیرا لاس و پښه ووهل خو په څو شیبو کي سسته شوه. په غیږ کي کړه او د پردي
شاته لاړی زه یې هم شاته لاړم.
ومې ویل: ژر موټر راوړه سبا باید مزار کي واوسو
نصیر لاړی. څو ساعته وروسته زموږ پسي راغی. په موټر کي کښیناستلو او د مزار
خواته مو حرکت وکړ.

..... زلمی خان ....

د سودا خلطه مي د قباد په لاس ورکړه او ومي ويل: زه ځم حوزي ته ، ته ژر کورته
لاړشه شګوفه دباندي پرينږدي ، په کور کي بندي کړه تر څو چي زه راځم
د حوزي خواته مي حرکت وکړ. شريف ، د حوزي آمر ، زما د ځواني د وختو ملګری
دی شريف مي ګير کړ ، ټوله کيسه مي ورته وکړه او يو ځاي د کور خواته روان شوو.
کورته نږدي وو چي قباد مي د مخه راغی ، وي ويل: پلاره شګوفه نشته! فاطمه
وايي د حميرا لاس يي ونيوی او يو ځاي لاړل
شريف وويل: په دي شپي کي چيري تللي شي؟؟

ومي ويل: ولاکه پوهيږم ...... په کابل کي څوک نلري ټول کورني يي مزار کي ده
شريف: په دي شپي کي هيڅ نشو کولی ، سبا ځو مزار ته ګورو چي څه خبره ده او
چيري ده
ومي ويل: خامخا د دي ښځي پسي ځو زما ورور هم دې مړ کړی شاهد لرو ، زما
وريره يې هم غلا کړې ، هم قتل هم غلا
شريف: که حميرا خپل په زړه تللې يې غلا نه ويل کيږي ځکه شګوفه يې مېره (د
پلار بله ښځه) ده

بيا سبا ګورو ، ټښته يې دا ثابتوي چي د اغلې زهرا په وژلو کي لاس لري خو بايد تر
سهاره صبر وکړو ښايي ځاي تللې يې بيرته به راشي
ومي ويل: نه هيڅا ته يې خبر نه دی ورکړی ، همداسي د نجلی لاس يي نيولی او
تللې
شريف: موږ سبا سهار اقدام کوو اوس څه نشو کولی

.... شګوفه ....

د شپي د تياري نه د سهار تر روښنايي پوري مې ستړګه لا پټه نکړه. ټول فکر مې
حميرا ته وو.

حمیرا ته مې وکتل ، بیچاره څومره معصومه بیده وه.
ژوند یې سمیږي ، آرامیږي پوهیږم چي هغه ښځه دا ښه ساتي نور وړې نه بیدیږي په دي مینځ کي یو څو روپۍ هم ماته رسي.
ما هم ښه ژوند نه دی تیر کړی دا کار هم زما په ګټه دی هم د دې نجلۍ په ګټه.
نصیر وویل: عمه د دې ښځې کور په مزار کي نه دی په شبرغان کي دی
ومې ویل: بس همدلته ځو هیڅ په مزار کي موټر مه دروه

نصیر: اوس زه ډاډمن نه یم چي هغه ښځه حمیرا خوښوې که نه؟؟؟
ومې ویل: یو ځل ځو ګورو چي څنګه کیسه ده او که وي نه منل تر څو میاشتو پیسي لرم
په شبرغان کي یو کور اخلو ته بیرته مزار ته لاړشه چي څوک شک ونکړي زه همدلته پاته کیږم
بي د هغه هم زلمی لیونی دی سل په سله تر مزاره راپسي راځي
نصیر: عمه څنګه په داسي یو ښار کي چي هیڅوک نه پیژني تا یوازي پریږدم؟؟؟
ومې ویل: څه چاره لرو؟؟؟ مجرده نجلۍ خو نه یم د دي خبرو په کیسه کي مه کیږه ، شبرغان ته ځو

شبرغان په لور مو حرکت وکړ د ورځ په نیمایي کي ورسیدلو.
نصیر وویل: ته په موټر کي واوسه د زوي دوکان یې همدلته نږدي دی زه یو احوال واخلم
په همدي وخت کي حمیرا وښوریدله ژر د بي هوشي دوا باندي ککړ ټکر مې پر پزي پریښود بیرته ارامه شوه او نور ونه ښوریدله. څو شیبي وروسته نصیر راغی.
پوښتنه مې وکړه: څه وشوه؟ څه یي وویل؟؟
نصیر ځواب راکړ: زوي یې وایي چي زما مور باید نجلۍ ووینی او د روغتیا څخه یې زړه جیمي شي که نې نجلۍ نه اخلي
ومې ویل: ښه سمه ده کورته یې ځو

د هغه ښځي زوي زموږ سره موټر کي کښيناستی. ديرش کلن معلوميدی ، خټه رنګ پوست ، تور تاو تاو ويښتان ، اوږدي سترګي او ګيردي پزه يي درلود.
وي ويل: نجلي همدا ده؟؟؟
ومې ويل: هو همدا ده
وي ويل: ښه کورته ځو مور مې بايد دا ووينې
په کور ننوتلو. نصير حميرا يي په غيږ کي کړه او د سراي په کنج کي پريښود. يو سپين سرې ښځه راووتله. نصير وويل: خاله در په ياد دي چي ويلي دي وه يو نجلې مې په کار ده؟؟؟ دا دی درته مي راوړه روغه جوړه ده ، ږنګره او وچه کلکه هم نه ده ښځه راغله او وې ويل: ولي بي هوشه ده؟؟ ټښتولې مو ده؟؟

ومې ويل: نه دا زما د بنې لور ده ټښتولې مې نه ده
دا مې راوړه ځکه چي موږ دې ته ډوډې نشو ورکړي پلار يې سکته کړی د دې خپل د ارامتيا د پاره مي راوړې ده خداي دي وکړي چي په دي کور کي يو ګوله ډوډې ورته پيدا شي

سپين سرې ښځه مخته لاړه د حميرا پر مخ يې لاس ووهل او وې ويل: که ناروغه هم وشي اخلم يې ، ښايسته ده
ومې ويل: نه زره مو جيمي ناروغه نه ده
وې ويل: ښه کله چي پر هوش راغله بيا خبري کوو
ومې ويل: نه همدا اوس قيمت ووايست ، دوه اخيستونکي نور هم لري وخت نلرو تر څو به زه دلته ماتله يم
سپين سرې ښځي وويل: په دوه زره يې اخلم
ومې ويل: دوه زره لږ دي ، څلور زره

ښځې په خندا وويل: په څلور زره دوه داني داسي نجوني اخلم
دا پيسی بيخي ډيري دي زه يې نه اخلم بل ځاي يې يوسئ
ومې ويل: نه صبر ، دري زره

وي ويل: دوه نیم زره مې اخره خبره ده یو غران هم بالاتره نه ورکوم
نصیر ته مې وکتل اشاره یي وکړه چي (وايي خله)
ومې ویل: ښه همدا دوه نیم زره سمه ده
سپین سرې ښځه کورته لاړه. بیرته راغله پیسي یې په یو ټکر کي پیچلي وه ، ټکر یې خلاص کړ او پیسي یې حسابول چي د حمیرا غږ راغی
ورته مې وکتل او زړه مې په لرزیدو شو.
ښځې په خندا وویل: دا دی خپله پر هوش راغله
ومې ویل: بی بی جانې یو څه ژر شه

همدي وخت کي حمیرا غږ کړه: موریییېي ........ موریییییییییییې
ورته مې وکتل زړه مې یو رقم شو. غوښتل مې ورځخه لاړه شم چي ښځې پیسي زما خواته ونیول او وې ویل: وایې خله ، خداي دي په پیسو کي برکت واچوه
نصیر ته مې وکتل. دی هم راغی پیسي یي واخیستل او شمیرل یي پیل کړل.
وي ویل: ته بهر لاړه شه زه هم اوس راځم
همدي وخت کي حمیرا سترګي خلاصي کړي ، ټولو ته یې وکتل سترګه یې پر ما ولګیدل زه هم د سراي د دروازي خواته په ځغاستو شوم او د کوره ووتلم. نصیر په سراي کي وو.

د حمیرا غږ راتی چي ویل یې: زه ځم دباندي شګوفه دباندي لاړه ، هغه زما مېره ده او د سپین سرې ښځې غږ راتی چي ویل یې: ما ته رانیولې یې نور ستا کور دلته دی حمیرا په لوړ غږ چیغي وهل: شګوفیییییییییې
شګوفیییییییییییییې ما هم ځان سره یوسه ما بیرته کورته یوسه هیله کوم پخداي نور بي ادبي نه کوم ستا خبري اورم شګوفییییییې

اوښکي مې د زني نه څڅیدل. په زړه کي مې وویل: ته نن نه پوهیږي خو دا نوي کورني ستا په درد خوري پیسه داره دي نور وږې نه پاته کیږي
نصیر د کوره ووتی راته یي وکتل او وي ویل: دا اوښکې دې بیا څه معني؟؟؟ راځه

چي ځو زه بيرته بايد مزار ته لاړشم کار لرم
د راکړل شوي پيسو څخه يو نيم زر يي نصير واخيستل باقي يي ما واخيستل او د مزار خواته مو حرکت وکړ.

نصير وويل: زما د يو انډيوال کور دی ښه خلک دي يو څو وخته هملته واوسه بيا چي ارامي شوه په اړه يي يو فکر کوو
ومې ويل: سمه ده خو په کور کي زما په اړه هيڅ ونه وايي پوه شوي؟؟؟
نصير: ښه زړه دې جيمي هيڅ نه وايم
د نصير د ملګري کورته نږدی وو چي نصير وويل: دا سړی ښځه او اولاد لري خراب سړی نه دی زه ورباندي اعتماد لرم
دروازه يي وټکول يو کوچنی هلک خلاصه کړه او سلام يي وکړ.
نصير وويل: پلار دي کور کي دی؟؟
هلک ځواب ورکړ: هو ښه راغلي کاکا راځه دننه.

کورته ننوتلو. د نصير ملګري راغی يو بل يي په غيږ کي ونيوله او ستړي مشي يي وکړل.
نصير وويل: شعيبه وروره ورځ په ورځ ځوان کيږي ماشاءالله
شعيب وويل: ژوندي واوسي وروره ، خيريتي ده چي د ورځي په دي وخت کي زما ليدو ته راغلي؟؟
نصير: دا ښځه زما عمه ده ميړه يي ډير بد سړی دی دا هره ورځ وهي
د کوره تښتيدلې ده ، ځاي نلرم چي پټه يي کړم يو څو وخته دی ستا څخه امانت يي

شعيب: زموږ پر سترګو ځاي لري
خداي دي داسي بيغيرته نارينه لعنت کړي چي پر ښځو لاس پورته کوي
خپل سر مې ښکته واچول. د حميرا د پاره مې ژړلې وه او سترګي مې سرې وې.
د نصير ملګري وويل: خير دی خورجانې مه ژاړه دلته دي ځاي خوندي دی زړه دي

جيمي يي
نصير: ژوندی واوسي وروره ، خداي دي وکړي چي وکولی شم ستا دومره نیکي جبران کړم

شعیب: هیڅ خبره نه ده ورور جانه ، نو ورور د کم ورځي د پاره دی؟؟
تر څو چي ژوندی یم راباندي حساب کولی شي
نصیر: زه نو ځم بیا بیرته راځم ، باید کورته لاړشم که میرہ یي راغی زه په کور کي واوسم تر څو ځواب یي ورکړم
شعیب: که مرستي ته دي اړتیا درلود بس یوازي غږ وکړه
نصیر: په دواړو سترګو ورور جانه
د نصیر د تګ وروسته ، شعیب وویل: راځه خور جانې ، کور ته راځه
شاته یي روانه شوم او په کور ننوتلم. غږ یي کړه: ښځې راشه چي میلمه لرو

..... زلمی خان ...

نږدي و غرمي ته وو چي مزار ته ورسیدلو. د آمر صایب شریف سره د شګوفي د مور کورته ننوتلو. ټول کور مو وکتی خو شګوفه نه وه. بغیر د نصیر نه بل نر نه وو.
نصیر مي د غاړي ونیوی او ومي ویل: عمه دي چیري ده؟؟
وي ویل: زه څه خبر یم؟؟ څو میاشتي مخته مي ستاسو کور کي لیدلي وه بالا مي نه ده لیدلي

دا څه رقم شناخت دی؟؟؟ د پولیس سره راغلی یي د خلکو غاړه نیسي؟؟؟؟ څه خبره ده څه شوي دي؟؟؟
ومي ویل: قتل یې کړی ، زما وریره یې هم تښتولې او ځان سره یي وړي
نصیر: ولي کابل کي ونه ګرځیدلي؟؟؟ یوه ښځه یوازي څنګه تر مزاره راتلی شي؟؟؟
کابل دي نه دی کتلی ژر دي ځان دلته رسولی
شریف وویل: ولا رښتیا وایي ، برایي هوا تیاره وه څنکه راتلی شي؟؟
نو اوس هم کابل کي ده باید اول هلته وریسي ګرځیدلی وی بیا مزار ته راغلی وی

د نصیر د کوره ووتلو چي آمر صایب شریف وویل: زه حوزه او قومنداني ته خبر ورکوم چي د خبري شا ونیسي ، ته بیرته کورته لاړشه
ومي ویل: ښه زړه مي جیمي دی چی ته خپله یي ، مه ایږده چي په هغه نجلۍ کم څه وشي

شریف: زره دي جیمي ، یو ځاي بیرته کابل ته ځو لومړي باید د شګوفې د خپلوانو کورونه ولټوو
ومي ویل: ته بهتره پوهیږي ، زه هم خپل د لور څخه پوښتنه کوم چي د چا سره یي رفت و آمد درلود بیا درته خبر درکوم
شریف: ښه خبره ده
یو ځاي مو د کابل خواته حرکت وکړ.

.... لیلا ....

نږدي وو غرمي ته وو چي عمه راغله او وې ویل: لوري لیک لري وایي د کابل څخه رالیږل شوی
په خوشالي د کور خواته لاړم ، کوټي کي داخله شوم او لیک مې خلاص کړ. د رضوان د خوا وو.
ټوله ورځ مې زړه نارامه وو ښه شو چي یو ښه خبر مې لاس ته ورسیدی. د لیک لوستل مې پیل کړل:
« زما لیلا
زما د ژوند رڼا ، زما د زړه سکون ، زما روح ، زما بهترینه ګناه
سلام!

امید لرم چي ښه و جوړه واوسې. زما هره ورځ ستا سره روښانه وه ، ستا نشتون په دي څو وختو کي زما ژوند تاریک او سور کړی دی زما لیلا
کله چي نه یي هیڅ ته مي زړه نه کیږي ، حتي ژوند کولو ته
هر څوک چي تا ویني پوهیږي چي مینه څه ده

د هغه وخته چي تللې يي هر ساعت د پخوا نه ډيرتره دي په اره فکر کوم
کاش ژر تره دربانديِ مئين شوی وی
ستا مينه زه يي ليونی کړی يم زما ليلا

باور نکوم دومره چي زه پر تا مئين يم مجنون خپل پر ليلي مئين واوسي
هر څوک چي زما د ديد څخه تاته وګوري څو واره درباندي مئين کيږي يو وار بسنه نه کوي زما ليلا

که زما په لاس کي يي ، نړي د حرکته غورځوم تر څو يو وار بل ستا سره ملاقات وکړم
زه تر تا مخکي هيڅ نه وم ، ستا سره کمال ته ورسيدلم بي تا هم لکه يو ورک شوی کس د پردو مينځ کي يم
ستا د پاره انتظار هم خوږ دی زما ليلا
ژر تر ژره ستا و ليدو ته راځم زما ګراني.
"ستا ليونې ستا رضوان »

د رضوان د ليک د لوستلو وروسته مې خوله د ډير حيرانتيا نه خلاصه پاته وه.
او خدايه څومره يي ښه زما ستاينه کړي
الا هيڅ مې باور نکيږي. د ډير خوشالي نه مې په سترګو کي اوښکي راغلي وه.
د رضوان ليک مي کت کړ او کلک مې ښکل کړ.
ټوله ورځ  مي زړه ناارامه وو ، ډير سخت ارتيا مې داسي سکون ته درلود.
مننه رضوانه ، مننه!

حتي کله چي نه يي د لري نه هم زما د خوشالي لامل ګرځي.
هغه شپه مې تر سهاره څو څو ځله ليک ولوستل او د هر ځل ويلو سره مې بي حده خوشالي په وجود کي خپره کيدل.

..... حميرا ...

برایي مې ټوله شپه وژړل ، سترګي مي ډېر سوځيدل. د لرګي او بوري اره په انبار کي اچولې وم. ډېره وږې وم. لاړم د دروازي شاته او ښه کلکه مې په سوکانو ووهل چي د چا غږ راغی ښه چي دقيقه شوم د هغې سپين سرې ښځې غږ وو.
وې ويل: که وحشي توب ونکړي د انباره دي باسم
که ني نه ډوډي درته راکوم نه هم حق لري چي دباندي ووځې
ومې ويل: اوس زه مو ولې دلته بندي کړي يم؟؟ خير دی پريږدی چي لاړه شم
دروازه يې خلاصه کړه او د دننه راتلو سره يې وويل: بيخي دي زما اعصاب خراب کړه څه معني چي هر دم دغه خبره کوي؟؟؟ منګه ماشومه يې؟؟
په خولي درته وايم چي ما رانيولې يې ، پوهيږي که نه؟؟
ستا مېړي پيسي واخيستل او لاړه

د (ما رانيولې يې) د جملي په کم ځاي نه پوهيږي چي يوازي ګډه يې ما پريږدی چي لاړه شم؟؟؟؟ته نور مجبوره يې چي په دي کور کي واوسې ، مور دي وويل چي موږ د دې نجلې ډوډي نشو ورکړي ځکه يې ته خرڅيدو ته راويستلې،دلته د خداي شکر دی هم ډوډي درته رسي هم د خوب ځاي لري د دي کور د نجلې په شان به ژوند کوې اوس هم راشه ډوډي وخوره چي د وږې توب نه مړه نشي،زه هم چي ډېره وږې شوې وم شاته يي روانه شوم. لاړه پر صوفي کښيناستله ، دسترخوان يي هوار کړ او وې ويل: راشه ډوډي وخوره

لاړم خپل لاسونه مې ومينځل او څهار زانو کښيناستلم.
د تناره ګرمه ډوډي يې زما مخ ته پريښودل او وې ويل: زما انګور قروتي پخه کړي ، صبر چي درته يې راوړم
آخ چي قروتي زما څومره خوښيږی
يو ټوټه ډوډي مي پري کړه او ومې خوړل ، داسي خوند يي وکړ. ډېر وخت شوی وو چي ډوډي مې خوړلي نه وه.
يو غټه کاسه قروتي يې راويستل او وې ويل: زړه دي چي په لاس يې خوري که په کاچغي (قاشقي).

ما هم په لاس ډوډي خوړل پيل کړه. هر څومره چي مې خوړل نه ماړه کيدلم ، ډير خوندور وو.يوه ځوانه نجلۍ راغله زما څنګ کي کښيناستله او وې ويل: ډير لوږ غږ لري ، برايي دي ټوله شپه چيغي وهل څنګه بي هوشه شوي نه يې؟؟؟
خپل د خولي ګوله مې تيره کړه او ومې ويل: ته چا غلا کړي يې چي بيا دي خرڅه کړي؟؟؟
په حيرانتيا يې راوکتل او په حيرانه لهجه يې وويل: د څه شي غلا؟؟ ستا مور ته يې خرڅلاو ته راوړې وې

ومې ويل: زه يې د کوره وتښتولم وې ويل راشه درته ميوه اخلم
بيا يې يو دستمال زما پزي ته ونيوى نور مې بيا څه نه په ياديږي تر پرونه چي ويښه شوم

په خندا يې وويل: خير دى دلته هم بد ځاي نه دى ، کرار کرار دي خوښيږې
زما نوم صوفيه دى ، د دي کور اينګور (مژور) يم
ومې ويل: ډيره وړوکي معلوميږي ، د څو کالو يې؟؟؟
صوفيه: د اوولسو يم
همدي وخت کي سپين سرې ښځي وويل: د دي کوچنى په نس دى ، پينځمه مياشت يې ده خو داسي ډنګره ده چي هيڅ نه معلوميږي
صوفيې ته مې وکتل او ومې ويل: ته په رښتيا اميدواره يې؟؟؟
صوفيې په خندا وويل: هو خو ډير کوچنى دى ځکه لږ معلوميږي.
سپين سرې ښځې وويل: ماته بې بې حاجى وايي خو ته يوازي بې بې ووايه
که غواړي چي هره ورځ ډوډي وخورې او په انبار کي بندي نشي د انسان په شان رفتار وکړه

او پام دې هم صوفيې ته يې د کور په کارو کي ورسره مرسته وکړه
دلته نه تا څوک وهې ، نه درته آزار درکوې لکه زما خپل لور به دلته ژوند کوې خو درته اجازه نه راکوم چي د کوره ووځې ، دلته شبرغان دى د کابل څخه

ډیرررررررررررررررر لرې دی
که داسي فکر کوي چي د کوره ووځي او ځان کابل ته ورسوي لاره ډیره لرې او خطرناکه ده

ټوله خبره مې درته وکړه اوس نو ستا زړه چي څه کوي
سترګې مې د اوښکو ډکي شوي. صوفيې وويل: غټه نجلې يې مه ژاړه
بي د هغه هم ستا مور ته نغوښتلې مور خو تا غواړو
لاس مې همداسي په کاسه کي پاته وو. ولاړه شوم خپل لاسونه مې پریویستل او بیرته راغلم.

صوفيې وويل: صبر چاوي ایشیدلې ، رايي ورم چي يو ځای سره وخښو
د صوفيې د تګ وروسته مې په زړه کي وويل: کم مور؟؟ زما مور مړه شوې ده زه هیڅوک نلرم
لیلا ورکه شوې ده
سهيلا واده کړی
پلار مې ناروغه دی ، دا ځای د کابل څخه ډیر لرې دی
هیڅوک زما پسي ټول افغانستان کي نه ګرځي دوي هم ما بیرته نه لیږي ، څه وکړم؟؟؟

زړه مې ډیر ډک شوی وو .... د سترګو څخه مې اوښکي رواني شوې.
صوفیه راغله په غیږ کي ونیولم او وې ویل: خیر دی مه ژاړه بې بې حاجی ښه ښځه ده
زه هم وړوکی وم چي واده شوم ، داسي راسره چلند کوي لکه خپل لور يي چي واوسم
ستا هم دا کور خوښیږي ، زړه دې جیمي
په غیږ کي مې ونیوله ، سر مې د صوفيې پر اوږې پریښود او تر څو چي مې توان درلود ومې ژړل.

..... شګوفه ....

شعیب ډیر ښه سړی دی. خپل د ښځي ، عزیزه او خپل د اولادو سره ډیر ښه چلند لري.ډیر مې زړه خپل پر حال وسوځیدی. خلک خنګه ژوند کوې او زه څنګه ژوند لرم.

لمر ته ناسته وم او خپل ویښتان مې ژمنځول. عزیزې ته مې کتل او د دې د ژوند په ارمان کي وم چي ناڅاپه شعیب په کور ننوتی.

تر څو چي مې خپل پوړنی څنډل او خپل پر سر کول ، زما ویښتان یې ولیدل.

وي ویل: وبخښی ، باید یو یاالله مي ویلی وی

ومې ویل: نه نه هیڅ خبره نه ده ورور جانه ، ما هم نور خپل ویښتان ټولول

عزیزې وویل: خیر دی ورور دي کیږي ، هیڅ خبره نه ده

راځی ډوډي جوړه ده ، تاته ماتله وو شعیب جانه

د غرمي ډوډي وروسته شعیب بیرته د کار د پاره دباندي لاړی.

زه او عزیزه ناست وو او کیسي مو کول.

عزیزه ډیره ساده او په زړه پاکه ښځه وه. خپل د کور ټول کیسي یې راته وکړل ما هم تر توانه پوری ځان بدبخته وښودل

ومې ویل: میړه مې راباندي بله ښځه وکړه ، زما د بني نوړي هره شپه زه یې خپل د پلار په وهلو ورکولم

آخر مجبوره شوم چي وتښتم

عزیزې زما په حال ژړل.

وې ویل: تر هر وخته چي وغواړي دلته اوسیدلې شې قدمونه دې زما پر سر سترګو خور جانې

زه یې هم څنګ کي ناسته وم او ژړل مې. تر ځایه چي کیدل د عزیزی د احساسات او پاک زړه نه مې استفاده وکړه. خدای خبر وو چي څومره مې زړه غوښتل د عزیزې پر ځای واوسم

دا ژوند ، دا کور ، دا اولادونه کاش زما وی. کاش دومره پاک او نیک انسان لکه شعیب زما میړه وی ، کاش ....

.... سهیلا .....

نږدي و ماښام ته وو لاړم پخلنځي ته تر څو په پخلی کي مرسته وکړم.
شمایل وویل: څنګه د برايي څخه تر اوسه داسي خفه يې ، چي دې وينم بيخي مې زړه د وينو ډک شي ، څه شوې دې درباندي؟؟؟
ومې ویل: څه نه دې شوی ګراني خپل د خويندو پسي ديغه شوې يم ، خپل د کور پسي ....... خپل د مور پسي
شمایل: ډیر سخت دی پوهیږم
زه هم یو میاشت ولايت ته لاړم خپل د مور څخه لري وم هيڅ شپه خوب نه راتی تر څو چي بيرته راغلم
درکوم دي ګرانې

د شمایل سره مې کیسي کول چي د جلال مور نارې کړم.
ومې ویل: راغلم خاله جانې صبر
لاسونه مې پریویستل او د کوټې خواته يې لاړم. ډيره خفه معلوميدل. زما د ليدو سره يې وويل: دننه راشه په کار مې يې
زړه مې په لرزيدو شو. خدايه څه خبره شوې؟؟؟ خپله راسره مرسته وکړه.
ومې ویل: مهرباني وکړی ، څه شوي دي خيريتي ده؟؟؟
وې ويل: څو وخته کيږي چي نکاح شوې يې؟؟؟
ومې ویل: یوه اوني کيږي ..... ولي؟؟؟

وې ويل: شاباس ، يوه اوني کيږي او په دي يوه اوني کي دا هلک يوه شپه هم په کور کي نه وو په تښته کي دی یا خپل د ملګري کور ته ځي يا په دوکان کي بيديږي يو هلک خپل خواته نشي کشولې ، څه مرګ وهلې يې؟؟
ووايه څه دې کړی چي درته ګوري هم نه؟؟؟

ومې ویل: زه ...... پخداي .... نه پوهیږم خاله جانې الله شاهد دی ما هیڅ نه دي کړي

وې ویل: خو زه هم وایم تا هیڅ نه دي کړي که دي کړی وی جلال به د کوره په تښته کي نه وی باید یو کار وکړي
په عمر کي مې اولادونه د کوره بهر بیده شوي نه وه ، ورته مې ښځه وکړه چي خپل پر ژوند پاي بنده شي بیخي د کوره په تښتیدو شو
یو څه یي د زلیخا څخه زده کړه ، پخداي که نن شپه د ډوډي خوړلو وروسته جلال د کوره لاړی بیا د ځان څخه ګیله وکړه نه زما څخه
ته اوس ښځه یې که کم بل څه؟؟؟
دومره بیریدلې وم چي لاسونه مې په ساړه توب کي خوله کړي وه.
خدایه زه څه وکړم؟؟؟

اصلا ولي زه باید څه وکړم؟؟ ماشوم خو نه دی ، څنګه یي په کور کي وساتم؟؟؟
په لوړ غږ یې وویل: پوهه شوې؟؟؟
یو متر وپریدلم او په بنده ژبه مې وویل: ه ..... هو .... هو پوهه شوم خاله جانې
وې ویل: نور ماته خاله ونه وایي ، مور جانه ووایه
یو څه د زلیخا څخه یې زده کړه اوس هم ولاړه شه د شمایل سره مرسته وکړه
یوازي یې نشي کولی ، زما هم پښي درد کولي تللې نشم
دباندي لاړم. د زړه درزا مې ډیره شوې وه.
خدایه زه څه وکړم؟؟ که نن شپه بیا لاړشي څه؟؟
توبه خدایه ولي مې بدبختیانې دومره ډیري دي؟؟؟

هوا تیاره شوه. د اذان وروسته جلال خپل د پلار سره راغی.
د دسترخوان پر سر وو ، ټولو ډوډي خوړل خو پر ما زار شوې وه. جلال ته مې وکتل او ځان سره مې وویل: دی څنګه نن شپه کور کي وساتم؟؟
خدایه خپله راسره مرسته وکړه او یو لاره مې پښو ته پریږده

په فکر کي وم چي پام مې شو جلال هم ماته ګوري ژر مې سر ښکته واچول. څو شیبي وروسته مې بیا وروکتل چي پام یي شو او په اشاره یي وویل: څه خبره ده؟ ما هم هیڅ ونه کړه یوازی مې ورته کتل. په زړه کي مې وویل: خدایه څه کیږي چي زما د کتو څخه پوه شي هیڅ اړتیا پیدا نشي چي ورته ووایم

دسترخوان مې ټول کړ ګورم چي د دهلیز څخه ووتی. دسترخوان مې همداسي په پخلنځي کي پریښود او شاته یي وځغاستلم. د سراي دروازي ته نږدي وو او غوښتل یي بهر ووځي چي ناري مې کړ: جلالللللللللله صبر وکړه

ودریدی او په حیرانتیا یي راوکتل. په حیرانوونکي لهجه یي وویل: نن شپه بیخي بل رقم یې ، څه خبره شوي ده؟؟
ومې ویل: مه ځه ، پاته شه
په خندا یي وویل: ښه نور څه غواړې؟؟

ډیره وشرمیدلم. سر مې ښکته واچوی ، خپل د پوړني څنډه مې په لاس کي ونیوله او ومې ویل: بل څه نغواړم ، یوازي نن شپه خپل په کور کي واوسه دباندي مه ځه
جلال دروازه پیشه کړه او وي ویل: ښه بیا نور څه وکړم؟؟؟
ورته مې وکتل چي خپل یو ورځ یي پورته نیولي ، مسکا یي په شونډو ده او زما ځواب ته په تمه دی.

په زړه کي مې وویل: ده بیعقل څه فکر کړی؟؟؟
ده ته مې وویل: نه هغه خبره نه ده هسي مه خوشالیږه
ستا مور راته ګواښ راکړی وایي نن شپه نباید اجازه راکړم چي خپل د ملګرو په کور کي بیده شي
جلال: ښههههه نو دا خبره ده
وختي به دې ویلی وی ، لاړشه کورته زه هم راځم چي مور مي ووینې بیرته وګرځیدلم
ومې ویل: مننه

جلال: هیڅ خبره نه ده ، زه خپل مور پیژنم چي څه رقم ښځه ده
کورته چي ننوتلم لومړني کس چي مې ولید د جلال مور وه چي په تروش تندي یې
ماته کتل زما پسي جلال راننوتی او دواړه لاړو کوټې ته.
جلال دروازه وتړل او وي ویل: هر چا چي دروازه وټکول خپل غږ مه باسه فکر کوي
چي بیده شوي یو زه د کړکي د لاري ځم
خپل یو پښه یي دباندي ایښي وه چي ومې ویل: اوس څه خبره ده؟ د کوټې آ بله
خوا ( هغه بله خوا) کي بیده شه څه جبر چي ځې د خلکو کورته؟؟؟

جلال په پوزخند راوکتل او وي ویل: زما مور دي بهانه کړه ، زه پوهیږم چي ته نن
شپه راباندي پلان لري
دا خبره یي ډیر زور راکړ. لاړم پوري مي وهل چي پښه یي خطا شوه او پر ځمکي
ولویدی
ومې ویل: ښنگه شو زما پلان دي ولیدی؟؟؟
ځه هر ځاي چي بیدیږي ، بیده شه
سپین سترگی بي تربیه
او کړکي مې وتړل.

.... جلال ....

ډیر کلک په ځمکي ولویدلم. گورم چي کړکي یې وتړل او پرده یې هم کشه کړه.
ومي ویل: ځه خیر سهیلا ګکې زه بیا درسره کار لرم
ملا مي خوږه شوي وه.
نن شپه پاکستان ته سفر لرم. یو چا د لیلا دقیق ادرس راکړی تر څو چي ځاي یې نه
دی بدل شوی باید ځان ورسوم. په گوډه پښو د کوره ووتلم. ته په دي وخت کي دا
لیونې سهیلا وگوره ، پښه یې را خوږه کړه.
لاړم فاروق څخه او ومي ویل: یو جوړه چپلکي راکړه ناوخته وو د کوره همداسي
ووتلم

فاروق په خندا وویل: یو دغه کار پاته وو ، کوټه او بوډي مي درته راکړه اوس چپلکي هم درکړم
ستا چي دومره زموږ کور خوښیدی ، ولي دي زما خور ونکړه؟؟
په خندا مې وویل: صبر چي د پاکستانه راشم
خپل چپلکه یي راباندي وغورځول چي پر سر مي ولګیدل.
ومي ویل: بیعقله هلکه ټوکي مي درسره وکړي ، ستا خور زما خور هم ده
څو ساعت وروسته مو د پاکستان خواته حرکت وکړ.

.... لیلا .....

سهار وختي فرشتې ویښه کړم.
ومې ویل: خیریتي ده؟؟؟
فرشته: هو ولاړه شه چي چاوي وڅښو ، زه نن بیکاره یم ستا سره ځو دباندي کور کي به دیغه شوې یې
ومې ویل: نه مننه دیغه شوې نه یم
فرشته: ولاړه شه نو داسي مه کوه
په زړه کي مې وویل: بي د هغه هم دا نجلی جنګ کوي صبر ورسره لاړه شم چي خفه نشي

د چاي څښلو وروسته د بازار خواته مو حرکت وکړ.
بوول بوول ټکران وه فرشتې ځان ته څو جوړي پنجاپیان واخیستل ، یو جوړه یې هم ماته واخیستل.
په بازار کي ګرځیدلو چي سترګه مې پر جلال ولګید. څو واره مې سترګي ورپول چي ګورم نه ..... په رښتیا جلال دی
لاس او پښي مې سستې شوې. همدا چي یو قدم زما خواته راغی په ځغاستو شوم.
د جلال د لیدلو وروسته ، لکه یو انسان چي د یو وحشي حیوان د لاسه تښتي په ټول توان بي له دي چي شاته وګورم ، ځغاستلم.

د بازاره ووتلم او په یو کوڅي ننوتلم. دومره بیریدلې وم چي ساه مې لا نشو اخیستی.

د دیوال د کنج نه مي وکتل څوک نه وو ، ومې ویل: خدایه شکر چي ورکه یې کړم کرار کرار مې د کوڅي اخر ته حرکت وکړ. ځان سره مي وویل: د کوڅي سر ته چي ورسیدلم اوړم ځم پورته کوڅي ته بیرته بازار ته لاره پیدا کوم او فرشتې څخه ځم کرار کرار ارامه شوم ، خو اوس مې هم بیره په وجود کي وه.
د کوڅي سر ته ورسیدلم شاوخوا مې وکتل څوک نه وو. شکر مې وایستی.
یو قدم پاته وو د کوڅي څخه ووځم چي یو چا د پوړنې څخه کش کړم. شاته ولویدلم. ساه اخیستل راته ډیر ستونزمن شوې وه. مغزی مې سوځیدی. همدا چي سترګي مي خلاصي کړي جلال مې ولیدی. سترګي یي تکي سرې شوي وه.

د څهري د حالت څخه یي ډیره وبیریدلم. په څو ثانیو کي د ځایه ولاړه شوم او بیرته وځغاستلم. د مخه مې یو څوک راغی. د جلال غږ مې واوریدی چي وي ویل: فاروقه وي نیسه
د لاسه یي ونیولم. هر څومره چي مې هڅه وکړه خپل لاس خطا کړم ، ونشو. جلال راورسیدی. همدا چي راته نږدي شو یوه کلکه څپیړه یي راکړه چي د څو شیبو د پاره په ځان پوهه نشوم. په ځمکي ولویدلم. خپل د پلار څپیړه مې په یاد شوه. مخ مې د څپیړي د کلکوالي نه سوځیدی.

د لاسه یې ونیولم او پورته یې کړم. نه پوهیږم چي دومره زور مې د کمه کړ خو جلال مې پوري وهل او په لوړ غږ مې وویل: ولیییییییییییییي ما وهي؟؟؟؟
ته څوک یي چي پر ما لاس پورته کوي؟؟؟ ما د نکاح پر وخت هو ونه ویل پلار مې خپل پر سر راغی تاته یي هو وویل
زما او ستا نکاح هیڅ تړل شوي نه ده
ته زما میړه نه یییییییییییییي

په داسي حال کي چي مې هغه کول خپل اوښکي کنترول کړم ، دوام مې ورکړ: ته په کم حق پر ما لاس پورته کوي؟؟؟ ها؟؟؟ په کم حق؟؟؟
جلال زما پوړني زما پر مخ ووهل او وي ويل: ته بې شرمه بي حيا زما د آبرو او غيرت سره دې لوبې وکړي د خلکو د زوي سره وتښتيدلې وهل څه چي مرګ دې حق دی

ما په نيک نامه درباندي مرکه وکړه ، واده مي درسره وکړ دا زما حق نه وو چي وتښتی او ما د ټولو مخته بي غيرته وښيي
خپل په لستونې مې خپل اوښکي پاکي کړي او ومې ويل: ښهههههههههههه مې وکړه که وخت بيرته شاته لاړشي بيا هم همداسي کوم بيا هم تښتم
تا زه زما د پلار څخه وغوښتلم ، هغه درته هو وويل
تا زما د پلار سره واده کړی نه زما سره
هغه ورځ چي مو کچه (ګوتمي) راويستل ښه دي هم راوکتل يو ذره خوشالي دي زما په څهري کي وليدل؟؟

ستا د لاسه يوه اوني بندي وم ، پلار مې سهيلا او حميرا ته هم ډوډي نه ورکول زه مجبوره شوم چي هو ووايم
ته پست بيعقل د هغه لومړي ورځي نه پوه نشوي چي زما نه خوښيږي؟؟؟
ښههههه پوره پوه شوی وي يوازي دي غوښتل چي زما د پلار د پور او زموږ د بدبختي څخه استفاده وکړي
ما نه د رضوان د مينی په خاطر ، نه خپل د پلار د آبرو په خاطر يا حتي زما خپل د ابرو د پاره ونه تښتيدلم

زه وتښتيدلم ځکه ستا د څهرييييييييييي ، ستاااااا خپل ، ستا د کوووووووورني ، ستا د پست پلار څخه کرکه لرم
ستا پلار که موږ ته وخت راکړی وی موږ يي پيسي تيارول د دي څو روپو د پاره مږ نه وو يوازي زموږ بدبختي او بيچارګي يي غوښتل چي خپل ارمان ته ورسيدی

حاضره یم چي مړه شم خو خپل پښه بیا په هغه وامنده کور کي پرینږدم
ته باید ډیر بي غیرته واوسي چي زما پسي راغلي یي چي ما بیرته یوسي
اوس هم نه مې پلار یي ، نه مې هم میړه یي ستا څخه نه بیریږم
همدا اوس ما مړه کولي شي خو یوازي به زما جنازه ځان سره افغانستان ته وړې

پوه شویییییییییییي؟
ځکه زه خپله خپل په پښو بیرته نه ځم
ساه مې لنډه لنډه کیدل. د جلال څخه د یو ډیر تند او کلک عکس العمل تمه مې
درلود خو دی همداسي ولاړ وو او د څهري څخه یي قهر او غوسه اوریدل.
ډیره بیریدلې وم خو ځان مې د لاسه ورنکړه.
جلال غوښتل کم څه ووایي چي د جهان غږ راغی. ګورم چي د لري نه زموږ خواته
راځي. همدا چي نږدي شو پر جلال یي حمله وکړه او څو کلک سوکان یي پر مخ
ووهل. فاروق هڅه کول چي جلال وژغوري.

فرشتې زما پوړنی ونیوی او وې ویل: راځه لیلا ، راځه! دلته مه دریږه
یو ځاي د کور خواته په منډو شوو. د کوڅي سر ته چي ورسیدلو یو وار مې شاته
وکتل ، اوس یي هم جلال وهل.
دا چي زه ګناه کاره وم تر لمر لا روښانه وه خو دوي زه یي دي ګناه ته مجبوره کړم
ښایي هم زه ځان معافه وم ، نه پوهیږم.
د فرشتې سره په کور ننوتلو. ټول په سراي کي وه. عمه راغله زه یې غیږ کي ونیولم
، په مخ یې ښکل کړم او وې ویل: څه وشوه لوري؟؟ میړه دې وو؟؟
ومې ویل: هو عمه جانې راغلی وو چي ما بیرته یوسي
زه داسي فکر کوم ښایي هم راغلی وو چي ما مړه کړي
عمه: لاس دي مات شي څنګه دي مخ سور دی ، وي وهلې؟؟؟

فرشتې وویل: هو مورې ، لیلا چي وځغاستله ورپسي لاړم دوه نارینه دا یي تعقیبول
زه هم راغلم کورته چي یو څوک خبر کړم

ښه شو چي د کوره ډېر لري نه وه که ني ده بیشرف لیلا یي وړې وه
څو شیبي وروسته جهان راغی او وي ویل: دوه کسه وه که یو دانه وی خو ولاکه ژوندی راڅخه تللی وی
لیلا بالا د کوره مه وځه تر څو چي مي ماما احوال راکړي اوس دي دباندي تګ ډېر خطرناکه دی

څنګه پوه شوه چي ته دلته یي؟؟ کور یي څنګه پیدا کړي؟؟
یو چا خامخا دوي ته احوال ورکړی داسي هوایي نه کیږي چي یو پردي هیواد ته راشی او یو څوک پیدا کړي
عمه وویل: هو رښتیا وایي باید زما ورور ته خبر ورکړو
داسي نه کیږي خبره غټه شوي ، که سبا یي پر نجلۍ حمله وکړه څه وکړو؟؟؟
جهان: نو دومره هم بي صاحبه ښار نه دی

.... جلال ....

د فاروق سره په لاري روان وم. د لیلا یو یو خبره مي د دې خپل په غږ سره په ذهن کي تکراریدل.
ډېر مي اعصاب خراب شوه. یو کنج کي کښیناستلم.
فاروق وویل: وروره هر څه چي وایي زه تر پایه درسره یم
خو یو څه فکر وکړه حیوان بندي کولی شي نه انسان
دا نجلی رضوان نه ده تښتولې خپله تښتیدلې ده ، بیا هم تښتې
بس ما درته وویل نور خپله پوهیږی

دلته د هغې ساتنه کوي د نن پیښي وروسته نور یي دباندي هم نه پریږدي
ومي ویل: مسافرخانې ته ځو ، هیڅ مي حالت ښه نه دی
فاروق: خوږ شوی یي؟؟؟
ومي ویل: نه خوږ شوی نه یم ، دومره هم پیاوړی نه وو
یو یي ووهل دوه یي وخوړل که ته نه وی سم صحیح مي خوړل

فاروق: ښه سمه ده ، راځه
شپه تر سهاره مي د ليلا خبرو ته  فکر وکړ. اوس چي ګورم زما راتګ د بيعقلي کار وو د ليلا تښته ټوله خبره ښکاره کوي.
دا چي زه دومره احمق شوم او دومره لاره ورپسي راغلم او بيا زما شخصيت او غرور تر پښو لاندي شو ډير يي زور راکړی وو.
ته زما د ميني په ارزښت پوهه نشوي ليلا.

دومره ښه توب ، دومره مهرباني لکه دا چي د خر په غوږ کي ياسين شريف ووايي.
د هوا په روښانيدو سره مي د فاروق سره بيرته د کابل خواته حرکت وکړ.
فاروق وويل: وروره يو خبره وکړم؟؟؟
ومي ويل: څه؟؟؟
فاروق: علي ته څه رسي چي هر دم راځي تاته وايي چي ليلا چيري ده او څه کوي؟؟؟
ومي ويل: ولاکه زه هم د دي هلک په کار پوه نشوم ښايي خپل د کاکا زوي سره به دښمني لري ، نه پوهيږم ..

.... شګوفه ....

په کور کي ناسته وم چي عزيزې وويل: پام دې زما لور ته يي ، زه ځم د غرمي ډوډي تياروم
ومې ويل: سمه ده ګرانی
خپل لور يې زما په غيږ کي راکړه. همداسي په سراي کي ګرځيدلم چي دروازه وټکيدله نږدي لاړم او ومې ويل: څوک يي؟؟
د نصير غږ راغی چي وي ويل: عمه دروازه خلاصه کړه
په خوشالي مې دروازه خلاصه کړه. دننه راغی او زما په ليدو يي وويل: دا دی د خلکو په کور کي دي عادت کړی
ومې ويل: ليونتوب مه کوه ، ووايه څه وشوه؟؟؟ زلمی څه وکړه؟؟؟

نصیر: همغه اوله ورځ یي ځان مزار ته رسولی وو ، د پولیس سره یي ټول کور ولټول
پلار مي ډیر ورخطا شوی وو ما هم وویل نه پوهیږم چیري یي
ومې ویل: ښه بیا څه وشوه؟؟

نصیر: هیڅ بیرته لاړل
خو یو نفر دی هره ورځ د کوڅي پر سر کښینی همغه پولیس دی پخداي
خامخا کابل کي ګرځیدلي څوک نه وه بیرته مزار ته راغلي دا وار په آرامي مخته ځي
ومې ویل: دا نو څه حال دی
زه څنګه کړم؟؟؟ تر کله د خلکو په کور کي کښینم؟؟؟
نصیر: مجبور درته یو بل میړه پیدا کړم ، یو لري ځاي ته لاړه شي چي هیڅوک دي
پیدا نکړي
ومې ویل: نههههه زه د مزار څخه نه وځم
چیري لاړه شم؟؟ د چا سره لاړه شم؟؟؟

نه نه کیږي دا وار هر څوک نه کوم
نصیر: عمه جانې زه دربانديږ زور نلرم نور خپله پوهیږي
د نصیر د تګ وروسته فکر یوړم. زلمی تر څو چي ما مړه نکړي زما شا نه ایله کوي.
خدایه څه وکړم؟؟
همدا وخت کي عزیزه راغله او وې ویل: د پخلنځي څخه مې وکتل وراره دې راغلی
وو ، خیریتي وه؟؟

ومې ویل: نه خورې ، د څه شي خیریت؟؟؟ خاوري مې پر سر شوه ..... میړه مې یو
نفر زموږ د کور د کوڅي پر سر پریښی ، که بیرته لاړه شم ما نیسی
وې ویل: الا خدایه توبه دا څه حال دی؟؟ تر هر وخته چي وغواړي دلته اوسیدلي
شي ګرانې
خداي دي نه کوي چي هغه بي خیره دي ګیره کړي هغه وخت بیا ځان هیڅکله نشم
بخښلې.

ومې ویل: مننه
نه پوهیږم څه د خیر کار مې کړی چي د داسي نیک خلکو سره لکه تاسو اشنا شوم او عزیزه می په غیږ کي ونیوله. وې ویل: زړه دې جیمي ، تر هر وخته چي وغواړې دلته اوسیدلې شي یو ګوله وچ او لانده پیدا کیږي یو ځای یي خورو
دوام یي ورکړ: زه نو ځم دیګ وګورم چي ونه سوځي ، بیا خبري کوو اوس شعیب راځي ډوډي غواړي

د عزیزې د تګ وروسته فکر یوړم. یواځي یو دلیل ما تر اخره دلته ساتلی شي هغه هم دا دی چي د شعیب سره واده وکړم.
په فکر کي وم چي څنګه دا کار وکړم چي شعیب کورته ننوتی. مخته لاړم او ورسره مي ستړي مشي وکړل.

کورته ننوتی زه هم ورپسي لاړم. ډوله کیسه مې ورته وکړه او ومې ویل: یوازي په یو حالت کي ما خوشي کوي ، دا چي واده وکړم
وروره کم سپین ږیری سړی نه پیژني چي وغواړي ښځه وکړي؟؟؟
شعیب وویل: ولي سپین ږیری؟؟ ته خو ځوانه یې
ومې ویل: نو څه چاره لرم وروره؟ تر څو ستاسو کور کي کښینم؟؟
کونډه ښځي ته ځوان هلک په مرکه نه راځي
ډوله ښځي لکه عزیزه نیک بخته نه دي چي داسي ښه سړی لکه تاسو یي په نصیب شي ماته چي ډوډي او یو ځای د خوب د پاره راکړي بس دی
بل څه نغواړم او دا چي راباندي ظلم ونکړي

شعیب: خپله ښه یي چي موږ هم ښه ویني ، زه هم بي نیمګړتیا نه یم خو تل هڅه کوم چي پر چا ظلم ونکړم او څوک راڅخه کینه په زړه کي ونه نیسي
دوام یي ورکړ: په ډول منطقي کي داسي څوک نشته چي وغواړي ښځه وکړي خو زه اجازه نه راکوم چي د یو ګوله ډوډي د پاره د یو سپین ږیري سړي سره واده وکړي
لاس مې ځیني ونیوی او همداسي چي مستقیم مې د ده سترګو ته کتل ، وویل: نو

څه چاره لرم وروره؟؟ هیله کوم راته یو میړه پیدا کړه،تر کمه ستا په کور کي لکه میلمنه کښینم؟؟ آخر خو باید لاړه شم نو بهتره همدا ده چي واده وکړم هم به مې پخواني میړه زما شاه خوشي کړي هم به یو ځاي پیدا کړم او په کوڅو کي سرګردانه نشم

د ژړا په حال کي مې د شعیب لاسونه ښکل کړل او ومې ویل: تاسو ډیر ښه سړی یاست چي ماته مو اجازه راکړه څو ورځي ستاسو په کور کي واوسم
شعیب: نه نه خورجانې داسي مه کوه
هر څوک چي یي همدا کار کوي ، وظیفه ده
ومې ویل: نه تاسو ډیر ښه یاست نور خلک یو پردې ښځه خپل په کور کي نه ساتي
شعیب: د څه شي پردی؟؟؟؟ نصیر لکه زما خپل ورور دی
ته هم لکه زما خور
اجازه نه راکوم چي د یو سپین ږیري سړی سره واده وکړي او لکه تیر وار بدبخته شي
یوه چاره پیدا کوو انشاالله

ومې ویل: ورور جانه زه خو ستاسو ښځه نه یم تر کمه به ما وساتي؟؟؟ خلک زر خبري درپسي کوي زه دا نشم زغملی
شعیب راوکتل او وي ویل: زما سره واده کوې؟؟
په حیرانتیا مې وروکتل چي وي ویل: صبر صبر بل فکر ونکړي
ما د نصیر سره ستا په اړه خبري وکړه راته یي وویل چي ډیر ستونزي لري ، پوهیږم نه غواړم چي په منطقي کي زما یا ستا پسي خبري وشي زه هم دلته ابرو لرم
هر نر ته څلور ښځي روا دي په دي شرط چي وکولی شي نفقه یي ورکړي
دا د ثواب کار دی زړه دي چي مني که نه مني زما وضعه ښه ده کمه ستونزه نلرم
فکر نکوم چي ته هم وغواړي د یو ګوله بوډي د پاره د یو سپین ږیري سره واده وکړي داسي ستا لیور دی که ستا میړه ستا شا هم خوشي کوي
ومې ویل: نو عزیزه څنګه کیږی؟؟

شعیب: عزیزه حق نلري څه ووایي ، کور زما دی هر څه چي مي زړه شو کوم یي یوازي باید د یو بل سره جوړ راشی خلاص چي دا خبره هم ستاسو دوو په مینځ کي ده

په زړه کي مې وویل: دی څومره چوتاره دی ما هیڅ ونه ویل ده خپله وړاندیز وکړ
په هر حال اوس بله لاره نلرم ، عزیزه هم مشکل نه جوړوي خبره خلاصه ده
پاته کیږي زما او د خان شاه طلاق ..... دا څنګه کیږي؟؟؟
ومې ویل: یوه ستونزه ده ، ما او خان شاه طلاق نه دی اخیستی ، دا څنکه کیږي؟؟؟
شعیب: دا کمه خبره نه ده زه خپله ستا طلاق ستا د میړه څخه اخلم
همدا چي دا خبره یي وکړه وبیریدلم. که دی لاړشي پوهیږي چي څه مې کړي الا خدایه داسی خو نه کیږی

ومې ویل: نه نه ته ځان مه مخته کوه ، نغواړم تا وپیژني زه نصیر مخته کوم چي زما طلاق واخلینغواړم چي درسره جنګ وکړي یا کور پیدا کړي
شعیب: بس هر څنګه چي دي خوښه ده
زه اوس عزیزي ته هم خپل پریکړه وایم باید پوهه شي
د ځایه ولاړ شو او بهر لاړی.
ومې ویل: خدای خبر دی څو داني نور لري چي په داسي سپین سترګي سره یي ماته وړاندیز وکړ

عزیزه خو ساده ښځه ده میړه یي چي هر څه وکړي دا نه په خبریږي
خدایه ته خیر پیش باسي ، زما عاقبت به د ده سره څه وشي؟؟؟

.... زلمی خان ....

د شکوفې او حمیرا د تګ او ورکیدلو څخه څه کم یوه اوني کیږي. یعني دا ښځه چیري تللې؟؟؟ شریف وایي چي هیڅ خپل د پلار د کور خواته تللې لا نه ده په کابل کي هم چا نه ده لیدلې.د خان شاه حالت د دي خبري په اوریدو سره نور هم خراب شو مجبور شوم چي بستر یي کړم.بي فکر او بیعقل انسان! هم خپل کورني ده

مینځه یوورې هم ځان یې تباه کړ.د فاطمې واده نږدې دی او زه د شګوفې پسې ګرځم.
زمورږ ټوله ژوند د دې ښځې د راتلو سره خراب شو ، پست او شیطان صفته ښځه.
دا ښځه نباید وتښتې ، بدبخته قاتله! باید هر څنګه چې کیږي دا ګیره کړم ، ټول ځایونه ورپسې لټوم او دا پیدا کوم

زهرا کله په دې کور کې ښه ورځ ولیدل؟؟ نورې یې تر دې بدترې شوې. دوې ورکې دې یوه یې هم په (بد) ورې.
په فکر کې وم چې قباد راغی او وې ویل: پلاره نبي د روغتون څخه راغلی وایي د خان شاه کاکا وضعیت ډیر خراب دی باید روغتون ته لاړشو
په تلوار د کوره ووتلم او د روغتون خواته مو حرکت وکړ.
ټول لاره مې دعا کول چې په خان شاه کم څه ونشي. دی زمورږ کوچنی ورور دی اوس یې د تګ وخت نه دی.

روغتون ته ورسیدلو. د دروازې څخه تر پورته وځغاستلم.
دوه پخواني ملګري یې ورسره وه. په ډیر سختې سره یې ساه اخیستل.
ډاکتر وویل: تنفسي حالت یې ښه نه دی
او ده څګیروی کول چې زړه مې درد کوي. ډیر ورخطا شوی وم.
ومې ویل: دا څنګه امکان لري؟؟؟ دی وایي زړه مې درد کوي او تاسو وایست چې مشکل یې د زړه نه دی؟؟
ډاکتر: مورږ معاینات وکړل یو ډاکټر شپه رارسیږي هغه باید دی معاینه کړي او نظر ورکړي

دقیق نه پوهیږم چې څه په شوي خو مشکل یې د زړه نه دی د بل ځایه دی
د سترګو لاندې هم یې شنه شوي ، دا حالت نورماله نه دی
تر شپې پورې خان شاه څګیروی کول زما د لاسه هم هیڅ نه راتلل. زړه مې ورباندې سوځیدی. ناري یې کړم زه هم ورخخه نږدې لاړم

ومي ویل: ووایه وروره
وي ویل: د لیلا سره مي ډېر بد کړي ، په زوره مي ورکړه همدي د پاره وتښتیدله ،
هغه پیدا کړه ..... حمیرا هم،ستا په غاړه دي دین یي ورورە
ومي ویل: سمه ده په سترګوخو انشاالله ته ښه کیږی بیا خپل د اولادو پسي وګرځه
خان شاه: نه نکیږم ، فکر نکوم

هیڅوک زما درد نشي تشخیصولی ...... څو وخته کیږي ...... داسي ځاي ته نه رسم
پوهیږم

زړه مي د وینو ډک وو. په داسي حال کي یو اولاد یي هم څنګ کي نشته ، یوازي یو
کنج کي ولیدلی حتي هغه ډاکټر د زړه متخصص چي باید د ده د ناروغي تشخیص
وکړي هم نشته ....
ټوله ورځ یي ځګیروی وکړ. شپه شوه ډاکتر راورسید.
د خان شاه د معاینه کول او د ډېر پوښتنو وروسته یي وویل: مشکل یي په زړه کي
نه دی د ده اینه خرابه شوي ده
څو میاشتي کیږی چي دا درد احساسوي؟؟؟
خان شاه: دوه کاله کیږي
ما فکر کول چي د معدي مشکل لرم د عطاري نه مي د معدي دوا اخیستل او خوړل
مي

په دا اخر وختو کي یو ډاکټر وویل چي د زړه مشکل لري تاسو وایست چي د ایني
دی؟؟
ډاکټر وویل: هو د مخ د حالت او د نس او لاس او پښو د پړسیدلو څخه معلومیږي
چي اینه دي خرابه شوي ده
خداي دي درسره مرسته وکړي ، باید دا خبره دي جدي نیولی وی خو تا فکر وکړ چي
د معدي مشکل دی او ورپسي ونه ګرځیدلي

خداي دي درسره مرسته وکړي ، ورته دعا وکړئ
د ډاکټر د تګ وروسته د خان شاه حالت ډېر خراب شو.

ومي ويل: ځان مه جګرخونه کوه چي حال دي بدتريږي ، هسي جګرخوني څه ګټه؟؟؟
خان شاه ساه واخيستل او وي ويل: برايي مي زهرا په خوب وليدل ، راغلې وه چي ما ځان سره يوسي ...... فکر کوم چي په رښتيا ما وړي ...... وروره زه بيريږم
خان شاه ته مي وکتل. هيڅ د هغه پخوا سرې نه وو. ما هم فکر کول چي نن شپه به يي اخره شپه يي. د هغومره کبر او غرور څخه يي چي درلود ،هيڅ پاته نه وه
خو ومي ويل: وروره داسي مه وايه دخيره ښه کيږي .

خپله پوهيدلم چي بي معني خبره ده ، خان شاه د تلو په حال کي وو.
هغه شپه په روغتون کي تر سهاره ويښ وم چي که کم خبره وشوه يو چا ته غږ کړم.
خان شاه تر سهاره سترګه پټه نکړه ، د ډېر درد څخه يي حال لا خراب شوی وو.
نه مي غوښتل چي خفه يي کړم ځکه هيڅ مي ونه ويل خو ده خپل په ژوند کي ډېر حماقتونه وکړل او هر ځل هم پښيمانه نه شو ، عبرت يي ونکړ او بيا يي تکرارول
سهار تر ماښامه يي ځکندن وو. نږدي ماښام اذان ته وو چي احساس مي وکړ نور ځګيروی نه کوي.
نږدي لاړم او ومي ويل: وروره؟؟؟ وروره زما غږ اوري؟؟؟
ومي ښورول. ډير يو بد احساس مي پيدا کړی وو. غږ مي کړه يو نرسه راغله د ده سترګه يي خلاصه کړه ماته يي وکتل او وې ويل: خداي دي وبخښي ، اخر غم مو يي پر چوکي کښيناستلم. د سترګو نه مي اوښکي رواني شوي.
به غير د ما او خان شاه نور هيڅوک نه وه
نه يي نوږې وي .....نه يي ښځه ....
قباد ته مي احوال ورکړ تر څو ټولو ته خبر ورکړي چي کاکا يي مړ شوی دی.
يو عمر يي د خلکو ډوډي په وينو کي خيشته کړه دا يي هم پاي .... د مرګ په وخت کي يو نفر هم څنګ کي نه وو ...

سهیلا
د جلال د تګ څخه یوه شپه کیږي او هر کله یي چي مور پوښتنه کوي زه یو بهانه کوم.
زه څه خبره یم چي چیري دی؟؟؟ منګه زه یي په رښتیا ښځه یم چي ماته ووایي؟؟؟
یو اووف مي وایستی چی زلیخا وخندل او وې ویل: بیا څه شوې دې؟؟
آه توبه د دې ښځې د لاسه. یوه ورځ ما دا خفه او جګرخونه ونه لیدل دومره خوشالي چي دا خپل په ژوند کي لري ، فکر نکوم چي بل څوک به یي ولري.

راغله زما څنګ ته کښیناستله ، یوه مېنه یي هم په لاس کي وه. یو کپ یې ووهل او همداسي چي هغه یي ژوول وې ویل: پوهیږي زه اوس هم خپل په خبري ولاړه یم ومې ویل: کمه خبره؟؟
زلیخا: همدا چي ته ډیره بیعقله یې
خپل مخ مي واړول او ومې ویل: ګوره دا چي د جمال ښځه یي او تر ما مخته دي کورته ناوې راغلې یې ښه دلیل دی چی درته څه ونه وایم ، بهتره ده چي نور یي اوږده نکړې
زما صبر هم یو حد لري زلیخا
په دي کور کي ټوله راته وایي د زلیخا سره خبري مه کوه چی د هغي خوي او عادت ونه نیسي بیا ته خپله راځي ماته لاره ښیي؟؟
زلیخا په خندا وویل: هر څنګه چي یم خو څوک د دي زړه نلري چي مخ پر مخ راته څه ووایي

پس د شا خو سپی هم غاپي
ومې ویل: توبه ستا د لاسه ، ښه نه یم پریمیږده
زلیخا: ګوره چي درته څه وایم جلال ته ځان مه نږدې کوه
هغه شپه مې ولیدل چي د کړکي څخه لاړې دی دي د دروازي د خولي څخه راویستی پینځه دقیقي وروسته بیرته په لځو پښو د دروازی څخه ووتی
نو داسي کار وکړه چي خپله راشي او لاړ هم نشی

د نارینو خوښیږی چي د یو څه بیه پرداخت کړي
مفت شی ورته بي ارزښته دی

په زړه کي مې وویل: زه په څه فکر کي یم ته دا وګوره
ومې ویل: څه وکړم؟؟ ستا د خبرو د عملي کولو حال کي یم
ورسره خبري نه کوم ، وروسي نه ځغلم هغه دی دوي شپي کیږي چي کورته نه دی راغلی
زلیخا: سبا بیا درته یو پر یو ښیم اوس ولاړه شه ډوډي جوړه کړه چي وږې یم
ومې ویل: تا کم وخت پخلی هم کړی؟؟؟
زلیخا: نه ولي؟؟
ومې ویل: نو جمال څنګه خوښه کړي یې؟؟ حتي خپل کالي لا نه ټولوې
په خندا یي وویل: منګه ژوند ټول د کور کار دی؟؟؟
ومې ویل: نه خو یو اړخ یي خو دی
زلیخا: جمال ښځه کړي ، ما ورته وویل چي زما کار کول نه خوښیږې لاسونه مې خرابیږي

که کارګره غواړي ښځه مه کوه مزدوره ونیسه
خندا نیولې وم. ومې ویل: دا جمال ورور چي دومره جدي دی ستا دا خبره یي منلي ده؟؟؟
زلیخا: هو
په لوړ غږ په خندا شوم او ومې ویل: که زموږ په کور کي څوک داسي خبره وکړي تر یو میاشت بندي کیږي او په ورځ کي یوازي یو وخت ورته ډوډي ورکوي
زلیخا: ځکه فامیلي بیعقل یاست ههههههههههه
یو سړی وو نور ټول ښځي واست او بیا هغه یو سړی پر تاسو دومره ظلمونه کول؟؟؟ په داسی حال کي چي د کور خرڅ هم تاسو خپله پیدا کول
خو د کوره به مو ایستلی وی،خداي هم که خپل معجزي د پیامبرانو د طریقي ښودلی نه وی ، چا دی نه منل نو څه ورسي انسان ته، ستاسو دا کار لکه دا دی چي د یو کاږو

د مجسمي څخه خداي جوړ کړي.
په یاد دي یې هغه وخت د یو نر سره ښه چلند وکړه چې ستا غوښتنو ته ارزښت ورکړي او تا لکه یو ښځه ووینې نه یو وسیله
البته دا چې وسیله وشي که نه پر تا اړه لري نه ستا پر میړه
برګې برګې مې ورته کتل.
زلیخا: پوهه نشوي نه؟؟

ومې ویل: نه
په خندا یې وویل: خیر دی زده به یې کړې تر اوسه لا ماشومه یې
یا یې خپله زده کوې ، یا د ژوند بدي پیښې دي مجبوره کوي چې زده یې کړې
ولاړه شوه او دوام یې ورکړ: زه ځم چې خپل نوې کالي واغوندم او ځان جوړه کړم ته هم همداسي وکړه هڅه وکړه چې هره ورځ یو جوړه واغوندي
روښانه رنګونه او خپل په اندازه ، نه خپل د خواښې په اندازه هههههههههه
ومې ویل: خدایه توبه مې کړې
زلیخا: توبه مه کوه ولاړه شه چې د ډوډې تیارولو وخت دی ، هله د لیوره ښځې جانې

هم خندا نیولې وم ، هم د خبرو څخه یې فکر یوړم. رښتیا یې ویل.
ځان سره مې وویل: تر اوسه یې راته کمه بده نه ده کړې د دي وروسته هم خپله خپل فکر نیسم
لاړم ټول کالي چې مي تازه د خیاط څخه راوړې وه ، وایستل. یو ژړ رنګ کمیس مې واغوستی. سره او شنه ګلان یې درلود ، ډیر مې خوښ شو.
یو چرخ مې ووهل ، لمنه یې پورته شوه زړه مې یو رقم شو.
سینګار مې وکړ او د پخلنځي خواته لاړم.

شمایل زما په لیدو سره وویل: الا څنګه ښایسته شوې یې
ومې ویل: راځه چې پخلی وکړو

شمایل: نه نه ته یې مه کوه بیا کالي دي د پیازو بوي نیسي
یوازي لري ودریږه او وي ګوره چي زده یې کړي
شپه د ډوډي پر وخت ټول راغلي وه. جلال راغی سلام یې وکړ او مستقیم لاړی خپل د پلار څنګ کي کښیناستی.
هر څومره چي مې ورته وکتل ، هیڅ یي ونه لیدلم.
په همدي وخت کي جمال راغی او وي ویل: ورینداري نه پوهیږم څنګه درته ووایم ...... تسلیت وایم آخر غم دي یې .... پلار جان دي وفات کړی موږ ته یي ناوخته خبر راکړ

همدا اوس مي واوریدل راغلم چي خبره دي کړم ، باید لاړشو ستا د کاکا کورته د دي خبري په اوریدلو سره مې حال خراب شو او کاچغه مې د لاسه ولویدل ....

.... لیلا .....

د ډیر خوشالي نه مې اوښکي رواني وي.
ومې ویل: ډیر ناوخته راغلي ، خو ښه شو چي راغلي
رضوان په خندا وویل: خپل د سرې پسي دیغ شوی وم برایي مي حرکت کړی وو اوس ورسیدلم
څنګه یې؟؟؟ دلته دیغه شوې خو نه یې؟؟؟
ومې ویل: ډیره دیغه شوې یم ، ډیررررررررررره
عمه د پخلنځي څخه راووتله او وې ویل: ماشاءالله! سترګې مو روښاني چي د عمه زړګی راغلی ، ستا تر سر وګرځم

سترګې مې په عمه کي پاته وه. یو زر واره یې خو رضوان ښکل کړ.
وې ویل: راځه چي تازه مې چاوي دم کړي ، وي څښه چي ستړیا دي ووځي
څو ساعته مې برګي برګي کتل. عمه کیسی کول او رضوان هم اوریدل.
په زړه کي مې وویل: دا بل غم! رضوان نفري پیدا کړه زه دلته هسي ناسته یم
چي یو وار عمه وویل: زه ځم دیګ ګورم بیرته راځم

همدا چي عمه لاړه د رضوان لاس مې ونیوی او ومې ویل: راشه چي یو ځاي ته دي یوسم

وي ویل: چیري؟؟

ومې ویل: بام

د بام سر ته مې یووړ. ښه تازه هوا وه. یوه قالینه مې پرون هواره کړې وه او تر اوسه هملته وه پر هغه کښیناستلو.

ومې ویل: ته صبر دروازه بنده کړم چي یوار عمه رانشي

رضوان: مه کوه اوس به مي بیابه بیابه کړې

ومې ویل: داسي یوه ښځه نه ده ، ډیره مهربانه ښځه ده

یو ځاي مو د ګاونډې د کور په دیوال تکیه وکړ. رضوان ډیر ستړې او ستومانه معلومیدی.

ومې ویل: که ستړی یي تر شپي بیده شه بیا زه دي ویښه وم

رضوان: نه بیا شپه خوب نه راځي هغه څنګه کړم؟

څو شیبي همداسي ناست وو. رضوان هیڅ نه ویل ، معلوم وو چي د یو موضوع څخه خفه دی.

ومې ویل: خیریتي خو ده؟؟ یو په دوه راغلي اوس هم ښه نه معلومیږي

رضوان: نه هیڅه خبره نه ده لیلا

ما هم د پرون ورځي کیسه ټوله وکړه چي جلال راغلی وو.

د رضوان اعصاب خراب شوه ، وي ویل: څنګه پوه شو چي ته چیري یي؟

ومې ویل: ولا نه پوهیږم ، موږ ته هم سوال دی

رضوان فکر یووړ چي پوښتنه مې وکړه: پر چا ما شک لري؟؟

رضوان: نه .... نه یي لرم

خپل لاس مې د ده پر سر تیر کړ ویښتان یي زما په لاس کي راغله. همداسي مې پر ویښتانو لاس تیرول. ومې ویل: رضوانه

رضوان: جان!ووايه
ومې ويل: خپل ويښتان مې غچي کړه
ورخطا يي وويل: څه؟؟؟؟؟
په خندا مې وويل: ټول نه ، يوازي مې د سر څلور ګوتو په اندازه غچي کړل ، خراب شوي وه
رضوان: ته کم ، راويښيه
خپل ويښتان مې خلاص کړل ، وي ليدل او وي ويل: دي خو هيڅ تغيير کړی نه دی
ومې ويل: اوس يي راته ووّيه
په خندا يي وويل: ای شوخکې! غوښتل دي خپل ويښتان راباندي ووّيي هسي لاف دي ووهل؟؟

ومې ويل: نه په رښتيا مې غچي کړي ، لږ غچي شوي ځکه دومره نه معلوميږي
زما ويښتان يي ووّدل چي ومې ويل: رضوانه
رضوان: جان رضوانه ، ووايه
ومې ويل: د کابل څخه احوال نلرم ، څه خبري وي؟؟
که څه هم د پوښتني وړ نه يم .... ما دوي خوشي کړه او خپله راغلم
هيڅکله د دي کار د پاره ځان نه بخښم ، مور مې دوي زما په اميد پريښودل او ما دوي د خداي په اميد ...
څنګه دي؟؟ پوهيږم چي زما څخه يي به بد راغلي يي خو د دوارو پسي ډيره ديغه شوې يم

.... رضوان ....

د ليلا د خبرو په اوريدلو سره زړه نازړه وم چي ورته ووايم که نه؟؟
که ووايم څه يي د لاسه نه کيږي هسي جګرخونه کيږي
يوه خبره خو نه ده ، سهيلا يي وړې ، حميرا او شګوفه ورکې شوې، پلار يې هم مړ شوی.

ومې ويل: خيريتي وه ، هيڅه خبره نه وه
ليلا: کور څنګه شو؟؟ اخيستی دی؟
ومي ويل: د بده مرغه کور مو د لاسه ورکړ ، ستاسو د کاکا کورته لاړل
ليلا: ښههههه ښه دی ، زلمی انسان شوی اجازه ورکوي پخوا خو داسي نه وو

ومي ويل: هو ډير دلسوزه شوی ، پام يي ستا خويندو ته دی
د ليلا ويښتان مي ووډل او خلاص شوه.
ومي ويل: ليلا راغلی يم چي يوه خبره درته ووايم
ليلا: څه شوي؟؟
ومي ويل: زه تا غواړم ، غواړم درسره واده وکړم ستا سره خپل ژوند جوړ کړم
خو زما فاميل زما د دي غوښتني د پاره يي يو شرط ايښی ..... د هغه د پاره تر دي
ځايه راغلم
ليلا: څه شرط يي ايښی؟؟
ومي ويل: زما کوچني عمه په امريکا کي ده هغه دعوت نامه راليږي تر څو زه لاړشم
هلته درس ووايم

پلار مي وايي چي زه ډير لايقه يم او په دي سن کي يوازي بايد خپل زده کړي ته پام
وکړم ، که ني اجازه نه راکوي چي ستاسره واده وکړم
ليلا: پلار دي ښه خبره کوي ، ستا درس ډير مهم دی
ته ډير لايقه يي او بايد درس ووايي
ومي ويل: ليلا ستا پام نه دی ، زه ستا څخه ډيررررررررررررر لري کيږم تا چاته
پريږدم؟؟؟
ليلا: خو واده کوو ما خپل د کورني څخه پريږده ، لاړشه خپل درس ووايه بيرته
راشه
زه هم د اوسيدلو د پاره ځاي نلرم ، تر کمه به ده عمه سره پاته کيږم؟؟؟
ومي ويل: ستونزه همدلته ده ، زما کورني د واده اجازه نه راکوي
وايي لومړی درس بيا واده

زه میاشت په میاشت ستا خرڅ درلیږم ته کابل ته مه ځه همدلته د عمه سره واوسه کوژده کوو ، زه څم خپل درس چي مي پاي ته ورسول یا تا ځان څخه غواړم یا خپله بیرته راځم

بیا هغه وخت شرایط ته په کتو سره پرېکړه کوو
اوس که واده وکړو د میني په خاطر نه بلکې د شهوت په خاطر دی
زما د خبري څخه غلط برداشت مه کوه لیلا خو زه اوس هیڅوک نه یم
زما خرڅ زما پلار راکوي خو زه هڅه کوم چي خپل ستونزي خپله حل کړم هغه وخت بیا ستا سره واده کوم
لیلا: د میني او شهوت تر مینځ څه توپیر دی؟؟؟ منګه دواړه سره یو نه دي؟؟؟
په خندا مي وویل: نه ، مینه یعني هر هغه څه چي لري خپل طرف کس ته یي ورکوي خو شهوت یعني هر څه چي هغه کس لري ته یي اخلي .

لیلا: ښههههه بیا کله چي دا دواړه یو ځاي شي څه ورته وایي؟؟
یعني هر څه چي لري خپل طرف ته یي ورکړي او هر څه چي هغه لري تري واخلي
ومي ویل: هغه ته وایي ابدي مینه ، په دي شرط چي دواړه دا احساس ولري
لیلا: بیشک فلسفه وایي
ومي ویل: نه څو کتابه مي د اجمل څخه واخیستل ومي ویل د هغه کتابو څخه پوه شوم
لیلا: ډیر ښه راځه ښکته لاړشو او عمه ته وواېو چي دخیره نامزاد کیږو
ومي ویل: هو راځه چي ځو

..... لیلا ....

شپه شوه او ټول کورني خبر شوه. ټول خوشاله شول بغیر د بي نظیر چي د هغې نظر راته ارزښت نه درلود.
وټاکل شوه چي رضوان لاړشي کابل ته او خپل د مور او پلار سره دلته راشي چي کوژده وکړو.

او وروسته د هغه هم رضوان امريکا ته د درس ويلو د پاره ځي او زه هم همدلته پاکستان کي خپل زده کړو ته دوام ورکوم.

.... حميرا ...

د څو ونو شاته پټه شوې وم. د کور څخه ډېر لري وم.
لږ پاته وو يو څه نور چي لاړشم ښار ته رسيږم او هلته هر چا ته چي ووايم راسره مرسته کوي.
يو څه نور مخته لاړم چي يو بازار مې مخته راغی. ځان مې يو دوکاندار ته ورسول او ومې ويل: کاکا زه يي غلا کړې يم
کورني مې په کابل کي ده ، ما زما کاکا ته ورکړی تاسو ته پيسي راکوي
دوکاندار چي يو څلويښت کلن سړی معلوميدی ، وي ويل: چا غلا کړې يې؟؟؟
ومې ويل: نوم يي بي بي حاجي ده

وي ويل: ښه ښه ته راځه زه تا د کابل د موټرانو هډې ته ورم د هغه ځاي څخه مستقيم کابل ته لاړه شه
دومره خوشاله شوم چي بيخي په آسمانونو کي وم. ومې ويل: مننه ژوندی واوسی
څو شيبي لا زموږ د تګ څخه نه وه شوي چي د بي بي حاجي مشر زوي مې وليدی

غوښتل مې وتښتم خو دوکاندار زما لاس کلک نيولی وو. هر څومره چي مې زاري وکړل زما لاس يې خوشي نکړ.
زه يي د بي بي حاجي د زوي په لاس ورکړم او وي ويل: دا دی قيسه وروره ، همدا نجلی وه؟؟؟
قيس وويل: هو خپله ده

د غوږه يي ونيولم او موټر کي وغورځولم. مرګ راته د منلو وو خو هغه کورته تګ راته هيڅ د منلو او زغملو نه وو. خدايه! ساه مې ونيسه.
هر څومره چي کور ته نږدي کيدلو زما بيره هم ډېريدل. ټوله لاره چي زه ځغاستلې

وم دومره لاره يي په موټر کي بيرته ورېلم.
کورته ننوتلو. لومړنی کس چي مې وليد بي بي حاجي وه چي يو ۉودلی رسي يي په لاس کي وو. د هغه سره تر ځايه چي توان يي درلود وې وهلم. هر څومره چي مې زاري وکړي هيڅا زما غږ وانوريدی.

زه يي پس خانې کي واچولم او وې ويل: نور د دي ځاي څخه نشي وتلي
ته په ښه توب نه پوهيږي خره يې ، خره
بايد يو ځل سهار وهل وخوري يو ځل شپه تر څو دي دا په ياد يي چي ونه تښتي
درته ډوډي درکوم ، د خوب ځاي درکوم بالا څه غوارې؟؟؟
واي دي وي ستا حال ته وه نجلي که د سراي دروازي ته نږدي شوې لا وې په پوست کي دي کوټم
زه دي لا نه يم پيژندلي دوه ورځي مې درته وخندل فکر دي وکړ چي ماته دوکه راکولی شې؟؟؟

د لاري د ستومانتيا او د وهلو د امله د بدن د درده مې ځان ښورولې نشو. د هغې غږ او چيغي راباندي بد لګيدل.
همداسي چي پر ځمکي پرته وم خپل لاسونه مې خپل پر غوږونو ونيول.
ځان سره مې ويل: مورررررررررررې
مورې چيرييييييي يييييې
زه دي پريښودلم او لاړې مورررررررررررې
د شعر په شان مې په لوړ غږ ويل. غوښتل چي بيا ما ووهې چي زوي يې د لاسه ونيول او وي ويل: پريږده يي ماشومه ده بس يې دي
دروازه يي قلفه کړه او بهر لاړل.

د کوټي چت يوه کړکي درلود او د هغه کړکي نه د لمر ځانګي د کوټي دننه راتلل.
همداسي چي پريوتلې وم او بدن مې هم بيحده درد کول ليلا مې په ياد شوه.
څومره هوسا په پس خانې کي بيده کيدله ، ارامه ، يوازي يو کنج کي ، چا هم ورته

نه ویل چي داسي وکړه او هغسي وکړه.
سترګي مې پټي کړي. ځکه چي برابي هم ټوله شپه ویښه وم خوب یوړم.
د چا د غږ په اوریدلو سره ویښه شوم. سترګي چي مې خلاصي کړي صوفیه مې مخامخ ولاړه وه.

وې ویل: ولاړه شه ډوډي مي درته راوړي ، په لوړ غږ خبري ونکړي چي بي بي حاجي یې اوري
ژر یې وخوره چي کاسه بیرته وړم
سترګې مې د اوښکو ډکي شوي او ومې ویل: بیرته یې ویسه ، نه یې خورم
وې ویل: داسي مه کوه درته مې غوښه راوړي وې خوره پر ځان چي هرڅومره وړیتوب تیر کړي څوک درته ارزښت نه راکوي
دا کور څه چي ټول کورونه همداسي دي ما درته یو څه ډوډي پټه کړي وه اوس مې درته راویستل

چي ډنګره شي ، ناروغه شي څه ګټه؟؟؟ پخداي که دي ډاکټر ته یوسې ، زه خپله څو واره ناروغه شوي یم چا ډاکټر ته وړي نه یم دومره جان درده شوم هیڅ څوک مې په کیسه کي نشو وایي خله ژر یې وخوره که ګیر یې کړو دواړه وهل خورو
صوفیې ته مې وکتل. وې ویل: مه ګوره وي خوره
کاسه مې خپل خواته کش کړه. شوروا یې راوړي وه. ژر ژر مې وخوړل ، ډیره وږی شوې وم.

ومې ویل: مننه ژوندې واوسې
صوفیه: ګوره حمیرا ... مه تښته. د بي بي اعتماد لاسته راوړه
دا ځاي تاته بهترینه ځاي دی ، ښوونځي ته دي ایږدي چي لاړشي زده کړه وکړي د دسترخوان پر سر یې خبري کول ما واوریدل
ضد مه کوه ارامه واوسه ، ډیر واوره لږ خبري وکړه د هر خبري پر سر جنجال او غالمغال مه کوه

پخداي داسي خو نکيږي ، هره ورځ هره ورځ تا وهې فکر کوي چي خره او غويې يې او په وهلو سمه کيږي خو ته منطق لري سمه ده چي ماشومه يي مګم ليونې خو نه يې
خپل فکر ونيسه حميرا جانې ، هڅه وکړه چي مثبت اړخ يي وګورې قسمت به دي همدا وو ... د کم وزير لور نه وي چي دلته يي راوړي واوسي د غريب سړي لور يي دا ځاي ستا د پلار تر کور زر برابره بهتره دی بيا هم خپله فکر وکړه زه ستا په ضرر خبره نکوم ځکه نغواړم چي هره شيبه څوک جزا ووينې او شکنجه شي
بيا ته خو ماشومه هم يې زړه مې کبابيږي چي هر وار وينم تا وهې
ومې ويل: سمه ده په اړه يي فکر کوم

.... شګوفه ....

عزيزه زما او د شعيب د واده د خبري وروسته شپه تر سهاره يي ځان په پاس کوټي کي بندي کړي وه او ژړا يي کول.
يو لور او زوي يې درلود ځکه چي ماشومان وه ما کرارول. شپي ته مې ډوډي جوړه کړه ، ومو خوړل.
ومې ويل: شعيبه لاړه شم عزيزه ښکته راوړم چي ډوډي وخورې؟؟

شعيب وويل: نه لازمه نه ده ، يو وار زه ولاړم خو رانغله
زما خبره چي نه اوري نو ستا خبره به چيري واوري؟؟
کښينه ډوډي دي وخوره هر کله چي وږې شوه خپله ځي ځانته ډوډي ځايه وي ماشومان مې ځان سره بيده کړل زما سره ډير عادت شوي وه. يو پينځه کلني لور يي درلود او يو دري کلن زوي.
زړه مې ورباندي وسوځيدي ، خو زه څه وکړم؟؟؟

زما ګناه څه ده؟؟ زه هم مجبوره يم که نې مې هيڅ نه خوښيږي چي د چا بنه واوسم ، نه پر خان شاه خوشاله وم نه هم پر شعيب خوشاله يم. هره ښځه غواړي چي ميړه يې يوازي د هغې واوسي او نغواړي چي هغه د چا سره وويشي.

باید سهار د نصیر سره خبري وکړم ، هر څنګه چي کیږي باید زما د طلاق کار خلاص کړي
نباید داسي په تمه ورته کښینم ، دا تمه زما په نفع نه ده.
سهار د هوا د روښانیدو سره مې شعیب ته وویل: نن باید نصیر ووینم
شعیب ځواب راکړ: زه نصیر راوړم ، ته هم هڅه وکړه چي عزیزه راضي کړې نغواړم چي جنګ جوړ شي

ته ښه اخلاق لري خو هغه په اساني نه راضي کیږي
په زړه کي مې وویل: زه ښه اخلاق لرم؟؟؟ په رښتیا د دي سړي په نظر زه څنګه ښځه یم؟؟؟
ومې ویل: سمه ده زه خپل هڅه کوم چي هغه راضي کړم ، که خداي وغواړي باید په یو کور کي ژوند وکړو نو نباید جنجال واوسي
شعیب: پخداي شاباس! عزیزه ستا په نیمایي عقل او منطق نلري یوه خبره نشي درک کولي ، باید یو جنګ یو غالمغال وشي تر څو پوهه شي
زه نو ځم نصیر ته هم خبر ورکوم خپله هم د دوکان خواته ځم ، کار لرم
د شعیب د تګ وروسته د عزیزي د کوټي خواته لاړم.

ومې ویل: عزیزي! شعیب تللی دروازه خلاصه کړه چي خبري وکړو
پوهیږم چي تیروتنه شوي خو شعیب راباندي مرکه وکړه زه هم مجبوره وم بله چاره مې نه درلود ..... ته هم ښځه یي ، ما درک کړه عزیزه جانې
د ځواب په تمه وم چي دروازه یې خلاصه کړه. سترګې یې سرې وي او ویښتان یې لکه لیونې ښځي دوه خواته خواره وه. د یو شیبي د پاره په رښتیا وبیریدلم.
ومې ویل: ګوره عزیزې ، زه .....
داسي یو کلکه څپیړه یي پر مخ راکړه چي خپل تعادل مې د لاسه ورکړ او پر ځمکي ولویدلم. تر څو چي پر سِد شوم او هڅه مې وکړه چي د ځایه ولاړه شم زما ویښتان یې ونیول او کش یي کړه. دومره یي پر له پسي په څپیړو وهلم چي هیڅ مې وخت نه پیدا کول چي د ځان څخه دفاع وکړم.

په وهلو کي ېيره تکړه وه. په لس دقيقو کي يي پوسته کړم.
ټيله مې کړه او د ښکته منزل خواته په ځغاستو شوم. سراي ته رسيدلې وم چي نصير تازه په سراي ننوتی.
زما په ليدو ورخطا شو او وي ويل: څه شوي دي عمه جانې؟؟؟
ومې ويل: دا ليونې ښځه غوارېي ما مړه کړي
پخداي قسم هيڅ مې فکر نکول چي دومره زوروره به يي
عزيزه دباندي راغله. په چيغو يي وويل: دا فاح..... خرابه ښځه بايد د دي کوره يوسي

نصير وويل: خوري ستا ميړه خپله ورباندي مرکه کړي ، تا دا ولي پسي اخيستي؟؟
لاړشه خپل ميړه اصلاح کړه
شگوفه نه ، ځي بله ښځه کوي ته داسي څو ښځي وهي او ټکوي؟؟ لاړه شه خپل ميړه اصلاح کړه
عزيزه کورته لاړه ، خپل چادري يي واخيستل او په غوسه د کوره ووتله.
نصير وويل: څنگه هغې ته ووهلې او تا د ځان دفاع ونکړه؟؟
ومې ويل: هيڅ څهرې ته يي نه پاته کيدل چي دومره زوروره به يي
د پزی نه مې وينه بهيدل ، پاکه مې کړه.

نصير: عمه جانې ، دا خبره خپله حل کړه مخصد خان شاه مړ شوی دی
راتلم درته ووايم چي شعيب راپسي راغی
نور طلاق ته هيڅ اړتيا نلري
د عزيزي سره هم کار مه لره چي يو څو ورځي دي پرده په دي کور کي وشی
ومې ويل: دا برخه يې ماته پريږده ، پوهيږم چي څه وکړم
ښههههه دا خان شاه ګک هم لاړي نو
نصير: هو زما يو ملگري راته احوال راکړ

پام دي يې زلمی درپسي دی ، کم ليونتوب ونکړي چي د کوره دي وباسي ، تر څو چي زلمی درپسي دی خپل غږ مه باسه آرامه واوسه تر څو چي يو څه قراري او ارامي شوه بيا هر څه چي دي کول ، وي کړه
ومې ويل: زما هم همدا په فکر کي دي که ني د دي عزيزې ځواب مې ښه کلک ورته ورکول
خو هر شی خپل پر وخت ....

.... سهيلا...

هره ورځ زما د پلار په ختم او فاتحي کي مصروفه وو. ټول زما څخه راتله او راته يي تسليت ويل.
د جلال مور وويل: ښه درنه کښينه ، په نزاکت د خلکو ځواب ورکړه ، د ټولو څخه مننه وکړه د دوي د محبت او تسليت ويلو د پاره
دا ستا شخصيت ښيي
ومې ويل: سمه ده مور جانې ، خپل پام نيسم
د ختم په وخت کي زليخا راغله زما څنګ ته ، يو خرما يې زما په لاس راکړه او وې ويل: وې خوره ، د سهاره څخه دي هيڅ نه دي خوړلي
وامې خيستل او ومې خوړل.
ومې ويل: جلال دي نه دی ليدلی؟؟؟
وې ويل: نه ، خو جمال مې ناري کړ چي وي وينم ، ورپسي ديغه شوې وم
ورته مي وکتل او ومې ويل: ليونې شوې يې؟؟؟

زليخا: نه ولي؟؟
ومې ويل: ميره دې دی ، سهار دي وليدی بيا دي وغوښتل ځکه ورپسي ديغه شوې وې؟؟؟
زليخا: هو ، ورپسي ديغه شوې وم نارې مې کړ او ورته مې وښودل چي څومره راته ارزښت لري دا بايد هر وخت ورته يادونه وکړي چي فکر وکړي ډير مهم دی او زه

ورته ارزښت ورکوم
خرما مې وخوړل او ومې ویل: زه جلال نارې کړم؟؟؟
زلیخا په خندا وویل: شاباس! زده دې کړه
دا ورته وښیه چې د خفه توب په وخت کي هم د هغه په اړه فکر کوي او دی تاته تر ټولو ارزښتمنده او اړین دی

ومې ویل: اوس یي څنګه نارې کړم؟؟
زلیخا: صبر زه ور غږ کوم
زلیخا بهر لاړه زه هم د دروازي نږدي ودریدم. ډیر مې استرس درلود. خدایه اوس ورته څه ووایم؟؟؟
ګورم چې د زلیخا سره راغی. زلیخا زما تر څنګ تیره شوه او مسکا یي وکړل.
ځان سره مې وویل: خدایه خپله راسره مرسته وکړه
جلال وویل: څه خبره شوي؟؟ زلیخا ویل چې زه دي په کار یم
دواړه سترګي مې په جلال کي پاته وه. بیا مې وویل: خدایه اوس څه ووایم؟؟؟
ومې ویل: ښه یي؟؟
جلال خپل یو ورځه پورته کړه او وي ویل: د همدي پوښتنه دي کول؟
ومې ویل: زه ..... هو .... همدا مې ویل
جلال په خندا شو. خپل خوله یي سره ونیول او وي ویل: ختم دی هسي راته خندا مه راکوه

دومره لاره دي زه وغوښتلم چې همدا ووایي؟؟ ډیره لیونې یې
دا دي د زلیخا څخه هم پوښتنه کولی شو
او دوام یي ورکړ: څه کښینه ټول ستا د پاره راغلي دي ، زه هم ځم کار لرم
یوازیني زوم یي زه وم
د ډیر شرمه مې سر پورته کولی نشو. بیعقل هلک یوازي همدا رشخندي یي زده.
حیف زما د وخت .... حیف!
غوښتل مې بیرته د کور دننه لاړه شم چې جلال وویل: چیشت دوري

ورته مې وکتل. وي ويل: مننه چي پوښتنه دي وکړه
يو مسکا يي وکړل او لاړی.

دومره خوشاله شوم لکه ټوله نړي يې چي راته راکړي يي. خپل پوړني مې خپل د خولي وړاندي ونيوی او دننه لاړم.
شپه شوه او د جلال مور وويل: يو ځل ځو کورته بيا بيرته راځو ، يو کالي بدل کړو ، يو حمام وکړو
ومې ويل: سمه ده ځو
د کور خواته مو حرکت وکړ.
زليخا وويل: مور جانې ، که کيږي ..... يعني تاسو نه په قهر کيږي زه دا وار رانشم
د جلال مور وويل: نه ، دا خبره بيا څه معني ورکوي؟؟؟ ستا د ليوره د ښځي پلار وفات شوی بايد د سهيلا سره کښيني

خلک به څه ووايي؟؟ دا شيان د يو کورني نزاکت ښکاره کوي
زليخا: سمه ده هر څنګه چي تاسو وايست
زه يي څنګ ته ناسته وم ، کرار مې وويل: هيڅه خبره نه ده ګرانې کولې شې کور کي کښينې او رانشي ، زه نه خفه کيږم
زليخا وخندل او زما په خير همداسي کرار يي وويل: مور جانه پريکړه کوي ، هسي ما او ځان مه بيابه کوه
ومې ويل: مخصد زما د خوا څخه آزاده يې
جلال په جلو ناست وو او مورجانه يي هم څنګ کي ناسته وه. زه او زليخا هم شاته وو.

زليخا ماته وکتل ، يو سترګکه يې ووهل او ژر خپل لاس يي د جلال په مغزي ووهل
جلال د هينداري څخه ماته وکتل او وي ويل: څه وايي؟؟
دا ټول په څو شيبو کي پيښ شوي وه او ما هيڅ ويلو ته نه درلود.
ژر مې وويل: يو څه ماڼه واخله

په خندا شو او وي ویل: سمه ده اخلم یي ، یوازي غږ وکړه دا لاسونه بیا ولي غورځوي؟؟

د ډیر شرمه اوبه اوبه شوم. زلیخا ته مې وکتل چي خپل پوړنی یي خپل پر خولي نیولی وو او د خندا نه شنه وه.
په زړه کي مې وویل: صبر چي ورسو زه درسره کار لرم ، بي تربیې
اوس زه څنګه جلال ته وګورم؟؟؟ اووووف
جلال یو ځاي موټر ودرول او وي ویل: بل شی می دي په کار نه دي؟؟
سر مې ښکته وو ، زلیخا په بازو ووهلم. پورته مې وکتل او ومې ویل: نه ، مننه
جلال چي لاړی مور یي وویل: په ژبي به دي ورته ویلی وی دا په لاس وهل بیا څه معني؟؟؟

ته نوره ماشومه نه یي غټه ښځه شوې یي! یو څه مینه او محبت زده کړه دا دی زلیخا خو شته د دي څخه یي زده کړه لورې
دا هلک بي د هغه هم یاغي دی چی بدتر نشي بیا خپله ورسره په غم پاته کیږي ، زلیخا ته وګوره چي د جمال سره څنګه خبري کوي د دې څخه یې زده کړه
د هر انسان څخه ښي خبري او ښه چلند یي زده کړه دا ستا خپل د پاره ښه دی
ومې ویل: سمه ده مور جانې په سترګو ، صبر چي کورته ورسو
زلیخا ته مې وکتل چي ځان یې د موټر پر دروازي تکیه کړې وه او خندل یې.
کورته چي ورسیدلو زلیخا ژر ښکته شوه ، زه هم ورپسي ښکته شوم او په لاس مي چونګاړي کړه چي چیغي ووتل.
د جلال مور ناري کړه: څه خبره شوي؟؟؟ دا څه غالمغال دی؟؟؟

ومې ویل: هیڅ ، د زلیخا پښه بنده شوه مور جانې
زلیخا وویل: هو مور جانې کمیس مې اوږد دی ځکه
د جلال مور وویل: یو څه شرم وکړې غټې ښځي یاست
راځي دننه چي وخت نلرو باید بیرته لاړشو

دننه تلو چي جلال د بازو څخه ونيولم او وي ويل: ته صبر
لاس غورځوي ، د ورځ په مينځ کي راپسي ديغه کيږي ، خيريت خو دی؟؟؟
ومې ويل: داسي يوه خبره نه ده ..... پخداي خپل پوړنی مې جوړول لاس مې
ومښتی .... ډير جدي کيږه مه
جلال: ښهههههه خپل پوړنی دي جوړول؟؟؟
ومې ويل: هو

نور ونه دريدلم او ژر مې ځان کورته ورسول. ومې ويل: خدايه بيا مې په عمر داسي
مه شرموی
پاس د زليخا څخه لاړم او ومې ويل: ولي داسي کوي؟؟ فکر کوي چي زه ورباندي
پلان لرم
زليخا وويل: خو ته يي ښځه يي ، داسي شرميږي چي توبه
ناړې يي کړه ، د کالو د رنګ په اړه ورڅخه پوښتنه وکړه ، ورته ووايه چي شپي ته
څه شي ته دي زړه کيږي ، خپل په خوښه ورته کالي جوړ کړه چي وايي غوندي ته
خو هيڅ نه کوي

داسي چلند چي ته لري دا هيڅ ګټه نلري ، ته يي په زړه کي هيڅ ځاي نلري که يو بله
نجلي يي خوښه کړه بيا څه؟؟ ځي بله ښځه کوي بي د هغه هم ته يي د اولنه نه يي
ټاکلي ستا سره د نکاح د منلو يو شرط يي هم همدا وو چي تا اوس د پاره وکړي که
بيا ته يي خوښه نشوي خير دی بله ښځه ورته کوي
مور او پلار يي دا شرط ورته ايښی ځکه ده ومنل
پخداي ځي هغه د خاله لور يي ورته کوي ، ته په دي کور کي لکه مينځه کيږي
تا يي د خاله لور نه ده ليدلي داسي جنګره ده چي څه ووايي ، پر بني هم راځي ،
سل برابره تر تا ښايسته هم ده

خپل فکر ونيسه بيا ونه وايي چي ماته دي نه دي ويلي
هر څه چي زليخا وويل زه يي ډيره وبيرولم. خدايه اوس څه وکړم؟؟؟

ومې ویل: زه نو څه وکړم؟؟ دی هیڅ علاقه نه ښيي که ورته کم څه ووایم هم راباندي ملنډې وهي
زلیخا: ځکه چي د ماشومانو خوی لري
ګوره چي درته يي وخندل هسي مه خوشالیږه ډېر که ضرور وو یوازي یوه لنډه مسکا وکړه
بل ښه شخ او استواره په لاري لاړه شه
ته سپینه یي روښانه رنګ کالي واغونده ټول کالي دي خټه رنګونه دي څه خبره ده درباندي؟؟؟

تل ورته وګوره او کله چي يي پام شو ، خپل مخ واړوه
کله چي درڅخه راغی تر ځو کم څه ووايي ، ځان مصروفه وښيه یا ژر ووایه اوس کار لرم ځم بیا وروسته راته ووایه
داسي کار وکړه چي هره شیبه يي فکر ستا خواته يي
حتي یو څه يي اعصاب هم خراب کړه خو د یو لاري نه د یو لاري څخه باید د ده فکر ستا خواته يي

هیڅکله يي خنګ ته مه کښینه ، مخامخ يي کښینه ، هر خواته يي چي وکتل باید یو وار سترګه يي تا ووینې پوهه شوې؟؟
ومې ویل: هو پوهه شوم
زلیخا: شاباس! ځه نو اوس تیاره شه چي بیرته باید لاړشو
بیا وروسته درته نور شیان هم وایم ، اوس نکیږي

.... شګوفه ....

عزیزه نږدي و ماښام ته وو چي کورته راغله. لاړه پخلنځي ته تر څو پخلی وکړي. ډیره حیرانه شوم. څنګه داسي آرامه شوې ده؟؟ خپل ځان مې سره جوړه کړه او شعیب ته په تمه شوم.
څو ساعته وروسته شعیب راغی. زما په لیدو سره يي وویل: ښه يي؟؟؟

ومې ويل: هو ، ښه يم

شعيب: يو رقم پرېسيدلې يې څه درباندې شوي؟؟؟

ومې ويل: څه نه دي شوي ، غوماشي شکولي يم ، ښه يم

عزيزې خپل لور ته بدوبدې ورکول زما د خبرې په اوريدلو سره يې په حيرانتيا راوکتل.

په زړه کې مې وويل: صبر چې پښې مې په دې کور کې ټينګې شي بيا زه درسره پوهيږم

همدې وخت کې شعيب وويل: خبر شوم چې ميړه دې مړ شوی ، نور طلاق ته اړتيا نشته درې مياشتې صبر کوو وروسته بيا نکاح کوو

سبا لاړشو چې درته کالي واخلم همدا يوه جوړه لرې داسې خو نه کيږي

ومې ويل: مننه ژوندی واوسی ، ما نصير ته وويل راته يې راوړې

شعيب: دا څنګه خبره ده؟؟؟

نور ستا مسئوليت زما په غاړې دی ، زه خپله ستا خرڅ درکوم نور نصير ته ونه وايې چې بيا خفه کيږم

خپل سر مې ښکته واچوی او عزيزې ته مې وکتل. ماتله وم چې يو څه ووايې چې

وې ويل: هر څه چې شکوفې ته اخلې بايد ماته يې هم واخلې

شعيب: سمه ده اخلم يې ، مخصد د يو بل سره جوړ راشی

ومې ويل: زه خو مشکل نلرم

عزيزې وويل: زه يې هم نلرم

شعيب: ځه شکر ، فکر مې نه کول چې په دومره هوساتوب به حل شي

پوه ښځې ياست ، خپله سره جوړ راغلی

په زړه کې مې وويل: دا عزيزه هم ډيره هوښياره ده پخداي

پام مې بايد ورته يې ....

.... حميرا ....

د خوبه ويښه شوم. صوفيه راغلې وه او راته يې بدوبدې راوړې وه.

ځومره دا نجلۍ ښه نجلۍ ده!
ډوډې مې وخوړل. بیرته یي کاسه وړل چي ومې ویل: ته زما لیلا خور راپه یادوي
وې ویل: ښه ځه شکر چي یو اشنا احساس دي پیدا کړ ګراني
ته هم لکه زما کوچني خور یي ، ډیره راته ګرانه یې
صوفیه بهر لاړه. ومې ویل: داسي ښه شو نور راباندي کار هم نه کوي ، اوبه او ډوډې
هم لرم صوفیه هم خوږه نجلي ده بیخي د لیلا په شان ده
خدااااایه ځومره ورپسي دیغه شوې یم ..... کاش زه هم د لیلا څخه وی
کاش زه یې هم ځان سره وړی وی ، زه یي یوازي پریښودم
خداي دي وکړي چي ښه واوسې

.... صوفیه ....

د انباره راووتلم چي بي بي حاجي نارې کړم ، ورڅخه لاړم.
وې ویل: څنګه شو؟؟ ډوډې یي وخوړل؟؟؟
ومې ویل: هو وې خوړل
بي بي حاجي وویل: څه ښه دی ، کرار کرار د دي کور سره هم عادت کوي ، باید ډیر
پام دي ورته یي
ومې ویل: بي بي جانې ، دا نجلۍ خو ښوونځی ته نه ایږدي ولي دي هسي وویل چي
د ښوونځی اجازه لري؟؟؟
بي بي حاجي په خندا وویل: ما ورته د آزادي ژمنه ورکړه
د دي کال څخه خو خبره خطا شوه بل کال ته ښوونځي پرانیستل کیږي ، څو
میاشتي وخت شته تر هغه وخته اموخته کیږي ، نور نه تښتې
بیا هغه وخت پریکړه کوو چي څه وکړو
پام دي یې چي درباندي پوهه نشي

ومې ویل: زړه مو جیمي ، نه پوهیږي
بي بي حاجي: شاباس لوري ، داسي ښه شو زما خپل تر لاس لاندي روزل کیږي ، رزاق ته یي کوم
ومې ویل: رزاق خو کوچنی دی ، تازه د اتلسو شوی دی
بي بي حاجي: اوس نه څو کاله وروسته درته یادوم اوس رزاق په کابل کي ښه کار وکړي پیسی دي ټولي کړي ، بیا ورته حمیرا ناوي کوم
ډیره ښایسته ده، داسي نجلي مې مفته چیري پیدا کولی شو
ومې ویل: خپله پوهیږي زه څه ووایم
بي بي حاجي: هو ښه فکر دی ، دا نجلی د رزاق ناوې کوم

.... لیلا ....

د عمه سره بازار ته لاړو. رضوان هم زموږ سره وو. څو جوړي کالي مې واخیستل.
عمه وویل: باید ورینداره راشي بیا نور خریدونه به وکړو نن یوازي ساده او کوچني شیان اخلو
ومې ویل: هر رقم چي تاسو وایست عمه جانې
وې ویل: نه لورې خپله باید نظر راکړي داسي نکیږي چي زه یي خوښ کړم ، زه سپین سرې ښځه ستاسو ځوانانو په سلیقي څه پوهیږم؟؟؟
ومې ویل: نه ماشاءالله اوس هم ځوانه یاست
په خندا یې وویل: نه ، نور مې زړه هم ځوان نه دی چي ځان ته دوکه ورکړم سر مې سپین شوی

رضوان وویل: ټوکي کوي لیلا ، بیا په کوژدي (نامزادي) کي وګوره چي څنګه راسته او چپه درته رقص کوي هههههههه
په خندا مې وویل: ربښتیا وایي عمه جانې؟؟ نځا دي زده؟؟؟
په څپیړي یي کرار رضوان په شا ووهل او وې ویل: دا هلک تل زما رقص باندي ملنډي وهي هههههه

رضوان: نه ، په رښتیا جالبه رقص کوي لیلا ، باید یي ووینی
ومې ویل: ځو ورځي وروسته یي دخیره وینم
خریدونه مو خلاص کړل او ستړي ستومانه د کور خواته روان شوو.
رضوان وویل: مدینه او مور مي بل سبا راځي ، پلار مي بیا شنبي ته راځي
تر هغه وخته ما او تا په اسلام اباد کي ګرځو

ومې ویل: ډیر ښه کیږي بي د هغه هم ما هیڅ ځاي نه دی لیدلی ، تل په کور کي وم
عمه وویل: فرشته هم ستاسو سره راځي ، یوازي اجازه نشته هههههه
رضوان: نه نو عمه ، داسي مه کوه
عمه: نه داسي نه کیږي ، لیلا زما د کوره ځي باید پام مې یي

.... جلال .....

سهار وختي د کوره ووتلم او د فاروق د کور خواته لاړم. دروازه مې وټکول ، خلاص یي کړه او وي ویل: دننه راځه وروره
ومې ویل: نه مننه ، باید خپل د خسر کورته لاړشم ، هغه کار چي مي درته ویلی وو ځنګه شو؟؟؟
فاروق: ولا وروره پرون ډیر وګرځیدلم ، هر ځوک چي ستا د خسر د کور نږدي وو څخه مي پوښتنه وکړه یوازي یو دوکاندار وویل چي په همدي ښو باندي یو نجلي لیدلي چي د ده څخه یي زردآلو اخیستي
دوکان یي د بازار په مینځ کي دی
ومي ویل: زلمی وایي د حوزي آمر ، شریف ته یي خبر ورکړی
فاروق: د شریف د لور واده دی ولاکه د دي خبري پسي وګرځي هسي یي د زلمی زړه ښه کړی

ومي ویل: ته صبر زه ځم د حمیرا انځور پیدا کوم بیا ځو د دوکاندار څخه
فاروق: ښه خبره ده ، که انځور واوسي خو ډیر ښه کیږي
ومي ویل: سمه ده زه اوس ځم ته هم لاړشه زموږ دوکان ته او ماته په تمه شه

وبخښي چي سهار وختي مي ويښ کړي
فاروق: خير دی ، کال په دوولس مياشتو مزاحمت کوي نو څه چاره لرم؟؟
ومي ويل: لاړشه شکر وکړه چي زما په څير ملګری لري ، هره شيبه حتي سهار وختي دي لا احوال اخلم هههههههه

د فاروق د کوره ووتلم او په موټر کي سپور شوم.
ومي ويل: نن بايد دا خبره فيصله کړم ، يو بي کسه ښځه ورکه شوي ، پوليس هم خپل په فکر کي دی هسي حميرا بيچاره په مينځ کي بنده پاته ده
د زلمی کورته ورسيدلم. قباد په سراي کي وو. غږ مي کړه: وه هلکه سهيلا ته غږ کړه

بد بد يي راوکتل او وي ويل: خپله يي ناري کړه ، زه کار لرم
ومي ويل: دا ستاسو کور دی ، بيا دننه سياسرې دي زه څنګه ننوځم؟؟؟
لاړشه يو وار يي ناري کړه ، څومره بي ادبه وي پلار ته دي وايم
يو اوږد اوووف يي وايستي او په ټيلو ټيلو لاړی او ناري يي کړه.
په زړه کي مي وويل: دا نو څنګه هلک دی؟؟ بيخي د نجونو په شان دی
د زلمي زړه هم ښه دی چي زوي لرم
څو شيبي وروسته سهيلا راغله او زما په ليدو يي مسکا وکړل. خپل د کميس لمنه يي تر څنګونو پورته کش کړه. خندا ونيولم. چي د زليخا تنګ کالي واغوندي خود به داسي کيږي

ښکته يي وکتل چي ونه لويږي ، کرار کرار ښکته کيدل. ښه مي ورته وکتل.
څومره دا نجلي جالبه ده ..... څومره ساده او په زړه پوري خبري او چلند لري. د سهيلا په ليدو تل ښه احساس پيدا کوم.
د ليلا سره ډير توپير لري. ليلا غوسه ناکه وه ، دا ارامه ده ، خنده رويه ده ، په زړه پاکه ده د هيچا په وجود کي بدي نه ويني.
نږدي راغله. ومي ويل: سلام سهار پخير
وې ويل: د څه شي سهار؟؟ اوس خو غرمه ده

ومي ویل: خیر خیر زه همدا څو شیبي مخته د خوبه ولاړ شوم نو ځکه راته سهار دی پوړنی یي د سره ولویدی ، بیرته مي پوړنی پورته کړ او ویښتان مي په پوړني کي ووهل

ومي ویل: څه جبر وو چي ویښتان دي توني کړه؟؟
صاف بالا ښایسته وه.
پام مي شو چي سترګي یي د حیرانتیا نه غټي غټي شوي او ماته ګوري. بیرته مي ځان جدي ونیوی او ومي ویل: نور دي سر لڅ نشي ، نور زما ناموس ویل کیږي نه مي خوښیږي چي څوک ستا سر او ویښتان ویني
په ښوونځي کي لڅ سر واست خیر خو زموږ په کور کي لڅ سري رواج نه ده
سهیلا په بیروونکي غږ وویل: ښه ..... ښه په سترګو
ومي ویل: رښتیا د حمیرا انځور لري؟؟
سهیلا: څه یي کوي؟؟

ومي ویل: چي ورپسي وګرځم بي انځوره خو نکیږي.
سترګي یي د اوښکو ډکي شوي او شونډان یي په لرزیدو شوه.
وې ویل: ډیره مننه ، ستا تر راتګ مخته مي زلمی کاکا ته وویل چي حمیرا څنګه کیږي وي ویل پولیس ورپسي ګرځي ، زه هیڅ نشم کولی
باړخوګان مي ځیني پاک کړل او ومي ویل: زه یي پیدا کوم ، ژمنه درسره کوم چي پیدا کوم یي ډیر جګرخوني مه کوه ، هسي هر شیبه هم مه ژاړه دغه هر دقه ته ژاړي

همداسي چي ژړل وې ویل: ډیره دیغه شوې یم ، لیلا نشته شګوفه حمیرا یي وړې ده زه ډیره یوازي شوې یم ، هیڅکله مې ځان دومره یوازي نه وه احساس کړي
زموږ د کوره نور څوک پاته دي؟؟؟
ټول لاړل ، زه هڅه کوم چي ځان ارامه کړم خو نه کیږي
که لیلا وی ډیر ښه کیدل ، هغې تل یو لاره په فکر کي درلود ، زه بي عقله یم هر

ځومره چي فکر کوم شګوفې د چا سره تګ راتګ درلود نه مې په یادیږي
دا زما د بیعقلتوب ځخه دی چی اوس هیڅوک نه پوهیږي حمیرا چیري ده

زړه نازړه وم خو خپل خواته مي کش کړه او په غیږ کي مي ونیوله او د هغې سر مي خپل پر ځیګر پریښود. غوښتل مي ووایم: ډیر جګرخوني مه کوه چي خپل دواړه لاسونه يي زما تر ملا تاو کړل او کلک يي په غیږ کي ونیولم. یو رقم شوم احساس مي وکړ چي چا راته اور واچول یو په دوه مي بدن اور واخیست.
ومي ویل: خدایه خیر ، په ما څه وشوه؟؟
یوه ژوره ساه مي واخیست او د ځان ځخه مي لري کړه. دواړه سترګي يي په ما کي وه او حیران يي راته کتل.
د څو شیبو د پاره مي خپل لاس او پښه ورکه کړه. د مني په ساړه هوا کي مي خوله کړې وه.

ومي ویل: همم دغه ..... ګوره یو نفر وویل چي کټ مټ د حمیرا په شان یو نجلي د هغه ځخه زردآلو اخیستي
سهیلا: ویییییي حمیرا ډیر زردآلو خوښول
ومي ویل: ښه دا خو بیخي ښه شو
نو د هغي یو انځور راته راکړه چي په اساني ورپسي وګرځم
سهیلا: په هغه کوټې کي زموږ د کور شیان دي ، هلته يي یو انځور شته ته صبر سهیلا کوټي ته لاړه. یو ژوره ساه مي واخیست. د زړه درزا مي ډیره زیاته شوی وه. په ما څه وشوه؟؟؟ تر اوسه داسي شوی نه وم.
شاوخوا مي وکتل یو نل وو لاړم خپل لاس و مخ مي پریویستل چي سهیلا راغله انځور يي راکړ او وې ویل: وایي خله ، دا انځور يي د تیر کال دی ، ښوونځي غوښتي وو یوه قطعه پاته وه

وامي خیستل او ومي ویل: سمه ده همدا هم صحیح دی
ورته مي وکتل او دوام مي ورکړ: زه ښایي ناوخته ستاسو پسي راشم ، د جمال سره

کورته لارښی
سهیلا: سمه ده مورجانې ته وایم
د کوره ووتلم او د موټر خواته لاړم. خندا نیولی وم توبه! یو په دوه راباندي څه وشوه؟؟؟
د دوکان خواته روان شوم

فاروق مي واخیستی او یو ځاي د بازار خواته لاړو. د دوکان مخته ښکته شوو. یو میوه فروشي وه.
د روغبړ وروسته مي وویل: وروره وبخښی دا نجلي مو لیدلي؟؟؟
انځور ته یي چي وکتل په خندا شو او وي ویل: هو څنګه مي نه ده لیدلي؟؟
دا هره ورځ د ښوونځي د لاري راتله د دوو زردآلو په اندازه یي پیسي راکول او دوه زردآلو به مي ورته ورکړه کله کله به یي هم پیسی نه درلود بیا مي ورته یو دانه ورکول ، ډیر زردآلو یي خوښیږې
ومي ویل: څه شکر نو همدا نجلي ده
وروره دا نجلي یو چا د کوره وړي ده ، یو شین سترګي او سپینه ښځه ده یو څه چاغه هم ده ، چادري اغوندي خو ومي ویل ښایي چادري یي پورته کړي یي او تا لیدلي یي

وي ویل: هغه ښځه د دي نجلي څه کیږي؟؟؟
ومي ویل: همدا ښځه چي مي یاده کړه د دي مېره کیږي خو نجلي یي تښتولې ده
وي ویل: ولا دا ښځه چي وایي ما نه ده لیدلي
دا نجلي یو ماښام راغله ، دوه کیلو زردآلو یي واخیستل ، زه حیران شوم ځکه دي هیڅکله دومره زردآلو اخیستي نه وه
ذبیح ورسره وو همدا د کوڅي د سر دوکاندار چي قلم او کتابچه خرڅوي
ومي ویل: رښتیا وایي؟؟؟
وي ویل: هو وروره

حيران شوم. په زړه کي مي وويل: سهيلا داسي خپلوان نلري چي دوکاندار يي ، نو دی څوک وو؟؟؟
ومي ويل: مننه وروره ، خداي دي وکړي چي وکولی شم دا نجلي پيدا کړم
ميوه خرڅوونکي وويل: خداي دي وکړي! ښه نجلي وه خداي دي وساتي
د فاروق سره لاړو د ذبيح نامه دوکان ته. دوکان ته يي ننوتلو. يو د څلرويشت ، پينځه ويشتو کالو هلک معلوميدی تور تاو تاو ويښتان يي درلود ، پوست يي غنم رنګه وو ، او ږنګر وچ کلک وو. څهره يي سمت شمال خلکو ته ورته وه. سترې مشي مو وکړل.

وي ويل: څه مو په کار دي؟؟؟
ومي ويل: خان شاه څنګه دی؟؟ ښه دی؟؟؟
وي ويل: وبخښی ، زه خان شاه نه پيژنم
ومي ويل: اووووووو وبخښي وروره ، زلمی خان مي يادول
وي ويل: نه هغه هم نه پيژنم
د حميرا انځور مي وښودل او ومي ويل: دا نجلي راغلي ستا د دوکان څخه يي قلم او کتابچه اخيستي؟؟؟
رنګ يي وپريدی. وي ويل: نه ، نه ده راغلې
او خپل د خولي نارې (لاړې) يي تيري کړي. فاروق ته مي وکتل او ومي ويل: خير دی وروره ، خامخا دوکان مو غلط کړی ځم ستا د څنګ کتابچه فروشی څخه پوښتنه کوم

د دوکان څخه ووتلو. فاروق وويل: ده حميرا پيژندل
ومي ويل: هو ، ښه پوره يي پيژندل
موټر کي کښينه ، د لري نه يي تعقيبه وو
رضوان
شپه شوه. د ډوډې خوړلو حال کي وو چي دروازه وټکيدل فرشته لاړه دروازه يي خلاصه کړه. زما د مور غږ راغی چي د فرشتې سره يي سترې مشي کول.

ومي ويل: عمه! مور مي راغله
د ځایه ولاړ شوم ، لیلا ته مي اشاره وکړه هغه هم ولاړه شوه. د سترګي مشي وروسته لاړم خپل د مور بیک مي واخیست.

لیلا زما د مور لاس ښکل کړ. په همدي وخت کي عمه د سپانځو سره د پخلنځي څخه راغله او وې ویل: ماشاءالله ورینداره مې بعد د یو عمر زمونږ کورته راغلې
مور مي وویل: څنګه یي ضیا ګل جانې؟؟ د څه شي بعد د یو عمر؟؟ دري کاله مخته راغلې وم
عمه وویل: پر ما خو یو عمر تیر شو تر څو چي مي بیا ولیدلي
مدینه مي په غیږ کي ونیول. وې ویل: هله ژر شیریني راکړه چي واده دي دی
ومي ویل: څومره د پیسو شوقي یي ، د څه شي واده؟؟ یوازي کوژده ده
بیا مي درته وخندل زما پر اوږو پورته شوي
لیلا وویل: داسي مه وایه ګناه لري ، یو څو روپي ورکړه
ومي ویل: ته خبره نه یي چي دا څنګه نجلي ده تر څو چي دي جیب خالي نکړي ولاکه دي پریږدي هههههه

لیلا: خیر دی ، زه درته پیسي راکوم
مدینې وویل: خپل ښایسته ورینداره جارشم
لیلا ته مي وکتل ، مسکا یي وکړه او سره شوه.
ومي ویل: ورینداره! اوهوووو مبارک دي وي سرې جانې
د لیلا د شونډو مسکا لاړه او کلک یي چونګاړي کړم
ومي ویل: اخخخخخ ، مه کوه خوږ دي کړم
لیلا: صبر چي یوازي دي ګیر کړم اوس دلته خلک دي زر واره مې درته ویلي ماته سره مه وایه

په خندا مي بارخو کش کړ او ومي ویل: څه فرق کوي؟؟؟ په هر حال ته زما سره یي بل څوک حق نلري تاته سره ووايي

ليلا: ښه ښه کرار ټولو واوريدل
کرار مي وويل: کله چي شرميږي ډيره ښايسته کيږي
د ليلا خوله د خندا څخه نه ټوليدل.
مور مي غږ کړه: راشی د کابل څخه مي تاسو ته سوغات راوړي
هر چا ته يي يو څه راوړي وه. يو سيټ يي د بکس څخه وايستی ، ليلا ته يي ورکړ
او وې ويل: وايي خله ، دا مي د خواښې جانې وو غوښتل مې چي د اجمل ښځي ته
يې ورکړم خو رضوان سپين سترګي وکړه او تر اجمل د مخه واده کوي

ليلا وويل: نه نه خاله جانې ، دا اجمل ورور ته وساتی
مور مي وويل: نه لوري دا زموږ رسم دی ، دا د سره زرو سيټ د کور لومړي مژور ته
ورکوو
ته هم زموږ د کور لومړي مژور کيږي
د ليلا سترګي د خوشالي څخه وځليدلي. وې ويل: مننه ژوندې واوسې خاله جانې
مور مي وويل: نور ماته خاله مه وايه ، د رضوان مور يم د دي وروسته ستا مور هم
يم

د ليلا سترګي د اوښکو ډکي شوي ، لاړه زما مور يي په غيږ کي ونيوله. ډيره خوشاله
شوې وه.
مور مي سيټ د ليلا مخته پريښود او وې ويل: په خوشالي استفاده وکړې لوري

.... جلال ....

په موټر کي دوکاندار ته ماتله وو چي فاروق وويل: وروره شی می خوري چي درته
يي واخلم؟؟
ومي ويل: نه خپله هم مه ښکته کيږه ، دی بيريدلی دی چي يو وار ونه تښتي بيا يي
نشو ګيرولی
فاروق: د کوره ستاسو د دوکان په اميد ووتلم تر څو چي ورسيدلم دوي ډوډي
خوړلي وه اوس هم دلته څو ساعته کيږي چي ماتله يو ، ماښام کيږي وه نامسلمانه!

روژه خو نه یم
ومي ویل: ښه لاړشه خو ژر راشي ، که ناوخته راغلي او دوکاندار دوکان قلف کړ او لاړی زه ورپسي ځم ته پاته کیږي
فاروق: ښه ژر راځم

لس دقیقي تیري شوي ، ژر راغی ګورم چي میوه یي اخیستي.
په خندا مي وویل: ته اوس په دي موړ کیږي؟؟؟
فاروق: نه خو څه چاره لرم؟؟ په لس دقیقو کي څه شي پیدا کیږي؟؟
اوس د وږي ځخه بي هوشه کیږم بیا مجبور ډاکټر ته مي یوسي هههههه
یو مابه مي ورځخه واخیستل او په خوړلو بوخت شوو.
فاروق وویل: ورورہ یو شخصي پوښتنه وکړم په قار کیږي خو نه؟؟
ومي ویل: څومره شخصي دی؟؟؟
فاروق: د لیلا په اړه
یو پوزخند مي ووهل او ومي ویل: هغه هیڅ په ما اړه نلري چي بیا شخصي وویل شي

فاروق: نو ولي تر پاکستانه ورپسي لاړې؟؟
ومي ویل: حماقت مي وکړ ، حماقتتتتتتتتتتت
هر څوک خپل په ژوند کي یو ځل داسي کار کوي ، لیلا نور راته ارزښت نلري هغه وار هم نباید ورپسي تللی وی
فاروق: دروغ مه وایه! که لیلا درته ارزښت نلري نو ولي خپل په کور کي نه بیدیږي او زمونږ کورته راځي؟؟؟
په خندا مي وویل: زه وایم چي دا پوښتني د کم ځایه شوه
پر پدره دي د دوه متر ځاي لعنت چي ما ستاسو په کور کي نیولی ههههههه هره شیبه مي پر غوږ وهي
فاروق: نه ورورہ زمونږ ټول کور یي ستا تر سر جار

زه وایم چي لیلا نور نغوارې ، سهیلا چي دي ښځه ده د هغې څخه هم نه ځي ، غوارې بله ښځه وکړې؟؟؟

ومي ویل: نه نه! یو دانه مي وکړه زما اوه پښت ته لا بس دی.
پاته شوه د سهیلا خبره ، هغه هم پر ما اړه لري
فاروق: نه نو ، پر تا اړه نلري
سهیلا مور او پلار نلري په یو کال کي یي دواړه د لاسه ورکړل ، مشره خور یي ښښتیدلې او کشره خور یي مړې ښښتولې
په دي مینځ کي یو میړه هم لري چي حتي د هغې د حال څخه لا خبر نه اخلي
کم وخت تللی پوښتنه دي کړې چي څنګه یې؟؟ څه دي په کار دي؟؟
یو داغداره انسان مینه او پاملرنې ته اړتیا لري بیا سهیلا تازه ناوې ده هغه هم جبري ناوې.

ستا زړه مات شوی منم یي خو یو وار ځان د سهیلا پر ځاي پریږده ، نیمه شپه یي په کور ننوتلي د خوبه مو ویښه کړه او خپل کورته مو یوړه ، بیچاري سپین کمیس لا وانغوستی
هغه ورځ د کوچنیانو مور وویل: د سهیلا دي افرین یي پخداي! څنګه یي زغملی شي؟؟ څومره صبر لري؟؟
زه یوه ورځ خپل میرمني ته پاملرنه ونه کړم زړه یي ماتیږي ، ماته څه نه وایي خو انسان باید خپله درک ولري
هغه نجلي دي یوازي په داسي کور کي چي هیڅوک نه پیژني خوشي کړې
ورسره مینه نلري خو طلاق هم نه ورکوي نو دا په هغه کور کي څه ده؟؟ که لیلا غوارې دا بیا بیله خبره ده

ته وایي چي لیلا هم نغوارم نو څه دي په فکر کي دي؟؟
د خلکو د خبرو پسي مه ګرځه ، شرم مه کوه! ستا ژوند یوازي په تا اړه لري ، د هر چا سره یي چي غوارې او هر څنګه یي چي غوارې تیر یي کړه خو دا کار دي بي معني

دی ، تر کمه به داسي دوام ورکوي؟؟؟
نیمایي ماښه مي په لاس کي همداسي پاته وه ، د فاروق خبرو ته مي غوږ نیولی وو
ومي ویل: وروره خبري دي سمي او پرځاي دي زه یي نه رده وم
خو ......

کله چي مي د لومړي ځل د پاره لیلا ولیدل خوښه مي شوه ، د هغې رفتار ، د هغې خبري ، د ټولو نجونو سره چي مي لیدلي وو توپیر یي درلود
ټول فکر کوي ما همدا چي لیلا ولیدل ورباندي مي مرکه وکړه ، هیڅوک خبر نه دي چي ما په میاشتو دا نجلي تعقیبه کړه ، هره ورځ تر ښوونځي به ورپسي تلم
حتي د هغې په لاري تګ لا راته جالب او په زړه پوری وو
څو واره مي رضوان ده لیلا سره ولیدی خو هیڅ پوه نشوم پوهیږي؟؟؟؟؟
هیڅ پوه نشوم چي رضوان ښایي لیلا سره مینه ولري ، زما سترګي یوازي لیلا یي لیدل په نور خلکو ړوند وم

هغه شپه چي د کوځي تر سره لاړم او د هغې بوټونه او د سر جالي مي ولیدل نه پوهیږي وروره چي څومره وسوځیدلم ، څومره مي زړه مات شو

کله چي کورته راغلم ما ویل هیڅوک راته ونه ګوري ، د ډیر شرمه مي سر پورته کولی نشو
زما لیلا تښتیدلې ده ..... دا جمله خپله راته تر مرګ بدتر وو
ما دا خبري هیچا ته ویلي نه دي ، ما د زړه څخه لیلا غوښتل حتي سهیلا لا د لیلا په خیر وینم ..... باور دي کیږي که نه؟؟
مخته تر دي چي ورپسي پاکستان ته لاړشم ځان سره مي ویل: کاش د نړۍ ټول خلک مړه شي یوازي زه او لیلا واوسو چي راڅخه هیڅ د تښتي لاره ونلري او هوسا یي پیدا کړم ..... خو کله چي پاکستان ته لاړو ټول خبري چي ماته وکړل یو خواته ، دا چي وویل که وخت بیرته شاته لاړشي بیا هم تښتي ...
هینداره مي ښکته کړه او یو څو ژوري ساګاني مي واخیستل. ستوني مي ډک وو.

دوام مي ورکړ: ليلا زما غرور يي هملته د پښو لاندي کړ! داسي يو حالت ته رسيدلی يم چي نه ليلا غواړم نه بل څوک بغير د ليلا.

دومره مي شکر وايستی چي هغه هلک پيدا شو زه يي ووهلم او ليلا وتښتيدله څکه زه هملته مړ شوم فاروقه ... مړ شوم
دومره پر مئين وم چي هيڅ مي نه ليدل چي هغه ما نغواړي ، پوهيږي ړوند وم ړوند بغير د ځان او هغه مينه چي مي ليلا ته درلود نور مي هيڅ نه ليدل ... همدي هم تباه کړم

د څو شيبو د پاره زموږ مينځ کي چوپتيا خپره وه.
د فاروق په غږ واکمنه چوپتيا د مينځه لاړه: که ووايم چي درک کوم دي درواغ مي ويلي
زما لا زما ښځه يي کوټي ته راويستل ، هلته مي وليدل چي څوک ده او څنګه څهره لري لکه تا نه يم مئين شوی چي درک دي کړم
خو ژوند نه دی دريدلی ، هڅه وکړه چي د سهيلا سره جوړ راشي
زما ښځه ډير ستاسو کور ته ځي ، د سهيلا د اخلاق او ادب ډير ستاينه کوي ، بدرنګه هم نه ده تر ځايه چي زه پوه شوی يم تر ليلا بالاتره هم ده
هڅه وکړه چي سهيلا وپيژني او خپل په زړه کي يي ځاي کړي ، نور د هري نجلي په څهرې کي د ليلا پسي مه ګرځه ، هيڅ ګټه نلري

تر دي بالاتره هم څه ويلو ته نلرم ، خپله بهتره پوهيږي
خپل راسته لاس مي د موټر د کړکي څخه ايستلی وو ، ښه د مني د موسم يخ شمال وو خپل فکر مي ارامول چي فاروق وويل: هغه دی دوکان تږي
ژر مي هغه خواته وکتل او ومي ويل: فاروقه برچه ځان سره واخله
وي ويل: برچه نو ولي؟؟
ومي ويل: يوازي د بيري د پاره! که حميرا او شګوفه د ده په کور کي يي بايد د ځان د دفاع د پاره يو څه ولرو

د دوکاندار شاته مو حرکت وکړ. کرار کرار تلو. د ده پام موږ ته نه وو. کوڅه پر کوڅه ولاړو تر څو چي کورته يي ورسيدلو.
ومي ويل: ښه صبر کوو چي هوا تياره شي بيا ته لاس ونيسه چي زه په ديوال پورته شم او د کور دننه ووينم
که شګوفه او حميرا دلته واوسي معلوميږي
فاروق وويل: وروره پوليس ته خبر ورنکړو؟؟
ومي ويل: نه د خلاف کار نه کوو ، کورته يي نه دننه کيږو
يو ساعت وروسته هوا تياره شوه. فاروق لاس ونيوی او زه په ديوال پورته شوم.
ومي ليدل چي يوه ښځه، دوه نارينه او څو ماشومان په کور کي دي خو شګوفه او حميرا نه وه.

بيرته ښکته شوم او ومي ويل: دلته نه دي
دروازه مي وټکول ، غږ يي کړه: څوک يي؟
ومي ويل: ګاونډي دي يم ، دروازه خلاصه کړه.

همدا چي دروازه يي خلاصه کړه د غاړي مي ونيوی او په سر مي په پزي ووهل. په سراي کي ولويدی. هيڅ مي ښوريدو ته پرينښود برچه مي ستوني ته ونيول او ومي ويل: حميرا او شګوفه چيري دي؟؟
درواغ ونه وايي چي خبر يم چي د حميرا سره زردالو اخيستلو ته تللی وي
فاروق هغه بل هلک ټينګ نيولی وو. دا ذبيح نامه هم د ډير بيري ساه نشو اخيستی.
ومي ويل: يا وايي چي دوي دي چيري وړي يا ښځه دي نن شپه کونډه کيږي
د ده د ښځي او ماشومانو د ژړا غږ ټول کور نيولی وو.
په بيريدلي غږ يي وويل: وروره پخداي ما هيڅ نه دي کړي! نصير حميرا يي په يو سپين سرې ښځي خرڅه کړې

د شګوفي څخه نه يم خبر چي چيري ده خو دا ښځه چي حميرا يي رانيولې په شبرغان کي ده! يوه پيسه داره ښځه ده

د یو کوچني نجلي پسي ګرځیدله ، حمیرا یي ورباندي خرڅه کړه
ومي ویل:د دي ښځي د کور دقیق آدرس باندي خبر یي؟
ذبیح: هو زه خپله د شبرغانه یم ، هغه ښځه هم ما نصیر ته معرفي کړه
خو خداي او رسول یي شاهد دی چي زه یي په خرڅلاو کي هیڅ لاس نلرم
د لاسه مي ونیوی او په زوره مي موټر ته پورته کړ.
ورور ته مي وویل: که چا ته دي څه ویلي وه ورور دي بیا ژوندی نه راځي

.... حمیرا ....

دوه ورځي کیږي چي زه یي د انباره ایستلې یم. صوفیې د بي بي حاجي څخه ډیر زاري وکړه تر څو چي زما د آزادیدو اجازه یي ورکړه.
وروسته د خدایه مي امید صوفیې ته دی ، که دا نه وی د وږي د امله مړه کیدلم.
د کور د دوهم زوي واده وو ، امان الله.
دري کاله نامزد وو ، په همدا راتلونکي اوني کي ورته واده نیسي. په کور کي ګڼه ګوڼه ډیره وه هر ورځ میلمانه راتلل.

داسي چي معلومیږي ښه غټ واده ورته نیسي. د میلمنو د پاره یي یو څو غوایان او پسونه حلال کړي وه. ما خپل په عمر کي دومره خوندوره ډوډې نه وو خوړلي!
بي بي حاجي ماته یي هم کالي جوړ کړې وه. زه یي ځان څخه وغوښتلم ، دوه بنګړي یي راته اخیستي وه هغه یي زما په لاس کړه او وې ویل: که هوښیاره نجلي واوسي او بي ادبي ونکړې ښوونځي ته هم اجازه درکوم چي لاړه شې
مننه مې وکړه او د بي بي حاجي لاس مې ښکل کړ.
صوفیې وویل: دلته راشه په کار مې یې

شاته یي ولاړم. څو جوړې ښایسته کالي یي راته راکړه او وې ویل: دا ټول ستا دي دانه دانه کالي مي وکتل ، ډیر ښایسته وه او زما هم بیحد خوښ شوې وه.
زر هاو واره مي د کالو د پاره شکر وایستی ، طلا بنګړي مې په لاس کي ځلیدل.
ځان مې د ملکې په شان احساسول.

..... صوفیه .....

بي بي حاجي ښځه ولاړه او ومې ویل: دا نجلي خو ډیره راضي معلومیږی ، خدای دي وکړي چي تر پایه همداسي یي

بي بي حاجي وویل: خیر دی ، د امان جان د واده وروسته یي نامزاده وم چي دلي کښیني او د تښتې فکر یي لا په سر کي ونه ګرځي

ومې ویل: ښه خبره ده ، یوازي ورته کالي او خوراکي شیان ورکړه نور بندي کولو ته هیڅ اړتیا نشته خپله ارامه کښیني

بي بي حاجي په خندا وویل: هو ډیره شکمو ده هههههههه

... جلال ....

ذبیح مو په دوکان کي بندي کړ او لاړم د سهیلا ښخه ، زما په لیدو مسکې شوه. ومي ویل: یو عاجل کار درسره لرم

په ورخطایي یي وویل: خیریتي ده؟؟؟

ومي ویل: نه ، نه ده ....... نصیر څوک دی؟؟

سهیلا: نصیر د شګوفې وراره دی ، ولې؟

ومي ویل: شکر د حمیرا ځاي مو پیدا کړ سبا دخیره ورپسي ځو

سهیلا خوشاله شوه او وې ویل: خدایه زر واره شکر! چیري ده؟؟

ومي ویل: شبرغان کي ده

یو وار یي مسکا د شونډو لاړه او وې ویل: څههههه؟؟؟

شبرغان څومره لري دي

ومي ویل: هو د بده مرغه شګوفه حمیرا یي خرڅه کړې ده

سهیلا په ژړا شوه او وې ویل: زه دي ړنده شم! دا ماشومه یي چاته ورکړې ده؟؟

خداي دا ښځه ووهي الاااا ، څنګه به یي؟ څومره ناوخته خبره شوم خداي دي وکړې چي روغه یې

ومي ویل: غم مه کوه ، هغه ښځې لور نه درلود ځکه حمیرا یې اخیستې فکر نه کوم چي ورسره بد چلند وکړي
سهار ځم شبرغان ته ، بیرته یي راوړم
سهیلا: ما هم ځان سره یوسه
ومي ویل: څه جبر دی؟؟ خپله یي بیرته راوړم ته همدلته واوسه
بل سبا د حمیرا سره دي څنګ کي یم

سهیلا خوشاله شوه. زه یي غیږ کي ونیولم ، په مخ یي ښکل کړم او وې ویل: ډیره مننه! که ته نه وی ما به څه کړی وی؟؟؟
ته خدای رالیږلی یي چي زما غمونه د مینځه یوسي ، یو نړي مننه!
د تاثیر لاندي تللی وم. خپل سر مي ښکته واچول او ومي ویل: هیله کوم ، د منني وړ نه دی حمیرا ماته هم ګرانه ده
ژر وګرځیدلم. د زړه تکان مي ډیر شوی وو. دا نجلي تل ما حیرانوي!

د شا څخه یي غږ کړه: جلالللله؟؟؟؟
ورته مي وکتل چي وې ویل: اوس چیري ځي؟؟؟
ومي ویل: ځم د فاروق څخه ، یو ځاي شبرغان ته ځو
سهیلا: په دي شپه؟؟؟
ومي ویل: اوس خو نه دري بجي د شپي حرکت کوو
سهیلا: سمه ده خدای دي نګهداره واوسه الله دي وساته .
ومي ویل: مننه ژوندي واوسي.
حرکت مي وکړ. څو قدمه پاته وو ووځم چي ومي ویل: رښتیا
سهیلا ژر وویل: څه ...... څه وایي؟؟
ومي ویل: په کور کي ونه وایي چي چیري ځم او د څه د پاره ځم ، سمه ده؟؟
سهیلا: نه زړه دي جیمي نه وایم
سفر دي بي خطره
ومي ویل: مننه

ووتلم او د فاروق د کور خواته روان شوم. زموږ د کوڅي پر سر د فاروق کور دی.
دروازه مي وټکول ، خلاص يي کړه او راته يي وکتل
ومي ويل: دننه مي نه ايږدي؟؟
وي ويل: نه ، لاړشه دري بجي راشه بيا ځو
په خندا مي وويل: وه هلکه تر درو بجو چيري واوسم؟؟
فاروق: نه پوهيږم وروره ..... په کوڅي کي واوسه
او دروازه يي راباندي وتړل. غږ مي کړه: څه خير ، د شبرغانه چي راغلو مور ته دي وايم چي د هغې رضايي زوي دي د کوره وايستی
په لوړ غږ يي ځواب راکړ: مور مي کلي ته تللي ده ، تر څو اونيو پوري نه راځي
ومي ويل: آخر خو راځي بيا زه ستا سره پوهيږم
فاروق: لاس دي خلاص

بيرته د کور خواته روان شوم. په دهليز کي وم چي خپل د مور غږ مي واوريدی.
کوټي ته يي نږدي شوم ، د کنج څخه مي وليدل چي سهيلا يي خپل مخامخ کښينولې او ورته نصيحت کوي
د هغې هم سر ښکته وو ، او هيڅ يي نه ويل
مور مي وويل: پخوا ستا په عمر نجلي ټول کور اداره کول
ماشومان يي ساتل
ډوډي يي پخول
د ميړه په طبعه او ساتلو باندي هم ډيرررررررررر ښه پوهيدل
سل واره مې درته وويل ، څکه چي مور نلري ما درته وويل خو بيا هم جلال د فاروق کورته ځي

پاته يم چي ستاسو د لاسه څه وکړم؟؟؟ سپين سرې مو کړم
ته ولي دومره سسته يي؟؟ آي د قرآن پار دی بلا دي تا ووهي يو نر خپل خواته نشو کشولي؟؟؟

ګورم چي سهيلا ژاړي او هيڅ نه وايي د مور خبري مي هم همداسي دوام درلود.
اعصاب مي خراب شوه. لاړم د دهليز د دروازي خواته ، خپل ستونی مي صاف کړ او غږ مي کړه: سهيلا چيري يي؟؟ دلته راشه په کار مي يي
يوه شيبه لا نه وه تيره شوي چي راغله. ورخطا يي راوکتل او کرار يي وويل: ته نه يي تللي؟؟

ګورم چي ورپسي مور مي هم د کوټي څخه ووتله ، ومي ويل: وږی شوي يم راته ډوډي راوړه ، په کوټي کي يي خورم
خپل مور ته مي سلام ورکړ او د څنګ څخه يي تير شوم. په کوټي ننوتلم او د سهيلا راتلو ته په تمه شوم.
څو دقيقي وروسته راغله ، ډوډي يي راته راوړي وه.
وې ويل: ته څنګه بيرته راغلي؟؟؟ تګ مو ونشو؟؟
کرار مي وويل: دروازه پيشه کړه بيا خبري وکړه ، مور مي اوري
وې ويل: ښه صبر

لاړه دروازه يي پيشه کړه او راغله.
ومي ويل: د شپي دري بجي څو ، تر درو چيري واوسم؟ بيرته کورته راغلم
هغه سړی مو په دوکان کي بندي کړ ، ګواښ مي ورکړ که چاته خبر ورکړي پوليس ته وايم
بيچاره بيريدلی ، هيڅ خپل غږ نه باسي

سهيلا: خداي دي وکړي چي پخير خلاص شي
ومي ويل: کيږي ، انديښنه مه کوه
ډوډي مي وخوړل ، څو شيبي تيري شوي ، ومي ويل: زه بيديږم چي شپه حرکت وکړو بيا مي خوب وړي
د سهيلا سترګي غټي شوي. په حيرانتيا يي وويل: دلته بيديږي؟؟؟
ومي ويل: هو مخته تر تا دا زما کوټه وه

سهیلا: هو رښتیا وایي
صبر چي ځای دي وغوړوم

یو دوه نفره نالۍ (توشکه) یي زما او د لیلا واده ته جوړه کړې وه همغه یي وغوړول
او وې ویل: په دي بیده شه
ومي ویل: ته چیري بیدیږې؟؟؟
یو مسکا یي وکړل او وې ویل: زه نه بیدیږم ، ته دري بجي حرکت کوي دوه بجي د
کوره وځي بیا زه هغه وخت بیدیږم
ته راحته واوسه
ومي ویل: زړه دي مخصد نالۍ غټه ده هغه بل خواته یي څملاستلی شې
سهیلا: نه نه مننه ، ته راحته واوسه

لاسي څراغ روښانه وو ، ما خپل سر په بالښت پریښود او ځان مي په خوب ووهل.
شل دقیقي تیري شوي چي پام مي شو سهیلا په ناستو بیده ده.
خندا نیولی وم خو خپل خندا مي ښکاره نه کړه. ماتله وم چي څه کوي.
خپل یو سترګه مي لږ خلاصه کړې وه چي ګورم نږدي راغله. تاوده ساه یي زما پر
مخ لګیدل. خپل سترګي مي پټي کړې وي لکه دا چي بیده یم.
ډیر مي خوله کړې وه او د زړه درزا مي ډیره وه.
ومي ویل: دا څه کوي؟؟؟

.... سهیلا ....

نیم ساعت تیر شوی وو ، ګورم چي نه ښوري ومې ویل: خامخا بیده شوی
نن مې نذري حلوا پخه کړې وه لاسونه مي درد کول او ډیره ستومانه وم.
کرار نږدي لاړم. څو دقیقي مې همداسي په ځیر ځیر وروکتل ګورم چي نه په رښتیا
بیده دی. څو بالښته مې خپل او د ده په مینځ کي پریښود چي دي خواته رانشي او
خپله یو بل خواته پریوتلم. اوس چي هرڅه کوم خوب نه راځي ، د جلال په شتون
سره څنګه بیده شم خدایه؟؟

د جلال خواته وګرځیدلم او ومې ویل: دی خنګ ژر بیده شو. ږزه هیڅ زه شلغم! زه د دي څخه چي یو سړی مې خنګ ته بیده دی زړه مې هیڅ قرار نه لري ته بیا دی وګوره هیڅ ما په ښځو کي نه حسابوي.لاسي څراغ مې نږدي کړ چي روښنایي یي د ده پر مخ ولویږي ، ښه مي ورته وکتل څه یو باڼوګان لري! زه دومره باڼوګان نلرم لکه دی یي چي لري ته یي وروځو ته وګوره توبه! دا باڼوګان باید زما وی!
لږ مې خپل سر نږدي پریښود ، خپل لاس مې د ده په ږیري ووهل او ومې ویل: توبه خدایه څنګه ببره ږیره یې ده.

په ګوتي مې په باړخو ورڅخه و واهه او ومې ویل: څه بلا هډور مخ لري یو ذره چربي لا پکي نشته
یو په دوه یي سترګي خلاصي کړې او وي ویل: ښههههه اوس یي اخلي که نه؟؟
خوښ دي شوم؟؟؟
ورخطا شوم او په څپیړې مې ووهل.
ومې ویل: بي تربیه ځان دي په خوب وهلی وو؟؟؟
خپل پر ځاي کښیناستی ، خپل لاس یي خپل پر مخ پریښود او وي ویل: زه دي ووهلم؟؟
یو وار مې اعصاب کار وکړ ، ومې ویل: وبخښی دا زما عادت دی چي څپیړه وهم ... دومره کلک هم نه وو

اوس د شرمه هیڅ ورته کتلی نشم.
جلال: ستا عادت هم بیخي جالبه دی ، په څپیړې څوک وهې؟؟؟
هغه ورځ دي هم د کړکي څخه ټیله کړم ، په یاد مي دي زما د مرګ اراده دي کړې څه بلا؟؟
سهیلا: نه پخداي ټوکي مې وکړې!
دومره په جدي نظر یي راکتل چي ځان سره مې وویل: سهیلا بیابه بیابه شوي ، خلاص شو

ومې ویل: پخداي عادت مې دی چي د ټوکو کرار په څپېړه وهم ، قسم دی نور نه کوم

یو وار په خندا شو. وي ویل: هیڅ خبره نه ده ، دومره کلک نه وو
دومره چي دي وکتلم ، د اخیستونکي په انداز وو؟؟؟
خپل سر مي ښکته واچول او ومې ویل: نههههه پخداي هغه خبره نه ده ، زه ...... ډېر بد انسان یي! ولي دي ځان په خوب وهلی وو؟؟؟
په خندا یي وویل: توبه ستا د لاسه! ته دا بالښتو ته وګوره بلا دي تا ونه وهي هههههههههههه  دفاعي دیوال دي جوړ کړی؟؟ هغه هم په بالښتو هههههههه
د شرمه مې خپل سر نشو پورته کولی.
دوام یي ورکړ: زه څوک نه خورم ، بل وار بالښت پرینږدي هههههههه
اوس یو وار د شرمه مړه نشي
ولاړه شوم او د کوټي څخه ووتلم ژر لاړم څو پیالي اوبه مې وڅښل. بلا دي تا ووهي سهیلا ، اوس څه وکړم؟؟؟ څنګه بیرته لاړه شم؟؟
په زړه کي مې ولوله وه. فشار مې ښکته شوی وو. یو کاچغه بوره مې د اوبو سره وخوړل.

یو ساعت په دهلیز کي تلم راتلم ، هیڅ مې زړه آرام نه درلود. ټول بیده شوي وه یو زه ویښه وم.په زر بدبختي بیرته کوټي ته لاړم ، ګورم چي خپل مخ یي د دیوال خواته اړولی. کرار لاړم یو کنج کي کښیناستلم تر څو د جلال د تګ وخت راورسي

..... جلال ....

سهیلا بهر لاړه. ډېر خندا نیولی وم څومره دا نجلۍ جالبه ده!
په دیوال کي مو یو هینداره زړولي وه لاړم لاسي ځراغ مي ونیوی او ځان ته مي وکتل.
زما د باڼوګانو کم ځاي ښایسته دی؟؟؟
ومي ویل: دا یي بیا بل غم! زه هم لیونی شوم هههههه

لاړم خپل پر ځاي پریوتلم. هر څومره چي په تمه شوم سهیلا رانغله. نه پوهیږم څومره وخت تیر شوی وو چي خوب وړی وم.
یوه بجه پاڅیدم او ومي لیدل چي د کوټې په کنج کي خوب وړې ده. توس مي ورباندي واچول او دباندي د فاروق کورته لاړم.
یو ځاي راووتلو او د دوکان خواته لاړو. کیلي مي واچول او قلف مي خلاص کړ ګورم چي ذبیح بیده دی.

ومي ویل: ولاړشه باید شبرغان ته لاړشو
د ځایه ولاړشو او وي ویل: وروره زه د کور ادرس راکوم تاسو لاړشی زه نه راځم ....
خپل د اولادو پر سر قسم خورم چي رښتیا وایم ، زه هم خوشاله نه وم چي یوه نجلي داسي خرڅه کړي خو ومي ویل مور یي ده خپله بهتره پوهیږي
ومي ویل: اوس کار تر کار تیر شوی ، باید لاړشو مور ته یي د نړدي ښخه وښیي ، اعتبار درباندي نلرم وروره
خو که ښه وي او رښتیا دي ویلي یي هیچا ته نه وایم هوسا بیرته کابل ته راشه ځانته هم جنجال مه جوړه وه
موټر کي سپاره شوو ، فاروق د ذبیح سره شاته کښیناستی او حرکت مو وکړ.

..... رضوان .....

کوژده نږدي وه او لیلا بي د بازاره بل هیڅ ځاي نه پیدا کیدل. په کور کي هم یو درجن خلک یي شاوخوا وه. لیلا زما وه ، خو زما ښخه نه وه.
پر صوفي ناسته وه او مور مي څو ټکران ورته ښودل. یو ګوښه ولاړ وم او لیلا ته مي کتل.
دا نجلي څومره ډنګره ده! هههههه زما بدرنګه سره!
هر ځل یي چي مسکا کول د وینو جریان به مي په رګونو کي پیاوړي شو او دا ما خورا احساسول.

همداسي مي ورته کتل او پر شونډو مي مسکا وه چي زه يي وليدلم او وي ويل: دلته راشه

خپل مور ته مي اشاره وکړه او ومي ويل: د لري نه ډيييييييير ښه ښکاري ، څوک چي درته وګوري بالا سترګي نشي اړولي
کټ مټ لکه يو شتمن هنري اثر
ليلا په خندا وويل: واه واه شاعر شوی يي؟؟؟
ومي ويل: هغه کس چي تا وويني شاعر که نشي ليونی خو سل په سله کيږي
مور مي وويل: توبه توبه! زه ځم تاسي پر هوش نه ياست
مور دواړو وخندل. همدا چي مور مي لاړه په دهليز ننوتلم او په دوه غټ قدمونو مي ځان ليلا ته ورسول.

ويښتان يي پر مخ خواره وه ، يو تار مي په لاس کي ونيوی او ومي ويل: روز اول که سر زلف تو ديدم گفتم
که پريشانی اين سلسله را آخر نيست!
ليلا: واه واه ، نه ته پخداي شاعر شوی يي
ومي ويل: يوه خبره وکړم؟؟
ليلا: ووايه ، سل خبري ووايه
هر څه چي ستا د خولي نه ويل کيږي تر شاتو خوږه دي
ومي ويل: هغه وخت يي چي زه په پس خاني کي بندي کړی وم ځان سره مي وويل: کله چي ووتلم که ليلا واده کړی وو ليلا مړه کوم
ځکه چي د ليلا مرګ نشم زغملی ځان هم مړ کوم او ځکه چي خپل د مور خفګان نشم ليدلي هغه هم مړه کوم! په نوبت ټوله؛ مدينه ، اجمل ، خپل پلار
هاي قاتلې ليلا!

ليلا څو شيبي همداسي راته کتل. وروسته د څو شيبو چوپتيا يي وويل: يعني دومره درباندي ګرانه يم؟؟

خپل سر مي د ليلا پر پښي پريښود ، يو تار ويښته يي هم زما په لاس کي وو
ومي ويل: نه ، ګرانښت داسی نه يي ، تا زه ليونی کړی يم ليلا
پوهيږي زما پلار اجازه نه راکول چي ستا سره نامزاد شم ، دوه اوني زمورږ په کور کي جنجال وو آخر مي وويل چي ځم ، د سراي د دروازي څخه لا وتلی وم چي پلار مي وويل: صبر دا نجلي درته کوم په دي شرط چي خپل زده کړي ته دوام ورکړي او ځان د ميني د پاره تباه نکړي

مګم هغه تباهي چي د ليلا سره يي په سر و سترګو يي منم
ليلا په تندي ښکل کړم او وې ويل: ستا پرمختګ او بريا زما ارمان او غوښتنه هم ده ، که داسي احساس کړم کله چي زما سره يي پرمختګ نکوي خپله دي خوشي کوم زړه دي جيمي
ومي ويل: نهههههههه! ته زما د هري شيبی د خوشالي لامل يي
هيڅه خوشالي د تباهي لامل نکرځي وه زما سرې!
عمه راغله په پښي يي ووهلم او وي ويل: ولاړشه ټوله صوفه دي نيولي ههههههه
پاڅيدم خپل پر ځاي کښيناستلم چي دوام يي ورکړ: صبا دخيره نامزدي ده دومره کارونه لرو چي هيڅ پوښتنه مه کوه بيا تاسو دواړه ناست ياست د ليلي او مجنون کيسي کوی

ومي ويل: ليلي او مجنون نه ، ليلا او رضوان! ههههههه
عمه زما غوږ يي کش کړ او وي ويل: سپين سترګی! زمورږ په دوري کي ولاکه چا ويل چي مئين شوی يم يا فلان نجلي راته وکړی ، تاسو بيخي بلا ياست پخداي

ما او ليلا دواړو وخندل. ليلا وويل: عمه جانې! دوي ورځي دلي دی بيا ځي خپل د درس پسي ، ډير آزار مه ورکوه
ومي ويل: رښتيا وايي پخداي ..... ليلا بيا بالا نه وينم
عمه وويل: ښه ښه وخت شته
ته خپل د پلار پسي لاړشه چي نن راځي ، کله يي ويلي چي راځم تر اوسه نه دی

راغلی بیا ښه دی چي سبا په محفل کي شته
څه یو محفل به درته ونیسم زما د زړه سره

...... جلال ......

شبرغان ته ورسیدلو. غوښتل مي لاړشم د امنیي قوماندان ته احوال ورکړم چي
ذبیح وویل: هیڅ قوماندان څخه مه ځه ، ګټه نلري
ومي ویل: ولي؟؟
ذبیح: بي بي حاجي د امنیي د قوماندان مشره خور ده
فاروق ته مي وکتل او ومي ویل: اوس څه وکړو؟؟

ذبیح: داسي به مړه شی چي جنازه مو لا څوک پیدا نکړي! ما د بي بي حاجي سره د
کچالو د ځمکي معامله کړي ، ما پیژني ، زه یي لیدو ته ځم او ورسره خبري کوم
حمیرا هم ګورم چي وري ده که نه
ومي ویل: که دننه لاړي او زموږ په اړه دي کم څه وویل پخداي قسم چي بالا خپل
ښځه او ماشومان نه ویني
زه هم کم ایله سړی نه یم ، پوه شوي؟؟؟
ذبیح وویل: وروره پخداي زه هم خوشاله یم چي حمیرا بیرته واخلی خو د منطقي
لاړي څخه

زه خپله اولاد لرم پوهیږم چي څومره سخته ده د چي څوک دي اولاد درڅخه یوسي
فاروق وویل: موږ لکه خپل ورور دربانديِ باور وکړ ، زموږ باور مه خرابوه
ذبیح: په سترګو ، ژمنه کوم
د نرانو خبره ، خبره ده
ورته مي لاس ورکړ او دی د بي بي حاجي کورته لاړی.
په ساعتو په موټر کي په تمه وو بیخي مو حوصله خلاصه شوه. د یو خوا څخه
بیریدلی وم چي هغه ښځي ته ونه وایي چي زه د حمیرا پسي راغلی یم ، خپل په
کیسی کي نه وم چي حمیرا ونه زوروي.

ګورم چي رارون دی ، شاوخوا يي وکتل او په موټر کي سپور شو.
ومي ویل: ژر راغلي ، شپه به دي هم تیر کړي وی
په خندا يي وویل: نه ولا ډیر قدر او عزت يي وکړ نه کیدل چي راووځم
ومي ویل: ښه اوس څنګه شو؟؟

ذبیح: لومړی دا چي حمیرا مي ولیدله جوړه روغه وه
راته يي میوه او چاوي راویستل
دوهم یو بل ښه خبرا!
ومي ویل: څه؟؟؟
ذبیح: نوي اوني يي د زوي واده دی
د واده په ورځ حمیرا وتښتوی ، ګډوډي ده څوک نه خبریږي
ومي ویل: ښه خبره ده
ذبیح: یو بله خبره هم ده
ومي ویل: بیا څه خبره ده؟؟

ذبیح: حمیرا زه وپیژندلم خو هیڅ يي ونه ویل خوش و خوشاله يي راته سلام وکړ
د طلا بنګړي يي په لاس وه د هغه ورځ څخه چي ما لیدلي وه چاغه شوي هم وه
پخداي دا ځاي د حمیرا د پاره بهترینه ځاي دی
ومي ویل: ماشومه ده نو تر سر يي تیره کړي ده
زه باید دا بیرته یوسم ، که يي یونسم د خور ځواب يي څه ورکړم؟؟؟

.... سهیلا ....

سهار چي د خوبه ویښه شوم ومي لیدل چي توس راباندي اچول شوی او جلال هم نشته.پر شونډو مې مسکا راغله. ومې ویل: خامخا شپه د تلو په وخت کي راباندي دا توس اچولی بیا تللی ولاړه شوم کوټه مي سره ټوله کړه. د نالې د ټولولو په حال کي وم چي د زلیخا د عطر بوي مې تر پزي شو.
شاته چي مې وکتل ګورم چي زلیخا ولاړه ده ماته ګوري او کروت خوري.

وې ویل: کروت خوري؟؟؟
ومې ویل: نه نوش جان دې
زلیخا: شاباس! سترګي مو روښاني! دوه نفره نالې مو غوړولي وه هههههههه
په خندا مې وویل: خو یو نفر پر بیده شو.
زلیخا: ولي؟؟

ومي ویل: جلال سهار یو ځاي ته تلو ، دی بیده شو زه په دي کنج کي بیده شوم
زلیخا په لوړ غږ وخندل او وې ویل: خدایه دا نو څه رقم نجلي ده؟؟؟
ومې ویل: ولي؟ څه مې کړي؟؟
زلیخا: هیڅ ، ولاړه شه ځان تیاره کړه چي د خاله صبریه کورته ځو
ومې ویل: ولي؟؟
زلیخا: خبره نه یې؟؟ خپل لمسی یي سُنت (ختنه) کړي محفل یي نیولی موږ یي هم بللي یو
باید لاړشو که نې بیا مورجانه خفه کیږي ، هسي بیا زموږ پر سر غالمغال کوي
ومې ویل: کمه خاله صبریه؟؟ همدا چي په دا شا کوڅي کي کښیني؟؟
زلیخا: هو همدا یادوم
ومې ویل: ښه سمه ده ، خپل لاس او مخ پریوم ، کالي اغوندم بیا یو ځاي ځو
زلیخا: زه هم ځم ځان تیاروم
ومې ویل: ته خو تیاره یې

زلیخا: دا د کور کالي دي سرېمبې هههههه
خندا ونیولم. ومې ویل: ښه ښه په یاد مې نه وه چي ته په کور کي هم د واده کالي اغوندي
د زلیخا سره تیاره شوم. شمایل راغله او وې ویل: زه هم ځم ، دیغه شوې یم
ومې ویل: سمه ده راځه چي په کور کي یوازي پاته نشي ، فکر دي په بله کیږي
دري سره یوځاي لاړو ده خاله صبریه کورته.
زلیخا خپل جیګري رنګه کالي اغوستې وه چي ډیر ورسره ښایسته معلومیدله ،

لستوڼي يي د جالي وه.
ومې ويل: دا کالي څنګه جوړوي؟؟ ډير ښايسته دي
وې ويل: دا زما ماما چې په امريکا کي دی تير کال چې راغلی وو راته يي راوړې وه
ومې ويل: ډير ښايسته دی

زليخا: سترګې دي ښايستې دي ګراني ، ما د دي کميس ښايستوب څو برابره کړی دی
ومې ويل: داسي دي د ځانه خوښ راځي چې بيحده

زليخا: خود نو ، بايد مې هم خوښ راشي! زه بهترينه يم او هيڅوک لکه ما نه دی
کله چې داسي ځان وغواړې او خپل ستاينه وکړې ، ځان ته ارزښت ورکوي او کله
چې دي ځانته ارزښت ورکړ ، خپل ارمانونو ته ، خپل غوښتنو ته ، هغه شيان چې
ستا خوښيږي هغو ته هم ارزښت ورکوي او هغه وخت بيا د ژوند څخه ښه پوره
خوند اخلي ، پوهه شوې؟؟
ومې ويل: هو پوهه شوم

ورته مې وکتل او په زړه کي مې وويل: سمه ده چې ځيني خبري يي ډير
خودخواهانه دي خو رښتيا خبره کوي ، د حق خبره څوک نشي ردولی
کورته ننوتلو ، سترې مشې مې وکړل او د خاله صبريه مړور ته مې مبارکي ورکړل په
ترتيب سره د د نور نوړو (لورګانو) او مړندو سره مې هم ستري مشي وکړل په داسي
حال کي چې يوه مې هم نه پيژندل.
زليخا دوي راپيژندل او ما هم اوريدل.
لاړو کښيناستلو ، محفل وو چاوي او شيريني يي راويستل. زليخا ته مې پام شو چې
شيريني نخوري

ومې ويل: ولي نخورې؟
وې ويل: چاغه کيږم ، اندام مې خرابيږي
خندا نيولې وم. ومې ويل: توبه ستا د لاسه! چاغي خو ښه ده
زليخا: د جمال نه خوښيږي نو ځکه ښه نه ده

ګوله مي په خولي کي پاته شوه. همداسي مى ورته وکتل. په زړه کي مې وويل:
څومره د جمال غوښتنو او هغه څه چي دى يي خوښوي ته ارزښت ورکوي
او بيا زه حتي نه پوهيږم چي د جلال څه خوښيږي .... توبه
چاوي مې څښل چي يوې ښځي وويل: پخداي د جمال دي آفرين يي څومره حوصله لري

بيا يي بد بد زليخا ته وکتل او دوام يې ورکړ: زليخا جانې ، ميړه دي درته څه نه وايي چي بي لستوڼي کالي اغوندي؟؟ درباندي نه غيرتي کيږي؟
پوهه شوم چي په کنايي سره زليخا تر غوږ وهي.
ومې ويل: خدايه ته خير کړي
دا زليخا حوصله هم نلري اوس جنجال جوړ نشي
د ټولو سترګي په زليخا کي وه او د دې ځواب اوريدو ته په تمه وه.
زليخا خپل د چاوو پياله واخيستل ، يو غړپ چاوي يي وڅښل او وې ويل

وې ويل: نه شکر ډير غيرت لري همدي د پاره څه نه وايي ، پوهيږي ولي خوري؟؟
ځکه چي زما غوښتني او زما خوښ شيانو ته ارزښت ورکوي او ورته اړين دي
زما ميړه ډير غيرت لري ځکه تر اوسه يي نه يم پريښي چي د زاړه کالو سره خپل و خپلوان څخه لاړه شم ، چي د خلکو مخته مې سر ټيټ شي ، تل د مجلس په سر کي ناسته وم او يم ځکه چي ميړه مې غيرت لري
ميړه مې ډير غيرت لري چي د ښځو په مجلس کي سترګي يي په ما کي دي نه په بلي ښځي کي ، ځکه پوهيږي په دي کار سره زما غرور د مينځه ځي
زما ميړه ډير غيرت لري چي اجازه نه ورکوي څوک راسره بد چلند ولري يا په لوړ غږ خبري وکړي حتي خپل مور او پلار يي! ځکه زه انسانه يم او خپل غوښتني ، نظر او خوښ شيان لرم

ميړه مې ډير غيرت لري ځکه يوه شپه يې هم زه په وږي نس څنګ ته نه يم بيده شوي

ډیییییییییییر غیرت لري چي هیڅکله خپل غږ زما پر سر نه لوړوي
څو کاله مو د واده کیږي یو وار هم زما سترګي په اوښکو شوي نه دي
ډیر غیرت لري ، هیڅکله دباندي زه یي شاته روانه نه یم ، څنګ ته یي روانه یم ، بي چادري او آزاده
ستاسو مړونه هم د دي غیرت لري که ستاسو لا بي غیرته دي؟؟؟
د هغې ښځي سر ښکته پاته شو. یوه بله ښځه چي مامره (میانساله) وه وې ویل: نه خور جانې دا غیرت چي ستا میړه لري زموږ لا یي نلري
زموږ د میړه غیرت په چیغو او وهل او ټکولو کي دی
زموږ لا ډیر بي غیرته دی

وایي خپل پوړني مخته کش کړه خو په کلونو یو پوړني نشي اخیستی! موږ خپله کار کوو ، په کور کي خامک دوزي کوو
په شپو شپو وږي بیده شوي یو خو دی خپله نه! خپل نس دباندي موړه وي
نه خورجانې! زموږ لا بي غیرته دي! ښځه ورته ارزښت نلري! ښځه ورته یوه وسیله ده استفاده کیږي تر څو چي د کاره ولویږي بیا ځي بله ښځه کوي
د ښځو غرور بیا څه شی دی؟؟ زه د ښځو د غرور په نامه هیڅ شی نه پیژنم! ځکه بي د زموږ د اجازي ، یوه بله ښځه په کور ننوځي

همدا چي څو ماشومان یي راویستل بیا وایي نور د کاره نه ده باید بله ښځه وکړو
زموږ د میړه غیرت د ماینې کوچني په نس کول کي دي خور جانې! مردانګي یي په همدا کي ده! بیا د ډوډې او کالو باندي یي خبر لا نه دی
دا کالي چي مې اوس اغوستي ، څلور کاله کیږي چي لرم یي ، په احتیاط یي اغوندم چي څیري یا زوړ نشي ځکه څوک بل نه اخلي
نه خور جانې ، زما میړه غیرت نلري ډیر بي غیرته دی ، ډیر
زلیخا: ستاسو خپل ستونزه ده ، یوه ښځه چي کار کوي بیا داسي یو سړی هم زغمې ډیره احمقه ده

هیڅ پیغمبر نه دی راغلي ووایي چي تاسو دوه ځلي ژوند کوي ، دا ځل ازمایښتي دی بل وار یي بیا جبران کړی
نو ولي خپل پر ځان یي زهره وي؟؟
هیڅوک د بي میرہ توب څخه نه ده مړه شوې ، خو ډیر میرہ داره ښځي مړې شوې دې ، یا د کورني تاوتریخوالي یا د وریتوب او د میرہ د کور د بدبختي څخه یا هم په طبیعي مرګ یا یي خپه کړې او هیڅوک خبر شوې لا نه دي چي یوه ښځه وه او اوس نور نشته

زمورِ خپل د لاسه ده چي نارینه یي زمورِ پر سر خوري
کلچه مې همداسي په لاس کي پاته وه او د زلیخا خولي ته مې کتل. عجبه خبري یي وکړې!
یو ځل مې هم فکر ونکړ چي بوډې خورِل زما او زما د مور حق دی ، ویل مو چي روزي ده که خداي راکړه ښه که رایي نکړه بل څه چاره لرو؟؟
کالي او دا خبري خو پریږده
په رښتیا زمورِ ریښتني حق زمورِ فرعی غوښتنه ګرځیدلي
څو ښځي د مجلس څخه ولاړ شوه او لاړِل.
زلیخا وویل: هو ولاړیږی هههههه دا خبري سل په سله د مورجانې تر غوږه رسي ، بیابه بیابه کیږو

د شمایل سره ولاړِ شوو او د کوره ووتلو.
شمایل وویل: همدا یي عادت دی ، تل باید یو غالمغال جور کړي ، جالبه دا ده چي جمال د دې پر ځاي خبري کوي دا قرار خپل په کوټي کي ده هههههه
هیڅ ځان نه جګرخونه کوي
زلیخا ته مې وکتل ، په ناز په لاري تله. په بارِخو مې ښه کلکه ښکل کړه
وې ویل: څه درباندي وشوه؟؟؟هههههه
ومې ویل: هیڅ همداسي یو وار مې ډیییییییره خوښه شوې

.... جلال ....

په سوزانه لمر کي په موټر کي پتمه وو.
فاروق ته مي وويل: وه هلکه! که حمیرا په رښتیا رانشي او دا ځاي يې خوښ يي بیا څه وکړو؟؟
فاروق وويل: ولا دا زما په فکر کي هم وه
تا لیلا او سهیلا دواړه وړي ، حمیرا هم ماشومه ده تا چي ووینې ولاکه درسره راشي د پلار په کور کي يي يو وخت بوډي وه يو وخت نه وه دلته چاغه شوې ښه ورته رسیدګي کوي ، که ښه چلند هم ولري نو خبره خلاصه ده د حمیرا ایستل د دي ځایه ناشوني کیږي

ومي ویل: زما په فکر کي هم همدا دي
ذبیح ته مې وکتل او ومي ویل: وروره واده کله دی؟؟
ذبیح: همدا جمعه .... نن یکشنبي ده
ومي ویل: اوس نو څنګه کیږي؟؟؟
ذبیح: منګه د حمیرا خور ستا سره واده نه دی کړی؟؟
ومي ویل: هو ، ولي؟؟
ذبیح: خو خپل ښځه راوړه هغه حمیرا ایستلې شي
ډیر هوسا د محفل په ورځ دي د محفلي کالو سره ننوځي څوک خبریږي چي دا څوک ده؟؟

حمیرا دي پوه کړي ځکه حمیرا پینځه کلني ماشومه نه ده چي په غیږ کي کړې او د کوره يي وباسي
باید خپل په پښو ووځي
فاروق وويل: ښه خبره ده ، خو د يو نجلي د تښتې خبره ده دا بي بي حاجي هم کم عادي ښځه نه ده

ورور يي د امنيي قوماندان دی یوه ښځه په دي کار کي شريکه کړو که ګير راغله بيا څه؟؟

ومي ويل: زه هم د همدي څخه بيريږم
ذبيح وويل: دا خبره دومره فکر کول نغواړي وروره خبره په ښځو اړه لري که تاسو اقدام وکړی سل په سله ګير راځی خو که ښځه دي دننه لاړه شي او په کراري نجلي راوباسي هيڅه خبره نه کيږي
په موټر کي سپره وي او ډير هوسا يي بيرته کابل ته وړی ، بي د هغه هم د واده ګڼه ګوڼه ده څوک نه پوهيږي چي يو کس نشته
فاروق ته مي وکتل او ومي ويل: خبره يي منطقي ده
خو زه بيريږم ، سهيلا سسته ده چي ځان په بلا کي وانچوي
فاروق وويل: بله چاره نلرو
حميرا خپل په دوو خويندو باور کوي ليلا خو نشته يو سهيلا پاته کيږی
موټر مي روښانه کړ او د کابل په لور مو حرکت وکړ.

..... شګوفه ....

څو وخته د خان شاه د مړيني څخه کيږي. وټاکل شوه چي يو ساده محفل ونيسی او زه د شعيب سره واده وکړم
خو عزيزې ډير بدلون موندلی ، بيرووتکې شوې ده
فکر مې د دې يو يو کار ته دی ځکه دا لکه زهرا نه ده او زه د تل په شان په دي جګړې کي يوازې يم
عزيزه دوه ماشومان لري او زه هيڅ.
بايد خپل خوله پټه ونيسم ځکه شعيب هم لکه خان شاه نه دی
يوازيني څه ته چي ارزښت ورکوي ځان دی بس.
د شعيب څخه لاړم او ومې ويل: پيسي راکړه ، بايد لاړشم خپل کالي د خياط څخه واخلم

وي ويل: مخته تر تا عزيزې پيسي واخيستل ، هغې هم خپل کالي خياط ته ورکړي وه وي ويل ستا لا هم راوړي
ته يو پياله چاوي راوړه چي ګرمي ، ګرمي لري کوي
ورڅخه کښيناستلم او ومې ويل: ګوره شعيبه .... زما او د عزيزي پيسی يو ځاي د عزيزي په لاس مه ورکوه
زه هم انسانه يم ، زما لا زما خپل په لاس راکړه
شعيب: د څه شي پيسي؟؟؟ ته چی په دي کور کي ماموره يې هههههه
هر څه چي مو په کار وه زه يي راوړم پيسو ته هيڅ ارتيا نلري يو د خياط پيسي وه چي عزيزي ته مې ورکړه نور هغې ته يي هم نه ورکوم زړه دی جيمي
ولاړه شه چاوي راوړه .

پخلنځي ته لاړم او ومې ويل: خدايه دا څه حال دی؟؟ د ده څخه خو يو غران هم نه اخيستل کيږي ، ډير وړی انسان دی
دروازه وټکيدل لاړم چي خلاصه يي کړم. همدا چي مې وويل: څوک يي؟؟
شعيب راغی د لاسه يې کش کړم ، نږدي وو چي ولويږم
وي ويل: ته څه کورته ..... زه راځم
وبيريدلم. الا خدايه دی ولي داسي چمونه کوي؟؟؟
لاړم کورته څو شيبي تيري شوي چي ګورم دا دی راغی. په غوسه يي وويل: په سينګار او سرو شونډو باندي ځي دروازه خلاصوي؟؟؟
داسي يي چيغي ووهل چي نږدي وو زړه مې ودريږي.
دوام يي ورکړ: ځکه چي زما په خوی او عادت نه پوهيږي دا وار خير ، واي دي وي ستا حال ته که بل وار دروازه خلاصولو ته تللې وي

پښې دي در ماتوم چي شله د کور په کنج کي کښيني
يو پردی سړی دروازه ټکوي ته څه خپل پر سر ځې دروازه خلاصوي؟؟؟
زه دي لکه تير ميړه نه يم! غيرت لرم! پوهه شوي؟؟
په بيري مې وويل: هو هو ... پوهه شوم! وبخښي بل وار يي نه خلاصوم

شعیب: او دا هم درته ووایم چي حق نلري دباندي خپل چادري پورته کړي چي خلک تا ووینی او راباندي ملنډي ووهي
په بیري مې وویل: کله ... کله مې دا کار کړی؟؟

شعیب: هغه ورځ چي ټکر اخیستلو ته تللي وو ومې لیدلي
هیر مي شو چي درته ووایم خو اوس وایم ، زما خوی همداسي دی ، پوهه شوي؟؟؟
ومې ویل: هو پوهه شوم ، نور خامخا خپل پام نیسم
د شعیب د تګ وروسته حیرانه پاته شوم چي او خدایه دا نو څه رقم انسان دی؟؟؟
دا څه بلا وه چي خپل غاړي ته مې واچول؟؟؟
خدایه خپله راسره مرسته وکړه .... باید نصیر ووینم

..... لیلا .....

ډیره خوشاله یم! څو ورځي کیږي چي د ډیر خوشالیه خپل په کالو کي نه ځاییږم.
د لومړی ځل د پاره ژوند هغسي چي زه غواړم مخته ځي. کله کله په زرهاو واره شکر باسم چي خداي فکر ونکړي زه ناشکري کوم او بیا ما یوازي پریږدي!
ډیر خپل د کورني پسي دیغه شوې یم. څه کیدل چي دا ورځ مې د دوي سره یوځاي لمانځلی وی؟؟
خپل د مور پسي تر نجونو بالا دیغه شوې یم.
زما ګرانې مورې .... په دي وخت کي کاش دلته وی .... کاش ..... هره ورځ دي دعا کول « لیلا مې چي واده وکړي نور هیڅ غم نلرم»

او نن دلته نه یې!
اوښکي مې د زني څخه څخیدل. عمه راغله ، ژر خپل اوښکي مې پاکي کړي چي وې ویل: ومې لیدل لوري ، مه یي پاکوه راحته واوسه
خیر دی پوهیږم چي د کورني څخه لري توب ډیر سخت دی خو مور دي اوس هر ځاي چي یي ستا د خوشالي څخه خوشالیږي ، دومره جګرخوني مه کوه
ته باید د ټولو هغه کسانو پر ځاي چي دلته نشته خوشاله واوسي چي د دوي نشتون

احساس نشي خپل د عمه د زړه سرې
عمه مې ټینګه په غیږ کې ونیول او ومې ویل: شکر عمه جانې ، شکر چې یې
خداي دي وساته

د نامزادي کمیس مې ارغواني رنګه وو ، وامې غوستی.
بینظیر چي هیڅ راځخه خوښ نه راتلل وې ویل: راشه چي زه دي سینګار کړم
ورته مسکې شوم هغې هم وخندل او وې ویل: تیر یادونه هیر کړه ، زه نورماله
اعصاب نلرم هههههههه
هم مې ډیر استرس درلود هم ډیره خوشاله وم. دوه بیل او جلا احساسات سره
یوځاي شوي وه او زما زړه یي په ریږدو کړی وو ...!
د عمه خبري مې واوریدلي او ومې غوښتل چي څو برابره ، د هغه کسانو پر ځاي
چي دلته نشته ، خوشاله واوسم.
په دهلیز ننوتلم. رضوان زما په لیدو وویل

رضوان زما په لیدو وویل: اوووو خدایه....!
خپل یو لاس یي خپل د خولي وړاندي نیولی وو او ماته یي کتل. د سترګو د ځلا
څخه یي خوشالي خورا ښکاره وه!
خندا نیولې وم ، خپل د لاس ګل مې خپل مخته ونیوی همدا وخت کي عمه سپانځه
راویستل او وې ویل: ماشاءالله چي نظر نشی خپل د عمه د زړه سرو!
رضوان نږدي راغی او خپل لاسونه یي زما د مخ دوه خواته پریښود او وي ویل: پری
وي ، ښاپیرې شوې!

په زړه کي مې د خوشالي څخه غوغا وه. په تندي یې ښکل کړم او کرار زما د غوږ
څنګ کي وویل: فکر کوم چي دا ټول خوب دی
یو دوه تاره ږیره مې ځیني ونیول او کلک مې کش کړل. په لوړ غږ یي آخ وویل
ومې ویل: ودي لیدل چي خوب نه وو او ویښ یي؟؟ ههههههه
همدا چي غوښتل د بازو څخه مې ونیسي وتښتیدلم او د عمه شاته پټه شوم.

عمه وويل: اوووو دا څه کوی؟؟ رضوانه انسان شه!
رضوان وویل: عمه پوهیږي چي ډیره څومره حساسه ده! داسي سوځي چي څه ووايي

ومې ویل: خو ته نه ویښیدلي ما درسره ښه وکړه هههههههههههه
د رضوان مور راغله او وې ویل: راځه لوري میلمانه راغلي کرار کرار ته هم ورشه خپل پر ځاي کښینه
رضوان ته مې وکتل چي ګورم بد بد راته ګوري
ومې ویل: داسي مه ګوره چي نظره کیږم ، یو ماشاءالله ووایه
په خندا یي وویل: ډیر نو .....
ومې ویل: ډیر څه؟؟
رضوان: بیا درته وایم ، اوس لاړه شه بیا ما او تا یوازي کیږو ، د ډیري کوفت درڅخه باسم

ومې خندل او د رضوان د مور سره دننه شوم. خپل د خوشالي احساس مې هیڅ پټولی نشو ، خوله مې په خندا خلاصه وه.
پام مې شو چي ټوله ماته ګوري ، ومې ویل: « اوس به ووايي چي څنګه سپکه ناوې ده ، هیڅ خوله یې د خندا څخه نه ټولیږي»
د ښځو په مینځ کي مې یو وار احساس وکړ چي خپل مور مې ولیدل. هر څومره چي ځیر شوم مور مې نه وه .... زړه مې یو وار سست شو.
خدا جو .... مور مې وه ، ما ولیدل! اوښکي مي د سترګو د کنج څخه پر لاس وڅخیدل.

ما ولیدل ، راغلې وه! نن یي زه یوازي ایښي نه یم!
په زړه کي مې وویل: «جار دي شم چي راغلې یې موري! پوهیږم چي یو ګوښه ولاړه یي او ماویني
موري د نیکمرغي او سفید بختي دعا راته وکړه تر سر دي وګرځم»

عمه راغله او وې ويل: څه شوې دي لوري؟؟ سترګي دي ولي سرې شوي؟؟ مه ژاړه!
ومې ويل: عمه خپل مور مې وليدله ، پخداي چي مې وليدله
کټ مټ د دروازي مخته ولاړه وه
عمه: ويي لوري ، خامخا همداسي دي په فکر کي ګرځيدلي دي
خو مور ده دعا يي تل د خپل د اولادو سره ده لوري .... مه ژاړه ، بيخي سره شوې يې

خندا ونيولم. ومې ويل: زه همداسي يم ، پوست مې ژر سور کيږي هههههههههه
عمه: خوشاله واوسه چي د مور زړه دي هم خوشاله شي ، په دي نيک ورځي کي مه ژاړه
رضوان مې څنګ ته راغی ، زما لاس يې ونيوی او وي ويل: زما سره څنګه ده؟؟؟
د لومړي ځل د پاره د دي څخه چي راته (سره) يي وويل خوشاله شوم.
ومې ويل: ښه يم د سرې د زړه سره.
يو مسکا يي وکړل او وي ويل: ماشاءالله ډيره ښايسته شوې يې
وشرميدلم ، خپل سر مې ښکته واچوی.

دوام يي ورکړ: دا سينګار هم عجبه نعمت وو پخداي
مسکا مې د مينځه لاړه ، ورته مې وکتل او ومې ويل: ښههههه
او خپل يو ورځه مې پورته کړه.
وي ويل: د خلکو مخته بد کار دی خپل سترګي راباندي مه باسه ، پريږده چي محفل خلاص شي بيا ههههههههه
خندا ونيولم. عمه کچي راويستل ، تر هغه شيبي پوري مي کچي ليدلي نه وه.
د کچو په ليدو سره مې سترګي وځليدلي ، ډيري ښايستي وي!
رضوان وويل: د کچي شاته زموږ نوم ليکل شوی
دا زما مشره عمه د امريکا څخه په پوست کي راليږلي
ومې ويل: کور يي ودان ، څومره ښايسته ډالي!
بايد خامخا ورڅخه مننه وکړم

د رضوان لا ساده وه ، او زما لا څو ارخه وه او شاته يي هم زموږ نومونه ليکل شوي وه.

.... جلال .....

کابل ته ورسيدلو. هوا د ورځ په مينځ کي بيحده ګرمه وه.
ومي ويل: زه لومړی کورته ځم او د سهيلا سره خبري کوم
فاروق وويل: سمه ده لاړشه
زه هم داسي ستړی يم چي هيڅ پوښتنه مه کوه ، لاړشم يو ګړي خوب وکړم او يو څه وخورم
په خندا مې وويل: په دوه دانو مڼو سره دي ځان دوه ورځي وچلول ، آفرين دي هههههه

فاروق هم په خندا ځواب راکړ: ستا سره ملګرتيا يو ورځ نه يو ورځ ما مړ کوي
ومي ويل: خداي دي نه کوي زما ګرانه وروره
څه کورته چي اوس د ډير وړيتوب نه بي هوشه نشي
د کور خواته مي حرکت وکړ. همدا چي دروازه مي خلاصه کړه سهيلا د دروازي شاته وه زه يي چي وليدلم يو متر وپريدله!

په خندا مي وويل: څنګه يې؟؟
زما شاته يي وکتل يو وار مي زړه ورباندي وسوځيدی ... د حميرا پسي ګرځيدله.
د لاسه مي ونيوله او ومي ويل: دوري ...... ماته وګوره
وبخښه ، حميرا مي پيدا کړه خو ځان سره مي رانوره د راوړلو د پاره يي ستا مرستي ته اړتيا لرم
سهيلا په غمجن نظر راوکتل او وې ويل: څنګه زما مرسته غواړي؟؟؟ حميرا يې غلا کړی ، بايد پوليس ته دي ويلی وی خداي خبر چي په هغه کور کي به څه ورباندي تيريږي

غوښتل يي چي وژاړي ، ومي ويل: ښه واوره چي درته څه وايم .....
او ټوله کيسه مي سر تر پايه ورته وکړه. د سهيلا حيرانتيا هره شيبه زياتيدل.
وې ويل: زه څنګه دا کار وکړم؟؟؟ همداسي خپل سر ښکته واچوم د خلکو په کور ننوځم؟؟
ومي ويل: که خونسرده واوسي او د يو ميلمه په شان چلند وکړي هيڅ خبره نه کيږي
يوازي بايد حميرا پوهه کړي چي ته ورپسي تللې يې چي بيرته يي راوړې ، که زه لاړشم ...

خپل د خولي ناړي (لاړي) مي تيري کړي او دوام مي ورکړ: زما څخه به يې چندان خوش رانشي ، ما يي دوي خويندي د کوره وړې
ته بهترينه انتخاب يي سهيلا!

سهيلا د يوه ژوره ساه اخيستلو وروسته وويل: ښه کله بايد لاړشو؟؟
ومي ويل: لومړی زما د مور څخه اجازه اخلو ، بيا نن شپه حرکت کوو
تر څو رسيږو او يو پلان جوړوو واده هم رارسيږي ، بايد يو پلان ورته جوړ کړو بي پلانه نه کيږي
که ګير راغلي ډيره خبره غټه کيږي

سهيلا: ځه ښه دی ، وګورو چي څه کيږي
انشاالله چي ګير نه راځو
يو ځاي کورته لاړو. شپه شوه او د ډوډي خوړلو په وخت کي مي وويل: مور جانې که ستاسو اجازه يي زه د سهيلا سره په چکر مزار ته ځم
زمونږ د واده څخه ډير وخت کيږي خو هيڅ ميلي ته تللي نه يو
مور مي خوشاله شوه او په خوشالي يې وويل: شاباس زويه! ښه کوي پخير لاړشی د جمال او زليخا څخه خو مې خير ونه ليدی تاسو يو لمسی راته راکړی
په دي سپين سرتوب کي مې زړه لمسی غواړي

سهيلا وشرميدله او خپل سر يې ښکته واچول.
خندا نيولی وم. ومي ويل: په سترګو ، يو نه پينځه شپږ لمسيان به درته درکړم مور جانې

يو وار مي پام شو چي سهيلا د حيرانتيا څخه په غټو سترګو راته ګوري. د ټولو پام سهيلا ته شو او په خندا شوه. سهيلا داسي شرميدلي وه ، تکه سره شوې وه!
زليخا وويل: جمال ما هم په چکر مزار ته يوسه ، زه هم د سهيلا سره ځم
همدي وخت کي ما او سهيلا يو ځاي وويل: نههههههههه
ټولو مورې ته وکتل. ومي ويل: نه هدف مي دا دی چي مورې جدا ځو
مور مي وويل: يوو دا نو څه خبره ده؟؟ د زليخا د کاکا کور په مزار کي دی ، د زليخا سره يوځاي د هغه کورته لاړشی
جمال وويل: هو نو هسي خلک ښوروي
مورې هم راځو

سهيلا ته مي وکتل. دواړه حيران وو چي اوس څه وکړو.
د ډوډي وروسته کوټي ته لاړم ، سهيلا ته مي اشاره وکړه ، راغله.
ومي ويل: اوس څه وکړو؟؟
سهيلا: راشه چي د خبري مثبت اړخ وګورو
شبرغان د مزار څخه څومره لري دی؟؟
ومي ويل: دقيق نه پوهيږم خو فاصله يي د کابل پوري کمه ده
سهيلا: ښه ... مورې حميرا د زليخا د کاکا کورته وړو که د حميرا پسي وګرځي هم د مزار خواته نه راځي ځکه د حميرا کورني په کابل کي ده
د څو شيبو فکر کولو وروسته مي وويل: ولا ښه نظر دی
اوس جمال څنګه پوه کړم چي زه نن شپه حرکت کوم؟؟
سهيلا: دا خبره ماته پريږده ، زليخا جمال پوهوي هههههههه

.... سهيلا ....

په څغاستو مې ځان دوهم منزل ته ورسول. د جمال او زليخا غږ راتی
زليخا وويل: کټ مټ يوه مياشت وري کښينم ، ديغه شوې يم
خداي دي جلال ته خير ورکړي ، ښه شو چي وي ويل!
جمال: يو مياشت کښيني؟؟؟
زليخا: هو ، ښه ده سهيلا سره د مزار بازارونو کي ګرځم ، ديغه شوې يم
دروازه مې وټکول. زليخا وويل: راځه دننه
لاړم ومې ويل: ګرانې مورې نن شپه حرکت کوو
زليخا: نهه يووو ولي؟؟

ما خپل کالي نه دي ټول کړي ، صبر وکړی جمعه ځو
ومې ويل: نهه جمعه خو ډيره لري ده ، زه د جلال سره نن شپه ځم
زليخا جمال ته وکتل او وې ويل: وګوره!
دوي سري ماښام پريکړه کوي ، شپه حرکت کوي که ته وسي د کال په سر وايي اخر هم ځوک نه وړي
جمال وويل: زه سبا او بل سبا ډير ضرور کار کرم ، مال راځي هغه بايد په تحويل واخلم

دومره چي ورخطا يي نن شپه د دوي سره لاړه شه ، زه يو نفر يم ځان تر جمعي پوري رارسوم
زليخا: نو سهيلا راشه زما کالي راسره ټول کړه يواځي نشم کولی
لاړم چي ورسره مرسته وکړم. په ياد مې شوه چي زه خو بايد واده ته لاړه شم ، محفلي کالي مې په کار دي.
ومې ويل: زليخا داسي محفلي کالي لري چي پر تا تنګ شوي واوسي؟؟؟
زليخا: هو ، څنګه؟؟؟
ومې ويل: جمعه هلته واده دی زما يو جوړه په کار ده
زليخا: يووووووو څومره ښه زه هم درسره ځم

په زړه کي مې وويل: دا يي بيا بل غم! اوس دا څنګه کړم؟؟؟

ومې ويل: ګرانې ته هغه خلک نه پيژني ، د دوي واده به دی خوښ نشي
زليخا: په دي کي نو څه خبره ده؟؟ د هر رقم خلک او فرهنګو سره اشنا کيږم
يو څه شناخت او پوهه د نورو خلکو او رسم و رواجو په اړه هم پيدا کوو ، د دوي کالي ، واده ، رسم و رواج
ومې ويل: ته صبر زه اوس بيرته راځم
په ځغاستو مې ځان ښکته ورسول او په کوټې ننوتلم ، جلال غوښتل خپل کميس وباسي همدا چي دی مې وليدی چيغي مې ووهل او بيرته راووتلم.
څو شيبي وروسته راپسي راغی او وي ويل: مرګ! زموږ ابرو دي يوړه! دننه راشه په دهليز کي وم چي د جلال مور راووتل او وې ويل: څه خبره ده؟؟ څه چيغي دي؟؟

ما او جلال ته يي وکتل او دوام يې ورکړ: شرم وکړی! په دي کور کي نور خلک هم شته
او بيرته خپل کوټې ته لاړه.
جلال وويل: خوند يي درکړ؟؟
يو څه ابرو چي مي درلود هغه هم ستا سره د مينځه لاړه
څه دي ويل؟؟ ووايه
بد بد مې وروکتل. په کوټې ننوتلم او ومې ويل: دروازه قلف نلري چي ترلی دي وی؟؟
جلال: نه ... هغه دی وګوره خراب دی
غوښتل مو چي نوي کوټې ته لاړشو خو وخت نشو چي شيان نوي کوټې ته يوسو ورته مې وکتل ، خندا ونيولم.
جلال: توبه! ريښتنې ليوني خو ته يي، څه دي راته ويل؟؟

خپل خندا مې سره ټوله کړه او ومې ویل: زلیخا هم واده ته راځي
جلال: څههههههههه؟؟ توبه! د پخوا څخه یې ویلي « په هغه کار کې چې ښځو لاس درلود خامخا خرابیږي»
اوس هغې ته دې ولې وویل؟؟
ومې ویل: ما محفلي کالي نه درلود ، ورته مې وویل پوهه شوه
جلال: نو چاره څه ده؟؟ په لاره کې یې پوهوو
سبا جمال بار خالي کوي هغه خو سل په سله نه راځي
ومې ویل: هو دی جمعه راځي
جلال: ښه دی ، هر څه چې په کار دي سره ټول یې کړه زه ځم چې د فاروق سره خبري وکړم تر څو دوه ساعته وروسته حرکت وکړو او سبا ماښام شبرغان ته ورسو بل سبا هم واده دی
ومې ویل: سمه ده خپل شیان ټولوم

..... جلال .....

لاړم دروازه مي وټکول. فاروق چې معلوم وو اوس یې هم خوب د سره نه دی پریدلی ، دروازه یې خلاصه کړه او وي ویل: پخداي قسم ته باید زموږ د کور زوم شوی وی
په خندا مي وویل: د دي په اړه بیا وروسته خبري کوو
هله زویه خپل ځان تیار کړه چې شبرغان ته ځو
وي ویل: سمه ده ، ته لاړشه زه تیاریږم
د زلیخا دوه بکسه مي د موټر شاته پریښودل او ومي ویل: د څو کالو د پاره سفر ته ځي؟؟ دومره کالي ...!

د سهیلا یو کوچنی بکس په لاس کي وو ، وې ویل: دا خپل د پښو څخه ایږدم ورته مي وکتل او په زړه کي مي وویل: دا څومره ساده او په زړه پوري ده ، یو جوړه یي اخیستي چي په واده کي واغوندي خلاص

ومي ويل: رايي کړه دلته شاته ځاي شته
کله چي موټر ته ختلم ، د سهيلا باړخو مي کش کړ. خپل لاس يي خپل پر مخ ونيول او په حيرانتيا يي راوکتل.
ومي ويل: ښايسته باړخوګان لري!
او موټر ته وختلم. زليخا او سهيلا شاته کښيناستل زه او فاروق هم مخته او وروسته د بسم الله ويلو مو حرکت وکړ.
ومي ويل: بيده شی داسي ډير ستړي کيږی ، تر سبا په موټر کي يو

... ليلا ....

شپه شوه او تر اوسه نڅاګاني رواني وي. ډير ميلمانه تللي وه يوازي څو نږدي خپلوان او د عمه ځانګړي ملګري کور کي پاته وه.
عمه ته مې وويل: زه څم خپل کالي باسم ، ستړي شوې يم
وې ويل: صبر وکړه لوري چي ميلمانه لاړشي ، د خوب په وخت کي بيا وباسه هوسا بيده شه
ومې ويل: سمه ده عمه جانې هر څنګه چي تاسو ووايست
د جهان ورور څخه لاړم. راته يي مبارکي راکړه ، مننه مې وکړه.
ومې ويل: وروره رضوان دي نه دی ليدلی؟؟؟
وي ويل: نه پوهيږم ، د بام کيلي يي راڅخه واخيست هوا ښه ده بام ته به تللی يي
ومې ويل: مننه

او د بام خواته مې حرکت وکړ.
لمنه مې اوږده وه ، همداسي پر ځينو کشيدل ، سره ټوله مې کړه او بام ته ننوتلم.
هوا په زړه پوري وه او سپوږمي ځليدل.
ګورم چي رضوان په کنج کي ناست دی او پښي يي د کوځي خواته زړولي.
د شا څخه ورته نږدي شوم او په غيږ کي مي ونيوی ، وبيريدی.
په غوږ کي مې وويل: د ځان وژني اراده دي کړي؟؟ ولي داسي ناست يي؟؟

په خندا يي وويل: نه! بي شکه چي نن مي د ژوند تر ټولو ښه ورځ وه نو ولي باید ځان وژنه وکړم؟؟؟

څنګ ته يي کښیناستلم.
وي ویل: پام دي نیسه چي ونه لویږي
څه يو شمال وو!
ومې ویل: د څه شي په اړه فکر کوي؟؟
راته يي وکتل او وي ویل: دا چي زه یو میاشت وروسته ځم او ته د څلور کالو د پاره یوازي پاته کیږي
ومې ویل: ولي څلور کاله؟؟
رضوان: ځکه څلور کاله وروسته زه کولی شم چي اقدام وکړم او تا ځان څخه وغواړم
یو اووف مې وایستی او ومې ویل: لکه چي خوشالي زموږ سره هیڅ جوړه نه ده څه بلا؟؟

رضوان وخندل ، زما لاس يي ونیوی ، خپل د خولي وړاندي يي یوړ او ښکل يي کړ ، وروسته يي خپل په زړه پریښود او وي ویل: یوازي ستا په امید دا څلور کاله زغمم خو ته هم باید په دي کلونو کي دلته خپل زده کړي ته دوام ورکړي ، زه درته میاشت په میاشت پیسي رالیږم
مسکې شوم او په بارخو مې ښکل کړ.

ومې ویل: زه هم بي له تا هیڅوک نلرم ، زر واره شکر باسم چي خداي ته راته راکړي تر توانه پوري خپل هڅه کوم او خپل زده کړي ته دوام ورکوم ، ژمنه کوم درسره
رضوان: ولاړه شه چي ښکته لاړشو ، دواړو دلته راغلي یو چي اوس زموږ پسي خبره جوړه نکړي ههههههههه
ومې ویل: هو پخداي! راځه

..... جلال ....

سهار ته نږدي وو او زما سترګي د خوبه نه خلاصيدل. فاروق مي په اوږي ووهل او ومي ويل: ولاړشه چي زه روند شوم ، اوس ټکر ونکړو
ته زما پر ځاي راشه
فاروق يو اړږمي وايستل او وي ويل: وروره نکيږي چي يو شل دقيقي نور مي همداسي پريږدي؟؟؟
په خندا مي وويل: د خاله کور دی؟؟ ولاړشه په موټر کي يو! خدا مه کړه اوس ټوله به مړه شوي يو ، سترګي مي پټي پټي کيږي
موټر مي ودرول او ښکته شوم. فاروق خپل په مخ يو څه اوبه ووهل او لاړی زما پر ځاي کښيناستی.

د فاروق پر ځاي کښيناستلم چي د هينداري څخه مي سهيلا وليدله. خوله يې خلاصه وه ، سر يي د زليخا پر اوږي وو او د خولي اوبه يي رواني وي.
خندا ونيولم. څو واره مي په پښي ووهله تر څو چي سترګي يي خلاصي کړي او وې ويل: اوس چاوي دموم
او بيرته بيده شوه.

ومي ويل: څه؟ څه وايي؟؟ ولاړه شه د دې بلي اوږه دي لانده کړه، سهيلا!
فاروق وويل: خير دی څه کار په لري؟؟ پريږده د دواړو ځاي راحته دی
د سهيلا څهره ډيره خندوونکې شوې وه.
خپل د کالو غوټه مي خپل پر سر پريښود او بيده شوم. ( يو کوچني غوټه چي يو جوړه کالي پکښي دي).
يوازي څو دقيقي تيري شوي وه چي فاروق ويښ کړم او وي ويل: ولاړشه چي ورسيدلو
ومي ويل: وه ظالمه ساعت څو دی؟؟
فاروق: څه کم د غرمي يوه بجه ده
ومي ويل: څههههه؟؟؟ درواغ مه وايه! زه يوازي څو دقيقي بيده شوم
د شا څخه سهيلا وويل: نه خان صايب! څو ساعته کيږي چي تاسو بيده ياست

زليخا خپل د کاکا د کور آدرس راکړ او وې ويل: د هغه تير ځاي څخه يي کوچ کړی ، اوس هلته ژوند نه کوي

د دوي د کور خواته مو حرکت وکړ.
کورته يي ورسيدلو ، ځکه چي نابللي ميلمانه وو زموږ د ليدو تمه يي نه درلود. د زليخا د کاکا ښځي ډير په خلاص تندي ستړي مشي وکړل.
د ډير خوبه مي سترګي نه خلاصيدل.
ګورم چي سهيلا هم د ستړي مشي په حال کي ده ، ورته مي غږ کړه خو وايي نوريدل.
اووووف توبه د داسي ښځي څخه! بيا مي وويل: سهيلاااااا؟؟؟
زما خواته يي وکتل ، نږدي راغله او وې ويل: څه شوي دي؟؟ ښه يي؟؟

ومي ويل: د زليخا سره خبري وکړه ، زه بايد بيده شم سر مي ډير درد کوي ، يو بالښت چي يي هم بس دي ځکه مغزی مي بد رقم درد کوي
سهيلا: سمه ده ، صبر ځم وايم
څو دقيقي وروسته يو بالښت او توس يي راته راکړ ، داسي احساس مي وکړ لکه جنت يي چي راته راکړي يي.
بيده شوم.

سهيلا ويښ کړم او وې ويل: ولاړشه نو د شپي نه بجي دي ، د ډوډي وخت دی خپل لاس و مخ مي پريويستل او ومي ويل: سهيلا! زليخا ناري کړه خپله هم راشه دواړه راغله. ډوله کيسه مي زليخا ته وکړه ځکه پر زليخا مي تر سهيلا بالا باور درلود ، هغه چالاکه وه بنده نه پاتيدل.
زليخا اول ډيره حيرانه شوه بيا وروسته يې وويل: د يو وړوکي ماشوم خبره ده ، زه هم د مرستي د پاره راځم
د سهيلا خور زما خور هم کيږي
هيڅ مي باور نه کيدی چي زليخا به دومره بدلون موندلی وی!

ومي ویل: ښه سمه ده ، نیمايي شپه نږدې و سهار ته د شبرغان خواته حرکت کوو ،
پوه شوی؟؟
زلیخا: زه خو پوهه شوم

.... سهیلا .....

ډیر مې استرس درلود خدایه دا به څنګه شي؟؟ د دسترخوان پر سر وو خو زړه مې
هیڅ ډوډۍ ته نه کیدی. د زړه مې یو خداي خبر وو! که ګیر مو کړې بیا څه؟؟؟
په همدي وخت کي زلیخا وویل: وه نجلی ...!
ومي ویل: ها ... څه وايي؟؟
زلیخا: هغه ژر کمیسه نجلي ویني؟؟
هغه خواته چي زلیخا اشاره کول ومې کتل او ومې ویل: ښه؟؟
زلیخا: دوه سترګي یي په جلال کي دي
کاچغه مې پریښود. ښه ځیر شوم چي ګورم هو ، رښتیا وايي!
جلال ته مې وکتل چي د نارینو سره یي کیسی کول او هیڅ یي فکر هغه نجلي ته نه
وو.

کرار مې زلیخا ته وویل: دا کم بدبخته ده؟ ته یې پیژنې؟؟
زلیخا: دا زما د کاکا د زوي خوشینه ده ، خپل د خور کورته میلمنه راغلې
مجرده هم ده
همدا چي وویل (مجرده هم ده) یو وار مې زړه ورژدید.
بیا مې هغه نجلی ته وکتل چي څومره په ناز ډوډۍ خوري او خپل سترګي هیڅ د
جلال څخه نه اړوي
ډیر یي زور راکړ ، خپل غاښونه مې پر یو بل وچیچل.
دعاوي مې کول چي د جلال پام نشي ...!
ډوډۍ خلاصه شوه. لاړم د جلال څنګ ته کښیناستلم ګورم چي د نجلې پام ماته شو ،
د لري نه یي سلام راکړ ما هم ورته سر وښورول او سلام مې ورکړ.
ګورم چي زه یې هیڅ حساب نکړم او بیا هم د سترګو لاندي جلال ته ګوري.

په زړه کې مې وویل: لا حول ولا! لعنت پر شیطان! دا نو څنګه نجلۍ ده؟؟
ټول فکر مې د هغه نجلۍ حرکاتو ته وو خو ښه شو چې د جلال هیڅ پام نشو ، د کار و بار خبرې یې کول
زلیخا ته مې وکتل ، اشاره یې وکړه چې: «څه کوې؟؟»
د جلال لاس مې په لاس کې ونیوی ، یو څه نور هم ورته نږدې شوم ، هیڅ فاصله مې خپل او د جلال په مینځ کې پرینښود او مستقیم مې هغه نجلې ته وکتل.
په همدې وخت کې جلال زما د غوږ تر څنګ وویل: خیریتې ده انشاءالله؟؟
جلال ته مې وکتل ، په خندا مې وویل: هو ، ولې نه یې؟؟
په حیرانتیا یې راوکتل او وروسته یې مسکا وکړل.
زلیخا د لرې نه اشاره کول او ویل یې: «شاباس!»

د خوب وخت شو او ټول خپل کوټو ته لاړه زه او زلیخا د نور ښځو څخه بیده کیدلو او جلال او فاروق هم د نارینو سره بیده کیدل ، خالې کوټه نه وه ځکه مخته تر موږ یې هم میلمانه درلود.
هغه ژېر کالې نجلې مخته راغله او وې ویل: سلام څنګه یاست؟؟ ستړې مشې
زه شهلا یم
بد بد مې وروکتل او ومې ویل: زه هم سهیلا یم ، د جلال ښځه!
زلیخا خندا نیولې وه ، وې ویل: زه هم زلیخا یم ، د سهیلا د لیوره ښځه.
شهلا وویل: تا خو پیژنم سهیلا مې نوې ولیدل
زلیخا: هو تازه یې واده کړې

شهلا: ښه ښه ... ما فکر کول چې جلال تر اوسه مجرده دی.
تیر کال چې د زلیخا پښه خلاصې ته راغلی وو ډېر مو کیسې کول د ښوونځې په درسونو کې هم راسره مرسته وکړه ، ډېر ښه هلک دی ...
په زړه کې مې وویل: څه؟؟ د دې نجلۍ سره یې کیسې کول؟؟
ډېر یې زور راکړ ... په دې معنې چې د دې نجلې سره یې د ښوونځی درسونه یې ویل؟؟

توبه! دا څه رقم کالي اغوندي ، بي شرمه!
ته يې دا غاړې ته وګوره! توبه توبه!
زليخا راته وکتل ، زما د څهرې څخه پوهه شوه چي زور يې راکړی
وې ويل: شهلا جانې مورې بيديږو بيا به خبري وکړو

شهلا: سمه ده بي د هغه هم ستړې ياست سبا بيا دخيره خبري کوو ، ښه شپه
ډير يې زور راکړی وو. ولي جلال بايد د دي سره مرسته وکړې؟؟
بي تربيه نجلې...! د جلال ګناه ده ، ته صبر چي سهار شي!
زليخا وويل: دومره ځان مه خوره چي ډنګريږې ، هيڅه خبره نه ده جلال هغه وخت مجرده وو خو اوس ښځه لري
دومره جګرخوني ګټه نلري
نږدي و سهار ته وو چي زليخا ويښه کړم او وې ويل: ولاړه شه خپل محفلي کالي واغونده چي د شبرغان خواته ځو
محفلي کالي مو واغوستل. چادري مې پر سر کړه. جلال د دروازي نږدي ولاړ وو لاړم پښه مې ځيني لغته کړه

وي ويل: آخ! ړنده يې؟؟
ومې ويل: نه خپل ړوند يي ، خپل پښه ټوله کړه
موټر ته وختلو او د شبرغان خواته مو حرکت وکړ. ټول لاري کي جلال ماته کتل. د هوا د روښانيدو سره ورسيدلو.
جلال وويل: په موټر کي واوسی تر څو يو څه واخلم وي خوری بيا وروسته د دوي د کور خواته ځو
نږدي دوولس بجو ته ورسيدلو. زه او زليخا په بيري سره د موټر څخه ښکته شوو.
عجبه ډول او سرني وه!
د زليخا لاس مې ونيوی. جلال وويل: سهيلا خپل پام ونيسه
بد بد مې وروکتل او ومې ويل: منګه تاته ارزښت هم لري چي په ما کم څه وشي که نه؟؟

په حیرانتیا یې راوکتل. غوښتل کم څه ووایي چي د حمیرا سره مخته لاړم. محفل ته چي ننوتلو زلیخا وویل: خپل چادري لري کړه خو خپل پوړني خپل د خولي وړاندي ونیسه چي ونه پیژندل شي
په کور ننوتلو ، عجبه سندري او نڅاګاني وي!
ومې ویل: څومره دي واده کي ګڼه ګوڼه ډیره ده!
زلیخا: هو ولا ډیر غټ قوم لري ښه شو زموږ په ګټه شو
وګوره چي حمیرا چیري ده
څومره غټ کور وو! د حمیرا پیدا کول ډیر ستونزمن وه.
زلیخا لاړه کښیناستله او وې ویل: ته حمیرا پسي وګرځه زه کښینم چي څوک شک ونکړي

ومې ویل: سمه ده
لاړم یو یو کوټه مي وکتل ، خو حمیرا نه وه! خدایه دا نجلې چیري ده؟؟
سراي ته لاړم ، پام مې شو چي د سراي په کنج کي یو پخلنځي ده.
په پخلنځي ننوتلم چي ګورم یو نجلي پر ځمکي ناسته ده او سابه پاکوي.
نږدي شوم او ومې ویل

نږدي شوم او ومې ویل: وبخښی؟؟
پورته یې چي وکتل ، د حمیرا ښایسته سترګي مې ولیدل.
پوړنی مې خپل د خولي څخه لري کړ. زما په لیدو یې یو (هاااااا) وویل او په غیږ کي ونیولم. دومره یې ټینګه په غیږ کي نیولې وم چي ساه اخیستل راته ستونزمن شوې وه.
په څو ثانیو کي سترګي د اوښکو ډکي شوي.
په لرزانده غږ یې وویل: سهیلا زما پسي راغلې یې؟؟
ومې ویل: هو زما د زړه سرې ، راغلم زما خوري ، راځه چي لاړشو
حمیرا: دوه نیم زره دي راوړې؟؟
ومې ویل: ولي؟

حمیرا: زه یې په دوه نیم زره رانیولې یم
ومې ویل: نه په پټه وځو ، دا ښځه په دي هوساتوب تا نه ایږدي چي لاړه شي که هرڅومره هم ورته پیسي ورکړو
حمیرا: نو صبر چي زه دا سابه پاک کړم ، چاوي دم کړم او بي بي حاجي ته یي یوسم د نفس تنګي ناروغي لري باید خپل چاوي پر وخت وخوري که ناوخته کړم پوهیږي
ومې ویل: سمه ده ، زه په مجلس کي یم ژر راشه
حمیرا: سمه ده
زما لاس یې ونیوی ښکل یې کړ او خپل په مخ یي پریښود او وې ویل: شکر چي راپسي راغلې سهیلا! شکر چي راغلې
سترګي مې د اوښکو ډکي شوي ، ومې ویل: لاس واچوه (یعنی ژر کوه) تر څو چي نه دي پوهیدلي باید ووځو
راووتلم او ځان مې زلیخا ته ورسول چي ګورم داسي کیسی یې پیل کړې چي څه ووایي

ومې ویل: خدایه! داسي خو ګیر راځو
څنګ ته یي لاړم او کرار مې ورته وویل: څه کیسي دي شروع کړې؟؟ حمیرا مې پیدا کړه کرار سراي ته ووځه
زلیخا: ته صبر چي مرکه مې پیدا کړه
زوي یي ځمکي لري هههههههه
ومې ویل: بلا دي تا ووهي نو جمال څه شي دي؟؟؟
زلیخا: صبر وګورم چي څنګه خلک دي
ته حمیرا وباسه زه درپسي راځم چي څوک شک ونکړي
ومې ویل: سمه ده

دباندي لاړم چي ګورم حمیرا تازه چاوي وړي.
څنګه چاغکه شوې ده! خپل په ګردي سپین لاسو باندي یې چاوي وړل.
د کړکي د شا څخه مې ولیدل چي حمیرا چاوي یو چاغي ښځي ته چي د ناوي څنګ

ته ناسته وه ، وي وره.
غوښتل راشي چي د لاسه يې ونيوله او خپل د پښو څخه يې کښينول.
ومې ويل: او خدايه نههههه
لارم زليخا څخه او ومې ويل: هغه ښځه حميرا يې ټينګه نيولي ده ، اوس څه وکړو؟؟
زليخا وويل: ومې ليدل ګرانې ، ومې ليدل. ته صبر يو فکر مې په سر کي دی
زه ځم مبارکي ورکوم ته اشاره وکړه چي حميرا ژر راووځي
ومې ويل: خو تا بيا پيژني
زليخا: بلا مو ورپسي! نو څه وکړو؟ بله چاره نلرو.

يو څه لري ودريدلم ، زليخا خپل پوړني شاته کړ سره زر يې ښکاره شوه ، توني شوې ويښتان او هغه ښايسته سينګار يې چي کړی وو دومره يې دا ښايسته کړې وه چي سترګه دي ځيني نشو اړولی! خپل د شنو سترګو سره يې ټولو ته په ناز کتل.
د ټول محفل ښځو پام زليخا ته شو. خپل په جګ قد يې ټول ليونی کړل!
کرار او په ناز بي بي حاجي ته نږدي شوه او لاس يې ښکل کړ ، وې ويل: مبارک دي وي بي بي حاجي جاني ، خداي دي نيک و مبارک کړي.
د ناوي سره يې هم روماچي وکړل.

همدي وخت کي مې حميرا ته اشاره وکړل ژر د ځايه ولاړه شوه او زما خواته راغله.
لاس مې ځيني ونيوی او په ځغاستو د کوره ووتلو.
د کوځي تر سره دواړه وځغاستلو او ځانونه مو موټر ته ورسول.
ومې ويل: ژر موټر ته وخيژه ، ژرررررر
جلال وويل: زليخا کمه ده؟؟
ومې ويل: دننه ده ، د دوي فکر يې په بله کړ چي ما حميرا وايستله که ني نه کيدل
حميرا وويل: دا د ليلا ميره نه دی؟؟؟
جلال وويل: ما ستا دواړي خويندي واخيستل ، د دواړو ميره يم ههههههههههه
ومې ويل: چپ ليونيه! دعا کوه چي زليخا ګيره نکړي

جلال: هوښیاره ده فکر نکوم چي ګیر راشي
ومې ویل: بیا هم .... خداي دي وکړي چي ګیره نشي ...
زړه مې نارامه وو او دعاوي مې کول.

یو لس دقیقې تیري شوي چي ومې ویل: جلاله تباه شو! پخداي چي ګیره کړي یې ده
جلال تر ما زیاتره بیریدلی وو!
وي ویل: خداي دي نکوي ، اوس به راشي
په همدي وخت کي چي زړه مې خولي ته راغلی وو زلیخا د کوره ووتله. د موټر د کړکي څخه مې ورته لاس وښورول ، په ځغاستو زموږ خواته راغله او په موټر کي سپره شوه.
په غیږ کي مې ونیول او ومې ویل: شکر چي ګیره یې نکړي! ولي دي دومره وځنډول؟؟؟
په خندا یې وویل: زما مئینانو اجازه نه راکول هههههه
یو دوه څرخکه مې ووهل

خندا ونیولم. ومې ویل: خداي دي تا اصلاح کړي! زموږ زړه دي ودروی
جلال په تلوار د مزار خواته حرکت وکړ.
ډېره بیریدلې وم ، ریږدیدلم. هیڅ مې لاسونه زما په کنترول کي نه وه.
زلیخا زما د لاس د نیولو سره وویل: کرار کرار اوس دي زړه دریږي
ومې ویل: نکیږي پخداي چي نکیږي که زموږ شاته راشي بیا څه وکړو؟؟
جلال غږ کړه: داسي ژر یې پام نه کیږي ځکه ټول په کارو او نڅاګانو مصروفه دي
زلیخا وویل: رښتیا وایي ، سهیلا اندیښنه مه کوه تر څو چي د دوي پام کیږي خداي خبر موږ به چیري یو

موټر په چټکتیا روان وو ، څرکونه هم خامه وه هر څه چي مې کول عادي رفتار وکړم نه کیدل ، رنګ مې پریدلی وو

حمیرا زما لاس ونیوی او وې ویل: بدن دې څومره سوړ دی ، ښه يې؟؟؟
ورته مې وکتل ټینګه مې په غیږ کې ونیوله ، په سر مې ښکل کړه او ومې ویل: زر واره شکر چې پیدا مې کړې ، نه پوهیږې چې څومره مې د زړه وینه وخوړل څومره مې ځان ملامته کړه چې ولې مې ته د ځان څخه رانورې
بیا مې دوام ورکړ: ته خو يې ونه زوروليې .... یعني وایم ستا په بدن يې خو لاس ونه وهل؟؟

زلیخا وویل: عجبه خبري کوي کوچني نجلي ده ، بیا دوي خو د نوکري او غلامې د پاره نه وه اخیستي لور يې نه درلود ځکه يې حمیرا رانیول
حمیرا ته مې وکتل او د ځواب په تمه وم. د حمیرا سترګي د اوښکو ډکي شوي او وې ویل: زه وتښتیدلم ، پیدا يې چې کړم ډیر يې ووهلم وګوره د مغزی شا مې تر اوسه ښه شوي نه ده او درد کوي
د حمیرا د مغزي په لیدو سره چې شین شوی وو زړه مې د وینو ډک شو. د مغزي په شا مې ښکل کړه او ټینګه مې په غیږ کې ونیوله: خپل د خور تر سر وګرځم د دوي لاسونه دي مات شي دوي بي خیره لعنتي پست فطرته خلک
څنګه يي وکولی شو چي یو ماشومه ووهي؟؟ زه دي مړه شم ټول زما ګناه ده کاش دریسي راغلی وی او ته مې یوازي ایښي نه وی
حمیرا په ژړا وویل: نه ستا ګناه نه ده.... لیلا ......

یوه ژوره ساه يې واخیستل او دوام يې ورکړ: ګناه کاره لیلا ده!
که موږ يې نه وي پریښودلی داسي نه کیدل ..... لیلا موږ خوشي کړو هم ته په عذاب شوي هم زه ......
که لیلا وی نه ته يې وړې او نه زه يې خرڅولم
په لاس مې اوښکي ځیني پاکي کړې او ومې ویل: زه نه یم په عذاب شوي زما د زړه سرې.
د جلال او د ده د کورني څخه ډیره راضي یم
حمیرا په سرو سترګو راوکتل او وې ویل: حتي د ده د پلار څخه؟؟

جلال ته مې وکتل ، د هينداري څخه يي مور ته کتل چي زما په کتو يي خپل سترګي واړول

حميرا ته مې وويل: نه پلار يې نه بخښم
خو نمک نشناسه نه يم د نيکی څواب په نيکي ورکوم
ته کوچني يې نه پوهيږي مور په داسي يو حالت کي بند پاته شوو چي هيڅ مو د لاسه نه کيدل
حميرا خپل مخ د کړکي خواته واړول او هيڅ يې ونه ويل.
په موټر کي مطلقه چوپتيا واکمنه وه!
ناڅاپه زليخا وويل: عجبه محفل يي درلود ، خداي دي ټولو ته داسي خپلوان ورکړي ډير ساعت تيره خلک وه
ورته مې وکتل او ومې ويل: دا خبري پريږده

ولي دومره ناوخته راغلي که ګيره کړی وی بيا مو څه کړی وی؟؟؟
په رښتيا خو واده ته بلل شوي نه وې ، توبه يو څه دي مسائلو ته هم پام کوه
زليخا: ما تر تا څو کميسه بالا زاره کړي پوهيږم چي څه وکړم ... څه ونکړم
ته خو لاړي خو د ناوي سره د روماچي وروسته بي بي حاجي پوهه شوه چي حميرا نشته همدي وخت کي مې وويل خاله يو ښايسته دريه (دايره) ووهه چي زړه مې نڅا ته پورته شوی
دوه ځله مې نڅا وکړه د ټولو پام ماته وو بي بي حاجي مې هم پورته کړه چي نڅا وکړي هههههه
بيخي د حميرا نشتون يې هير شو هههههه
ټينګه مې په غيږ کي ونيوله او ومې ويل: شکر چي لکه تا ښايسته او هوښياره د ليوره ښځه لرم
زليخا: ښه ښه ډير چاپلوسي مه کوه قندوله حميرا په ما هم ګرانه ده

.... صوفيه ....

ملا مې ډیر درد کول شاوخوا مې وکتل حمیرا نه وه. اووووووف دا نجلي بیا چیري تللي ده
په ډیر سختي د ځایه پاځیدم او لاړم د بي بي حاجي خواته ، ښځي ډیري وي د پښي ځاي هم نه وو.
د لري څخه مې ناري کړه: مور جانې ....
زما غږ یې وانوریدی بیا مې ور غږ کړه دا ځل یې واوریدل زما خواته راغله او وې ویل: څه شوي دي لوري؟؟؟
څنګه دي رنګ داسي ژړ دی؟؟؟

ومې ویل: ملا مې ډیر درد کوي نه پوهیږم ولي
په سختي می ساه واخیستل او دوام مې ورکړ: که کیږي د حمیرا پسي لاړه شه او ورته ووایه چي یو نخي ټکر ګرم کړي او راته یې راوړي تر څو خپل په ملا یې پریږدم
پخداي دا درد نشم زغملی
بي بي حاجي: دا نجلي نه پوهیږم بیا چیري ناسته ده او ډوډي خوري ، سل واره مې ورته وویل چي ستا شاوخوا یې او درسره مرسته وکړي
بي بي حاجي په خفګان بهر لاړه او زه هم د دهلیز په زینو کي کښیناستلم او د بي بي حاجي راتلو ته په تمه شوم
بي بي حاجي څو دقیقي وروسته راغله او وې ویل: وه نجلي دا بیا تښتیدلې نه یې؟؟

ومې ویل: څنګه؟؟؟
بي بي حاجي: په پخلنځي کي نه ده ، په محفل کي هم نشته
ومې ویل: نه تښتي تیر وار یي خومره وهل وخوړل ، ضدي نجلي نه ده بیریږي نه تښتي
بي بي حاجي: خداي دي وکړي چي همداسي یي که نې دا وار یي ژوندي په ګور ننباسم

بي بي حاجي دباندي لاړه. په زړه کي مې وويل: توبه خدايه بيا چيري تللې ده ښه هم پوهيږي چي وهل خوري احمقه نجلى
د پير ملا د درده مې ملا نه راسته کيدل ، ديوال مې ونيوى او د ديوال په مرسته تر دباندي لاړم ګورم چي بي بي حاجي نارينو ته خبر ورکړې چي حميرا نشته
ومې ويل: خدايه ته د دي نجلي سره مرسته وکړه چي ګير رانشي .

.... شګوفه ....

شعيب راته د سره زرو يوه غاړګي اخيستي وه چي اوه سکي يې درلود او د سکو شاخوا ښايسته او ظريفه ګلان کار شوي وه
د سره زر په ليدو خوشاله شوم او ومې وويل: مننه ژوندی واوسي
يو بل سيټ يې وايستی او عزيزي ته يې ورکړ ، اول حيرانه شوم
ولي يې هغې ته سره زر اخيستي؟؟؟؟ زه واده کوم نه هغه
حيرانتيا مې په غوسي هلته بدله شوه کله چي مې وليدل د عزيزي لا څوارلس سکي دي.ساه مې بنده شوه ، لاسونه مې موټ کړل او ومې ويل: صبرر صبرررر دا هم تيريږي

شعيب وويل: خوښ دي شوه؟؟
ورته مې وکتل. په رښتيا کله چي خفه يې ډيره سخته ده چي ځان خوشاله وښيي
په مسکا مې وويل: هو مننه ژوندی واوسي
شعيب: څه ښه شو په خوشالي يې زاړه کړې ، يو مياشت پاته ده بالا ملا راوړم چي نکاح وکړو
يو شير چاي او شيريني خلکو ته ورکوو چي خبر شي ما دوهمه ښځه کړې
ومې ويل: ښه خبره ده.
د ځايه ولاړه شوم او بهر لاړم. څو ژوري ساګاني مې واخيستل.
زه دا حال نشم زغملی دا حتي زما د پلار تر کور لا بدتر دی
دا بيعقل نصير ولي زما ليدو ته نه راځي؟؟؟

خداااااایه زړه مې په چاودیدو دی ناوې زه یم ولي باید عزیزي ته تر ما بالا سره زر واخلي؟؟؟ د ډیر غوسي او خفګان د امله یو څاڅکي اوښکه مې د سترګي د کنج څخه وڅڅیدل ...
خپل اوښکه مې پاکه کړه او ومې ویل: زه شګوفه یم
هیڅوک حق نلري ما داسی وزوروی ، هر څوک چي یې ...

.... لیلا ....

بیده وم چي احساس مې وکړ څوک مې ویښتان کشوي. په کیسه کي نشوم خو نه کیدل په عذاب شوم
ومې ویل: مه کوه
څو شیبي تیري شوي ګورم چي نکیږي خوب ته مې نه پریږدي
سترګي مې خلاصي کړي چي ګورم رضوان مې سر ته ناست دی ماته ګوري او مسکا یې پر شونډو ده
همدا چي وویل: د ښایسته ترینې نجلي سهار ....
ومې ویل: ته خوب نلري؟؟؟
مسکا یې د شونډو لاړه ، په حیرانتیا یې وویل: څه؟؟؟

سترګي مې په سختي خلاصي نیولي وي.
ومې ویل: په دې سهار وختي څه کوي؟؟ هر څه ویښتان چي مې درلود ټول دي وشکول
رضوان خپل ډیره وګورول او وي ویل: ما درته ناز درکول
ومې ویل: بس کور دي ودان خوب مې پوره نه دي څه لاړشه پریمیږده
بیرته خپل سر مې پر بالښت پریښود.احساس مې وکړ چي د ځایه ولاړ شو او لاړی په زړه کي مې وویل: ښه شو زما خوب تر اوسه پوره شوی نه دی
بیرته د خوب پړاو ته تلم چي یو شی مې پر سر ولګید ژر د ځایه ولاړه شوم ،

سترګي مې لا پوره نه وه خلاصي شوي چې بيا يي په بالښت ووهلم
ومې ويل: مه کوه دا څه کوي؟؟؟

رضوان وويل: په مينه او محبت مې د خوبه ويښه کولي پوه نشوي اوس دي داسي ويښه وم
بالښت مې واخيست ورباندي مې وغورځول ، يو وار بل يي داسي جانانه وغورځول چې ګنکسه شوم
چيغي مې ووهل: عمههههههههههههههه؟؟؟
په ځغاستو يي ځان راورسول زما خوله يي ټينګه ونيوله او وي ويل: چپ ليونې يوازي خو ما او تا په دي کور کي نه يو ولي مو بيابه کوي؟؟؟
همداسي چي مې ورته برګي برګي کتل ، ومې ويل: لاس دي لري کړههه
رضوان: څه؟؟؟

او په خندا يي دوام ورکړ: نه پوهيږم چي څه وايي
بيا مې په لوړ غږ وويل: لاس ديييي لرييي کړههه
رضوان: زه خو نه پوهيږم چي څه وايي خپل لاس لري کوم خو چيغي ونه وهې .... سمه ده؟؟؟
خپل سر مې د ( سمه ده ) په معني وخوځول.
رضوان: شاباس ښايستې
همدي وخت کي عمه راننوتله او وې ويل: توبه استغفرالله څه کوي رضوانه پر نجلي ولي ناست يي؟؟؟
رضوان ژر ولاړ شو او په خندا يي وويل: عمه پخداي هيڅ مي نه کول دي هسي چيغي وهل ما يي خوله ونيوله هههههه.
ومې ويل: عمه جانې درواغ وايي اول يي زما ويښتان کش کول بيا يي په بالښت وهلم بي تربيه هم دی.

رضوان: ماته وګوره وه سرې څه بي تربيه ګي مي کړي؟؟؟
ومې ويل: خپله پوهيږي نو
او خپل سترګي مى په ناز ورڅخه واړول.
عمه ته مې کتل چي عمه وخندل او وې ويل: راځى چي د سهار چاوي وڅښو
اوس هم ناوخته شوى
د ځايه ولاړه شوم. د تلو په حال کي وم چي رضوان وويل: دا دي ښه په ياد يي
سرې جانې هههههه
ومې ويل: څه مې په ياد يې؟؟ زه هيرجنه يم
او په خندا د کوټي څخه ووتلم

... سهيلا ....

څو ساعته وروسته د زليخا د کاکا کورته ورسيدلو. ستړې ستومانه د موټر څخه
ښکته شوم.
فاروق وويل: داسي فکر کوم لکه چا چي ښه وهلى يم ټوټي ټوټي يم
جلال وويل: څرک خامه وو خود به ټوټي ټوټي کيږي ، زه خو ښه يو چاپي ته اړتيا
لرم مغزي مي ډير درد کوي
د حميرا لاس مې ونيوى او د زليخا سره په کور ننوتلو. لومړنى کس مې شهلا وليدله
چي په خندا او خلاص تندي زموږ خواته راتله.
يو اوووف مې وايستى. توبه! دا تر اوسه دلته ده؟؟ حميرا مې د زليخا په لاس ورکړه
او بيرته وګرځيدلم ، جلال فاروق سره خبري کول
نږدي لاړم د لاسه مې ونيوى او د کور خواته روان شوو ، پام مې شو چي جلال
خبري بندي کړي او ماته ګوري

شهلا نږدي راغله او وې ويل: ستړې مشى ښه راغلاست ، واده چيري وو چي دومره
ژر راغلى؟؟؟
زليخا وويل: راشه زه درته کيسه کوم

خپل لاس یې د شهلا غاړې ته واچول او په زوره یې کورته یوړه.
خندا نیولی وم. ومې ویل: توبه ستا د لاسه زلیخا عجبه جالبه ښځه یې
همدې وخت کې مې د جلال لاس خوشې کړ ، غوښتل مې د کور خواته لاړه شم چې
د لاسه یې ونیولم او خپل خواته یې کش کړم.
خپل تعادل مې د لاسه ورکړ او په غیږ کې ولویدلم ..... په بیره مې ورته وکتل
جلال زما دواړه بازوګان ټینګ نیولي وه ، وې ویل: برایې دې اول زما لاس ونیوی بیا
راغلې راسره ځنګون په ځنګون کښیناستلې
د کور څخه د وتلو په وخت کې دې هم زما پښه لغته کړه ، اوس هم ناڅاپه زما لاس
نیسې بیا یې خوشې کوې

په دې چلند سره غواړې زما پام خپل ځان ته کړې؟؟؟
خپل د خولې اوبه مې تیرې کړې او ومې ویل: نه ..... ستا پام ځانته نکوم
جلال: نو څه مطلب لرې؟؟؟
ورته مې کتلی نشو خپل په تورو سترګو یې همداسې ځیر ځیر راته کتل خو دا باید
اعتراف کړم چې زړه راښونکې سترګې لرې.
یو اووف مې وایستی او ومې ویل: خدایه خپله راسره مرسته وکړه
زما زنه یې ونیول او زما سر یې پورته کړ ، ډیر په جدي او کلک لهجه یې وویل:
واضح او روښانه مې درڅخه پوښتنه وکړه چې هدف دې د دې کارو څخه څه
دی؟؟؟؟

سل زړه مې یو زړه کړل او ومې ویل: ته ..... حق نلرې چې نور د شهلا سره خبرې
وکړې
د زړه درزا مې زیات او لاسونه مې ساړه شوې وه.
جلال په حیرانتیا وویل: شهلا څوک ده؟؟
د ده د خبرې په اوریدلو سره حیرانه شوم. ومې ویل: همغه نجلۍ چې دا څو شیبې
مخته راغلې وه او ...
جلال د خندا په لوړ غږ زما خبره پرې کړه او وې ویل: ښههههه ته د دې د پاره داسې

کارونه کوي؟؟؟
یو شیطاني مسکا یي وکړل ، خپل سر یي نږدي راویستل او وي ویل: ته بخیلي کوي؟؟؟؟

د خبري په اوریدلو سره د ډیر شرم څخه ویلي شوم. سر مې ښکته واچول او ومې ویل: اوس به څوک مو وویني
جلال: ودي ویني ، زه خو هیڅ نه کوم
خپل لاسونه یي زما د مخ دوه خواته پریښود مستقیم یي زما سترګو ته وکتل او په تندي یي ښکل کړم ، همدا چي شونډي یي زما پر پوست ولګید اور مې واخیست.
د دي کار څخه یي ډیره حیرانه شوم ، ورته مې وکتل چي وي ویل: ته ډیره معصومه او پاکه یې ، که شیطان لومړی ته یي لیدلی وی خامخا یي سجده کول
ستا لیاقت تر ټولو نجونو چي تر دي دمه مي لیدلي زیاتره دی حتي تر لیلا پوري هیڅکله ځان د بل چا سره مه مقایسه کوه او د هیڅ ښځي څخه هم بیره مه لره ځکه هر یو ښیګڼه چي نور لري ته ټوله یوځاي لري
زه باید ډیر هڅه وکړم چي ستا وړ وګرځم

زما کورني ستا او ستا د خویندو د خفګان لامل ګرځیدلی او زه یي په اړه ډیر متاسفه یم
یو ژوره ساه یي واخیستل او راته نږدي شو. ما خپل سترګي پټي کړي ، زما راسته سترګه یي ښکل کړه او دوام یي ورکړ: خو د دي ټولو خبرو سره سره دومره لوي او پاک زړه لري چي ټولي خبري دي هیر کړي او زما د کورني سره ښه او نیک چلند کوي زه دي ... مدیون یم
بیا رانږدي شو. زړه مې د ده د خبرو سره په لرزیدو وو او د ده د هر وار نږدي کیدلو سره د ډیر بیري څخه تر بي هوشي تر پړاوه تلم. کرار یي په چپه سترګي ښکل کړم: حتي بخیلي دي هم زړه راښکونکي ده
زما بارخو یي کش کړ او دوام یي ورکړ: اندیښنه مه کوه د هغه چا سره چي ستا نه خوښیږي خبري نکوم

حتي که مي وليدل ځان رېوند اچوم ځکه ته راته ډېر ارزښت لري او دا تر ټولو کوچنی کار دي چي زه يي ستا د خوشالولو لپاره کولی شم
ستا غوښتني راته تر ټولو مخکي او با ارزښته دي
هره کلمه چي جلال زما د ستايني په اړه يي ويل ډېر يو ښه او زړه راښکونکي احساس يي راته راکول ، داسي يو احساس چي زه يې هيڅ په کلماتو نشه بيانولی

خوشالي مې په ټول وجود کي خپره شوي وه او دا د دي لامل وګرځيدی چي يو ژوره مسکا مې پر شونډو راشي
جلال: سبحان الله هيڅکله دي غمجنه ونه وينم ځکه خندا ستا ښکلا څو چنده کوي
د ډېر شرمه څخه مې خوله کړې وه ، سر مي ښکته واچول
همدي وخت کي زليخا نارې کړه: وه ليلي او مجنون راشي چي ډوډي تياره ده
جلال زما لاس ونيوی او يو ځاي په کور ننوتلو.
هڅه مې کول چي خپل خوشالي ونه ښيم خو ټوله خوشالي مې د مسکا څخه ښکاره وه

.... صوفيه .....

د حميرا د نشتون څخه څو ساعته تير شوي وه او خبره دم پر دم جدي توب خواته روانه وه. بي بي حاجي يقين کړی وو چي حميرا تښتيدلې ده
امان الله ته يې وويل: هغه نجلي مې ستا ورور ته راوړي وه ، اوس تښتيدلې فکر وکړي چي ناموس مو تښتيدلي هر څنګه چي کيږي پيدا يې کړی
که آسمان ته تللې د پښو څخه يې ونيسي او که په ځمکي ننوتلي د ويښتانو څخه .... هر څنګه چي کيږي پيدا يي کړی
امان وويل: په سترګو مور جانې سل په سله يې درته پيدا کوم زړه دي جيمي
امان د وتلو په حال کي وو چي بي بي حاجي وويل: لومړی د کابل د موټرانو هډې ته لاړشي تير وار مو هم د هغه ځايه راويستل

د نارینو د وتلو سره مې لاس او پښي سستي شوي. خدایه که ګیر یي کړی سل په سله یې مړه کوي بي بي حاجي بیرته راغله او ماته یي وویل: په دي حساس وخت کي بیا په تا څه وشوه زما په کوټي کي یو د (نمد) نالي شته پر هغه پریوځه ښایي د ملا درد کي یو څه کٌنده شي (یعني کم شي)
محفل همداسي نشم پریښودلی
ومې ویل: سمه ده مور جانې هر څنګه چي تاسو وایست

.... رضوان ....

د چاي څښلو وروسته د عمه او لیلا سره د سودا د پاره د بازار خواته روان شوو.
غوښتل مي د لیلا لاس ونیسم چي وي ویل: د پنجابي پوړنی مې ډیر غټ دی باید دا په لاس کي ونیسم ستا لاس نشم نیولی
لومړی ډیر بد احساس مي پیدا کړ خو وروسته مي ولیدل چي په رښتیا خپل د پنجابي د پوړني سره په عذابه ده او سم یې نشي ټولولی
ومي ویل: لیلا؟؟؟
راته یې وکتل او وې ویل: عههه؟؟؟
بیا مي وویل: لیلا؟؟؟
په خندا یې وویل: تر اوسه دا عادت لري؟؟؟
لیلا: تر څو چي جان ونه وایم پر له پسي لیلا لیلا وایي
په خندا مي وویل: دا مي یو ښه عادت دی چي هره شیبه درته یادونه وکړم چي ستا زړګی څوک دی

په مسکا یې وویل: مننه چي راته یادونه کوي خو زړه دي جیمي ته هره شیبه زما په فکر کي یي څه وغواړم څه ونغوارم لکه (بسم الله الرحمن الرحیم) زما پر ژبي او لکه د خداي یاد زما په فکر او لکه ایمان و خداي ته زما په زړه کي یي
د دي چي دومره کلونه بي تا وم ډیره خفه یم احساس کوم چي ډیره اړینه پیښه مې د لاسه ورکړي ، خداي دي وکړي وکولی شم کله چي ستا سره یم د هر ثانیي څخه

نهایت خوند واخلم او هره شیبه یي خپل په ذهن کي ثبت کړم
د لیلا د خبرو څخه ټول وجود مې په خوشالي کي ډوب شو. خپل لاس مې د لیلا پر اوږي پریښود ، ځان ته مي نږدي کړه په سر مي ښکل کړه او ومي ویل: شکر چي یې زما لیلا

پوړني مي د سره ښکته کړ چي په حیرانتیا یي راوکتل او وې ویل: څه کوي؟؟
ومي ویل: په ښوونځي کي لځ (لوځ) سر وی څه توپیر لري دلته هم واوسه ، زه لکه خپل کورني قید ګیره نه یم
او ورته مي سترګک ووهل. لیلا وخندل او کرار یې وویل: کرار چي اوس عمه مو بیابوي
دعا وکړه چي شاته ونه ګوري
ومي ویل: په کیسه کي مه کیږه
همداسي مي شاوخوا کتل چي سترګه مي پر یو ټکر فروشي دوکان ولګید. د لیلا لاس مي ونیوی او د ټکر فروشي خواته روان شوم
لیلا وویل: یوووووو داسي مه کوه عمه هغه خواته لاړه
ومي ویل: خپل لاره پیدا کوي نه ورکه کیږی

په دوکان ننوتلم ، دوکان د ډول ډول ښایسته او رنګارنګه ټکرانو څخه ډک وو.
د لیلا خوله د ټکرانو د لیدو سره خلاصه پاته شوه.
یوه سور ټکر مي واخیستی ، د لیلا پر سر مي واچول او ښه مي ورته وکتل. کټ مټ د ټکر همرنګه شوې وه
ومي ویل: ارمان مي وو چي یو وار دي په سره کالو کي ووینم هههههههه ډیره ښایسته شوې یې
لیلا: پر ځان ملنډې ووهه پوهیږم چي د ټکر همرنګه شوې یم
ومي ویل: نه د سور ګل په رنګ شوې یې
لیلا: واه واه شاعرانه او ادبي خپل خبره کوي

ومي ويل: څه شاعرانه څه ټوکي یا رشخندي مهمه دا ده چي زه تا کټ مټ همداسي چي یې غوارم

د لیلا سترګي وځلیدل. د پښو په ګوتو ځان یي پورته کړه او په غاړې یي ښکل کړم
وې ویل: وبخښه شونډه می ستا بارخو ته نه رسي باید خپل سر ښکته کړي
خو زه د ښکلولو په شیبه کي بند پاته وم. ساه مي بنده شوي وه.
ومي ویل: نور دباندي داسي کار ونکړي
لیلا: ولي؟؟

ومي ویل: ځکه ځاي یي نه دی ، ټول یي ویني
خو یوازي خداي زما د زړه خبر وو چي د نورو مخکي د هغي د ښکلولو زړه مي نه درلود.

ټکر مو واخیستل او د دوکان څخه راووتلو. لاس مي ونیوی کلک مي ښکل کړ او
ومي ویل: اوس ځو چکر ته
لیلا: عمه څنګه کیږي؟؟؟
ومي ویل: عمه ته بیا وایو چي ورکه مو کړي هههههههه زه ورباندي ګران یم څه نه وایي زړه دي جیمي

.... جلال .....

د سهیلا د خبرو د اوریدلو وروسته پوه شوم خلاف د هغه څه چي چي ما فکر کول څومره ورته ارزښتمند یم. په رښتیا چي د سهیلا په پیژندلو کي مي تیروتنه کړي. دا چي یو انسان ته دومره ارزښتمند واوسي چي ستا یو یو کار ته یي پام یي ډیر ښه احساس لري.
د ډوډي خوړلو وخت کي مي پام شو چي سهیلا ماته ګوري. په داسي حال کي چي د شهلا د کار څخه خندا نیولی وم خو هیڅ خپل سر مي پورته نکړ ځکه شهلا د سهیلا نږدي ناسته وه نمي غوښتل چي کم غلط فهمي مینځ ته راشي.

د بوډي خوړلو وروسته د زليخا تروري (کاکا ښځي) وويل: دا نجلي چي د ځان سره مو راوړي څوک ده؟؟؟
ومي ويل: زما خوشينه ده خپل د مشري خور کورته ميلمنه تللې ته موږ راويستل چي ځان سره يي کابل ته يوسو
سهيلا زما په خبري حيرانه شوه ورته مي يو معنا داره سترګک ووهل چي يعني خبره زه سره جوړوم

زليخا وويل: هو سهيلا يو مشره خور لري چي په شبرغان کي ده حميرا د هغې څخه تللې وه اوس زموږ سره بيرته کابل ته ځي
د زليخا تروري وويل: ښه خبره ده خوشاله واوسی نن دخيره ځو شاه اوليا زيارت ته نو کرار کرار تيار شی چي لاړشو
ټول ولاړ شول چي ځانونه تيار کړي ، سهيلا زما څخه راغله او وې ويل: بهتره نه ده چي موږ لاړنشو .... که تر مزاره راغلي يي بيا څه؟؟؟
زليخا هم نږدي راغله او وې ويل: بايد ډير هوښيار واوسي چي سيده زيارت ته راشي او د حميرا پسي وګرځي
ومي ويل: خپل د وريندارې سره هم نظره يم
ځو زيارت کوو خداي زموږ سره دی ځکه موږ کم غلط کار نه دی کړی ، په کيسه کي کيږه مه

بيره او اظطراب د سهيلا په څهري کي خورا ښکاره وو. ورته نږدي شوم او ومي ويل: د دي خبرو په کيسه کي مه کيږه انشاالله په خوشالي سره کابل ته هم رسو ګوره سهيلا قسم پخداي د هيچا فکر ته لا نه رسي چي د حميرا خور راغلي يي او حميرا يي تښتولي يي
دومره انديښنه مه کوه زه درسره يم
همدي وخت کي حميرا زما لاس ونيوی او وې ويل: وروره
ورته مي وکتل او په خندا مي وويل: زه دي ورور نه يم اخشی ( د خور ميړه) دي يم ووايه څه امر و خدمت؟؟

شونډې يي ورژديدلی او سترګي يي د اوښکو ډکي شوي ، وې ويل: ته بي بي حاجي نه پيژني تير وار چي تښتيدلي وم يو ورځ او يو شپه وځغاستلم تر څو چي ښار ته ورسيدلم ، لاړم يو دوکاندار ته مي وويل چي راسره مرسته وکړه
ښه مې ورته وويل چي زه يي په زوره ځان سره ساتلي يم او زما کورني د دي څخه خبر نه دي خو بيا هم زه يي لاس ترلي بي بي حاجي ته ورکړم
د حميرا د خبرو په اوريدلو سره وبيريدلم او په ياد مي شوه چي ورور يي د امنيي قوماندان دی.

ومي ويل: دا راته ووايه چي ستا انځور لري؟؟
حميرا: هو برايي د نکريزو په شپه مو د ناوي سره انځورونه ونيول
په زړه کي مي وويل: اوس نو خبره خرابه شوه
دوي ته ومي ويل: خير دی هيڅ خبره نه ده يوه لاره پيدا کوو
لاړم فاروق څخه او ومي ويل: وروره که بي بي حاجي خپل د ورور څخه د حميرا په پيدا کولو کي مرسته وغواړي بيا څه وکړو؟؟؟
فاروق وويل: کوچني نجلي ده فکر نکوم چي دومره ځان سرګردانه کړي ، ځي يو بله اخلي

ومي ويل: نه ته سم پوه نشوي
يو وار حميرا تښتيدلي وه د يو دوکاندار څخه تللي وه او ورڅخه يي مرسته غوښتلي وه دوکاندار هم دا يي لاس ترلي بي بي حاجي ته ورکړې
فاروق په خندا وويل: که داسي يي نو هر څومره خلک چي پيژني خبر کړي دي فکر نکوم په اساني وکولی شو تر کابله لاړشو ، امنيتي پوستي خو لږ نه دي
يو اوووف مي وايستی او ومي ويل: د دي برخي په اړه مي هيڅ فکر نه وو کړی
په همدي حال کي چي زه د فکر کولو په حال کي وم د زليخا کاکا ښځي غږ کړه: تاسو نه راځی؟؟؟

ومي ويل: ولي نه خاله جاني صبر وکړی اوس راځو
د ځايه ولاړ شوم د سهيلا څخه لاړم چي د زليخا سره په خبرو مصروفه وه
ومي ويل: که داسي موږ ټول پاته شو او لاړنشو ښه کار نه کيږي يو څو نفره بايد د
تروري سره لاړشي داسي بي نزاکتي کيږي
زليخا وويل: زه د حميرا سره پاته کيږم تاسو دوه لاړشی بي د هغه هم زه ډير مزار ته
راغلې يم  خو سهيلا تر اوسه هيڅ نه ده راغلي
سهيلا وويل: نه ګراني د حميرا مسئوليت پر ما دی زه خپله ورسره پاته کيږم
زليخا: زه يوازي د جمال سره ځم زيارت ته چي بيا ورسره شور نخود هم وخورم
جمال جان مې نن شپه رسيږي بيا سبا ورسره ځم
سهيلا ته مي وويل: زليخا رښتيا وايي

راځه ما او تا ځو چي ټول ماتله دي زليخا بيا خپل د ميړه سره ځي
سهيلا زړه نازړه حميرا ته وکتل او وې ويل: همدلته د زليخا څنګ ته کښينه ، هر څه
يي چي وويل خبره يي واوره بي ادبي ونکړي
حميرا وويل: سمه ده په سترګو ته لاړه شه او د زړه څخه دعا وکړه هم ماته هم
ځانته او هم ليلا ته ....

سهيلا د حميرا مخ ښکل کړ او وې ويل: جار دي شم سل په سله دعا کوم ګراني
ماته يې وکتل او دوام يي ورکړ: راځه چي لاړشو دوي هم ډير ماتله شوه
خپل پوړنی يې واخيستل او يو ځاي د کوره ووتلو.
د زيارت خواته مو حرکت وکړ. په موټر کي زه او سهيلا او د زليخا د کاکا ښځه شاته
ناست وو ، شهلا مخته ناسته وو او فاروق هم پر جلو وو.
فکر مي درګيره وو چي څنګه بيرته تر کابله لاړشو ، په لاره کي کم امنيتي پوسته نه
يي ، ګير رانشو چي شهلا خپل مخ واړول او وې ويل: جلاله په يادي دي تير کال چي
راغلی وي راته دي شور نخود واخيستل؟؟؟
د دي په خبره او لهجه يي پوه شوم چي دا نجلي کم بد نظر لري

په کلکه لهجه مي وويل: هو په ياد مي دي په (چاروالي) لوبه کي مي وبايلل بيا مي ټول کورني د زيارت د څنګ شور نخود ته ميلمانه کړل
خو په ياد مي نه دي چي ته يي هم مينځ کي وي که نه ځکه پام مي ونکړ
د شهلا احمقانه مسکا د شونډو لاړه. وې ويل: هو زه هم وم هيڅه خبره نه ده ښايي هير شوي دي يي
بيرته خپل پر ځاي کښيناستله او هيڅ يې ونه ويل.
خپل د بريالي توب څخه مي يو مسکا وکړل او په زړه کي مي وويل: ستا دي پانيت (عبرت) يي چي بيا هسي ځان خيله نکړي ، احمقې نجلي ...

..... سهيلا ....

کله چي موټر ته ختلو شهلا وويل چي زه ستاسو په موټر کي ځم او ځان يې په موټر کي ځاي کړه.
د ډير غوسي څخه مې يو اوووف وايستی ، دا څنګه نجلي ده د دي مور او پلار چيري دي چي يوازي د خلکو کورته ميلمنه ځي؟؟ توبه توبه! په ټول عمر کي مې داسي سپين سترګي او بي شرمه نجلي نه وه ليدلي.
د جلال سره موټر کي کښيناستلم او پام مې شو چي جلال ډير خفه دی او د يو څه په اره فکر کوي ، په همدي وخت کي شهلا مخ راواړول او وې ويل: په يادي دي چي تير کال دي راته شور نخود واخيستل؟؟؟
لکه چي يوازي يو کوچنی څرېکي ته ماتله وم د دير غوسي څخه مې اور واخيست ، خبره يې ډيره راباندي بده ولګيدل.

په زړه کي مې وويل: دا جلال هم څه کارونه کړي زه هم خبره نه
په همدي وخت کي چي اعصاب مې خراب شوي وه او غوښتل مې د جلال لاس خوشي کړم جلال يو ښه جانانه ځواب ورکړ او زما زړه يي پر يخ کړ.
د جلال د ځواب په اوريدلو سره زړه مې خوشاله شو ، لعنت پر دي بي وخته احساساتو باندي.

ولي زه نشم کولي چي لومړي فکر وکړم بیا وروسته خفه شم اوووف
د شهلا د رشخند شوي څهري په لیدو مې خپل شونډه په غاښ ونیوله خو خپل خندا مې هیڅ نشو کنټرولولی.

جلال زما لاس آرام کښیکاږل. غوښتل مې ځان جدي ونیسم خو نکیدل ورته مې وکتل او مسکا مې وکړل. جلال هم خوشاله شو.
د زیارت مخته ښکته شوو. خپل بوټونه مو وایستل او په لڅو پښو زیارت ته ننوتلو.
لومړۍ ځل وو چي د شاه اولیا زیارت ته راتلم. د جلال سره لاس په لاس قدم مو وهل چي ناڅاپه باران په وریدو شو. د مني فصل ساړه هوا مي د کالو درز درز ته داخلیدل او زما بدن یي په لرزه کړۍ وو.
د ډیر ساړه توب څخه مې ځان جلال ته نږدي کړه.
راته یي وکتل او وي ویل: یخ نیولي یي؟؟
ومې ویل: هو ډیر

په خندا یي وویل: ته په رښتیا یخ نیولي یي شونډي دي شني شوي دي راځه چي دننه لاړشو
باران او یخي هوا سره د زیارت صحن هم یخ شوی وو هر قدم چي مي اخیستل د ډیر یخوالي د امله مې پښي سوځیدل. زیارت ته چي ننوتلو د ډیرو خلکو په لیدو سره چي دعاوي یي کول ما هم لاسونه پورته کړل او ومې ویل: شکر چي دا ځاي مې هم ولیدی
جلال وویل: منګه د دي ځاي د لیدو ارمان دي درلود؟؟؟
ومې ویل: هو د ښوونځی په کتابونو کي مې د دي زیارت انځورونه لیدلي وه او ارمان مي درلود چي یو ځل مزار ته راشم
جلال په خندا وویل: نور د کم ځاي د لیدو ارمان لري؟؟؟

ومې ویل: د بامیان بتان
جلال: ډیر ښه ، بل؟؟؟

ومې ویل: ملنډي وهي؟؟
جلال: نه سرېمبې جاني غوارم چي دي ټول ځایونو ته دي ویسم
د ډیر خوشالي څخه مې ځان د جلال په غیږ کي واچول او د غوږ څنګ ته مي
وویل: منننننننننننه
د ځان څخه یي لري کړم او وي ویل: اوس مو په لغتي د دي ځایه باسي د مسجد
دننه ما مه په غیږ کي کوه هههههههه
وشرمیدلم او ومې ویل: وبخښه پام مې نشو
جلال زما لاس ونیوی او وي ویل: راځه چي دعا وکړو

خپل سترګي مې پټې کړي ، لاس مې خپل پر زړه پریښود او ومې ویل: خدایه شکر
چي حمیرا مې پیدا کړه
ستا څخه غوارم چي د لیلا ساتونکي هم واوسي. د مرستي څوک نلري یوازي ده او
زموږ لاس هم ورته نه رسي
ما بخښلي ده! که لیلا نه وی تښتیدلې زه هیڅکله د جلال سره نه آشنا کیدلم ، جلال
بهترینه نعمت دی چي ماته دي راکړي او تر څو چي ژوندې یم د ورځي زرهاو واره
شکر باسم

..... لیلا ....

د رضوان سره کوڅه په کوڅه او د اسلام آباد څو بازارونو کي وګرځیدلو. راته یي
تنوري سمبوسه واخیستل او وي ویل: دا وخوره ډاډمن یم چي خوښیږي دي
همداسي ښه ترخه او خوندوره ده
ومې ویل: دا چي مې وخوړل بالا کورته ځو پخداي نور د تګ توان نلرم پښي مې
سستې کیږي

رضوان: جاااااار ستا ستړیا یي زما پر سر سترګو ، په شا دي کړم؟؟؟
ومې ویل: نه نه دا کار نو مه کوه هههههههه خپله ځم خو ډیر وخت شو دري څلور
ساعته کیږي چي په بازار کي ګرځو نور باید کورته لاړشو

رضوان: ښه سمه ده دومره چي سترې شوې یې کورته ځو بې د هغه هم مور مي نن شپه حرکت کوي باید ورځخه واوسو
سمبوسه مې په لاس کي نیولي وه او پوف کول مې تر څو ساړه شي  او همداسي د کور په لور روان وو.
ومې ویل: رضوانه؟؟؟
رضوان: جان ، امر وکړه

ومې ویل: امر نه دی یوازي غوښتل مې پوښتنه وکړم چي ستا کم خواړه ډېر خوښیږي؟؟؟؟
رضوان: قابلي د ماهیچي د غوښي سره او یوازي باید زما مور پخه کړي یي
ومې ویل: ولي یوازي ستا مور؟؟؟
رضوان: ډیر ځایو کي مي خوړلي دي خو هغسي چي زما مور یي خوندور پخوي بل څوک یي نشي پخولی ، هسي د هغه قابلي خوند زما په خولي کي خرابوي
په زړه کي مې وویل: ما په ټول عمر کي داسي یو خواړه نه دي خوړلي نو څنګه پوهه شم چي څنګه پخه کیږي؟؟؟
غوښتل مې یو څه ځان ښه وښیم ، ومې ویل: ښهههه نو داسي خبره ده یو ځل زما میلمه کیږي؟؟؟

رضوان ژر راوکتل او وي ویل: ته هم کولي شي چي پخه یي کړې؟؟
ومي ویل: هو ولي مې نه یي زده؟؟؟
رضوان: نههه پخول یي ډېر سخت دی هر څوک یي نشي کولی چي هغسي خوندور یي پخه کړي
ومې ویل: ژمنه کوم چي ستا تر مور جانې پوري هم خوندور راشي
رضوان: خومره ښه ، همدا اوس مواد یي اخلو نن شپه یي پخه کړه
همدا چي دا خبره یي وکړه په زړه کي مې وویل: خاوري دي پر سر شه لیلا اوس څه بد کوي؟؟؟

تر څو چي مې غوښتل ووایم خیر دي یو بله شپه رضوان وخته لاړې او وي ویل: ته صبر زه اوس راځم

څو دقیقي وروسته په داسي حال کي چي د قابلي ټول اړین شیان یي په لاس کي وه راغی او په مسکا یي وویل: یو پلو مو وګټل نو
په مسکا یو کپ (چک) مې د سمبوسی څخه وخوړل او ومې ویل: هو ګرانه یو پلو دي وګټې هههههه
په زړه کي مې وویل: دا یي بیا بل غم اوس قابلي څنګه پخه کړم خدااااااایه راسره مرسته وکړه
سمبوسه راباندي زهر شوه.

.... رضوان ...

عادت نلرم چي د هر چا د لاس قابلي وخورم ځکه د خولي خوند مي خرابیږي خو کله چي لیلا پخه کړي سل په سله خوندور به یي. په خوشالي د لیلا سره د کور په لور روان وو.
په لاري کي مي پام شو چي نور سمبوسه نخوري او داسي خفه معلومیږي.
ومي ویل: زما په نفسي څه شوي دي ، ولي خپل سمبوسه دي نه ده خلاصه کړي؟؟؟
راته یي وکتل ، خپل یوه ګوته یي خپل پر شونډو ووهل او وې ویل: شونډه مې چاودلي سمبوسه هم ترخه وه اوس شونډه مې سوځي
ومي ویل: جاااااار راشه ښکل یي کړم چي ښه شي

د لیلا بارخوګان سره شوه ، سر یې ښکته واچول او هیڅ یي ونه ویل
ومي ویل: ولي نه؟؟؟ زما ښکلول شفا بخشه دي هههههه
لیلا هیخ راته کتلی نشو
ومي ویل: شرم هم یوازي د لیلا شرم .... جاااان جان
خپل قدمونه یې ژر ژر کړل او تر ما مخکي شوه چي په خندا مي وویل: کرار چي ورکه نشي

.... شګوفه ....

شپه شوي وه او هوا هم ساړه وه. پر صوفي ناسته وم چي یخ شمال مې پر مخ ولګید او سترګي مې په سوځیدلو شوه
ومې ویل: دا شمال د ژمي د راتلو نښه ده
یو کال څومره ژر تیر شو هیڅ پري پوهه نشوم ....
لعنتي وخت ډیر ژر تیریږي.
همدي وخت کي عزیزه د کوره راووتله او اودس یي کول
ومې ویل: منګه اذان یي کړی چي ته اودس کوي؟؟؟
وې ویل: نه یې اوري همدا اوس اذان کوي
د ځایه ولاړه شوم او ومې ویل: زه خو هیڅ کم غږ نه اورم
عزیزه: یووووو د کوځي د سر مسجد دی غږ یي هم ښه لوړ دی
نه پوهیږم څه وشوه خو بیره مې په وجود کي خپره شوه او زړه مې نارامه شو.
د سراي د دروازي خواته لاړم چي شګوفې غږ کړه: چیري ځي که شعیب دي ګیره کړي څه به درباندي وکړي.

خبرو ته مې غوږ ونه نیوی دروازه مې خلاصه کړه او د کوره ووتلم.
شاوخوا مې وکتل هوا په تیاره کیدو وه او د مني فصل شمال د کور د شاوخوا وني ښورول. ډیر د بیري احساس مې درلود. ګورم چي د لري څخه یو سړی رانږدي کیږي ، خپل د خولي نارې (لاړې) مې تیري کړل او ومې ویل: وبخښی وروره اوس اذان ورکوي؟؟؟
وي ویل: هو غږ یي هم ښه لوړ دی.
نور مې نشو زغملی ، ولي زه د اذان غږ نه اورم خدااااااایه داسي مې مه زوروه د مسجد خواته وځغاستلم ، هوا هم تیاره شوې وه ، ولویدلم ، چپه ځنګون مې ډیر درد ونیوی په ډیر ستونزمنتیا بیرته ولاړه شوم او وځغاستلم.
مسجد ته نږدي شوم چي ومې لیدل ټول نارینه اودس کوي. یو سړی مې د څنګ څخه تیر شو ، ومې ویل: وروره تاسو هم د اذان غږ اوری؟؟؟

سر تر پایه یي داسي راته وکتل لکه یو لیونۍ ښځي ته چي ګوري
وي ویل: هو دا لورې غرې څوک نه اوري؟؟
لاس او پښي مې سستي شوي او پر ځمکي ولویدلم. اوښکي مې د مخ څخه پر ځمکي څڅیدل. ولي زه یې نه اورم؟؟؟ خدایه ما ځان څخه مه لري کوه.

ولي ما لمانځه ته نه رابلې؟؟ ټول یې اوري بغیر زما ....
د مسجد دروازه مي ټینګه ونیوله او په مرسته یې پورته شوم او د کور خواته روانه شوم.
لکه بي وزله او وران شوی کس په لاري تلم.
په لورې غرې مې وویل: خدایه خپله پوهیږې چي ما د قصده زهرا مړه نکړه ته خو زما د زړه څخه خبر یي .....
که تا زما لاس نیولی وی زه تر زهرا مخته مور کیدلم او هیڅ داسي پیښه نه کیدل ....
تا زه یوازي پریښودلم او بیا دي یوازي پریښودلم ....
کرار مې دوام ورکړ: زه بده نه یم ولي څوک په دي نه پوهیږي
اوښکي مې د سترګو وړاندي خړ کړې وو.

یو څه چي مخته راغلم ، د ښځو نانوایي مې ولیدل.
کیسي یې کول او د شعیب د نوي ښځي په اړه یې خبري کول ، د شعیب د نوم د اوریدلو سره ودریدلم تر څو واورم چي څه وایي
یوې ښځي وویل: نه پوهیږم پخداي یو په دوه پیدا شوه.
خداي دي عزیزي ته صبر ورکړي داسي ښایسته هم ده شني سترګي ، ښه تکه سپینه سره شونډانپخداي شعیب یي خطا ایستلی.

بلي ښځې وویل: داسي چي ته وایي فاحشو ته ډیره ورته ده نو
داسي ښایسته ښځه لکه دا ځوان هلک کوي نه داسي یو سړی چي ښځه او اولاد لري
یوې بلي وویل: یووووو تاسو نه یاست خبر؟؟
دي بي شرمي خپل د لومړی میړه څخه طلاق اخیستی ، زمورږ لا په سپین کالو د

میره کورته ځو په سپین کالو هم وځو
توبه د هغه ورځي څخه چي ښځه طلاق واخلي ، قیامت نږدي دی پخداي
ټولو ښځو هم ومنل.

د دوي حماقت په لیدلو سره یو ترخه مسکا مې پر شونډو راغله او ومې ویل: خداي دي یو یو درد چي پر ما تیر شوی پر تاسو هم راوړي چي پوه شی هسي د هر چا شاته بي له دي چي په کیسی پوه شی خبري ونکړی کټ مټ لکه ما مجبوره شی چي د ورینداري د لاسه د تښتي د پاره د هر سړی سره چي مو په مخه راغی واده وکړی مات او نا امیده د کور خواته مې حرکت وکړ. دروازي ته نږدي شوم چي د شعیب غږ مې واوریدی ، په لوړ غږ یي چیغي وهل چي چیري تللې ده؟؟؟

یوه ژوره ساه مې واخیستل ، دروازه مې پوري وهل او په کور ننوتلم.
شعیب پر عزیزي چیغي وهل چي د دروازي غږ یي واوریدی. زما په لیدو په ډیر قهر او غوسي یي راوکتل او زما خواته راغی.
هر قدم چي مخته راتی خپل د زړه د تکان غږ مې په لا لوړ غږ اوریدی.
په جدیتوب یي وویل: امممممم ایله سري دي خوښیږي؟؟؟
سر مې پورته کړ مستقیم مې د ده سترګو ته وکتل او ځان سره مې وویل: آخر به یو وهل وخوري شګوفې

په کلکه لهجه او لوړ غږ مې وویل: زه څوک نلرم چي ورڅخه لاړه شم بغیر د دي ځایه بل ځاي هم نلرم که مې درلودی وی ستا دوهمه ښځه نه کیدلم
زړه مې ډیر نیولی وو تر مسجده پوري لاړم بیرته راغلم .... اوس چي هر څه فکر کوي وي کړه ازاده یې، که وهي مې ، بیابوي مې ، یا د کوره مې باسي هر څه چي کوي ازاده یي
لاس پر ملا ودریدلم چي وګورم څه وایي.

په ډیر حیرانتیا سره په داسي لهجه چي هیڅ تمه مې نه درلود وي ویل: بل وار چي دي زړه نیولی وو صبر وکړه چي زه راشم یو ځاي لاړشو،یوازي دباندي مه ځه په ښار

کي سل رقمه خلک دي ، هغه هم په دي وخت د ماښام کي خو هيڅ ښه نه دی چي يوه ښځه يوازي د کوره ووځي
ډيره حيرانه شوم خو خپل جديتوب مې وساتل او ومې ويل: سمه ده بل وار سل په سله درته وايم.
شعيب: سمه ده راځه چي لاړشو ډوډي تياره ده
دا کار يي ډيره حيرانه کړم. يو ځاي په کور ننوتلو.

.... صوفيه .....

ميلمانه د تګ په حال کي وه او د بي بي حاجي غوسه هم شيبه په شيبه ډيريدل.
امان بيرته راغی او وي ويل چي په موټر کوڅه په کوڅه ټول شبرغان کي وګرځيدل خو حميرا يي پيدا نکړه
بي بي حاجي خپل چادري واخيستل او وې ويل: بايد خپل د ورور څخه لاړه شم داسي نکيږي
امان غږ کړه: مورې يوه نجلي ده خوشي يي کړه زه درته بله اخلم
بي بي حاجي ځواب ورکړ: ته نه يي خبر چي په دي نجلي مې څومره پيسي مصرفي کړې ، څومره مې ورته کالي واخيستل ، سره زر مې واخيستل
دومره ښه او نيک چلند مې ورسره وکړ زما د نيک چلند او ښيګڼي ځواب دا نه وو
امان: خير دی مورې زه د ماما جان څخه ځم او خبر ورکوم چي ورپسي وګرځي ته په کور کي واوسه

اوس ستا شتون په کور کي ډير اړين دی
همدي وخت کي ناوې راووتل او وې ويل: څه خبره شوي ده ، د غرمي څخه تر اوسه وينم چي ګډوډي ده خو نه پوهيږم ولي؟؟
امان: ته دننه لاړه شه دومره مهمه خبره نه ده بيا درته وايم
د ځايه ولاړه شوه لاړم د بي بي حاجي لاس مې ونيوی چي ګورم سترګي يي د اوښکو ډکي شوي دي

ومې ویل: مور جاني څه درباندي شوي دي؟؟
بي بي حاجي: لوري حمیرا ماشومه ده که د یو خراب سړي په ګیر ولویږي بیا څه؟؟؟
لکه تیر وار چي تر کم ځایه تللې وه
د بي بي حاجي په ژړغوني غږ پوهه شوم چي حمیرا ډیره ورباندي ګرانه ده. لاس
مې ځیني ونیوی او ومې ویل: خیر دی مور جانې جګرخوني مه کوه پیدا کیږي
دخیره موږ ورپسي ګرځو پیاوړي او هوښیاره نجلی ده خپل پام نیسی
بي بي حاجي: هر څومره هم چي هوښیاره واوسي بیا هم ماشومه ده ..... یوازي دا
دي راشي پخداي قسم چي نه یي وهم

..... لیلا ....

په کور ننوتلو چي ګورم د رضوان مور خپل کالي ټول کړي او تګ ته تیاره شوي ده
ومې ویل: چیري ځي مور جاني اوس وختي نه دی؟؟؟
د رضوان مور وویل: لوري عادت مې دی چي خپل کالي مالي وختي ټولوم چي د تګ
په وخت کي ورخطا نشم
ومې ویل: ښه ، ښه خبره ده
مرسته درسره وکړم؟؟
وې ویل: نه ګراني دومره ډیر نه دی خلاص شو
همدي وخت کي رضوان وویل: مورې نن شپه د لیلا میلمانه یو موږ ته د ماهیچي
قابلي پخوي

د رضوان مور وویل: اووووو ماشاءالله زما ښایستې لوري
داسي خو ډیر ښه کیږي چي د تګ مخته ستا د لاس خواړه هم وخورم
ومې ویل: انشاالله هر کله یي پخوم چي نوش جان یي کړی
په زړه کي مې وویل: لیلا اوس به څه کوي
کرار د پخلنځي خواته لاړم. سودا ته چي مې کتل زړه به مې سره خراب شو خدایه
اوس څه وکړم؟؟؟

د وریجي پاکول مې پیل کړه چي عمه په پخلنځي ننوتله او وې ویل: لوري درسره مرسته وکړم؟؟

د خدایه مې غوښتل ، ومې ویل: هو تعداد ډیر دی که مرسته وکړی خو ډیر ښه کیږي
عمه وویل: سمه ده لوري زه غوښه پخوم ته وریجي پریمینځه او په جوش اوبو کي لانده (لامده) کړه تر څو ژر نم وباسي ځکه وخت نلرو
ومې ویل: سمه ده عمه جانې په سترګو
خپل ځان مې په وریجو مصروفه کړه خو پام مې عمه ته وو چي څنګه یي پخوي.
یو غټ دیګ مې د اوبو ډک کړ او پریمیښو چي وایشي.
ښه خپل پام مې ونیوی چی د کم مثالو څخه استفاده کوي. کرار کرار ټول کار عمه په لاس کي ونیوی او په پاي کي هم دم ته ورکړه.
راته یې وکتل او وې ویل: ستړي مشي لوري

ومې ویل: تاسو ستړي مشي ، ډیر زحمت مو وایستی
عمه د تلو په وخت کي وویل: خداي دي وکړي چي پخول دي زده کړي یي
ورته مې وکتل ، خندا ونیولم. په غیږ کي مې ونیوله او ومې ویل: مننه عمه جانې
په خندا یې وویل: هیڅه خبره نه ده لوري نامزاد داره نجوني ډیر دا کارونه کوي
هسي وایي چي زده مو دي هههههه
ما خپله هم ډیر دا کارونه کړي
دواړو وخندل.
شپه د ډوډي خوړلو وروسته رضوان راوکتل او وي ویل: فکر مي نه کول چي دومره به پکي تکړه واوسي
ومې ویل: زه دي څه شي فکر کړي یم؟؟؟ ډیر هنرونه لرم
او خپل سترګي مې په ناز واړول

رضوان: یو یو هنر دي بیا ګورم
همدي وخت کي د سراي دروازه وټکیدل

جهان وویل: زه یي خلاصوم
یو پیاله اوبه مې ځانته واخیستل چي وي څښم همدا وخت کي ګورم چي اجمل ورور ننوتی. د اجمل په لیدو ټول حیران شول.
اوبه مې په ستوني کي وپریدل او په ټوخا شوم. عمه څو واره په شا ووهلم تر څو چي مې وکولی شو ساه واخلم.
د رضوان پلار وویل: ته ولي راغلي؟؟؟
کور دي چاته پریښی؟؟

اجمل ته مې وکتل سترګي یي سري او کالي یي په خاورو وه او د څهري څخه یي ستومانتیا د ورایه ښکاریدل.
ومې ویل: وروره اوبه درته راوړم؟؟؟
په یو جدي او سوړ انداز یي راوکتل او هیڅ یي ونه ویل.

رضوان وویل: بیخي ورخطا دي کړو څه شوي دي دا سر و وضع دي څه حال ده
اجمل: دا ټول ستا ګناه ده په دي بي ځاي او احمقانه شوق او غوښتنو
عمه وویل: وه هلکه لکه انسان سم خبري وکړه که ني یو څپیړه راڅخه خوري ، موږ ټول دي ورخطا کړو څه خبره شوي ده؟؟؟
اجمل عمه ته وکتل ، یو ځاځکي اوښکه یي د سترګي د کنج څخه وځخیدل او په لرزانده غږ یي وویل: طوبا ځان وژنه وکړه.
د ( طوبا ځان وژنه وکړه ) د جملي په اوریدو مې ساه بنده شوه .... اجمل څه وویل؟؟؟

رضوان ته مې وکتل چي ګورم د هغه د څهري حالت هم بدل شوی دی.
د رضوان پلار وویل: دا څه معني؟؟؟ ډاډمن یي؟؟؟؟
اجمل: وروسته د دي چي د رضوان د کوژدي خبره شوه لاړه ځان یي په کوټي کي قلفه کړه ...... تر سهاره یې چا احوال نه دی اخیستي.
سم یي خبري نشو کولی خو مطلب یي ورسول چي څه کیسه شوي ده.

عمه د دي خبري په اوريدلو سره بي هوشه شوه. ژر مې په غيږ کي ونيوله.
څومره مې هغه شيبه د پښيماني او خواشيني احساس کول. د رضوان سر ښکته وو هيڅ يي نه ويل. مور يي هم ژړل.

اجمل وويل: رضوان ګناه کاره دی کاکا مي دی نه بخښي ولاکه يي پريږدي د .......
د رضوان مور د اجمل د خبرو مينځ کي وويل: رضوان څه ګناه کاره دی؟؟
دوي خپله د اوله نه غوښتل بيا زما زوي چيري هغي ته د يو ځاي ژوند ژمني ورکړي وه؟؟؟د مرې پسي خبري کول ښه کار نه دی خو د يو انسان حماقت خپل د ورور په غاړي اچول ډير خراب کار دی زړه مې د هغې پر ځواني سوځي خو نبايد دا کار يي کړی وی ، د رضوان څه ګناه ده؟؟

د رضوان پلار وويل: بس دي نور خبره مه غځوی ټول پوهيږو چي څه خبره شوي نور خبره مه اوږدوی ولاړشي چي ځو د کابل خواته
رضوان وويل: زه هم راځم
اجمل: په مرګ راسې ته چيرته راځې؟ طوبا ستا د لاسه دا کار وکړ بهتره ده چي په ختم کي ونه اوسي.
ما او فرشتي د عمه په مخ اوبه وهل تر څو چي پر هوش راغله.
د رضوان پلار وويل: ښځي ولاړه شه چي لاړشو تر څو جنازي ته ورسو
بکسونه يي واخيستل او تګ ته تيار شوه. عمه په لرزانده بدن د ځايه ولاړه شوه او وې ويل: زه هم راځم

غوښتل مې چي د اوړی څخه يي ونيسم چي زما لاس يي پوري وهل. په دي حرکت مې زړه مات شو ما عمه لکه خپل مور فکر کول.
په څو شيبو کي کوټه تشه شوه او ټول لاړل. يو کنج کي کښيناستلم لاسونه مې ريژديدل او اوښکې مي پر مخ بهيدل.
د دوهم ځل د پاره بي کسه شوم. خپل ځنګونونه مې په غيږ کي ونيول او لکه تل په خپله خپل اوښکي مي پاکي کړي.

زړه مې پر طوبا سوځېدی خو زه د هغې په مړيني کې هيڅ ونډه نلرم نو ولې زما سره داسي چلند کوي؟؟؟؟

په آرام او پټه خوله مې ژړل. څو ساعته تير شوه چي ګورم رضوان بيرته راغی. غوښتل مې ورڅخه لاړه شم چي دی لاړی او راڅخه لري کښيناستی. سر يي ښکته وو او هيڅ يي نه ويل.
ومې ويل: ته هم فکر کوي چي زما ګناه ده؟؟؟
سر يي پورته کړ او بې له دې چي ماته وګوري په سست او بې حاله لهجي وويل: نه ستا ګناه نه ده

زړه مې په چاوديدو وو. د ځايه ولاړه شوم ورڅخه نږدي لاړم ، د ده مخ مي خپل په لاسونو ونيول او مستقيم مې ورته وکتل او ومې ويل: رضوانه ... داسي راسره مه کوه زه بې له تا هيڅوک نلرم
رضوان: منګه ما ستا سره څه کړي؟؟
زما لاسونه يي خپل د مخ څخه ښکته کړل او دوام يي ورکړ: پريميږده ليلا اوس د ځان حوصله لا نلرم
د ځايه ولاړشو او لاړي او زه يي بيا هم يوازي پريښودلم.
هملته مې يو بالښت په غيږ کي ونيوی او تر توانه مې وژړل.

.... سهيلا ....

د جلال سره يوځاي د سخي زيارت څخه راووتلو او د کور خواته روان شوو.
فاروق وويل: زه ځم د ماشومانو مور ته يو څه شيان اخلم
تاسو کورته لاړشی
زه او جلال موټر ته وختلو او تروري ( د کاکا ښځه) ته په تمه شوو. د هغې په راتلو سره مو حرکت وکړ چي وې ويل: شهلا پاته ده صبر چي هغه هم واخلو
ومې ويل: نه هغه ستاسو د زوي په موټر کي خپل د خور سره راځي
تروري وويل: ښه نو سمه ده راځی لاړشو بي د هغه هم ناوخته شوی

جلال ته مې وکتل او دواړو مسکا وکړل په دي دروا‌غو چي ما وويل.
کورته ورسيدلو چي ومې ليدل جمال هم راغلی.
زليخا وويل: دا دی زما يار هم پخير راغی

ستري مشي مو وکړل چي جلال وويل: ته بايد صبا راغلی وی
جمال ځواب ورکړ: هو خو کار مي خلاص شو ما ويل ژر راشم
نور واړه کارونه بيا زما پلار مخته وړي
چاوي مو څښل چي فاروق راغی. ځان سره يي شپي ته ماهيان راوړي وه.
زليخا وويل: زه او سهيلا يي پخوو
د خبري څخه يي حيرانه شوم ځکه مي هيڅکله د پخلي په حال کي ليدلي نه وه.
جمال وويل: واه واه د نن شپي ډوډي نو بيا بل رقم خوندوره ده هههههههههههه
زليخا: خود خوندوره ده ځکه زه يې پخوم
يو ځاي پخلنځي ته لاړو. په لاري کي وم چي ومې ليدل شهلا د پخلنځي څخه ووتله او د ناستو کوټي ته لاړه. ناري مې کړه ، راته يي وکتل

ومې ويل: ګراني شپي ته ماهي پخوو راشه مرسته وکړه
وې ويل: نه نه زما نه خوښيږي لاسونه مې بوي نيسي
زليخا د لاسه ونيوله ، کش يې کړه او په خندا يې وويل: يووو د خلکو زوي ته داسي ووايي سر دي درته خريي ( کل کوي) او بيرته دي د ادي کورته ليږي راشه زده يي کړه
ماته يي وکتل سترګک يي ووهل او کرار زما په غوږ کي وويل: ښه دی ځيني خبري دي زده کړي دي
ومې ويل: خود مې زده کړي استاده مې څوک ده هههههههههه
په پخلنځي کي خلاف د دي چي مې فکر کول زده يي به نه وي داسي په مهارت يي ماهي اخته کول چي حيرانه پاته وم. راته يي پام شو او وې ويل: داسي مه ګوره چي نظره کوي مې ههههههه

ومې ويل: نه د نظرولو خبره نه ده تا ويلي وه چي پخلی دي نه زده

زليخا: هر خواړه نه يوازي ځانګړې خواړه مې زده دي

ومې ويل: ډېر ښه ، بيشک

زليخا: هو کله کله چي مې بيا زړه يي ښه پخلی کوم

شپه د ډوډي خوړلو وخت کي جلال بهر لاړی او زما فکر دي ته وو چي د ماهي اغزی لري کړم

زليخا وويل: جلال بهر لاړی

ومې ويل: ښه ګرانې پوهه شوم

بيا يې وويل: شهلا په پخلنځي کي ده

ومې ويل: ښه ګرانې

زما لاس يې چونګاړي کړ چي د ډېر درده مې فکر وکړ چي لاس مې شل شو.

په ډېر غوسه او قهر مې ورته وکتل او ومې ويل: څه واايييييي زما لاس دي وشکول څشي دی څه وايييي؟؟؟

زما د غړ او چلند څخه حيرانه شوه. شاوخوا ته يي وکتل چي پام مې شو ټولو زما غږ اوريدلی او ماته ګوري. خپل د کاره ډېر وشرميدلم.

څو شيبي وروسته زليخا راڅخه راغله او کرار يي وويل: فکر مه کوه چي درباندي مئينه يم

دوه ورځي مې درسره ښه چلند وکړ ځان درڅخه ورک شو؟؟؟

ځان دي څشي فکر کړی؟؟؟ آخر وار دي يي چي پر ما چيغي وهي

ميره دې د هغه نجلي سره دباندي دی دغه مې غوښتل چي درته ووايم

د دسترخوان پر سر څه اړينه خبره وه چي جلال ولاړ شو او لاړی؟؟ او ته سرټمبه ښځه ناسته يي او ماهي خوري

ماهي مې په لاس کي پاته وو او د زليخا خبري مې اوريدل. په ربښتيا ولي زما عقل يو وار يو وار هيڅ کار نکوي؟؟؟

يو دسمال مې واخيستی ، خپل لاسونه مې پاک کړه او ولاړه شوم. د زليخا هر خبره لکه چکش زما پر سر لګيدل.

جلال ولي د ډوډۍ پر مهال ولاړ شو او تر اوسه راغلی نه دی؟؟؟
د کوټې څخه ووتلم او مستقیم د پخلنځي خواته لاړم. ننوتلم چي ګورم شهلا یوازي ده او چاوي دموي.
غوښتل مې ووځم چي د زلیخا خبري او د شهلا کارونه مې د فلم په څیر د سترګو وړاندي تیر شوه. بیرته وګرځیدلم او د شهلا خواته لاړم. د بازو څخه مې ونیوله.
لنډه او چاغه نجلي وه. تورو سترګو ته یې ښه ځیر شوم او په ډېر غوسه ناکه لهجي سره مې ورته ګواښ ورکړ چي که یو وار بل په تیروتنه هم سترګه دي جلال ته ولویدله سترګي دي درته باسم ، ړنده کوم دې.
زما ډېنګرتوب ته مه ګوره نه دې مړه کوم خو ډېر ښه دي ټپي کوم چي تر څو چي ژوندي یې درد یې وزغمي

نارینه ډېر دي ځان د بل چا غاړې ته واچوه
جلال ستا د خولي د اندازه ګوله نه دی خوله دي څیریږي
ځانته بل دوښمن پیدا کړه زه درته مناسب کس نه یم
شهلا د ډېر بیري سترګه لا نه ړپول او یوازي یې ویل: ښه ښه سمه ده په سترګو لاس مې ځیني خوشي کړ. د لاس ټپ مي د دي په سپین بازو پاته وو. د پخلنځي څخه ووتلم ، د سپکوالي او ارامتیا احساس مې کول.
د لومړي ځل د پاره مې وغوښتل چي لکه لیلا چلند وکړم ځکه سهیلا هیڅوک په انسان کي نه حسابوي.

سراي ته لاړم چي ګورم جلال د جمال سره خبري کوي.
ځان سره مې وویل: دا څه وخت د خبرو دی؟؟؟ وروسته د ډوډۍ نه کیدل؟؟
نږدي لاړم چي د جمال پام شو او سلام یې راکړ. جلال راوګرځیدی او زما په لیدو یې وویل: ته ولي راغلې؟؟
ومې ویل: بي خبره راووتلي فکر مې پریشانه شو چي چیري یې
جلال په مسکا وویل: ښه نو داسی
ومې ویل: هو

لاس پر ملا ولاړه وم چي جمال وویل: زه د ټولي کیسی څخه خبر یم ، سبا بیرته د کابل خواته حرکت کوو
حمیرا باید ژر د مزاره وباسو هر څومره چي دلته واوسي هغومره کابل ته تګ ستونزمن کیږي

ومې ویل: مننه ورور جانه نه مې غوښتل چي تاسو په عذاب کړم
جمال: د څه شي په عذاب مورږ یو فامیل یو حمیرا هم لکه زما کوچني خور ده
زما د مور د مړیني او د لیلا د تګ وروسته مې فکر کول چي هیڅکله به د کورني خاونده نشم خو نن احساس کوم چي زه کورني لرم او زما په فکر کي دي.
د ډیر خوشالیه ژړا نیولې وم چي جلال نږدي راغی او وي ویل: فرق نکوي چي ورځ ده که شپه سترګي دي تل د اوښکو ډکي دي
څه څلرویښت ساعته ژاړې؟؟؟
ومې ویل: هیڅ
خپل مسکا مې نشو ټولولي ، جلال ته مې وکتل او ومې ویل: شکر چي یاست ما په تنهایي هیڅ نشو کولی

جلال وویل: د دي وروسته زه چي وم ته هیڅ فکر مه کوه زه ستا پر ځاي فکر کوم ، ستا پر ځاي جګرخوني کوم ستا پر ځاي ژړا هم کوم چي د هغه څخه هم شاته پاته نشي ههههههههههه پوهه شوي
د ده د یو یو کلمي سره خوشالي مې په وجود کي خپره شوه
ومې ویل: د یو ناشکره انسان د پاره لکه ما ته ډیر لوي نعمت یي
جلال: نه نو دومره هم نه یم خو هڅه کوم چي درته بي مصرفه انسان ونه واوسم

.... لیلا ....

د هوا د روښانيدو او د لمر ځانګي چي زما پر مخ خپريده د ځايه ولاړه شوم. د تيري شپي ټولي پيښي مې د سترګو وړاندي تيري شوي. په کوټه کي يوازي وم او بل هيڅوک نه وو.
بالښت مې خپل د پښي څخه لري کول چي سترګه مې خپل د نامزادي ګوتمي (کچي) ته ولويدل. خپل د ګوتي څخه مې وايستل او د لمر مخامخ مې ونيول او ورته په کتو شوم.
په زړه کي مې وويل: ما د دي ګوتمي د پاره څه کارونه چي ونکړل
آخر چا ارزښت راکړ؟؟؟
چا وويل چي ليلا زمونږ د پاره خپل کور خوشي کړ؟؟

چا وويل چي ليلا د ځان او خپل د کورني ابرو يي زمونږ د زوي د پاره يوړه؟
د تل په شان يوازي او بي کسه او يوازيني توپير يي دا دی چي دا وار هر څه چي مې کړي دي زما خپل په انتخاب وه.
ګوتمي مې د کړکي شاته پريښودل او د کوټي څخه ووتلم. بينظير مې د څنګ څخه تيره شوه وې ويل: راشه په کار مې يې.
ورسره لاړم د صوفي پر سر پر يو زوړ کمبلي کښيناستلو.

راته يي وکتل او وې ويل: ټول کابل ته لاړل ستا خوابښي او خسر برايي لاړل دا نور هم سهار وختي لاړل
يوازي زه او ته او فرشته پاته يو
ومې ويل: ته ولي لانړې؟؟؟
بينظير: زه د بيګانه قومه يم بيا ځلويښتي ته يي ځم ، يو دوه واره مې بالا ليدلي هم نه وه خداي دي وبخښي خو ډيره مغروره وه زما سره يي هيڅ سلام عليک نه کول
ومې ويل: د مړې شاته خبري کول ښه نه دي ، زه ځم د روح د ارامتيا د پاره يي قران شريف تلاوت کوم بل څه مې د لاسه نه کيږي يوازي همدا کولی شم
بينظير: ښه سمه ده زه هم تر بازاره ځم يو څه شيان واخلم غرمي ته يي پخه کړو

فرشته هم تر څو ساعته وروسته راځي ازموينه يي درلود که ني هغه هم کابل ته جنازي ته تله

د فرشتي تر راتګه په کور کي  يوازي يي زه هڅه کوم چي ژر راشم
ومې ويل: کاشکي امتحان يي نه وی درلودی چي تللی وی
بينظير: هو بيچاره ډيره جګرخونه وه
ومې ويل: زما په فکر کې کيږه مه زه په يوازيتوب اموخته يم لاړشه په جيمي زړه خپل سودا واخله
د ځايه ولاړه شوم سترګې مې د برايي د ژړا د امله ډير سوځيدل ، لاړم اودس مې وکړ يخي اوبه چي مې پر مخ لګيدل زړه به مې تازه شو.
بيرته کورته راغلم بينظير خپل پوړني واخيست او د کوره ووتله خداي په اماني مو وکړه او زه د کوټې خواته لاړم د الماري څخه مې قران شريف واخيست ښکل مې کړ او خپل په سترګو مې ونيول. د کړکي شاته مې پريښود او خپله هم کښيناستلم. هره مبارکه پاڼه چي مې ويل اوښکي مې تويیدل.
نه پوهيدلم چي د چا د پاره يي وايم ، خپل د زړه د پاره ، د طوبا د پاره د چا د پاره؟؟؟

.... سهيلا ....

نړدي و غرمي ته وو چي جمال راغی او وي ويل چي بايد د کابل خواته حرکت وکړو.
د زليخا د کاکا د ښځي سره مو خداي پاماني وکړل. ډير ټينګ شول چي يو څو ورځي نور هم پاته شی خو موږ د تفريح او چکر د پاره نه وو راغلي او ژر بايد بيرته کابل ته تللی وی.
د سراي دروازي ته نږدي خپل دستکول مې جلال ته ورکړ او ومې ويل: اوس بيرته ژر راځم
زليخا په دهليز کي وه او خداي پاماني يي کول. ورته نږدي شوم ټينګه مې په غيږ کي ونيوله او په غوږ کي مې وويل: د برايي شپي د پاره ما وبخښه ما بيعقلي وکړه ،

د یوي مشري خور په شان چي خپل خور بخښي ما وبخښه که ته راڅخه خفه واوسي زړه مې ډېر ماتیږي

زلیخا د ځان څخه لري کړم او مستقیم یې زما سترګو ته په کتو وویل: ډېر دي چاپلوسي وکړه څه وکړم نو هههههههه
د اوله هم خفه شوي نه وم
پوهیږم زما کار هم ښه نه وو خو مقصد خپل پام داسي حساس ځایونو کي نیسه د هر څه څخه هوسا مه تیریږه په یو ټکي فیل قیل کیږي.( فیل قیل میشه یو دری متل دی چي یعني د هر څه څخه هوسا او بي تفاوته مه تیریږی په یو ټکي فیل ، قیل جوړیږي چي قیل په دری ژبي کي پورته کول یا لوړ ته وایي همدومره چي په یو ټکي باندي د دي دوو کلمو په معنا کي توپیر راغی کیدی شی چي ډیره مهمه موضوع واوسی او موږ بي له دي چي ارزښت ورکړو ورڅخه تیر شو
کله چي غواړي یو چاته ووایي خپل پام نیسه او د هر څه څخه هوسا مه تیریږه بیا دا متل ویل کیږي)

هر څه ته ښه پوره پام نیسه بلخصوص جلال ته
ومې ویل: سمه ده خپل پام نیسم
د زلیخا سره د کوره ووتلو او موټر ته وختلو.
زلیخا وویل: حمیرا دي زموږ مینځ کي کښیني چي کله امنیتي پوستي ته ورسیدلو زما پام ورته یي
ومې ویل: ښه خبره ده
ما،زلیخا او حمیرا غټ تور پوړنیان پر سر کړي وه چي دا هم د زلیخا نظر وو خو زه پوهه نشوم چي ولي؟؟؟

په لاري کي مې دعاوي کول چي ګیر مو نکړي فکر مې ډېر نارامه شوی وو. خدای خدای مې کول چي پخیر تیر شو او ګیر رانشو حمیرا هم ډیره بیریدلې وه.

.... صوفیه ....

بې بي حاجي بيخي د ډوډې څخه وليدلي وه او مورې ټول يي په اړه اندېښمن وو.
د ډير ګرځيدلو وروسته بيا هم د حميرا څخه هيڅ نښه مو پيدا کړې نه وه.
امان وويل: داسې نکيږي موري ته په ډوډې نخوړلو ځانته ضرر رسوي
مور جانې وويل: ته نه پوهيږې هغه کوچني نجلي ده که د يو خراب سړي په لاس وليدلي يي بيا څه؟؟
زويه کله چي دا فکر کوم زړه مې ټوټې ټوټې کيږي
امان: که د خراب سړې په لاس وليدلي هم يي حق يي دی مورې ورسره څه بد چلند کړی وو چي داسي وتښتيدل؟؟

سل واره يي چي راوړي بيا هم تښتې ، د يو انسان زړه چي په تښته وو او ستا په ښه توب نه پوهيدل لاس او پښې يي چي په زنځيرونو وتړې لا ولاکه يي ګيره کړې ګورم چي د امان د خبرو سره يي حال لا خراب شو. لاسونه مې ځيني ونيول او ومې ويل: پخداي قسم مور جانې داسی کمه خبره نه ده شوي زما زړه روښانه دی ، خداي يي ساتونکی دی هيڅ پري نکيږې ته ځان مه زوروره او ډوډې دې وخوره که نې د پښو لويږې ناروغه کيږې
وې ويل: نشم کولی حميرا راته پيدا کړی

ما نه وه زيږولي خو په همدا څو مياشتو کې زما په زړه ډيره شيرينه شوې وه د بې بي حاجي اوښکي مې کتلي نشو داسي د زړه يي ژړل چي په ليدو يي د کاڼي زړه هم اوبه کيدی.
امان وويل: داسي يي نه پريږدم مورې ماما جان هم ورپسي ګرځي پيدا کوم يي درته.

.... ليلا ....

همداسي چي مې قرآن کريم ويل خپل سر مې د هغه څنګ ته پريښود او پاڼې مې ځيني پوکل (پوفول) چي د پورته خواته تلل.
بې د کم هدفه خپل کار ته مې دوام ورکول. د ژړا او بې ځايه فکرونو څخه ښه تره

وو. همدي وخت کي د سراي د دروازي د ترلو غږ راغی بي له دي چي سر پورته کړم ځان سره مې وويل يا بينظير ده يا فرشته بل څوک خو نه دی
همدي وخت يو دوه بيتي مې په ياده شوه او خندا راغله
( مادر گل گندم است مادرررررر)
( او پروايمه نداره بچه مردم است مادررررر)
دا مې ويل او خندل مې. ومې ويل: ودي ليدل موري د خلکو زوي د برايي څخه چي تللی تر اوسه يي بيا زما احوال نه دی اخيستی هههههههه
ولي دا شعر مې مخته ذهن ته راغلی نه وو؟؟

ځيني شعرونه هسي نه دي ويل شوي بلکي د يو دليل پر اساس ويل شوي دي
په فکر کي وم چي يو چا يو څه يي زما غاړي ته واچول او زه يي شاته کش کړم.
احساس مې وکړ چي مغزی مې مات شو په ټوخا شوم هيڅ مې ساه اخيستلی نشو.
هر څومره چي مې هڅه کول شاته وګورم چي څوک دی خو نه کيدی غږ مې لا نيول شوی وو چيغي مې وهلې نشو.

زه يي پر ځمکي وغورځولم او خپل پښه يي زما پر ملا پريښودل. د څو ثانيو په مهال کي مې داسي احساس کول لکه چي ساه مې د بدن څخه وتلی وي. د شا غاړي څخه يي ونيولم او کش يي کړم چي د پنجاپي غاړه مې څيري شوه.
نه پوهيدلم چي څوک دی خو په دی پوهيدلم چي مقصد يي يوازي زما وژل نه دي.
په ټول توان سره مې هڅه کول چي خپل ځان وژغورم او د ده مانع شم خو نه کيدل.

همدا چي خپل پښه يي زما د ملا څخه لري کړه ، وګرځيدلم او لاس مې ځيني په غاښ کړ. يو سړی وو چي په تور څادر يي خپل مخ پوښلی وو.
پوهه نشوم چي څوک دی. يوه کلکه څپيړه يي په مخ راکړه. څادر ته مې ور حمله کړه تر څو پوه شم چي څوک دی خو هغه تر ما زورور وو او زما زور وربانديي نه رسيدی. پورته مې وکتل چي قرآن شريف مې وليدی وامې خيستل او د قرآن شريف

په تیزه څوکه باندي مې کلک په سر ووهل چي پر شا ولویدی.
د ده د څو ثانیو ولیدلو څخه مې استفاده وکړه د کوټې څخه راووتلم او په ټول توان د سراي دروازي خواته وځغاستلم.

دروازي ته نږدي وم چي رضوان رانښوتی زما په لیدو یي په ورخطایي سره وویل: څه شوي دي؟؟؟؟؟ کالي دي ولي داسي دي؟؟؟
د دیر بیري څخه مې خبري نشو کولی یوازي په لاس مې د کور خواته اشاره وکړه ، رضوان د کور خواته منډه کړه. شاته یي په بیریدلي او کرار قدمونو روانه شوم چي ومې لیدل یو بل سره لاس تر غاړې شوي دي.
تر رضوان زورور وو بیریدلم چي رضوان خوږ نکړي.

شاوخوا مې وکتل چي ګورم یو چاینکه د برایي څخه د صوفي پر سر پاته وه هغه مې واخیستل او په ټول توان مې د هغه سرې پر سر ووهل. همدا چي لږ سست شو رضوان ژر د هغه څادر لري کړ او د علي د څهرې په لیدو د دواړو خولي د ډیر حیرانتیا څخه خلاصي پاتي شوې.

رضوان یو کلک سوک یي د علي پر مخ ووهل او علي هم خپل دفاع کول. یو نابرابره جنګ وو. علي نسبت و رضوان ته په قد و قامت کي غټ وو.
غوښتل مې مرسته وکړم خو زور مې نه رسیدی. علي مې د بازو څخه نیولي وو او کش کول مې خو هغه اوس هم د رضوان د وهلو په حال کي وو. غږ مې نه وتی چي چیغي ووهم ستونی مې درد کول. همدي وخت کي فرشته کورته رانښوتله او زموږ په لیدو یي چیغي وهل پیل کړل نږدي راغله تر څو د علي مانع وګرځي. موږ دواړو علي ټینګ نیولی وو. څو شیبې لا نه وي تیري شوي چي څو ګاونډیان او د کوڅي خلک د مرستي د پاره راغلل او علي یي هم د سوکان او لغتو لاندي کړ.

ډیره بیریدلې وم! د رضوان مخ په وینو ککړ وو خو خپل په همغه خراب حالت باندي راغی زه یي غیږ کي ونیولم او وي ویل: ووایه لیلا ستا سره یي خو کم کار ونکړ؟؟؟
خبري مې نشو کولی یوازي مې سر دوه خواته د (نه) په معني وخوځول.

په تندي يي کلک ښکل کړم او وي ويل: شکر خدايه ډير وبيريدلم اوس ښه يي؟؟
په اشاري مې پوه کړ چي ښه يم. ډير فکر مې د رضوان خواته وو تندي او شونډې
يي په وينو وه. خلکو پوليس ته خبر ورکړ. علي يي لاس تړلی وړل چي وي ويل:
همداسي مو نه پريږدم

طوبا ستاسو دوو پست فطرتانو د لاسه ځان وژنه وکړه جزا يي بايد ووينی داسي نه
کيږي چي تاسو به خوش و خوشاله ژوند کوی
علي يي په زور موټر ته پورته کړ خو زه د ډيري بيري څخه ريژديدلم بينظير راغله او
زموږ په ليدو نږدي وو چي زاره يي وچوي
بينظير: خدايه دا څه حال دی؟؟ دلته څه خبره شوي ده؟؟
ما خبري کولی نشو خو رضوان ورته وويل چي څه خبره شوي وه.
د رضوان سره د روغتون خواته لاړو. هيڅ مې باور نه کيدل چي علي وغواړي زما
نوم بد کړي او بيا دي ما ووژني. څنګه يي داسي فکر کړی وو چي زه ملامته او
ګنهکاره يم؟؟ زما ګناه په دي پيښي کي څه وه؟؟
د دي د پاره چي موږ ټوله روغ وو زرهاو واره مې شکر وايستل.

..... جلال ....

هر وار مې چي د هينداري څخه کتل د سهيلا بيريدلي څهره مې د سترګو وړاندي
ليدل.
نشم ويلی چي بيره نلري خو سخت د يو جملي پسي ګرځيدلم تر څو يو څه ارامه
يي کړم دا حالت يي ډير خفه کولم.
امنيتي پوستي ته نږدي وو. جمال وويل: خپل پام ونيسی دا اوله پوسته ده سل په
سله تلاشي کوي
سهيلا او زليخا سره نږدي کښيناستل او دواړو خپل پوړنيان پر حميرا واچول داسي
چي حميرا هيڅ نه معلوميدل.

عسکر لاس راکړ موټر مي ودرول. یوه ژوره ساه مې واخیستله تر څو عادي معلوم شم. د زلیخا او سهیلا یوازي دوي سترګي معلومیدل نور خپل مخان یي په پوړینه پوښلی وه.
عسکر ښه شا سیټ یي وکتل او بیا یي وویل: د شا صندوق خلاص کړه
ښکته شوم ډیر اضطراب مي درلود. صندوق مې خلاص کړ او بیرته موټر ته وختلم.
د حرکت اجازه یي راکړه خداي پاماني مو وکړه او حرکت مو وکړ. زړه مي خولي ته راغلی وو ، جمال ویل تلاشي کوي نو هغه دوي پوستي نوري هم د دوي په لاس کي دي د هغه وروسته بیا ازاده کیږو.

ډیر بیریدلی وم. د شا دري کسه هم تر ما بالا بیریدلي وه.
ومي ویل: یو دعا وکړی چي د هغه دوه پوستو څخه هم پخیر تیر شو
سهیلا وویل: ما زده زه یي وایم
ومي ویل: ډیر ښه وي وایه انشاءالله چي هوسا او بي غمه به تیر شو

.... شګوفه ....

د شعیب رفتار ډیر بدلون موندلی وو. حیرانه وم چي څنګه داسي مهربانه شوی دی؟؟
نصیر نن زما لیدو ته راتی ، ښه پوره مې زړه ورته ډک وو
نباید داسي ما پریږدي او خپله وتښتي
سراي مې متر کول چي دروازه وټکیدل. په څغاستو مې ځان ورسول او خلاصه مې کړه چي ګورم نصیر دی. اول خوشاله شوم خو وروسته بیا جدي شوم او ومې ویل:
ته دننه راشه زه درسره کار لرم بیشرفه
نصیر په ورخطا لهجه وویل: څه شوي دي خیریت خو دی عمه جانې؟؟
ومې ویل: نه د څه شي خیریت؟؟؟
دا څو وخته چیري وي؟؟ څو واره مې د شعیب په لاس احوال راستول چي زما لیدو ته راشه؟؟

بي له تا بل ځوک لرم چي د کور احوال ورځخه واخلم؟؟
نصير د يو بي خبر انسان په څير راکتل. اخر يي وويل: ته صبر .
تا کله راته ويلي چي زما ليدو ته راشه چي زه نه يم راغلی؟؟
دا دوي ورځي کيږي چي د شعيب دوکان ته ځم هيڅ يي راته ويلي نه دي چي ته غواړي ما ووينې ما هم وويل ژوند دي جوړ شوی نور نو ماسره څه کار لري
ومې ويل: دا نو څنګه خبره ده؟؟ يو وار يي لا درته ونه ويل چي زما په کار يي؟؟
نصير: نه ولاکه يي ويلي يي ... اوس څه شوي دي؟؟
ورته مې کيسه وکړل چي څو شپي مخته څه خبره شوي وه.
نصير وويل: ښه نو داسي خبره ده .

تا ورته ګواښ ورکړی ، شعيب بيعقل انسان نه دی پوهيږي چي صبر دي خلاص شوی کور پريږدی ځي ځکه داسی خبره يي درته کړي
مطمئنه واوسه کله چي ورسره واده وکړي رفتار يي درسره ډير بدليږي
اوس ته هره شيبه کولی شي چي کور پريږدي او لاړه شي هغه وخت بيا نشي کولی
ومې ويل: ولا دي ته مې فکر نه وو کړی
نصير: هو همدا خبره ده ، تر واده پوري يي ښه ځانته مطيع کړه د واده وروسته بيا هر څه چي دي وکړل وي کړه هغه وخت بيا قدرت ستا په لاس کي دی
اوس بيريږي چي کور به پريږدي او لاړه به شي ځکه درته څه نه وايي
ومې ويل: ولا ښه خبري ته دي اشاره وکړل ، خپل پام نيسم
ښه شو چي راغلي ديغه شوې وم غوښتل مې د يو چا سره خبري وکړم
نصير: هو زه هم درسره کار لرم

ومې ويل: څه کار؟؟ کور کي ټول ښه دي؟؟
نصير: هو خير و خيريتي ده
خبره دلته ده چي زلمی ستا شا خوشي کړي ده د دولت چارواکي هم تر يو وخته د يو چا پسي ګرځي نور هوسا او ازاده دباندي وتلي شي

په خندا مې وویل: داسي چي وايي یوازي شعیب پاته کیږي
نصیر: دا نو بیا ستا په لاس کي دی چي څنګه ازادي اخلي
مقصد بالا څوک درپسي نه دي زلمی هم دومره پیسي نلري چي څلرویښت ساعته
ستا پسي وګرځي اخر ستړی کیږي او ستا شا خوشي کوي
ومې ویل: ښه د دي خوا څخه مې هم زړه جیمي شو ، وګورم چي په راتلونکی کي
څه کیږی

... رضوان ...

د لیلا مغزی شین شوی وو او حنجره یي خوږه شوې وه خبري یي سم نشو کولی.
ډیر خفه وم چي ولي مي یوازي پریښودل د لیلا ګناه خو نه وه. اوښکي مې د سترګو
څخه توي شوي. لاس مي ځیني ونیوی او ښکل مې کړ چي راته یي وکتل.
ومې ویل: ما وبخښه برایي خفه وم ته مي هیر شوي
که زه بهر تللی نه وی او پاته شوی وی داسي پیښه نه کیدل زما لیلا
په سر مي ښکل کړه او دوام مي ورکړ: زه ځم فرشته درسره ده ژر بیرته راځم
د روغتون څخه ووتلم او مستقیم د عمومي تلفن خواته لاړم او خپل عمه جانې ته
مي زنګ ووهل. د څو زنګو وروسته یي ځواب راکړ.

د ستړي مشي وروسته مي ټول د دي اخر وختو پیښي ورته وویل هغه هم ډیره
جګرخونه شوه. په پاي کي مي ورته وویل چي زه بي د خپل نامزاده امریکا ته نراځم
لیلا هم باید راسره راشي هغه بي د ما بل هیڅوک نلري نکیږي چي یوازي یي پریږدم
نیمه ورځ مي یوازي پریښودل نږدي وو چي د لاسه یي ورکړم
د ډیر خبرو وروسته مي راضي کړه چي زما مور و پلار ته څه ونه وایي او زما او د
لیلا کار یو ځاي جوړ کړي. د اړیکي د پري کیدلو وروسته د روغتون خواته روان
شوم. داسي نکیږي لیلا مي نیمه ورځ یوازي پریښودل څه پیښه ورباندي راغله
نشم کولی چي هغه په خطر کي واچوم علي لیونی دی خامخا په پیسو ازاده کیږي
او بیا د لیلا پسي راځي دا وار سل په سله خپل مخصد ته ځان رسوي

زه نغوارم ټول عمر د هغه څه ارمان او حسرت وکړم چي ما کولی شو مخه يي ونيسم.

د ليلا سره يو ځاي ځم او اجازه نه ورکوم چي زما احساسات زموږ د پرمختګ مخه ونيسي. د نن د پيښي وروسته که لاړ هم شم هره شيبه مي فکر د ليلا سره يي نو بهتره ده چي راسره واوسي ... هو داسي بهتره ده يو ځاي درس وايو.
روغتون ته لاړم. فرشته مي د يو شي پسي وليږل او خپله د ليلا څنګ ته کښيناستلم. په مينه مي پر ويښتانو لاس تيرول چي د خوبه ويښه شوه. سر مي نږدي يووړ او ومي ويل: ګوره ليلا ما خپل د عمه سره خبري وکړي دعوت نامه ليږل هغي ته ډير هوسا کار دی

موږ دواړو ته يي راليږي ، ته هم بايد راسره لاړه شي
تا يوازي نشم پريښودلی
هر څوک خپل په فکر کي دي څوک زما د ليلا ساتنه نکوي ، فکر مي ستا څخه پاته کيږي ، تا بايد ځان سره يوسم ... پوهه شوې ليلا؟؟
راسره ځي؟؟؟
خپل سر يي د هو په توګه وخوځول. يو ژوره ساه مي واخيستل فکر مي کول چي راسره نراځي.
د ليلا لاس مي خپل پر زړه پريښود. نن ډير بيريدلی وم که په ليلا کم څه شوی وی هيڅکله مي ځان نه بخښل ، هيڅکله!

..... سهيلا ....

حميرا تر ما بدتر بيريدلې وه هڅه مې کول چي ارامه يي کړم. يو ماڼه مې په لاس ورکړل او ومې ويل: دا وخوره نن سهار دي هم شی ونخوړل
حميرا وويل: نه هيڅ مې زړه نه کيږي ، نشم خوړلی دعا کوم چي ژر کابل ته ورسو لاسونه مې ځيني ونيول او ومې ويل: ماته وګوره ، هر څه چي وشي هره پيښه چي

وشي حتي که مرې هم شم تا ځان سره کابل ته ورم څوک زما مخه نشي نيولی پوهه شوي؟؟

حميرا په خوشالي وويل: هو پوهه شوم دخيره څو
حميرا ته مي دلداري ورکول خو زما د زړه خداي خبر وو.
تور کالي مو اغوستي وه او هوا هم بيحده ګرمه وه.
خپل سر مې په ښيښې تکيه کړ سترګي مې سوځيدل برايي بيده شوي نه وم.
نه پوهيږم څه وشوه چي د زليخا د ښورولو سره ويښه شوم.
وې ويل: ژر خپل پوړني سم کړه چي پوستي ته نږدي يو
ژر مې خپل پوړني جوړ کړ. د زليخا د ښورولو څخه دومره بيريدلې وم چي خوب مې پوره پريدلی وو. څو ژوري ساګاني مې واخيستل تر څو چي يو څه بهتره شوم.
جلال وويل: ژر خپل مخ پټ کړه

ژر خپل نيم مخ مې په پوړېنه ويوښل.
موټر ودريدی. عسکر مخته راغی ښه په ځير يي د موټر دننه وکتل بيا يي وويل چي د شا صندوق خلاص کړه چي وي ګورم
جلال ښکته شو تر څو صندوق خلاص کړي ، يو څه پوړنی مې لخشيدلی وو غوښتل مې جوړ يي کړم چي د حميرا يوه پښه معلومه شوه ژر مې پوړني پر واچول تر څو پټ شي چي عسکر غږ کړه: څه دي پټ کړه؟؟
ومې ويل: هيڅ مې نه دي پټ کړي
وي ويل: تاسو دوي ښځي بي رقمه ناست ياست شاته مو څشي پټ کړي دي؟؟
همدا چي دا خبره يي وکړه زړه مې توي شو ومې ويل خلاص شو مړه شوي سهيلا ګير يي کړو

همدي وخت کي چي زه ګونګه شوي وم او خبري مې کولی نشو زليخا پر چيغي کړه او په لوړ غږ يي وويل: څهههههههه؟؟؟؟

څه خبره ده چي سر دي په موټر کي ننویستلي؟؟؟ د موټر تلاشي ده که د خلکو د ښځو؟؟؟؟

یو څه شرم وکړه پر پدره دي د داسي بي قانونه مملکت لعنت شي چي ستا په څیر انسان یي عسکر ټاکلی دی
جمال وویل: ارامه واوسه
او یو دوه خبري هم ده عسکر ته وکړه
عسکر بیخي خپل د تښتي لاره ورکه کړي وه. جلال موټر ته وختی یو بل عسکر مخته راغی او وي ویل: څه خبره ده؟؟؟ څه غالمغال دی؟؟
جمال وویل: دا عسکر خپل سر په موټر کي ننویستلی او په زوره غواړي چي د ښځو پوړنیان لري کړي

دا څه رقم تلاشي ده؟؟ د څشي پسي ګرځی؟؟ دا ښه کار نه دی شرم وکړی
زه قومندان اکرم الدین پیژنم ستاسو شکایت ورته کوم
دومي عسکي وبریدی ، بخښنه یي وغوښتل او وي ویل: پخیر لاړشی ورور جانه دا هلک بیعقل دی خپل په خبرو نه پوهیږي تاسو یي وبخښی
جمال وویل: خپل رفتار سم کړی اخر څوک شکایت ته مجبوره کوی دا کارونه ښه نه دي چي تاسو یي کوی

جلال حرکت وکړ. موږ ټول د زلیخا کار ته حیران وو او خپله زلیخا د خندا څخه شنه وه.
جمال وویل: ولي دي داسي چیغي وهل؟؟
که پر بده لګیدلی وی موږ ټوله یي ښکته کولو ... یو وار یو وار ته هم بیعقله کیږي نږدي موږ ټوله دي په بلا کي اچولي وو
زلیخا وویل: ما د بلا څخه وژغورلاست
د حمیرا پښه یي لیدلي وه سهیلا هم خپل ژبه تیره کړي وه
چا یي ځواب ورکړی وی؟؟

جلال وويل: خير اوس خو پخير تير شو دا وار خپل فکر ونيسی بيا داسی کم کار ونشي چي دا ځل سل په سله ګير راځو

..... صوفيه .....

بي بي حاجي هره ورځ ژړا او جګرخوني کول. هر چا ته يي زاري کول چي حميرا پيدا کړی. ډوډي يي نخوړل او دا يي په ضرر وو. هيڅ مې د بي بي حاجي دا حال نشو ليدلی ، ماته لکه زما مور وه زړه مې درد کول کله چي مې ليدل داسي ژاړې او بي تابه ده.

امان د بي ځوابي څخه هيڅ کورته نه راتی. هيڅا د حميرا احوال نه درلود.

ډير مې دي موضوع په اړه فکر وکړ اخر مې حليمه ، د کور تازه ناوي ته وويل: څنګه به يي چي يو بله نجلي واخلو؟؟

حليمه چي حميرا يي يوازي يو ځل ليدلي وه او د هغې څخه يي هيڅ شناخت نه درلود وې ويل: ولاکه پوهيږم .... فکر کوي چي د حميرا ځاي به د بي بي په زړه کي ونيسي؟؟

ومې ويل: دا زه هم نشم تضمين کولی نو اوس څه وکړو؟؟

بايد خپل ډوډي او دواوي پر وخت وخوري خو دا يي نه خوري او د يو ماشوم په شان ټوله ورځ ژاړې زه يي دا حالت نشم ليدلی

داسي ناروغه کيږي هغه وخت بيا څه وکړو؟؟؟

حليمه: زمونږ د ګاونډي لور ده خو نه پوهيږم چي هغه خرڅوي که نه ... ډير غريب خلک دي خپل د اولادو د نس د ماړه کولو لپاره ډوډي نلري

ومې ويل: ښه دی ځو يو ثواب هم کيږي

ښايي د بي بي حاجي هم خوښه شوه خداي مهربانه دی

حليمې وويل: سمه ده صبر زه خپل چادري واخلم يو ځاي ځو خبري کوو

.... ليلا ....

د خوبه ویښه شوم ګورم چي رضوان خپل سر زما پر لاس ایښی او بیده شوی دی.
خپل لاس مې کرار لري کول چي د خوبه ویښ شو
زما په لیدو خوشاله شو او وي ویل: ستونی دي څنګه دی؟؟ درد خو نکوي؟؟
په سختي مې خپل د خولي نارې تیري کړل او کرار مې وویل: اوس بهتره یم
رضوان: شکر چي لرم دي شکر چي خداي راته وساتلي
ځومره دي پریشانه کړم لیلا
که په تا کم څه شوی وی الله شاهد دی چي مړ کیدلم
ځان مي هیڅکله نشو بخښلی
کاش هغه شپه زما مخه دي نیولی وی او زه نه وی تللی
ومې ویل: نه داسي مه وایه ستا هیڅ ګناه نه وه ، که ته پر وخت نه وی راغلی خداي خبر وو چي څه پیښیدل

رضوان زما سر ښکل کړ او وي ویل: دعوت نامه مو چي راغله دخیره بي خبره ځو بي له دي چي چاته ووایو
ومې ویل: خپله بهتره پوهیږی
رضوان: بهترینه کار همدا دی ، تا یوازي نه ایږدم ګراني
عمه مي پیسي لري اوس چي اقدام وکړي ژر یي اخیستلی شي
مقصد ستا پام یي چي چاته څه ونه وایي
ومې ویل: عمه جانه دي ستا فامیل ته څه نه وایي؟؟
رضوان: نه زړه دي جیمي ، پر دي عمه مي زه ډیر ګران یم زما خوشالي د هغې خوشالي هم ده

یو وار د دي ځایه ووځو نور مي زړه جیمي کیږي ، علي لیونی شوی دی نغوارم چي یو وار بل یي بیا ووینم او موږ ته مشکل جوړ کړي
ومې ویل: نشي کولی
تر څو چي ته واوسی دی هیڅ نشي کولی شکر چي تا لرم زما د زړه سره
رضوان ته مې وکتل چي د څهري څخه یي ستومانتیا خورا ښکاره وه

ومې ویل: زما سره پر کټ راشه
رضوان: نه ته ارام وکړه زما ځاي سم دی
ومې ویل: راشه نو یو ځاي ارام کوو
راته یي وکتل سترګي یي خوبجن او خماري وي معلوم وو چي سم بیده شوی نه دی.
لاس مې ځیني کش کړ او ومې ویل: راشه
خپل بوټونه یي وایستل او راغی. سر مې ځیني خپل پر اوږدي پریښود او د روغتون سپینه روجایي مې پر واچول تر څو په ارامه بیده شي.
ومې ویل: رضوانه؟

وي ویل: جان ووایه د رضوان د زړه سري
ومې ویل: زه څومره دراندي ګرانه یم؟؟؟
په خندا یي وویل: تر اوسه ریاضي دومره پرمختګ نه دی کړی چي وکولی شي زما د میني اندازه تاته بیان کړي

په خندا مې وویل: تل مې داسي کلمات خوښیدل
یو وار مې یو فلم ولیدی ډیر مینه ناکه وو ، تل مې غوښتل همداسي چي د فلم هلک او نجلي پر یو بل مئین دي زه هم مئینه شم او خپل د ژوند مینه پیدا کړم
رضوان: پیدا کړی دې دی زړه دي جیمي
ورکیږي هم نه لاره یي زده ده حتي که ته یي یو ځاي هیر کړي بیا هم راځي
حاضر یم هره ورځ د طوطي په شان درته تکرار کړم چي څومره راباندي ګرانه یي او غوارم دي او هر څومره پیسی چي لرم وخت واخلم تر څو درته یي ثابته کړم
ومې ویل: جان جان هههههه په دا غریبي او بي کسي کي همدا چي ستا په څیر یو کس خپل ژوند کي لرم تر ټوله نړي بالاتره ارزښت لري

.... جلال ....

دریم امنیتي پوستي ته نږدي وو چي ومي لیدل یو عسکر شته هغه هم بیده دی ما هم بي له دي چي موټر ودروم تیر شوم.

څو ساعته موټر کي وو چي جمال وویل: باید یو څه د خوړلو د پاره واخلو ، موږ خیر خو حمیرا ماشومه ده وږي کیږي
ومي ویل: سمه ده دوکان ته چي ورسیدلو موټر دروم
یو څه چي مخته لاړو د هینداري څخه مي ولیدل چي سهیلا بیده ده. خپل پټو مي د اوږی څخه لري کړ او زلیخا ته مي ورکړ او ومي ویل: دا کت کړه او د سهیلا د سر لاندي پریږده ، داسي بیا مغزی یي درد کوي
زلیخا خپل یوه ورځه پورته کړه او وې ویل: ډیر ښه راکړه زه یي ایږدم
جمال ته یې وکتل او دوام یي ورکړ: زده یي کړه خلک داسي خپل د ښځي په فکر کي دي

جمال وویل: توبه منګه زه ستا په فکر کي نه یم؟؟
زلیخا: کله کله یي خو ډیر وختونه یي زه خپله در پیادوم
جمال په اوږي ووهلم او وي ویل: بالا دا کارونه زما مخته ونکړي که نی وای دي وي ستا حال ته
په خندا مي وویل: خو په ما یي څه ... خپل پام زما وریندارې ته ونیسه خامخا بی توجهی کوي هههههههههه
جمال: څه خیر دا خبري بیا ما هم زده
اوس خو سهیلا بیده ده هغه خبري چي ورته وکړم او یو تار ویښه ستا پر سر پرینږدي بیا مي زړه ښه یخیږي ههههه
ومي ویل: ناځوان هغه څوک دی چي پر خبرو ګواښ ورکوي دي ته دي پام دی؟؟؟ که نی ما هم هغه خبري زده

زلیخا وویل: څه خبره ده وروره؟؟ جمال څه کړي ته ماته ووایه
په خندا مي وویل: اوس نو ښه شو دا دی جمال خانه اوس څه کوي ههههههههه
جمال: هغه دی دوکان وي دروه ځم یو څه شیان اخلم
همدا چي موټر مي ودرول په ځغاستو ښکته شو.
زلیخا وویل: صبر چي بیرته راشي زه ورسره کار لرم

ماته يي وکتل او رازياته يي کړه: څه يي کړي دي؟؟
په خندا مي وويل: زه څه خبر يم چي څه يي کړي دي
غل خپل پر سر ښکر لري ههههههه
( کنايه د دي څخه ده چي خپله خپل پر کار پوهيږي چي څه يي کړي دي)
ما همداسي يو څه وويل ، دی ورخطا شو خپل ته يي معلوم دي چي څه يي کړي دي
زليخا: ښه نو داسي خبره ده
ومي ويل: هو همداسي خبره ده
د جمال په راتلو سره مو د کابل جان خواته حرکت وکړ.

.... زلمی خان .....

د خان شاه د مړيني څخه دوي مياشتي تيريږي او موږ بيرته کرار کرار د فاطمې د واده تياريياني نيسو.
د چاي څښلو حال کي وم چي فاطمې وويل: موږ دوي مياشتي صبر وکړ خپل لور يي يوه مياشت لا ماتله نشوه
د تفريح او چکر د پاره مزار ته تللې ده ... توبه توبه يو نجلي څومره کولی شي دومره بي غمه او د پلار مرګ ته بي تفاوته واوسي
قباد وويل: پر تاسو دي بده نه لګيږي حق خبره بايد وکړو کاکا مي په ژوندون خپل نوړو ( لورګانو) ته هيڅ ونکړل اخر هم دري سره (دري واړه) يي مفت د لاسه ورکړل
د سهيلا د حاله خبر يو ، څوک پوهيږي چي ليلا او حميرا په څه حال کي دي؟؟
داسي پلار د ضرر د سره چپ بل هيڅ ګټه خپل کورني ته نلري

ومي ويل: پلار ، پلار دی يو ورځ چي زه مړ شم هم همداسي چلند او خبري کوي؟؟
فاطمه: خداي دي نکوي پلار جانه ، خداي دي اوږد عمر درکړي
قباد بيعقل دی خپل په خبرو نه پوهيږي تاسو يي په کيسه کي مه کيږی
ومي ويل: زه نه وايم چي ورور مي ښه پلار وو ، خپل اولادو ته ډير يو بي مسئوليته پلار وو

او اولادونه يي هم نه ملامتوم ، د ملامت کولو حق يي نلرم
پلار يي ښه پلار نه وو زه هم دوي ته مهربانه کاکا نه وم
که نن صبا يي په کوڅه يا کم بل ځاي کيووينم د احترام تمه هم نلرم
دوي هم انسان دی منګه څه خير يي زما او زما د کور څخه وليدل؟؟؟
هيڅ ...

د چاوو پياله مي کيښودل او د کوره راووتلم. د وتلو وخت کي مي سترګي د خان شاه د کور پر دروازي ولګيدل. مخته لاړم او د دروازي پر زاړه لرګيو مي لاس تير کړ.
يو عمر مو دلته يوځاي ژوند وکړ وروره
يو ځاي غټان (لويان) شوو
د ميراث ويشلو وخت کي دي څومره جنګ وکړ چي دا کور غواړم .... د وړونو زړه دي له ځانه تور کړ
آخر څه وشو؟؟؟
مفت يي درڅخه واخيستل حتي خپل د ژوند وروستی ورځو کي هم په دي کور کي نه وي يو (آه) مي وايستل او يو څاڅکه اوښکه مي د سترګو څخه وڅڅيدل.

.... سهيلا ....

د جلال په غږ سره چي ويل يي وينښه شه سترګي مې لږ لږ خلاصي شوي.
ګورم چي شپه شوي ده او موږ هم د سراي دروازي ته نږدي يو.
د ډير خوشالي څخه مسکې شوم او ومې ويل: پخير ورسيدلو او هيڅه خبره هم ونشوه
خدايه شکر
جلال وويل: هو خو ډير ستړي شوو ، ښکته شه چي ټول دننه لاړل موږ هم لاړشو يو پياله چاي او ډوډي وخورو

د جلال لاس مې ونيوی او د موټر څخه ښکته شوم.
ومې ويل: زما داسي پوړنيان نه خوښيږي ، نن هم د دي پوړني سره نږدي وو چي

ګیر راشو
ټولولی نشم ، نکیږي چي دا پوړنی پر سر نکړم؟؟؟
په خندا يي وويل: هر څنګه چي دي خوښه ده
خوشاله شوم او په مسکا مې وويل: مننه ته ډېر ښه او مهربانه يي
جلال: هو په دي کي خو شک نشته يوازي کله چي زما مور جانې بيابه کړي بيا زما ځخه ګیله ونکړي هههههههه

ومې ويل: اوووو نه نو ما خپل مور ته مه ايږده ته يو څه وواية هيله کوم
جلال: زليخا چي تر تا مخته هم راغلي او څومره غوره ژبه لري لا تر اوسه دا اجازه يي نه ده اخيستي
خپل پر ځاي کښينه هسي ما زما د مور په بيابيدو مه ورکوه
يو اووففففففففف مې وايستی او ورسره په کور ننوتلم.
شمايل همدا چي وليدلم په خوشالي سره راغله او په غيږ کي ونيولم. زه يي هم د ليدو څخه ډېره خوشاله شوم.
وې ويل وويل: ساعت مو تير شو؟؟؟ څنګه داسي ژر راغلاست؟؟
خو ځه ښه شو چي راغلاست ډېره ديغه شوې وم کور بيخي خالي شوی وو
د حميرا په ليدو حيرانه شوه او په حيرانوونکې لهجه يي وويل: دا ګودي ګکه څوک ده؟؟؟

ومې ويل: دا ګودي ګکه زما خور ده پلار مې مړ شو او دا يوازي پاته شوه ما هم ځان څخه راويستل
د جلال مور د تل په شان په همغه سياست او د خبرو کولو ځانګړي طريقي باندي
وويل: دا نجلي تر اوسه چيرته وه چي بيا اوس يو په دوه پيدا شوه؟؟
همدا چي مې خوله خلاصه کړه تر څو ځواب ورکړم جلال وويل:  د سهيلا مېرې دا يي مزار ته وړي وه هلته يي ډېر شکنجه کول موږ هم د مزار څخه بيرته راويستله که تاسو اجازه راکړی زموږ سره دي واوسي ځکه د تګ د پاره بل ځاي نلري
وې ويل: څنګه بل ځاي نلري منګه د کاکا کور يي نه دی؟؟

جمال وویل: مورې ته او خداي که به د خبرو پسي ګرځي
یو دوولس کلنی ماشومه ده خپل د خور سره خوشاله ده چي دلته واوسي څه کیږي؟؟

د جلال مور ځواب ورکړ: زړه مو ما خو هیڅ ونه ویل یوازي مې پوښتنه وکړه
زر واره شکر چي بي د اضافه خبرو او جنجاله یي ومنل.
کالي مو بدل کړل او د شپې د ډوډي د پاره تیار شوو. د دسترخوان پر سر وو چي د
جلال پلار وویل: یو خبره باید تاسو ته وکړم
د ټولو پام دي خبري ته شو او نادر ته یي کتل
دوام یي ورکړ: ما تر اوسه دري واره د خان شاه سراي خرڅ کړی دی خو هر څوک
چي ځي همدا چي یو شپه تیره کړي سهار بیرته وځي
جمال وویل: ولي؟؟

نادر: دوي ټول یوه خبره کوي وایي شپه د خوب پر وخت د یوي ښځي د ژړا او
ځګیروي غږ اوری ، ما په دي خبرو باور ونکړ تر څو چي برایي خپله هغه کور ته لاړم
او بیده شوم
ډیر خفه شوم ځکه په رښتیا هم د یو ښځي غږ راتی
د نادر د خبرو د اوریدلو وروسته مې اوښکي د سترګو څخه وڅڅیدل خو خپل د
اوښکو مخه مې ونه نیول.
نادر ته مې وکتل او ومې ویل: څه خوند یي درلود؟؟
سر یي پورته کړ او وي ویل: څنګه؟؟

ومې ویل: زما د مور د ژړا غږ اوریدل څه خوند یي درلود؟؟
د یو غریبي کورني ایستل د کوره څه خوند درلود؟؟
د نورو په سترګو کي اوښکي لیدل څه خوند درلود؟؟
ته د هغه کور یا حتي د هغه پیسو محتاجه نه وي
یوازي دي غوښتل چي یو فامیل سرګردانه کړي

جمال وویل: دا خبري تیري شوي دي مه پسي ګرځه
جلال وویل: ته مداخله مه کوه پریږده چي خپل خبره وکړي
په لستوڼی مې خپل اوښکې پاکي کړي او ومې ویل: پوهیږي مورې د هغه کور دوه کوټي په خالي لاس جوړ کړه؟؟

لاړو په تشتو کي مو خاوره د کور د بغل تپي څخه راویستل ، خشتي مو جوړ کړه تر څو مو هغه کور جوړ کړ؟؟؟
د هغه ښځي غږ هیڅ کله نه ارامیږي
زړه یي ټوټي ټوټي شوی ،اولادونه یي سرګردانه شوی
که تا په زوره هغه کور نه وی اخیستی زما میرې حمیرا یي نه خرڅول
زه لاړم مزار ته تر څو خپل کوچني خور بیرته راوړم
د حمیرا د مغزي شا مې وښودل او دوام مې ورکړ: ښه وګوره چي پر دي ماشومي یي څه ورځي راوړي

که تا په زوره کور نه وی اخیستی دا پیښي نه کیدل
جلال خپل لاس زما پر پښي پریښود او وي ویل: ارام سهیلا ارامه واوسه
نادر د ځایه پاځیدی کوټي ته لاړی بیرته راغی او یوه کیلي یي د جلال خواته وغورځول او وي ویل: واخلئ هغه کور یي ستا او ستا د ښځي زړه مو چي هلته ژوند کوی که دلته
د جلال مور وویل: زه اجازه نه ورکوم چي زما زوي زما څخه لري شي
نادر: ماشوم نه دی خپله پریکړه کولی شي
ما یوه تیروتنه وکړه اوس یي غواړم جبران کړم او فکر کوم چي بهترین جبران به همدا یي چي دا نجلي بیرته خپل کورته لاړشي او خپل د کور مالکه شي
تازه زوم او ناوي دي دا ډالي یي زما د خوا ، یوازي د دي لپاره چي دا نجلي ما ګناه کاره فکر کوي په داسي حال کي چي ما د دي پلار نه وو مجبوره کړی چي راشي زما څخه پور وکړی
زما کار هم سم نه وو خو ....

که داسي يي چي پر هر چا چي زما څخه پور کوي زرٍه وسوځوم نو ماته څه پاتيږي؟؟
دا آخرين پور وو چي ادا مي کړ او تصفيه شو
والسلام!
سترګي مي په نادر کي وه چي د دهليز څخه ووت.
جلال کيلي زما لاس کي پريښودل او وي ويل: هغه کور بالا ستا دی
د کور د کيلي په ليدو حميرا ته مې وکتل هغه هم ډېره خوشاله شوې وه.
ومې ويل: که څه هم د هغه کور پخواني غړي بيرته نه راځي خو بيا هم مننه
جلال: دوه کسه يي همدا اوس دلته دي او فکر کوم همدا دوه کسه بسنه کوي
هغه شپه د ډېر خوشالي څخه خوب نه راتی ماتله وم چي د لمر د لومړنی ځانګي سره حرکت وکړم زموږ د کور خواته.

..... صوفيه .....

د حليمي سره يوځاي د دوي د ګاونډي د کور خواته لاړو. په رښتيا هم غريب خلک وه نه پوهيدلم څنګه خبره په ښور کړم چي حليمي وويل: موږ راغلي يو ستاسو سره ستاسو د لور په هکله خبري وکړو
بيچاره ښځي فکر وکړ مرکه راغلي يو ځکه وي ويل: زما لور کوچني ده
ومې ويل: نه خاله جانې مرکه نه يو راغلي
همممم ... نه پوهيږم چي څنګه يي بيان کړم
موږ د يو کوچني نجلي پسي ګرځو چي يوولس ، دوولس کلنه يي
غواړو چي وايي خلو شکر مالي وضعيت مو ښه دی زما د خواښي جاني يو کوچني نجلي په کار ده چي غبْ يي کړي او د دي سره واوسي
مطمئنه واوسئ چي خپل تر لور لا بالا تره ورسره مينه او محبت کوي که څه هم خپله لور نلري

باور وکړی موږ بد خلک نه يو کولی شي چي تحقيق هم وکړی
بيچاره ښځه همداسي يي موږ ته کتل او هيڅ يي نه ويل.
ومې ويل: ګوره خاله جاني زما خواښي يو کوچنی زوي هم لري
دا نجلي چي اخلي خپله يي لويوي او اخر کي هم خپل زوي ته کوي
دا ستاسو د لور د پاره هم يو نيک نوم دی
ښځي وويل: يعنی نجلي او هلک لکه خور او ورور يوځاي لويوي بيا يو بل ته يي نکاح کوي؟؟
په خندا مې وويل: نه داسي نه ده
زما کشر ليور په کابل کي خپل د کاکا سره دی هملته ښوونځی ته ځي تر څو چي لوي شي

زما د خواښي جاني هم يو کوچني نجلي په کار ده چي لکه خپل لور يي لويه کړي
بيا همداسي يي پريږدي هم نه خپل زوي ته يي کوي
يعني اول ستاسو لور اخلي بيا خپل زوي ته يي کوي
هلک و نجلي په يو کور کي نه دي
ښځي وويل: بايد د پلار سره يي خبري وکړم ښه خبره ده زه هم خوشاله يم غواړم چي لور مې خوشاله واوسی او د يو ښه کورني ناوي شي
زه دوي نوري لرم
يوه يوولس کلني بله ديارلس کلني
دواړه يي په سراي کي کالي مينځي ، کولی شی وګوري چي کمه يوه مو خوښيږي؟؟
زه شپه د پلار سره يي خبري کوم بيا تاسو ته احوال درکوم خو په ډير احتمال زموږ د خوا منل شوي ده

ومې ويل: مننه خاله جانې ، مطمئنه واوسی چي نه پښيمانه کيږی
ستاسو نوري مې وليدل همغه يوولس کلني ښه تره ده
سبا سهار د څواب پسي راځو
خداي پاماني مو وکړل او راووتلو.

داسي ښه تره وو بي بي حاجي هم خوشاله کيدل حليمه هم راضي وه. دواړه خوش و خوشاله د کور خواته روان شوو

..... سهيلا .....

سهار د لمر ختلو وروسته د جلال سره د کور په لور روان شوو. ډيره خوشاله وم د ډير خوشالي څخه خپل کالو کي نه ځاييدلم.
د حميرا لاس مې ونيوى او د موټر څخه ښکته شوو ، په ځغاستو د کور خواته لاړو دروازه مې خلاصه کړه او ننوتلو.
يو ښه احساس مې په وجود کي خپور شو
يو ښه او آشنا احساس ...
فکر مې کول چي خپل ورک شوى ځاي او کس مې پيدا کړى دى
جلال راننوتى او وي ويل: زه يو نظر لرم
ومې ويل: څه نظر ګرانه؟؟
جلال: وايم چي دا کور ښه رنګ و روغن کړو او جوړ يي کړو
بيا هم خپله بهتره پوهيږي ... ما يوازي نظر درکړ

ورته مې وکتل چي په بيريدلي نظر يي راکتل او ماتله وو چي څه ځواب ورکوم په خندا شوم نږدي لاړم او د باړخوګانو څخه مې ونيوى او ومې ويل: پوهيږي مور مې ټول عمر غوښتل چي دا کور رنګ و روغن کړي خو نه کيدل هههههه
عجبه ښه نظر دي راکړ زما د مور په ياد کور نوى کوو
په خندا يي وويل: اول دي داسي راوکتل چي زاره مي وچاوديده هههههه
يو بل سره مو خبري او خندا کول چي د فاطمي غږ مې واوريدى: سلام تاسو دلته څه کوى؟؟
جلال خپل مخ د هغې خواته واړول او وې ويل: د دي وروسته دلته ژوند کوو څنګه؟ همسايه نغواړى؟؟؟

په حیرانتیا یي وویل: ښههههه رښتیا
جلال: هو دا کور زموږ د واده ډالي زما د خوا و سهیلا ته ده
پام مې شو چي فاطمې ته یي زور ورکړی ما هم خپل لاس د جلال غاړي ته واچول
او په همغه حال کي مې وویل: د ډالي د پاره مننه زما لالیه
جلال هم په خندا خپل لاس زما تر ملا راتاو کړ او وي ویل: د منني وړ نه دی چي سر
هم وغواړی لا ولاکه یي درنه منع کړم
فاطمې وویل: بي شرمې پلار دي تازه مړ شوی دا کارونه دي څه معنا چي کوي یي؟؟
حتي د ده په احترام دي تور کالي لا وانغوستل ، شرم هم ښه شی دی
جلال وویل: ته شرم هم پیژني؟؟ بي اجازي لکه خره خپل سر ښکته مه اچوه او د
خلکو په کور مه ننوځه

اخر وار دي یي چي زما د ښځي سره داسي خبري کوي
د فاطمې څهره د تل په څیر چي یو څه به زور ورکړ ، شنه شوي وه.
په قهر او غوسي د کوره ووتله او دروازه یي کلکه ووهل.
جلال وویل: دا سپین سترګي وګوره په کم حق دروازه داسي وهي؟؟
غوښتل یي ورپسي لاړشي چي د لاسه مې ونیوی او ومې ویل: مه کوه بیعقله ده
زور یي ورکړی ځکه داسي کوي هههههه
جلال: نه نو زه هم بیعقل خلک بیابوم داسي یي نه ایږدم
ومې ویل: پریږده یي بلا دي ورپسي کړه په کیسه کي کیږه مه
ورځي یو تر بل تیریدل. زلمی خان خبر شو چي حمیرا مو پیدا کړي ده او خوشاله
شو خو ښځي یي ویل چي باید زموږ سره واوسي خو ما اجازه ورنکړل چي د حمیرا
په هکله پریکړه وکړي او د تل په شان جلال زما څنګ ته ولاړ وو او زما دفاع یي
کول.

د داسي یو سړي درلودل چي د ټولو په وړاندي ستا څنګ ته ولاړ واوسي او ستا دفاع
وکړي د ژوند د یو غورو خوشالیانو څخه دی.
د جلال په کمک حمیرا مې ځان څخه وساتل. هره ورځ د کور په جوړولو بوخت وو

او د جلال څخه مې هم نظر اخیست چي د ده څنګه خوښه ده البته د زلیخا خبري مې هم پر غوږ نیولي وه.
دیوالونه مې خپل د مور د خوښي رنګ باندي ، رنګ کړل. احساس مې کول چي خوشبختي همدا ده او ژوند تر دي بهتره نشي کیدی.
د فاطمې واده هم نږدی وو. د ورځي د خوا شمایل او زلیخا هم راتلل او مرسته یي کول او په ګډه مو کور ته نوي ښکلا بخښل.
شګوفه

د پلان مطابق تر توانه پوري مې د شعیب سره ښه چلند کول او د ده زړه مې لاس ته راوړی وو.
واده نږدي وو او قرار شو چي زما د پاره غټ واده ونیسي او طلا مې هم ورباندي دوه چنده کړه.
احساس مې کول چي بیا ژوندي شوي یم او ژوند مې تازه پیل شوی دی.
شپه او ورځ د واده په تیاریانو اخته وو. د میلمه کوټه مې ځان ته واخیستل او ښه ښایسته مې جوړه کړه
هر څومره چي عزیزي غالمغال او بیابي وکړه شعیب یي خبره وانوریدل او کوټه ما واخیستل.
خپل د ورور لیدو ته لاړم او ټول هغه خبري چي زلمي خان ویلي وه رد مې کړه او نصیر هم د تل په شان زما شاهد شو.
شعیب زما د ورور څخه زما مرکي ته راغی او زما څخه یي د هو ځواب واخیست.
واده نږدي وو او مورې هم هره ورځ بازار ته تلو او تیاریاني مو نیول.

.... لیلا ....

د رضوان سره کورته لاړو او هره ورځ دعوت نامي ته ماتله وو.
هیچا ته مو څه ونه ویل او زه قرار وو چي د دوهم ځل د پاره وتښتم هههههه
ډیر مې استرس درلود خو دا وار د رضوان د اوسیدلو سره مې زړه جیمي وو.

نه پوهیدلم چي په پردي هیواد کي به څنګه ژوند تیر کړم خو دا چي رضوان مې خپل څنګ کي درلود زما پریشاني یي کم کول.
عمه بیرته راغلي وه او هیڅ رفتار یي راسره د پخوا په شان نه وو ، زړه مې د دي کار څخه نیولی وو خو چاره څه ده؟؟؟
زما خپل ګناه ده چي په هر چا باور کوم او خپل په زړه کي ورته ځاي ورکوم دا یي هم زما پاداش!

د ټولو رفتار راسره بدل شوی وو غیر د فرشتي او بینظیر ، هغه کسان چي ما هیڅ ورڅخه د ښه چلند تمه نه درلود خو د وخت تیریدل بهترینه نعمت دی چي خداي خپل بندګانو ته ورکړی تر څو هیر کړو چي خلک څومره زموږ زړه یي مات کړی او موږ یي خپل د ښه توب څخه پښیمانه کړي یو
زړه مې یوازي د رضوان په درلودلو ښه دی بس.

.... سهیلا ....

د فاطمې د واده د پاره مو کالي جوړ کړه. زلیخا زما سره یو رنګ کالي ځانته هم جوړ کړه او وې ویل: راشه چی خپل د کالو سره د خلکو سترګي ړندي کړو هههههه
ومې ویل: ګراني په خلکو یي څه چي موږ څه اغوندو؟؟
زلیخا: ډیر مهم دی تا پام نه دی کړی
د خیاط څخه کورته راغلو چي جلال زما په لیدو وویل: سهیلا ګکي عاجل باید یو ځاي لاړشو په کار مي يې
ومې ویل: چیري؟؟
جلال: ته راځه لاړشو چي عاجل دی
کالي مې کور کي پریښودل او د ده سره مې حرکت وکړ.
زر خبري مې په زړه کي څرخیدل ، ځان سره مې وویل: زما د کاکا ښځي د حمیرا پر سر یي ورسره جنګ کړی؟؟؟
یا خامخا کاکا مې شی می ویلي؟؟

په کور کم څه شوي؟؟؟
زر خبري مې په زړه کي وه خو جلال يوازي ويل چي صبر وکړه
يو ځاي يي موټر ودرول او وي ويل: ښکته شه
شاوخوا مې وکتل ، بازار کي وو.
ځان سره مې ووېل: يووو په دي ماښام دلته څه کوي؟؟
ښکته شوم او يوځاي مو حرکت وکړ. يو څه چي مخته لاړو زما لاس يي ونيوى او
په يو طلا فروشي دوکان کي ننوتى.
ډيره حيرانه شوم. ورته مې وکتل او ومې ويل: دلته څه کوي؟؟؟
وي ويل: ستا د کاکا د لور واده دى بايد د زليخا په شان واوسيږي
د نادر مژور (اينګور) بايد ټول وپيژني
او راته يي سترګک ووهل ، خندا ونيولم. طلا خرڅوونکى څو سيټه طلا يي زموږ
مخته پريښودل

جلال ووېل: هر يو چي دي خوښ دى بس لاس پريږده
ومې ويل: کاشکي وختي دي ويلى وى چي زليخا مې ځان سره راوړې وى
زه نه پوهيږم چي کم يو واخلم
جلال: هر يو چي دي خوښ دى همغه واخله ، ولي تل د زليخا څخه نظر اخلي؟
خپله خپل په زړه يو دانه خوښ کړه
ومې ويل: پيسي څومره لري؟؟ چي يو په دوه غريب نشي
په خندا يي ووېل: نه کيږم زړه دي جيمي
په ديوال يي تکيه کړې وه او راته يي کتل. يوه مسکا يي يو نړۍ ارزښت درلود ، کله
چي راته يي خندل د ټوله نړۍ خوشاليانې به مې په يوار په زړه کي راغلل
لاس مې پريښود او يو غټ سيټ مې خوښ کړ
ومې ويل: همدا
جلال دوکاندار ته ووېل: همدا اخلو

پیسي مي درکړه هرڅومره چي پاته دي سبا دوکان ته راشه وایي خله
طلا خرڅوونکی وویل: نه نوک په نوکه شوه
مبارک مو يي ، په خوشالي استفاده وکړی
ومې ویل: مننه ژوندی واوسی
او د جلال سره د دوکانه ووتلو.
ومې ویل: دا سړی خو ستاسو پوروړی نه وو؟؟
جلال: هو وو خپل پور يي په طلا ادا کړ
ومې ویل: یوو منګه تاسو ویلي نه وه چي نور پور نه ورکوو؟؟
جلال: ګوره داسي هم نکیږي دا سړی هغه وخت عاجل پیسي په کار وي دوکان يي د
لاسه ورکول موږ هم ورسره مرسته وکړه
نو دا دی پور يي بي له سود څخه ادا شو
دا ثواب هم لري لیونې ګکي هههه

ومې ویل: هو ستا ټول کارونه ثواب لري ههههه
جلال: ولي ، شک لري؟؟؟
ومې ویل: نه
جلال: نو کښینه چي کور ته لاړشو خانم جانې
د (خانم جان) د لفظ په اوریدلو خپل په کالو کي نه ځاییدلم.
د خداي ډیر شکر ګزاره وم چي دومره خوشالي او نیکمرغي يي زما په برخه کړه او
زه يي ورږ وبوللم.
جمعه راورسیدل او موږ د فاطمې واده ته د تګ د پاره تیار شوو. کله چي مې خپل
کالي واغوستل جلال نه وو ، غوښتل مې اول خپل کالي ده ته وښیم خو دی نه وو
خپل ګلداره سره کالي مې واغوستل. د زلیخا په ټینګار یو جوړه ښایسته ګند افغاني
کالي مو جوړ کړل ، پرتوګ يي شین رنګ وو
آخ چي څومره مې دا دوه رنګه خوښیدل!

د زلیخا کالي تور کمیس او سور پرتوګ وو هغې هم خپل په ښایست قیامت جوړ کړی وو کولی شو چي په ښایست کي د ډیرو نجونو سره سیالي وکړی او بیا هم لومړی مقام وګټي.
یو ځاي مو سینګار وکړ او تګ ته تیار شوو. خپل شین پوړنی مي پر سر کړ او د جمال او زلیخا سره زما د کاکا د کور خواته روان شوو.
موږ د ننوتلو سره همداسي چي زلیخا ویلي وه د ټولو سترګي په موږ کي پاته شوي.
زلیخا وویل: دومره ښایسته شوي یي چي هیڅوک ناوې ته ګوري لا نه هههههه
د ښځو د دروند نظر لاندي چي د یو د بل په غوږ کي زما په اړه خبري کول تکه سره شوې وم.

هیڅکله دومره د خلکو د پام وړ ګرځیدلي نه وم او اوس د تاثیر لاندي راغلې وم.
زلیخا کرار زما په غوږ کي وویل: استواره کښینه او د ټولو خواته وګوره
کم خلاف کار خو دي نه دی کړی چي ځان دي د پوړینه لاندي پټه کړي ده
خو ما نشو کولی چي سر پورته کړم او د ټولو خواته وګورم ، لاسونه مې خوله کړي وه ژوري ساګاني مې اخیستل تر څو څوک پوه نشي چي د تاثیر لاندي راغلي یم.
زلیخا ولاړه شوه او د دریه او د ښځو د بدلو په ساز یي نڅا کول پیل کړل
د هغې په لیدو یو څه استواره شوم او ورته مې چک چکي کول.
د نڅا په مینځ کي لاس زما خواته اوږد کړ او وې ویل: ولاړه شه چي یو ځاي نڅا وکړو

لاس مې ځیني ونیوی. د ولاړیدو وخت کي مې پوړنی ولویدی.
موږ دواړه د توني کړي ویښتان او همرنګه کالو سره د خویندو په شان ښکاره کیدلو.
هیڅا فاطمې ته نه کتل د ټولو سترګي زموږ خواته وي.
څو دقیقي چي تیري شوي کرار کرار محفل راته عادي شو
د محفل تر پایه بیا او بیا نڅاګانې مې وکړي او خوشاله وم لکه چي زما واده واوسیږی.
تل مې غوښتل چي ښه غټ واده ولرم خو زما د هیلو برخلاف یوازي یو ساده نکاح

وه.
ګرمي مې وشوه د کوره ووتلم چي ګورم جلال د زلمی کاکا سره خبري کوي چي سترګه يي پر ما ولګيدل.

پام مي شو چي خوله يي خلاصه پاته شوه او خبري يي بندي کړي ، زلمی کاکا هم زما په ليدو وويل: ماشاءالله ښايسته شوې يي
ومې ويل: مننه ژوندی واوسی د لور واده مو مبارک وي
وي ويل: مننه لوري ، انشاالله ته هم خوشبخته شي
همدي وخت کي قباد راغی او وي ويل: پلاره راشه چي د نارينو په محفل کي درسره کار لري

زلمی کاکا هم وويل: زه ځم بيا وروسته خبري کوو
ومې ويل: سمه ده اوس د پاره خداي په امان
د ده د تګ وروسته جلال وويل: دا څه حال دی سپوږمې څنګه په ورځ کي راوتلي؟؟
په خندا مې وويل: زما مقايسه د سپوږمې سره سپوږمې ته توهين بلل کيږي
جلال: داسي مه وايه چي بيا خفه کيږم زما ذوق مه خرابوه
ومې ويل: ښه په سترګو هر څنګه چي تاسو وايست صاحبه
جلال کرار د ځينو څخه راپورته کيدی او داسي يي په مينه راکتل چي پر ځان مئينه شوم هههههه

خندا ونيولم خپل لاسونه مې خپل د خولي وړاندي ونيول چي وي ويل: داسي مه کوه خندا دي ښايسته تره ده
ومې ويل: دومره تعريف او ستاينه کوي چي بيخي اسمان ته پورته شوم
جلال: پورته شه هر څومره چي غواړې پورته شه ... د فرښتو ځاي په اسمان کي دی خپل شونډه مې وچيچل او سر مې ښکته واچول
خپل لاس يي زما د زني لاندي کيښودل او وي ويل: حتي شرم دي لا ښايسته دی ولي ما د ليلا مخکي ته ونه ليدلي؟؟؟

ومې ویل: خو ړوند یي که ني ما هم دوه واره درته دروازه خلاصه کړه هههه
په خندا یي وویل: نو په رښتیا ړوند وم هههه
د کور خواته مې وکتل او په ارمانجني لهجي مې وویل: کاش ما هم د واده سپین کمیس اغوستی وی

جلال: جااان غواړي وایي غوندي؟؟
ومې ویل: هو ... تل مې ارمان وو ناوي شم خو افسوس چي ونشو.
په تندي یي ښکل کړم او وي ویل: درته یو غټ واده نیسم.
ومې ویل: نکیږي موږ خو د وخته واده کړی دی
جلال: خو تر اوسه زما ښځه شوې نه یي.
د دي خبري سره یي د ډیر شرمه مې اور واخیستل چي دوام یي ورکړ: هیڅه خبره نه ده درته یو غټ واده نیسم د اوله مي هم په فکر کي وه
څکه بي د هغه هم زما واده د لیلا سره زما په زړه نه وو
د ډیر خوشالي څخه مې ځان د ده په غیږ کي واچول او ومې ویل: ته ډیییییییییییر ښه یي

جلال پخندا وویل: تر اوسه لا چیري دی ښه لیدلې یم.
په خندا مې وویل: هیڅ خپل د تعریفه نه ستوی کیږي؟؟
جلال: نه هههههه زه په نړي کي پر دوو کسانو مئین یم .
یو جلال او بل هم سهیلا،پر ځان مئین یم څکه چي زما غوښتني راته ارزښتناکه دي او د لاسته راوړلو لپاره یي زیار باسم زما بهترین او مهمترینه غوښتنه هم یو ډنګره وچه کلکه او سپینه نجلي د سهیلا په نامه ده
ومې ویل: ښه ښه په ځمکي مې پریږده چي اوس به مو څوک ووینی
زه یي خپل د غیږ څخه ښکته کړم او وي ویل: څه عیب لري پریږده چي وي ګوري
ومې ویل: ډیر مینه ناک کارونه او خبري دي زده وه زه نه ومه خبره
جلال: تر اوسه لا چیري دی هههههههههه

ته صبر چي واده ونيسم
خندا ونيولم د فرصت څخه مې استفاده وکړه او ژر د کور خواته په منډه شوم.

.... شګوفه .....

زما د واده ورځ رارسيدلې وه. هيڅ مې فکر نکول چي زما کورني دي زما په واده کي ګډون وکړي ، آخ چي څومره خوشاله وم!
چا فکر کول چي زه به خپل د دويم واده څخه دومره راضي واوسم؟
د نکاح پر وخت په جرئت او لوړ غږ مې (هو) وويل د نکاح د شيريني څخه هم اول ما وخوړل.د عزيزي غمجني څهري زما زړه په درد راوړ خو ... زه او زما ژوند مهمتره وو. هغه مې کول چي ورته ونه ګورم او خوشاله واوسم.

هيڅ راته ارزښت نه درلود چي زما په واده کي هيڅوک خوشاله نه دی همدا چي زه خوشاله يم بسنه کوي.
خپل طلاوو ته چي مې کتل د پياوړتيا او شتمن توب احساس مې کول. خندا مې د شونډو څخه نه لري کيدل. خپل د ورينداري سره مې نځا وکړه ، د يو اوولس ، اتلس کلني نجلي د خوشالي احساس مې درلود چي د لومړی ځل د پاره واده کوي.
که څه هم ډير خلک مو بللي نه وه خو بيا هم زه خوشاله وم.

.... صوفيه ...

خپل د ميړه او د امان سره د مشوره کولو وروسته د حليمي سره لاړو او نجلي مو رانيول.
لومړی بي بي حاجي خوښه نکړه خو کرار کرار ورسره اموخته شوه. خوشاله وم چي کورني مې يو ځل بيا خوشاله دي خو د حميرا فکر مې يوه شيبه هم د ذهن څخه نه لري کيدل.
څنګه داسي هوسا وتښتيدله او هيڅوک هم پوه نشوه چي چيري ده؟؟
اصلا هغه خپله وتښتيدله؟؟ چا ما تښتولي نه يي

هیڅ نه پوهیږم څه وکړم یوازي مې دعا کول چي جوړه ، روغه او د خداي په امان کي واوسې.

که زموږ سره پاته شوی وی ژوند یي تر پلار تر کوره ډیر بهتره کیدی خو په غوږ یي ونه نیول ، وي نغوښتل چي وایي وري او زموږ سره عادت وکړي.

.... لیلا .....

دعوت نامې رسیدلي وي او ټول د کورني غړو فکر کول چي یوه دانه ده هغه هم د رضوان ده.
یوه شپه د تګ د مخه عمه میلمستیا ونیول او ډول ډول خواړه یي پخه کړل.
غوښتل مې د خواړه په پخولو کي ورسره مرسته وکړم خو اجازه یي رانکړل. هیڅ هغه د پخوا مهربانه ښځه نه وه چي زما سره یي ښه چلند کول حتي وروسته د دي چي پوهه شوه علي زما سره څه کړي بیا یي هم په زړه کي رحم رانغی.
د چا څخه مې عدالت غوښتل خو معلوم داره ده چي خپل د وریري خوا نیسي یو یوازي بي کسه نجلي ته څوک ارزښت ورکوي؟؟؟
کوټي ته لاړم ، خپل کالي مې سره ټول کړه او د رضوان د کالو لاندي مې پریښودل چي معلوم نشي.

د شیان د ټولولو حال کي وم چي رضوان راننوتی د بیري څخه یو متر وپریدلم.
رضوان په خندا وویل: دا دروازه خو به دې قلفه کړې وی
ومې ویل: فکر مې نارامه دی پام مې ونشو
نږدي راغی او زما د لاسو د نیولو سره یي وویل: هر څه ښه کیږي زه درسره یم زما د زړه سرې
ومې ویل: ټول امید مې همدي ته دي چي ته راسره یي
که ته نه وی نږي راته د دوژغ سره هیڅ توپیر نه درلود
رضوان: دومره منفي فکرونه مه کوه دخیره ته د نړي تر ټولو خوشبخته نجلي کیږي
زما په مغزي یي لاس ووهل او دوام یي ورکړ: مړ دي شم تر اوسه شین دی

ومې ویل: دومره نه دی درد نلري ښه کیږي دخیره
کرار یي په غاړې ښکل کړم او وي ویل: دا دی ما ښکل کړ اوس ژر تره ښه کیږي
په خندا مې وویل: سل په سله

عمه بي له دي چي دروازه وټکوي کوټې ته ننوتل او په قهر او غوسه ماته په کتو شوه او رضوان ته یي وویل: ژر کوه بالا د تک وخت دی جهان تا رسوي
رضوان: نه نه مننه اړتیا نشته زه خپله ځم
عمه وویل: څه وایي خپله ځم ... شپه ده جهان تا تر هوایي ډګره رسوي
رضوان: سمه ده هر څنګه چي تاسو وایست
خپل بیک یي واخیست ، راته یي وکتل سترګک یي ووهل او وي ویل: تر دروازي راسره راشه
ومې ویل: سمه ده راځم
او ورسره مې حرکت وکړ.
په سراي کي رضوان وویل: عمه جانې خپل لیلا اول خداي دوم تاسو ته سپارم
عمه ماته وکتل او د یو اووف ایستلو وروسته یې وویل: زړه دي جیمي یي زویه پام مې دی
په خیر لاړشي خپل د عمه زړګیه
رضوان د عمه لاس یي ښکل کړ او د دوازي خواته لاړی.
د دروازي نږدي زه یي ټینګه غیږ کي ونیولم او کرار یي وویل: عمه چي کورته لاړه ته راووځه او ژر ځان د کوځي سر ته ورسوه هلته درته په تمه یم
د سر په خوځولو مې سمه ده وویل.
رضوان قران شریف ښکل کړ او لاړی ما هم ورپسي کتل چي عمه وویل: دننه راشه نور یي پریږده چي لاړشي ، اوس یي بیرته ونګرځوي
ومې ویل: نه زړه مو جیمي زه هم خوشاله یم چي لاړشي او خپل تحصیلاتو ته دوام ورکړي

عمه ځواب راکړ: که تا د ده خوشالي غوښتل خپل په اول میړه به کښیناستلی وی دا هلک د ستا په څیر نجلي بالاتره ارزښت لري

ما اول کي د رضوان د خوشالي د پاره څه ونه ویل خو د رښتیا څخه خو انسان منکریدلی نشي طوبا هم ځواني درلود هم یي ښایست درلود هم یو با استعداد او لایقه نجلی وه ، هغه باید د رضوان ښځه شوی وی خو تا هم زموږ ژوند تباه کړ هم د ده ژوند.

او ژړا او ښیراوي یي پیل کړي او ویل یي: د خداي لعنت دي ستا پر سر شي ، خپل ځوانه لور مو ستا د پاره د لاسه ورکړه
لعنت په هغه ورځي چي ته بدمرغه بدقدمه نړي ته راغلې
په قهر او غوسي مې ورته کتل خو هيڅ مې نه ویل یوازي په زړه کي مې ویل خداي دي ستا سزا درکړي چي ما داسي په ناحقه ملامتوي
کله چي په کور ننوتل خپل چوټي (څپلکي) مې په پښو کړه او د کوڅي د سر خواته وځغاستلم.

شپه وه ، هوا تیاره وه د کوڅي سر ته چي ورسیدلم رضوان مې ونه لیدی وبیریدلم چي زه یي خوشي کړي واوسم چیغي مې کړه: رضواااااااااااااان
چي د شا د خوا چا زما خوله ونیول او کرار یي وویل: کرار کرار لیونې دلته یم ولي چیغي وهې
ګورم چي رضوان دی ، په غیږ کي مې ونیوی او ومې ویل: ومې نه لیدلي فکر مې وکړ چي لاړې
رضوان: زه ګور ته لا بي تا نه ځم ، ژر راځه تر څو چي جهان نه دی راغلی
لاس مې ځیني کلک ونیوی او حرکت مو وکړ. یو موټر مو ونیوی او رضوان وویل: مستقیم لاړشه هوایي ډګر ته

تر څو چي هوایي ډګر ته رسیدلي نه وو بیریدلم چي ګیر به مو کړي او رضوان هم ویل: مه بیریږه دا مشکل هم حلیږي دخیره څوک موږ نشي جدا کولی یوځاي ځو

دخیره زړه مه خوره
حتي که تر اوسه پوهیدلي هم یي نور ارزښت نلري ، دومره فکر مه کوه لاسونه دي ساړه شوي اوس بي هوشه کیږي پرواز هم پاته کیږي
د رضوان خبري مې واوریدل او هڅه مې وکړه چي ځان ارامه کړم.
زموږ نوبت شو د رضوان بیک مو تحویل ورکړ او طیاري ته وختلو. زما لومړی وار وو چي طیاره مې د نږدي څخه لیدل ، ډیر راته جالب وو.

رضوان وویل: زړه مه خوره زما هم اول وار دي هههههه
ومې ویل: څومره هوسا او ښکلي ده
رضوان: هو صبر چي حرکت وکړي بیا په هوا کي ګورو چي څومره ښکلي ده
الوتکه چي د ځمکي څخه والوته د رضوان لاس مې ټینګ ونیوی.
باور مې نه کیدی چي د دویم ځل د پاره وتښتیدلم!
خپل سر مې د رضوان پر اوږي پریښود او نه پوهیږم څومره وخت تیر شو چي خوب یوړم.

د طیاري د تکانونو سره د خوبه ویښه شوم چي ګورم رضوان بیده دی.
د کړکي څخه مې بهر وکتل ، د وریځو پر سر وو. ډیره ښایسته منظره وه!
رضوان مې د خوبه ویښ کړ او ومې ویل: وګوره څومره ښکلی دی
رضوان خوبجن خپل سترګي وموږل ، اږږمي یي وایستل او وي ویل: هممممم که څه هم سم یي نه وینم خو هو ښکلې دی مګم ستا ښکلا ته نه رسي زما ښُر سري ههههههه
ومې ویل: زما ویښتان ښُر دي؟؟؟
وي ویل: هو بیده شوي وي داسي شوي جوړ یي کړه
که څه هم په هر حال کي ښایسته یي

.... سهیلا ...

د واده تیاریاني مو نیول د جلال د خبري سره سم یو غټ او په زړه پوری واده نیول کیدی.
شمایل ویل: اوس نو د خلکو د ځواب پسي وګرځي چي ولي یو نفر په یو کال کي دوه ودونه ونیول هههههه
جلال وویل: د خلکو خوله نه ترل کیږي
ماته د سهیلا خوشالي مهمه ده یو عمر د یو بل سره ژوند کوو اخر هم واده ونه نیسو چي خلک ملنډي وهي؟؟
دوي خو هسي یو پلو اضافه ګټي باید خوشاله هم واوسي ههههههه
هره ورځ د زلیخا سره بازار ته تلو ، بیخي پښي مو ماتي شوي وي
جلال ویل چي په یو غټ باغ کي واده نیسو او باید ډیر خلک هم دعوت کړو
ما حتي د سر ګرولو وخت لا نه درلود بیحده د واده په کارونو کي مصروفه وم.
د زلیخا سره لاړو بازار ته غوښتل چي ځانته عطر واخلي یو عطر هم ما ځانته انتخاب کړ او د دوکانه راووتلو. کرار کرار د قدم وهلو حال کي وو چي یو چا غږ کړه: لیلا صبر چي زه هم راشم

د لیلا د نوم په اوریدلو سره مې زړه یو رقم شو خپل مخ مې واړول چي وګورم څوک دی ګورم چي یوه کوچني نجلي ده چي خور یي ورته ناري وهي.
هملته ودریدلم او هغه دوو نجونو ته په کتو شوم ، زلیخا وویل: ولي نه راځي راځه چي ناوخته کیږی کار لرو
ومې ویل: پوهیږي زلیخا ډیر د لیلا پسي دیغه شوي یم
ستا په نظر چیري ده او څه به کوي؟؟؟
زلیخا: ولا اخرین خبر چي مې د هغې په اړه واوریدل دا وو چي د وکیل د زوي سره نامزاده شوي ده
البته د وکیل ښځه د هغوي شیریني یي د خاله ذکیې د زوي په محفل کي پخش کړه چي خلک خبر شي

ومې ویل: رښتیا؟؟

زلیخا: هو غوښتل مې درته ووایم خو کارونه مو ډیر وه د یاده مې ووتل

د زړه د کومي مې ورته د خوشبختي دعا وکړل

ومې ویل: خدایه زر واره شکر چي خپل میني ته ورسیدل

زلیخا: هو نو لړ بدبختي خو ونه ګالل

ومې ویل: هو رښتیا وایي ، دا د دي د ټولو رنج او عذابونو پاداش دی

د لیلا د برکته د جلال سره اشنا شوم زه یي پوره وړی یم

زلیخا: اوهوو تر پرونه دي د شرمه جلال ته نشو کتلی اوس بیا داسي مئینه شوي؟؟

ومې ویل: هو بلاخره انسان باید د یو ځاي څخه یي پیل کړي کنه هههههه

زلیخا: وا وا عاشق پیشه خلکو هههه

خوشبخته شې زما یور جانې

ومې ویل: مننه ژوندې واوسې ګرانۍ

.... رضوان ....

دوه ورځي کیدل چي کالیفرنیا ته زما د عمه جانې څخه رسیدلي وو. د کابل او پاکستان څخه پرلپسي زنګونه راتلل ټوله هم خفه شوي وه تر ټولو زیاتره زما عمه جانه.

پلار مي وویل چي زما په دي کار سره زه یي (عاق) کړی یم ، اجمل راسره خبري نکول

لیلا ته مي وویل: بالا ځان یوازي مه احساسوه هههههه

دواړه بي کسه شوو

شریفه عمه زما د دي خبري په اوریدلو سره په خندا وویل: ستاسو په دي بي کسي دایري کي یو بل کس ته هم ځاي شته؟؟؟

ومې ویل: هو ولي نه ته خو هم بي کورني شوي رښتیا ههههههه

وې ویل: هو لړ ستاسو دوو مئینانو د لاسه بیابه نشوم.

په غيږ کي مي ونيوله او ومي ويل: شکر چي تا زموږ سره مرسته وکړه عمه جانې
که ني د طوبا د مرګ وروسته په سل کاله زه ليلا ته نه رسيدلم
وې ويل: طوبا بيعقلي وکړه چي ځان يي مړه کړه ژوند پورته ښکته ډېر لري او همدا
دی چي ژوند ښکلی کوي
مرګ خسته کنه دی
زه خپله غواړم چي خوشالي او خفګان دواړه تجربه کړم خو ځان مړه نکړم
کله چي مړ شي ښخ کوي دي يوازي يي ديغيږي هههههه
ما او ليلا دواړو وخندل او ما وويل: توبه ستا د لاسه عمه جاني عجبه خبري کوي
هههه
عمه شريفه: خو رښتيا وايم نو چي يوازي واوسي ديغيږي
زما يوازيتوب نه خوښيږي
.... سهيلا ....

د څو اونيو ځغاستو او ستومانتيا وروسته واده ونيول شو او همغسي چي جلال
ويلي وه ډير ښه او رويايي واده وو.
د ميلمنو څخه مې ډير لږ خلک پيژندل خو د زليخا په شتون سره مې مشکل حل وو
ځکه يو يو ميلمه يي راپيژندل چي څوک دی.
واده په يو غټ باغ کي ونيول شو. لاس په لاس د جلال ناسته وم او د محفل څخه
مې خوند اخيست.
جلال وويل: محفل څنګه دی ستا په زړه دی؟؟؟
ومې ويل: زما تر تصوره لا بالاتره ښه دی ډيره مننه
زما لاس د ښکلولو سره يي وويل: زه ستا څخه مننه کوم
تا زما ژوند ته بدلون وموند ... هر سړی دومره طالع منده نه دی چي ستا په څير
نجلي يي د ژوند ملګري شي

د سري ماښام څخه تر سهاره پوري سندري او نڅاګاني وي او زما د ژوند بهترينه
ورځ وه.

ډېر خوشاله وه او ما خپل د نوي کورني تر څنګ د ملکه توب احساس کول او د جلال په څیر خاوند درلودلو باندي ویارېدم.
یوازینی کس چي نه وو لیلا وه خو خوشاله وم چي لیلا هم خوشاله ده.
جلال زما لاس ونیوی او وي ویل: راځه چي نڅا وکړو
ما او جلال ، زلیخا او جمال نڅا کول که څه هم زده مې نه وه خو بیا هم خپل هڅه مې کول.
چا فکر کول هغه شپه چي د خوړ خوب څخه یي راویښه کړم او په زوره یي د جلال دوي کورته یوړم یوه ورځ دي زما دایمي کور شي او د هغه سړي څخه چي ډاریدلم زما د ژوند مینه وګرځي.

که څوک راڅخه د رویایي ژوند تعریف وغواړي بي له شکه ورته وایم زما ژوند♡...
لیلا
د رضوان د عمه د مرستي سره په ښوونځي کي شامله شوم او د اقامت کارونه په جریان کي وه. د دي چي په انګریزي ژبه نه پوهیدلم ډیره زوریدلم لکه د یو ناپوه کس په شان چي د پوه خلکو مینځ کي یي داسي احساس مي درلود.
یو ورځ په ټولګي کي ناسته وم یو هلک زما ویښتان کش کړل او بل یو زما قلم واخیست ، غوښتل مې استاد ته ووایم خو نه پوهیدم چي څه ووایم
خپل د دي ناتواني څخه مې زړه په درد شو.
بي اجازي د ټولګي څخه ووتلم او تر توانه وځغاستلم تر څو لري شم.
په چمن څملیدلم او خپل د سر شنه وني ته په کتو شوم چي یو پاڼه یي خطا شوه او پر ځمکي ولویدل. پاڼه مې په لاس کي واخیستل او ښه ژور ورته په کتو شوم چي د چا غږ مې واوریدی ....

ولاړه شوم ګورم چي یو ښایسته ، ډنګره او جګه نجلي ولاړه ده او په هغه ښایسته لشم ویښتان یي چي درلود زما نظر یي خپل خواته واړول. روښانه قهوه ای رنګه سترګي او ښه وړه پزه ، شونډي یي د ګل د غنچي په شان وه ، په لیدلو مې ډیر ښه احساس پیدا کړ

ومې ویل: سلام تاسو افغانه یاست؟؟
وې ویل: هو او تاسو هم تازه دې ښوونځی ته راغلي یاست؟؟
ومې ویل: هو تازه راغلي یم
خپل لاس یې اوږد کړ او وې ویل: خوشاله شوم زه نګینه یم
ورسره مې لاس ورکړ او په ځواب کې مې وویل: زه هم لیلا یم ستاسو د لیدو څخه خوشاله شوم

دلته د یو افغان پیدا کول ډیر سخت دی
نګینه: نه دومره هم سخت نه دی دلته افغانان ډیر دي ګراني
ومې ویل: څومره ښه
یوځاي پر یو څوکي کښیناستلو چي نګینې وپوښتل: درسونه څنګه دي آسانه دي که سخت؟؟
په خندا مې وویل: هیڅ نه پوهیږم څنګه دي چي وغواړم نظر ورکړم ځکه په ژبه نه پوهیږم
نګینه: خیر دی کرار کرار یي زده کوي ګرانې په محیط کي چي د خلکو سره واوسي ژر یي زده کوي

ومې ویل: نه پوهیږم یو رقم زړه مې د درس څخه سوړ شوی ډیر سخت دی
نګینه: نه نو داسي مه کوه باید قوي واوسیږي ځکه ضعیف کسان ژر ورانیږي
ومې ویل: د وخته چي دي نړي ته راغلې یم پیاوړې وم که مې غوښتل که مې نغوښتل زما د ژوند محیط همداسي وو چي زه مجبوره وم د ټول توان سره خپل لاري ته دوام ورکړم او پیاوړې واوسیږم
نګینې یو ښکلي مسکا وکړل او وې ویل: شاباس
باید د دي وني د شنه پاڼي په شان واوسي
ومې ویل: څنګه؟؟

نګينه: ډير هوسا دی د وني شنه پاڼه د وني د پياوړتيا نښه ده
پسرلی ، دوبی ، منی ، ژمی د يو پاڼي د ژوند فصلونه دي
يوه پاڼه د پسرلي په ښه هوا کي شين کيږي د دوبي په ګرمي کي لوييږي ، د مني په سارړه هوا کي بوډا کيږي د وني څخه جدا کيږي او پر ځمکي لوييږي او د ژمي واوره هم هغه په خاورو کي ښخ کوي
خو ...
د بل پسرلي په رارسيدلو سره بيا شين کيږي
بايد د شنه پاڼي په شان واوسي ... هر ستونزه او غم وزغمه او مقابله وکړه حتي که ته يي ښخ هم کړي بيا د شنه پاڼي په شان ژوندې شه ، تر پخوا پياوړي او غښتلي بيا ژوند پيل کړه

نګينې ته په کتو مې وويل: مننه ، ستا خبري حتما يو ځاي ليکم تر څو لياده مې ونوځي چي بايد د شنه پاڼي په شان واوسم
د لري څخه مې وليدل چي رضوان راته ناري وهي د نګينې سره مې خداي پامانې وکړل او د رضوان خواته لاړم
رضوان وويل: زما ياره تر اوسه چيري وه؟؟؟
ومې ويل: ستا ياره د ټولګي څخه وتښتېدله هههههه
رضوان: ولي؟
ومې ويل: په ژبه نه پوهيږم هيڅ راته نه برداشت کيږي چي ښوونکي څه وايي
رضوان: ښهه هو ههههههه
ما هم نه دي زده خو کرار کرار يي زده کوو نور د ټولګي څخه مه تښته
ومې ويل: خداي دي وکړي چي زده يي کړم داسي بيخي بي لاس او پښي يم هيڅ کار نشم کولی

زما د لاس په نيولو سره يي وويل: راځه نن برګر وخورو
ومې ويل: هغه څه دي؟؟
رضوان: د امريکا مشهوره خوارړه دي

ومې ویل: ښه نو باید امتحان یي کړو چي څنګه خوند لري
د برګر اخیستلو وروسته لاړو په یو پارک کي په څوکي کښیناستلو او برګر خوړل مو پیل کړل
رضوان وپوښتل: په راتلونکي کي غواړې چي څه واوسي؟؟؟
په خندا مې وویل: مخته تر دي چي امریکا ته راشو غوښتل مې چي مور واوسم
ده هم په خندا وویل: مور؟؟؟
ومې ویل: هو

رضوان: ښههه بیا دي غوښتل چي څو ماشومان ولري؟؟؟
ومې ویل: څلور ماشومه دوه نوږي دوه زامن
رضوان: بي له زما د مشوري وخته دي پریکړه کړې؟؟؟
ومې ویل: هو څلور داني غواړم هههههه
رضوان په خندا وویل: بي ما یو دانه هم نشي درلودلي باید زما څخه هم نظر واخلي
ومې ویل: بلا دي تا ووهي چي هره خبره هغه خواته کشوي
ما یوازي خپل ارزوګاني وویل
دوه نوږي لکه لیلا او دوه زامن لکه رضوان
هغه وخت بیا ژوند ډیر ښکلي کیږي
رضوان: هو هغه وخت بیا دري دانې سرې لرو ههههههه
غوښتل مې وي وهم چي وتښتیدی
ومې ویل: آخر خو په ګیر مې راځي توره بدرنګه
رضوان: مهمه دا ده چي په همدي تور او بدرنګ باندي مئینه یې
ومې ویل: هو په دي کي خو شک نشته
راشه زما غیږ ته

رضوان: نه وهي مي هههههه
ومې ویل: نه زړه مې شو چي غیږ کي دي ونسیم راشه
کرار زما خواته په راتلو شو او همداسي چي زما خواته راتی وي ویل: هر چا چي

وهل وکړه بس نو ...
زما يو قدمي ته چي ورسيد ودريدی زه مخته لاړم په غيږ کي مې ونيوی او ښه جانانه مى غوږ ځيني په غاښ کړ او وتښتيدلم
غږ يي ټول پارک نيولی وو هههههه
تر توانه پوري تيزه وځغاستلم چي ګير مې نکړي ، څو کوڅي راپسي وځغاستی اخر ستړی شو

زه د يو عطر فروشي مخته ودريدم او ماتله شوم چي رضوان هم راورسي کله چي ورسيد ورته مې وکتل او ومې ويل: رضوانه زه عطر غواړم
هيله کوم راته يي واخله
بد بد يي راوکتل او وي ويل: په يو شرط
ومې ويل: شرط دي څه دی؟؟
رضوان: راشه زما مخ ښکل کړه او بخښنه وغواړه
په خندا شوم ، کرار مخته لاړم په مخ مې ښکل کړ او ومې ويل: بخښنه غواړم صاحبه نور تاسو نه پريشانه کوم
رضوان: اوس ښه شو راځه چي درته عطر واخلم
خپل لاس مې د ده تر بازو تاو کړ او يوځاي عطر فروشي ته ننوتلو

.... څلور کاله وروسته رضوان .....

سترګي مي په ساعت کي وه او ماتله وم چي صنف خلاص شي او ځان ليلا ته ورسوم
همدا چي ښوونکي خپل کتاب واخيست موږ ټوله پاڅيدلو او د ټولګي څخه ووتلو
دوه پښي مي درلود دوه نور مي هم پور کړه او په ځغاستو مي ځان د ملي بس ايستګاه ته ورسول او ملي بس ته په تمه شوم.
دعاوي مي کول چي ژر ورسم تر څو ليلا راباندي غوسه نشي
د وخته چي مي پوهنتون پيل کړي د ټول شيان وخت او زمان مي د لاسه وتلی.

د ملي بس په راتلو سره ملي بس ته پورته شوم په لاري کي مي د سبا درسونه مرور کړل ځکه شپه کار ته تلم بیا نه کیدل چي درس ووایم
نیم ساعت وروسته ملي بس د کتابخاني په ایستګاه کي ودرید او زه په ځغاستو ښکته شوم او ځان مي کتابتون ته ورسول
د لیلا پسي ګرځیدلم چي ګورم د تل په شان یو کنج کي ولاړه ده او په خفه انداز هر خواته ګوري

په خندا مي غږ کړه: اووووو سرې چیري يي څومره درپسي وګرځیدلم
مخته راغله پر بازو يي چوندي کړم او وې ویل: دروا‌غ مه وایه یو ساعت کیږي چي درته ماتله یم
ولي زما دوسیه دي ځان سره وړې وه؟؟ هغه زموږ ګروپي کار وو باید نن مې ښوونکي ته ورکړی وی
اووووف رضوانه توبه ستا د لاسه دغسي کارونه کوي
ومي ویل: وبخښه دوسيي همرنګه وه پام مي نشو
لیلا: ښه اوس مه په قهریږه رایي کړه اوس يي ورکوم
دوسیه مي ورته ورکړه او په تمه شوم تر څو بیرته راشي
ومي ویل: ته په دي ضعیفه اعصاب چا وویل چي اراوپوهه شي؟؟
لیلا: زه د یو ښه اراوپوه ډاکټر ورتیاوي لرم

ومي ویل: هو ګرانې دوه دقیقي ناوخته شو زما بازو دي وشکول هههه
لیلا: ستا حق دی چي بل وار لکه رندو زما دوسیه ځان سره یونسي
کورته د تلو په حال کي وو چي لیلا وویل: ستا درسونه څنګه دي؟؟؟
ومي ویل: ښه دي بد نه دي ګزاره کیږي په دي شرط چي نن شپه ته زما پر ځاي زما تحقیق تر سره کړې
لیلا: تحقیق د څه په اړه دی؟؟
ومي ویل: د (نفرولوژي) په اړه
لیلا: هغه بیا څه دی؟؟

ومي ويل: د بدن د الکترونیتوتو بي توازني
لوړ فشار
د ګردو نارسايي
د ادرار انتان

لیلا: اوووووووو خلاص شو بدبخته شوم ، ته ډاکټر کيږي تحقیق ولي زه وکړم؟؟
په خندا مي وويل: ځکه زه کار ته ځم او ته نه ځي
لیلا: ځه صحیح دی یو چاره کوم
کورته چي نږدي شوو عمه دروازه خلاص کړه او وې ویل: راشی دننه یو خبر لرم تاسو ته
ما او لیلا ورخطا وويل: څه شوي دي؟؟
عمه: مخصد خیریتي نه ده ... رضوان ماته زنګ راغی چي زما ورور باندي د زړه حمله راغلي او اوس په روغتون کي دی
صحیح ده چي ته یي آق کړی یي اما باید ورځخه لاړشي
د دي خبري د اوریدلو سره مي زړه په لرزیدو شو او دوسیي مي د لاسه پر ځمکي ولویدل

لیلا وويل: ښه يي؟؟؟
ومي ويل: باید کابل ته لاړشم باید لیدو ته یي لاړشم ښایي دا مي اخري فرصت یي د لاسه يي نه ورکوم
لیلا: زه هم درسره راځم یوازي دي نه ايږدم
ومي ويل: سمه ده یو ځاي ځو

..... لیلا ....

د اولین پرواز سره د کابل خواته مو حرکت وکړ
ډیر مې زړه درزیدی پوهیدم چي څوک ما نه مني خو ... په زر امید می غوښتل یو ځل بیا خپل هڅه وکړم.

نږدي و غرمي ته وو چي کابل ته ورسيدلو او بي ځنډه د روغتون په لور روان شوو ټول لاره کي رضوان په فکر کي ډوب وو او زه هم تر ده بدتره.
د پيل د پاره مو هيڅ مقدمه نه درلود ...
ويل مو چي څه د پاره راغلي يو؟؟؟
د ( ياالله خپله مورِ سره مرسته وکړه) ويلو سره په روغتون ننوتلو د نرس ښځه د پوښتني وروسته د رضوان د پلار اتاق مو پيدا کړ
رضوان خپل لاسونه خپل پر پتلون وموژل او وي ويل: خوله مي کړې ده
ومې ويل: په دومره استرس باندي عادي خبره ده

دروازه يي خلاصه کړه او په اتاق ننوتلو. اجمل پر څوکی ناست وو او خپل د پلار لاس يي نيولی وو زمورِ په ليدو سره يي خوله خلاصه پاته شوه او په حيرانتيا سره مورِ ته په کتو شو
رضوان خپل د خولي نارې په تيرولو سره وويل: سلام څنګه يي؟؟؟
اجمل خپل د ځايه پاڅيدی د رضوان خواته راغی ، ټينګ يي غيږ کي ونيوی او وي ويل: بيشرفه چيري وي
اوښکي يي بي واکه د سترګو څخه بهيدل.
د دي څخه چي مې وليدل د رضوان په ليدو خوشاله شو ، خوشاله شوم همدي وخت کي د رضوان مور اتاق ته ننوتله او زمورِ په ليدو يي لاس او پښي سستي شوي نږدي و ولويږي چي ژر مې د لاسه ونيوله

د رضوان په مرسته مې پر څوکي کښينول چي يو کلکه څپيړه يي د رضوان پر مخ ووهل او وې ويل: توف ستا پر شرف او تربيي باندي
پلار دي وويل چي (آق) کوم دي يوار دي لا ونه ويل چي مه يي کوه ... بخښنه دي ونغوښتل ستا پلار بخښلي ، څوک دومره په زړه سخت دی؟؟؟
د يو نجلي د پاره دي څه کارونه وکړل ...
رضوان خپل د مور د پښو څخه ناست وو او اوښکي يي توييدل
زه هم د رضوان څنګ ته کښيناستلم او ومې ويل: خاله جانې د رضوان ګناه نه ده ...

ټوله زما ګناه ده زه ورپسي شله شوم چي ما هم ځان سره یوسه
هیله کوم دی وبخښی دا چي تاسو ورڅخه خفه یاست دی ډیر زوروي ، دی ځان څخه مه لري کوی

همدي وخت کي د رضوان د پلار غږ پورته شو چي وي ویل: څه غالغال دی دلته؟؟
رضوان خپل د پلار د غږ په اوریدلو سره ژر لځایه پاڅید او خپل د پلار خواته لاړی لاس یي خپل په لاس کي ونیوی ، ښکل یي کړ او وي ویل: پلار جانه زه یم رضوان ستاسو لیدو ته راغلی یم
د رضوان پلار ډیر سپین ږیری شوی وو او څهره یي ډیره ستومانه ښکاریده
په لرزانده غږ یي وویل: رضوان ...
رضوان وویل: هو پلار جانه خپله یم
په مسکا یي وویل: راغلي زویه؟؟؟
تر کله دي غوښتل صبر وکړي؟؟ تر څو چي مړ شم؟؟
رضوان په ژړا وویل: نه پخداي
څو واره مي غوښتل چي راشم خو ستاسو د لیدو جرئت مي نه درلود شرمیدلم پلار جانه

د رضوان پلار لاس یي د رضوان غاړي ته واچول او د رضوان سر یي ښکل کړ او وي ویل: ما یو څه وویل ته خو باید زما لیدو ته راغلی وی
زه کرار مخته لاړم او ومې ویل: اجازه ده چي ستاسو لاس ونیسم؟؟؟
راته یي په کتلو سره وویل: هو لوري مخته راشه
مخته لاړم لاس مي ښکل کړ د رضوان پلار هم زما سر ښکل کړ او وي ویل: خوشاله واوسی بچیانو
د دي خبري څخه یي ډیره خوشاله شوم او ومې ویل: یوه نړې مننه
اجمل وویل: اوس تاسو واده کړی؟؟
ومې ویل: نه تر څو چي مو درسونه خلاص نشي واده نه کوو
د رضوان پلار وویل: زما بیره د همدي څخه وه ځکه مي اجازه نه راکول چي تاسو

دواړه لاړشی خو د دي څخه چي وینم کم احمقانه کار مو نه دی کړی او ستاسو درس تاسو ته مهمتره وو ډیر خوشاله شوم

د رضوان مور وویل: نه پوهیږي چي مدینه څومره درپسي دیغه شوي ده
رضوان وویل: خبره یوازي زموږ د مینه نه وه چي زه د لیلا سره لاړم
علي غوښتل چي لیلا مړه کړي ، لیلا مي چاته ایښی وی؟؟؟
ټول خپل په ژوند مصروفه دي د هیچا فکر زما لیلا ته نه وو
اجمل وویل: خبر نه یاست ډیر وخت کیږي چي موږ د دوي سره رفت امد نه لرو چي نه واست ډیري پیښي وشوي
علی لیونی شوي وو هغه یي علي آباد کي واچول
کاکا مي د طوبا په سر زما د پلار سره جنګ وکړ نږدي وو چي ټپي یي کړي خو د دي خبرو څخه ډیر وخت تیریږي د یو خوا څخه ښه شو چي لاړی او د دي ټولو خبرو څخه لري وی

رضوان خپل د کورني سره خوشاله وو زه هم د ده د خوشالي څخه خوشاله وم.
سهیلا او حمیرا مې په یاد شوه اجمل مې ګوښه کړ او پوښتنه مې وکړه: ته خبر یي چي خویندي مې چیري دي؟؟؟
وي ویل: اخرینه خبر چي مي اوریدلی همدا وو چي تللي دي ستا د پلار په کور کي ژوند کوي بالا نه یم خبر
ومې ویل: دا څنګه امکان لري؟؟ هغه کور خو د نادر وو
اجمل: لکه چي خبره نه یي؟؟
هغه شپه چي ته وتښتیدلي سهیلا یي ستا پر ځاي په (بد) یوړه
د دي خبري په اوریدلو سره مې وینه په جوش راغله ، ومې ویل: زما پلار مانع نشو؟؟

اجمل: نه ستا پلار مانع نشو او سهیلا یي یوړه
د دي خبري په اوریدلو سره د انفجار حد ته رسیدلي وم

په غوسه مې وویل: زه خپل پلار ژوندی نه ایږدم خپله یې مړ کوم دی لعن ....
خبره مې لا پوره شوي نه وه چې اجمل وویل: پلار دي ډېر وخت شو چې مړ شوی دی
ومې ویل: څههههه؟؟؟
اجمل: هو ډېري خبري وشوي ته خبره نه یې
که دقیق وغواړې خبره شي باید د دوي خپل څخه پوښتنه وکړې زه هم خبر نه یم
د رضوان څخه لاړم او ومې ویل: کیږي ما زما د پلار کورته یوسي؟؟؟
وي ویل: ورځم دي خو هلته څه کوي؟؟
ومې ویل: سهیلا او حمیرا هلته ژوند کوي ، اجمل راته وویل
باید لیدو ته یې لاړه شم

رضوان: درک کوم دي سمه ده یوځاي ځو ته هم د دوي پسي دیغه شوې یې
رضوان خپل د کورني څخه اجازه واخیستل او یو ځاي مو زما د پلار د کور خواته حرکت وکړ.
په ځیر ځیر مې هره کوڅي ته کتل چې حتي یو ذره لا د لاسه ورنکړم
هغومره چې ما فکر کړی وو تغییر یې نه وو کړی او کیدل چې د کور لاره پیدا کړو
د کوڅي پر سر یې موټر ودرول او ما په بیري زموږ د کور د دروازي خواته کتل
رضوان وویل: نه ښکته کیږي؟؟

ومې ویل: نه پوهیږم چې وروسته د دومره پیښو ما بخښي که نه؟؟؟
زما په خاطر سهیلا بدبخته شوه
رضوان: د ځانه قضاوت مه کوه
کورني ، کورني ده
همداسي چې دي ولیدل زما پلار زه وبخښلم نو ستا خویندي هم تا بخښي

ښکته شه یوځاي ځو هله
په بیري مې د موټر دروازه خلاصه کړه د رضوان لاس مې ونیوی او د کور خواته

لاړم دروازه يي رنګه کړې وه ډېره ښکلي شوې وه خوښ مې شو او ومې ويل: ژړ رنګ د سهيلا د خوښي رنګ وو
دروازي ته نږدي شوم زنځير مې په لاس کي ونيوى او يو وار مې په دروازي ووهل ژوره ساه مې واخيستل او يو وار بل مې ووهل چي د دروازي د شا څخه چا غږ کړه: څوک يي؟؟

زړه مې يو رقم شو ، په لرزانده غږ مې وويل: زه يم ليلا
دروازه خلاصه شوه چي ګورم يو سپين سرې ښځه چي تر هغه ورځ پوري مې ليدلي نه وه ، ولاړه ده
وې ويل: د چا سره کار لري؟؟
ومې ويل: زه د سهيلا او حميرا پسي ګرځم
ماته يي ويلي چي دلته ژوند کوي
سپين سرې ښځي لومړې حيرانه شوه او بيا يي وپوښتل: ورته ووايم چي څوک راغلي؟؟

رضوان ته مې وکتل چي ګورم دى هم حيرانه دى
ومې ويل: ووايه ليلا راغلې
وې ويل: سمه ده وايم
همدي وخت کي د چا غږ راغى چي وې ويل: رويا خاله په دروازي کي څوک دي؟؟؟
ښځي وويل: يوه نجلي او يو ځوان هلک دى
ستاسو ليدو ته راغلي
وايي نوم مې ليلا دى

د پښو غږ راغى چي د دروازي خواته نږدي کيدى ، دروازه يي خلاصه کړه چي سترګي مې د سهيلا په سترګو ولګيد ...
د سهيلا په ليدو مې ساه بنده شوه ...
سر تر پايه مې ښه ورته وکتل سهيلا اميدواره وه ، اوښکي مې د سترګو څخه په

بهیدو شول ، په لرزانده غږ مې وویل: ته مور شوي یې؟؟
سهیلا ځان زما غیږ کي واچول او وې ویل: خداي وهلي چیري وي ډیره درپسي دیغه شوي وم
سهیلا مې د ځان څخه لري کړه او ومې ویل: ته د جلال ښځه شوي؟؟
دا زما ګناه ده زه نباید تللی وی ، نباید مې ایښی وی چي تا په زوره جلال ته ورکړې او ...

سهیلا زما خبره پري کړل او وې ویل: نه نه غلط فهمي شوي ده ما خپل په خوښه د جلال سره واده وکړ
راشه دننه راشه ...
د لاسه یې ونیولم او په کور ته یي ننویستلم د څو شیبو د پاره ټول خاطري مي د سترګو وړاندي تیري شوي
زموږ کور ..... څومره بدلون موندلی وو!
ومې ویل: سهیلا زه نه پوهیږم دا دومره خبري څنګه شوي دي؟؟ لیونې کیږم هیله کوم راته ووایه

زما لاس د نیولو سره یې وویل: اول ته پر کټ کښینه چي باید یو کس درته وښیم د کور دننه لاړه او ما او رضوان په ځیر ځیر کورته کتل ...
دوه منزله یي جوړ کړی وو هیڅ د هغه پخوا کور نه وو ، ډیر ښکلی شوی وو!
سهیلا یو ماشوم په غیږ کي د  کوره راووتله ، وې ویل: دا ده زما لور وې ګوره
ماشوم ته مې وکتل او ومې ویل: ته د دوو ماشومانو مور یې؟؟
په مسکا یې وویل: هو شکر
پلار یي هم جلال دی ، لیلا زه خپل ښه ژوند د پاره ستا مدیونه یم ، نه پوهیږي چي څووووومره جلال غوارم
هره کلمه چي د سهیلا د خولي وتل زه یي لیونې کولم
ومې ویل: د اوله ووایه چي څه وشوه زه د هیڅ شي څخه خبره نه یم ، څنګه ته یي

په بد یوړې او ته ورسره خوشاله یې؟؟
حمیرا چیرې ده؟؟؟

په خندا یې وویل: کیسی ډیرې دي ، رویا خاله موږ ته یو پیاله چاوې راوړه
سهیلا راته ټوله کیسه وکړل او زه د هر خبرې د اوریدلو سره حیرانتیا مې زیاتیدل
د شګوفې په اړه ، د حمیرا خرڅلاو ، د جلال سره یې واده
ما او رضوان په حیرانتیا ورته کتل چې حمیرا د جلال سره په کور ننوتله
حمیرا جګه شوې وه او تر پخوا لا ښایسته شوې وه ، په لیدو یې خوشاله شوم او
خواته یې لاړم تر څو غیږ کې ونیسم خو حمیرا زما په لیدو لومړی حیرانه شوه او
وروسته یې حیرانتیا په غوسې بدله شوه
بې له دې چې څه وواېې زما د څنګ څخه تیره شوه ، د کور خواته لاړه او دروازه یې
کلکه وتړل.

هر څومره چې سهیلا ورغږ کړه ځواب یې ورنکړ
سهیلا: خیر دی ماشومه ده د دې څخه چې خوشې کړې دې وه او تللې وې کینه یې
په زړه کې نیولې
زه ورسره خبرې کوم او راضې کوم یې
جلال ته یې وکتل او دوام یې ورکړ: وګوره زما ګرانه خور راغلې ده
تمه مې نه درلود چې جلال دې په خلاص تندې راسره چلند وکړې خو دی مخته
راغی او سترې مشې یې وکړل
نن د هغه ورځو څخه وو چې زه هره شیبه حیرانیدلم.
جلال زما څخه زما د تښتې د پاره ډیره مننه وکړه او وې ویل: کله چې ته لاړې زه د
سهیلا سره آشنا شوم او پوه شوم چې ریښتینې مینه یعنې څه

دا څخه چې داسې ښه او مثبت خبرې مې اوریدل ډیره خوشاله وم هیڅ مې فکر لا
نکول چې زما په نشتون کې دې دومره خبرې او کیسې پیښې شوې واوسیږې.
غوښتل مې د حمیرا سره خبرې وکړم خو هغې ځان په یو کوټې کې بندې کړې وه ، د

کوټې د دروازې شاته کښیناستلم او ومې ویل: ګوره زه دې درک کوم
زه چا نه یم غلا کړې یا نه یم تښتولی چې پوهه شم پر تا څومره زجر او عذاب تیر شوی خو هغه څه چې پر ما تیر شوه هم عادي نه وه
پوهیږې یو کس غوښتل ما مړه کړي او لرې پاته وو چې خپل غوښتني ته ورسي ... نه پوهیږم ستا دعا وه که د سهیلا چې زه ژوندې پاته شوم

ښایي فکر وکړې زه داسې یو کس وم چې یوازې مې د ځان په اړه فکر وکړ او تاسو مې هیر کړې
زه درته حق درکوم ... باور وکړه ، خو زه هم کوچنې نجلي وم څه تمه دې درلود په هغه عمر کې ما تر دې بالا فکر هم نشو کولی او نه مې هم څه ذهن ته رسیدل
پوهیږم دا خبرې هغه درد او غم چې تا ګاللی نه تسکین کوي خو پوهه شه چې ما د قصده نغوښتل تاسو په دې ستونزو اخته کړم الله شاهد دی
همداسې چې ما خبرې کول دروازه یې خلاصه کړه او زه یې غیږ کې ونیولم او ژړا یې پیل کړه

پر ویښتانو مې لاس تیرول تر څو ارامه شي
ډیره ورپسې دیغه شوې وم ، غوښتل مې د دومره وخت چې ورسره نه وم یوه یوه ورځ یې جبران کړم
حمیرا وویل: لیلا نور مورې یوازې مه ایږده هیله کوم!
ومې ویل: نه مو ایږدم زړه دې جیمې نور هیڅ ځای نه ځم قسم دی
سهیلا زما په خاطر هغه شپه میلمستیا ونیول او ټول یې دعوت کړل
ما هم خپل د تیر شوي ورځو کیسې وکړل ، دا چې امریکا ته وتښتیدلم او خپل درس ته مې دوام ورکړ.

د سهیلا د خسرګښې په لیدو چې څومره سهیلا ته یې قدر ورکول او وربانديې ګرانه وه ډیره خوشاله شوم.
د میلمنو مینځ کې زلمی خان او ښځه یې هم وه نه پوهیږم څنګه یې دومره جرئت

وکړ چې په میلمستیا کې ګډون وکړي
سهیلا وویل: د یو ښه او ارامه ژوند د پاره باید خفګان او کیني لرې کړي
راځه چې خوشاله واوسو لیلا نور غم او خفګان هیر کړو
ومې ویل: په سترګو هر څنګه چې ته وایې زما خوږې خورې خپل هڅه کوم
د ډوډوې خوړلو وروسته زلمی خان سراي ته ناري کړم ، ورپسې لاړم دواړو پر کټ کښیناستلو

وي ویل: ژوند دې څنګه تیریږي؟؟
ومې ویل: ښه دی تیریږي
زلمی خان: ډیره کله شخه وې ، که ستا پر ځاي بله نجلې وې د وخته یې هر څه خوشې کول خو تا ځان ونه بایلل .... شاباس!
ورته په کتو مې وویل: ډیره مننه خو باید پوه شی چې ټوله یې د مجبورې وو بله چاره مې نه درلود
کله چې مجبوره واوسې باید مقابله وکړي
زما په ژوند کې تل بد او بدتر وو او ما باید یو یې انتخاب کړی وی
زلمی خان: شاباس ، ډیره مخته تللې یې
وامې وریدل چې ډاکټره شوې یې؟؟

ومې ویل: هو دا هیواد ښځینه ډاکټرې ته ډیر اړتیا لرې
که هغه وخت یو تکړه ښځینه ډاکټره وی مورې خپل مور د لاسه نه ورکول
زلمی خان: یو خبره ده چې ستا خویندو ته مې نه دې ویلې خو تاته وایم
ومې ویل: کمه خبره؟؟
زلمی خان: ستا مور ته شکوفې د کوچنې د ضایع کولو دوا ورکړې وه تر څو ماشوم یې د مینځه لاړشې
ساعتونه یې صبر کړی وو او احوال یې نه وو اخیستې تر څو تاسو ورسیږې
دا کار یې چې ستا د مور سره وکړ ډیر خراب او دردوونکې کار دی چې ستا د مور د مړینې لامل وګرځیدی

ښايي غوښتل يي چي يوازي ماشوم مړ شي نه ستا مور خو ... ژوند تل هغسي چي مونږ غواړو مخته نه ځي

د زلمی خان د خبرو په اوريدلو سره مې احساس وکړ چي عصبي حمله راباندي راغله ، ساه مې بنده بنده کيدل
هڅه مې کول ځان کنټرول کړم خو ... نه کيدل ، ډير سخت وو
څو ژور ساګاني مې واخيستل تر څو خپل غوسه کنټرول کړم
ومې ويل: شګوفه اوس چيري ده؟؟
زلمی خان: کله چي حميرا يې خرڅه کړه بيا تر اوسه هيچا پيدا کړي نه ده يوازي پوهيږم چي نصير د شګوفې د ورور زوي په خبر دی چي دا چيري ده بل هيڅوک يې خبر نلري
حتي بالا خپل د پلار کورته لا تللې نه ده ...
پوليس ډير څيړني وکړې ... په مياشتو د دي د کور څخه عسکر ولاړ وه خو بيا هم چا پيدا نکړه
د ځايه پاڅيدلم ، خپل د کالو پورته تښي مې خلاصي کړې تر څو وکولی شم چي ساه واخلم

زما ګرانې موري ... زه دې مړه شم ، ولي مې يوازي پريښودلی چي دا ورځ درباندي راغله
هڅه مې کول چي خپل پر غوسي واکمنه شم ، په زړه کي مې وويل: زه شګوفه نه ايږدم چي داسي وتښتي
زلمی خان وويل: د څه په اړه فکر کوي؟؟؟
ومې ويل: د هيڅ په اړه فکر نکوم خداي دي د شګوفي سزا ورکړي
وي ويل: هو د بنده د لاسه يې هيڅ نه کيږي يوازي دي خداي ورته سزا ورکړي
په سراي کي وم او سخته خفه ، غمجنه او په غوسه وم هره شيبه مې د مور رنګ پريدلي څهره د سترګو وړاندي راتلل او دا چي شګوفه څومره بيغمه خپل په کوټې کي بيده وه دا زما وينه يي په جوش راوړل.

قدم مې وهل او فکر مې کول چې څنګه د دې ښځې جزا ورکړم خو اول يې بايد پيدا کړم ... لعنتي نصيره ... دی د ټول کيسی څخه خبر دی اول بايد دی راټينګ کړم.

رضوان د شا څخه غيږ کي ونيولم او وي ويل: زما په يارې څه شوې دې؟؟
ومې ويل: هيڅ نه دې شوي اوس خپل حوصله لا نلرم پريميږده
رضوان: ولي څه شوي دي زما نفسي؟؟؟
په داسي حال کي چي مې هڅه کول خپل د اوښکو د تويېدلو مانع وګرځم د زلمی خان ټوله خبري مې ورته وويل
رضوان تر ما بالا حيران شوی وو
وي ويل: هيڅ مي باور نه کيږي چي داسي يو کار يي کړي يي

ومې ويل: کاش ما هم هغه وخت خپل پام نيولی وی داسي پوهيدلم چي زما پر مور څه شوي دي ... هيڅ ناروغي يا تکليف يي نه درلود
بايد خپل پام مې نيولی وی رضوان زه ولي دومره احمقه شوم
رضوان په غيږ کي ونيولم او وي ويل: زړه مه خوره يوځاي يي پيدا کوو
ومې ويل: نه زه خپله ورپسي ګرځم ته ځان مه دخيل کوه
رضوان: ته دخالت خبره نه ده يوازي يي نشي کولی
ومې ويل: خو زه خپله خپل په لاسو يي خپه کوم
رضوان: حيف ستا د لاسو چي د هغې په وينو ککړ شي پوليس ته يي معرفي کوو چي خپل د کار سزا ووينی
ومې ويل: دلته امريکا نه دی چي څيړني وکړي ، دلته افغانستان دی څوک د داسي خبري پسي ګرځي لا نه
رضوان: ښه ستا خبره يي سمه ، ته وايي چي څه وکړو؟؟
خپل لاسونه د هغې په وينو ککړ کړو؟؟
د يو ګناه پر سر بله ګناه وکړو؟؟
پوهه شوم چي د رضوان سره نه کيږي چي د شکوفي پسي لاړه شم
ومې ويل: سمه ده موږ يي پيدا کوو بيا يي پوليس ته ورکوو خو اول بايد مزار ته

لاړشو
د دي خبري څخه سهيلا او حميرا خبر نه دی ورته څه ونه وايي نغواړم چي خفه شي
همغه شپه مې د سهيلا سره خداي پاماني وکړل او ومې ويل: ځم د رضوان دوي
کورته

بيا هم ستا ليدو ته راځم
که څه هم اجازه يي نه راکول خو په سل زاري او ننوات مې اجازه واخيستل او د
رضوان سره د مزار خواته روان شوو.
ټول لاره ما پلان جوړول چي ورسره څه وکړم
زه دا شيطان صفته پست فطرته ښځه په هيڅ عنوان پوليس ته نه ورکوم!
د يو نيم ورځي وروسته مزار ته ورسيدلو ومې ويل: بي ځنډه بايد د شګوفي د ورور
کورته لاړشو
ادرس مې د زلمی کاکا څخه اخيستی وو
نږدي ماښام ته د دوي کورته ورسيدلو
رضوان وويل: همداسي هوسا خو نه وايي چي شګوفه چيري ده
نو څه وکړو؟

ومې ويل: لاړشه دروازه وټکوه نصير دباندي وغواړه
دی پوهيږي چي دا خرابه عمه يې چيري ده
رضوان د موټر څخه ښکته شو او د سراي دروازه يي وټکول د څو دقيقو وروسته چا
دروازه خلاصه کړه د رضوان سره يې خبري وکړل او رضوان بيرته راغی
موټر ته چي وختی وي ويل: ليلا نصير دلته نه دی يو بل ښار ته تللی دی خو د دي
اوني تر پايه راځي
ومې ويل: درواغ وايي بيريدلي دي ځکه داسي وايي
رضوان: د څه شي بيره وه نجلی؟؟
هغه د څلور کالو مخته خبره ده په زوره خو څوک ځان نه بيابوي ، د کمه پوهيږي؟؟
ومې ويل: نه پوهيږم ... سر مې درد کوي

رضوان: د اجمل یو ملګری دلته دی شپه هلته ځو سبا بیا پولیس ته خبر ورکوو
هر کار باید د قانون مطابق مخته لاړشي
زړه مې د رضوان د خبرو څخه چي د قانون په اړه یي کول په شور راغلی وو ، په هیڅ عنوان هغه د پولیس په لاس نه ورکوم په هیڅ عنوان.
شپه مو د اجمل د ملګري په کور کي تیره کړه ، رضوان بیده شوی وو خو ما تر سهاره سترګه پټه نکړه
هوا چي لږ روښانه شوه موټر مې واخیستی او د شګوفي د ورور د کور خواته لاړم.
د موټر څخه ښکته شوم غوښتل مې په زوره په کور ننوځم چي یو مکتبې ماشوم مې ولید چي د کوره ووتی
ماشوم مي ودرول خپل د جیبه مې پیسي وایستل او ورته مې ورکړه
ومې ویل: زه د شګوفه جانې د کور پسي ګرځم ته پوهیږي چي چیري دی؟؟
وي ویل: شګوفه عمه یادوي؟؟

ومې ویل: هو ګرانې شګوفه عمه یادوم
وي ویل: تاسو څوک یاست؟؟
ومې ویل: زه یې ملګرې یم کور مې ځیني ورک کړی دی ، ما هلته وړلی شي؟؟
په خوشالي سره یي پیسي واخیستل او وي ویل: هو وړم دي دوه کوڅي ښکته تره زموږ د ښوونځی څخه نږدي دی
ومې ویل: نو راځه چي لاړشو ښایستې
یو ځاي مو حرکت وکړ ، یو غټ شین رنګه دروازي ته ورسیدلو چي وي ویل: همدلته دی خاله جانې
ومې ویل: دلته څنګه؟؟
منګه واده یي کړی دی؟؟

وي ویل: هو د دوهم ځل د پاره یي واده کړی دی د شعیب کاکا سره
ومې ویل: هو رښتیا د یاده می وتلي وه
د نجلي د تګ وروسته بیرته لاړم موټر ته وختلم او راغلم موټر مې د شګوفې د کور

نږدي ودرول او ماتله شوم چي خپله د کوره ووځي.
څو دقیقي تیري شوي چي ګورم یوه چاغه ښځه چي د یو کوچنی هلک لاس یي نیولی وو د کوره بهر راووتله ، چپه خواته مې چي وکتل پوهه شوم چي شګوفه ده د دې په لیدو مې وینه په جوش راغله ... غوښتل مې همدا اوس ښکته شم او ورباندي حمله وکړه خو هغه ماشوم چي ورسره وو زما مانع کیدی
یو اته ، نه کلن ماشوم وو.

ځان سره مې وویل: دا ماشوم د شګوفې نه دی خامخا دې لعنتي بیا یي کم اولاد داره سړی کړی دی
کرار مې د دې شاته حرکت وکړ چي ګورم لومړی ښوونځي ته لاړه ماشوم یي د ښوونځي دننه یوورِ او خپله بیرته راووتله
کرار کرار یې شاته روانه وم تر څو چي یو ارامه کوڅي ته داخله شوه
همداسي شاته یې روانه وم ، هیڅوک نه وو

د موټر سرعت مې ډیر کړ او په کلکه مې شګوفه په موټر ووهل خو برک مې ونیوی او ورڅخه تیره نشوم

د موټره ښکته شوم چي ګورم په وینو خیشته ده
نبض مې ځیني وکتل او پوهه شوم چي ژوندې ده
په زوره مې کش کړه او د موټر شا ډالي ته مي واچول او په سرعت مې حرکت وکړ
باید د ښار او خلکو څخه لري ځاي ته یي یوسم
کله چي مزار ته راتلم یو ځاي مي تر سترګو کړی وو هلته هیڅوک نه وو یوازي د خاورو او ریګو تپي وي

د مزار په ګرمي هوا کي د تپي خواته روانه شوم
بي له دي چي یو ذره مې لا زړه ورباندي وسوځي غوښتل مې چي مړه یي کړم

په زړه کي مې هيڅ رحم نه وو د مور څهره مې هره شيبه د سترګو وړاندي وه
د ښار څخه وتلی د دوو غرونو مينځ کي مې موټړ ودرول او د شا ډاله مې خلاصه
کړه چي ګورم پر هوش راغلي او په بيريدلي انداز ماته ګوري
د خولي او پزي څخه يې وينه بهيدل ، پوهه شوم چي يوه پښه يي ماته شوي او
هغه نشي ښورولی

زما په ليدو يې ژبه په بنديدو شوه ، په بنده ژبه يې وويل: ته يې ليلا؟؟؟
ومې ويل: نه زه د عزرائيل د خوا څخه راغلې يم
د ماتي پښي څخه مې ونيوله او کش مې کړه ، د ډير درده يې دومره چيغي وهل
چي غږ يي د کاڼي زړه لا اوبه کول
همداسي مې په خاورو کي کشوله او هغې چيغي وهل
ومې ويل: ښه په لوړ غږ چيغي ووهه دلته دي څوک غږ نه اوري دلته افغانستان دی
همداسي چي تا زما مور مړه کړه او هيچا د خبري شا ونه نيول ستا د مرګ وروسته
هم څوک ستا د خبري شا نه نيسی

لاسونه او پښي مې د دې خپل په پوړينه وتړل او ومې ويل: تر څو چي کولی شي
چيغي ووهه يوازي يو احمق که ديخواته په دي ګرمي هوا کي راشي
ته دلته د وريتوب ، تږيتوب او د پښي د ماتيدلو د درده زجر وړې تر څو چي مړه شي
شکوفې ساه نشو اخيستی په ټوخا وليدلي وه
ويل يې: هيله کوم ليلا
پخداي ما د قصده ستا مور مړه نکړه يوازي مې غوښتل چي خپل ژوند وژغورم
ليلا ....
ومې ويل: پوهيږې که وغواړم د ارواپوهني د علم پر اساس تا تعريف کړم څه
وايم؟؟؟

يو رواني انسان چي ګناهکار کوي هر کار يي چي کړی سم او پر ځاي يي کړی حتي که
دا کار د چا د مرګ لامل ګرځيدلی يي

کاش شوی وی تر څو چي مړه کیږي همدلته کښینم او ستا زجر وګورم خو حیف چي نه کیږي
یوازي زما د مور په اړه فکر وکړه چي څنګه هوسا لاړې بیده شوي او زما مور دي همداسي خوشي کړه هغه وخت بیا ما درک کولی شي
دا نړې د شیطان صفتو خلکو په شتون لکه تا د مهربان او په زړه پاکو خلکو ځاي نه دی

زړه دې جیمي یي ستا د وژلو د پاره مورِ دواړه دوژغ ته ځو هلته دي هم ولاکه پریږدم ، خپل د دردوونکي مرګ څخه خوند واخله خداي په امان
ټول ځاي د شګوفې چغو او ځګیروی نیولی وو
ومې ویل: لا په لوړ آواز چیغي ووهه دلته هیڅوک ستا غږ نه اوري په کیلومترهاوو د مزار څخه لري یو
د موټر مخ لږ په وینو شوی وو یو بوتل اوبه په موټر کي وه وامي خیستل او وینه مې پریویستل

اروا‌پوهنه زمورِ غوسي د کنټرول او د احساسات پیژندلو په پار بهترینه علم دی.
د مزار خواته مې حرکت وکړ څو ژوري ساګاني مې واخیستل او
ځان سره مې تکرارول: ما ښه کار کړی دی ، ما ښه کار کړی دی
شګوفه د دي مرګ او جزا وړ وه او ده
یو وړه د اوبو ولي څخه مې موټر ودرول او خپل لاس مخ مې پریویستل
ښار ته لاړم یو څه سودا او میوه مې واخیستل او د اجمل د ملګري د کور خواته روانه شوم
رضوان زما په لیدو په ورخطا لهجي وویل: فکر مي زر خواته لاړې
چیري وي؟؟؟
ومې ویل: خفه وم لاړم یو څه بازار کی وګرځیدلم چي فکر مې پر بله شي وبخښه ګرانه

په غيږ کي ونيولم او وي ويل: بل وار بي خبره هيڅ ځاي مه ځه مړ کوي مي
ومې ويل: په سترګو زما د زړه سره راځه چي د سهار چاوي وخښو بيا د شګوفي خواته لاړشو
په حيرانتيا يي راوکتل او وي ويل: ښه خبره ده اول د سهار چاوي وخښو بيا ځو تر توانه پوري مې کوښښ کول چي ځان ارامه وښايم
د چاي څښلو وروسته پوليس څخه لاړو ، شکايت مو وکړ او د شګوفي د ورور د کور ادرس مو هم ورکړ

پوليس وويل چي خپل خيړني پيلوي او وروسته عيني شاهدان او داسي نور خبري يوه اوني د پوليسانو د څيړنو څخه تيريدل او د ټولو کسانو څخه چي هغه ورځ زما د مور په جنازي کي وه پوښتنه وشوه
شګوفې ته دوسيه جوړه شوه خو ټول د شګوفې پسي ګرځيدل حتي د ميړه کورني يي.هيڅوک نه پوهيدل چي شګوفه چيري ده زه هم بيحده ورپسي وم چي شګوفه بايد پيدا شي

رضوان ويل: زړه دي جيمي پيدا کيږي ګرانې
ومې ويل: بي له شکه شګوفه د قانون څخه نشي تښتيدلی
دوه مياشتي په کابل کي وو او هيچا د شګوفې درک نه درلود
هره ورځ مې د سهيلا او حميرا سره تيرول او زما د ژوند بهترينه ورځي وي
سهيلا خپل د لور نوم زما د مور په ياد (زهرا) ايښی وو زه هم د دي کار څخه ډيره خوشاله شوم کرار کرار زموږ د تګ ورځي رارسيدل چي بيرته بايد امريکا ته تللی وی

حميرا سره مې ژمنه وکړه چي ورته دعوت نامه راليږم تر څو يوځاي ژوند وکړو بايد بيرته تللی وی تر څو د درسو څخه شاته نه وی پاته شوی
د سهيلا او جلال سره مې خداي پاماني وکړل او د شګوفې د دوسيي دوام مې زلمی خان ته تسليم کړ
د رضوان سره طياري ته وختلم او د وروستی ځل د پاره مې د کابل هوا خپل سږو

ته کش کړه
مسکي شوم او د رضوان لاس مې ټینګ ونیوی
د ښه راتلونکي په هیله ...♡

د شنه پاڼي ناول پاي!
د ژباړي پیل: 8/1/2025
3:30PM
د ژباړي پاي: 10/6/2025
9:20PM

زموږ د داسي نور ښايسته ناولونو او کتابونو د ویلو لپاره زموږ د ټلګرام چینل ته راشي.
دا هم زموږ د چینل لینک: https://t.me/pashtoonovels0
دا هم د مدیر ایډی: shuhab09@
او دا هم زموږ د یوتیوب چینل لینک دلته غوږیز ناولونه نشر کو..
چینل لینک: http://www.youtube.com/@PashtooNovls09
دا هم د مدیر د جمیل آدرس:shuhabkhan795@gmail.com
دا هم د خواجه زي صیب د فسبوک ایډی:
https://www.facebook.com/profile.php?id=61572668542014
یا هم کولې شې سرچ کړې: خواجه_زي صیب. نو ایډی به تاسو ته راشې.
او دا هم د خواجه زی صیب رسمي د انسټاګرام ایډی:
https://www.instagram.com/khw_aja09?igsh=ZGUzMzM3NWJiOQ==


@shuhab09